ناول: د پښتون غیرت"د ګرګ آشتی دریم پړاو"

لیکوال: خواجه_زي

نشرکونکې: خواجه زی خپروندویه اداره. https://t.me/pashtoonovels0



پښتو ناولونه

خواجه زي خپروندویه اداره

HTTPS://T.ME/PASHTOONOVELS0

@shuhab09

"بِسمِ أآأللَّهِ أآألَرحمَنْ أآألَرحيم"

نیلوفر- دا رقم زندګی نه کیږی هوسۍ باور وکه!

پوهیدم چې نیلوفر کوم غلط مطلب خپل د خبرو څخه نه لري خو بیا هم خبری راباندی بدې ولګیدی او خفه شوم او په همغه خفه لهجه مې وویل: اول دا چې زه کوم پیغله جنۍ نه یم چې خپل د پلار په کور ناسته یم او باید رژیم ونیسم، خپل ځان ښکلی کړم او هر دقه خپل پر مخ اوه رقم سینګار وکړم تر څو کوم کس ما خوښه کړی او زموږ کور ته زما د غوښتني لپاره مرکه را واستوی! زه د دوه ماشومان مور یم او درې کاله مې د واده څخه تیر شوی! زه باید د یو واده شوی ښځې پشان رفتار وکړم نه د یو ځوانۍ انجلۍ پشان! او دویم دا چې جهان خان د هغه سړیانو څخه نه دی چې د داسی خبرو پسی وګرځې..

نیلوفر څو شیبې په ځیر،ځیر راوکتل پوهه شول چې خفه شوم ځکه ځان یې لږ زما خواته رانږدی کړو او ویې ویل: ګوره هوسۍ زما په خبرو مه قهر کیږه، خو باور وکه ستا پخیر باندی وایم، لږ ورزش وکړه زه نه وایم چې ځان د تازه پیغلو انجونو پشان کړه خو ته د دوه ماشومانو تولد سره دی د بدن فرم او مقبولې خراب سوی، زه چې ملګری دی یم لا مې زړه نغوارې درته وګورم، څه ورسیږی به شوهرت؟ او هو بېر هم طرف یې مه نیسه او مه وایه چې جهان دسی نه دی او جهان اغسی نه دی! ګوره زما خبره ومنه هغه هم بالا کنی پاین کنی نر دی نر! اوس چې راغلی دلته شهر ته هره ورځ چې راست میره چپ میره یوه شایسته انجلۍ خپل بدن ورته اخوا دیخوا کوی، هغه هم وایم کنه نر دی!

زه پوهیږم چې پاک سړی دی او د چا د ناموس پسی غلط نظر نه اچوی خو هر څومره خودش کنترول کړی اخر یوه ورځ تا د هغوی سره مقایسه کوی! چې زما زن دسی ده او زما زن اغسی نه ده، کله چی مقایسه کول شروع کړی بیا نو کرار کرار له تا لری میشه او هغه انجونو خوا ته ګوری چې شایسته بدن لری، لاغر دی نه تا ته چې د تانک غوندی دی ځان چاغ کری دی، او هغه وخت چی نظر یې د هغه انجونو خواته شو هغه وخت که هر څومره مومن سړی وی بیا هم دوه کار ضرور کوی!

په منتظر نظر مې ورته وکتل چې هغې وویل: یا درباندی بله ښځه کوی،ځکه ستا خبره ستا خاوند ښه سړی دی او وجدان لری او نامحرم او ناپاک رابطه نه منې. که داسي ونکړل نو هغه وخت بیا د ډېر نور سړیانو پشان نفری ځانته پیدا کوی. خو هر څه چی وی ستا له لاسه خاوندی دی نور بیا وځې، او هغه وخت چې ولاری بیا به ماته چغی او ناله نه کوی او نه به ژاړی ما خو درته د وخت څخه خپل نصیحتونه او وصیتونه وکرل نور دی زړه چی قبول میکنی یا نه؟!

زړه مې غوښتل لاسونه مې د هغې پر خوله کېږدم او نور اجازه ورنکړم چې خبری وکړی، ستړې شوی وم د هغې د دې خبرو څخه چې هره ورځ او هره ورځ راتلل او ماته یې کول، د نیلوفر په خبرو زه دومره نه خفه کېدم خو د هغې خبرو ما ته زما د خاله د لورګانو خبری او طعني رایاده ول چې همدغه زما د چاغې په اړه به یې یو دبل به غوږ کې په پسپسک پسپسک باندی ماته چاغه زراعتي غوا ویل!

نه پوهیږم څه مرګ راباندې شوي وه خو د مزمل او مدثر د پیدایښت وروسته د دې لځایه چې بیرته خپل عادی وزن ته راشم ورځ تر بلې اضافه وزن مې اخیست! هغه وخت چې کوچنیان مې درلود خو بهانه مې ماشومان وه او ویل مې هر ماشوم د دري څلور کیلو دی او دا وزن د هغوی دی! خو د هغوې د پیدایښت وروسته هم زما وزن کم کېدل خو لری چې لاپسی په زیاتېدو شو او زه چې یو وخت د چاغي اخری حد مې څلور پنڅه څلویښت کیلو وه اوس د اتیا پنځه اتیا څخه په کمه نه راتلم!

جهان ته به چې ویل مې وزن مې زیات شوې دې؟ نو هغه به په خندا ویل شزه باید دغسې ګردۍ میردۍ او چاغه وې، چې کله سړی غېږه کې نیسې یو شې خو یې نصیب شې، نه دا چې دوه وچ کلک هډوکي پر لاس ورشي! خو د نیلوفر خبرو او د خاله د لورګانو خبرو مې زما زړه ناکراره کاوه او وېرېدم هسې نه د رښتیا جهان زما د زیات چاغوالي له لاسه راڅخه زړه ووهل شي او بله ښځه وکړي؟
- موری راسه دوي راویش سول.

د جنید پر غږ چې ناری وهل او ویل یې مدثر او مزمل راوینښ شوي، په فکرمند انداز د نیلوفر له څنګ پاسېدم او په ستړې قدمونو د هغوي د کوټې خواته ورغلم خو ټول فکر او ذهن مې د نیلوفر د خبرو خواته وو نه پوهیدم څه وکړم؟ په ورزش باندی خو نه کېږی کنه زه درسته ورځ څلرویشت ساعت د مزمل او مدثر پسې په منډه یم خو دا منډه وهل د دې لځایه چې زما وزن کم کړي لا زما اشتها خلاصه وي او ډوډۍ خوړلو ته مې زړه کېږي نه پوهېدم اخر د دې اضافه وزن د لاسه څه وکړم؟ د ماذدیګر د آذانو خوا وه چې نیلوفر راسر خدای پاماني وکړل او ولاړه، مدثر او مزمل هم لګیا وه د جنید سره یې لوبي کول ما هم د ماښام د ډوډۍ لپاره تیاری نیوه.

جهان پرون دوه کیلو د غواي تازه غوښه راوړی وه او نن د تلو مخکې څو ځله فرمایش کړې وو چې سم پر غوښه قورمه وکړه او وریجو کې دانه مانه کشمش او خلال"ګازره" واچوه چې قابلي پلو پشان خواږه راشي! غوښه مې چې دیګ بخار ته اچول یو ځل بیا مې د نیلوفر خبری ذهن ته راغلل او خپل چاغ بدن خوا ته ځېر شوم، او د ځان سره مې وویل چې دا ټول د جهان له لاسه داسې شوی یم! هغه تل غوښه راوړي او تل لګیا دی وریږی پخې کړه، غوښه پخه کړه، خو کله چې ډوډۍ تیاره شي نو د دې لځایه چې خپله یې وخوری خپل برخه ټول پر ما خوری، دا زما ټول اضافه وزن د هغه له لاسه دی، کنه ما کله دومره اشتها او دومره خوراک درلود؟

هغه وخت چې لا واده شوی نه وم او د پلار کور کې مې وم ادی او بابا به ځانونه راته مړه کول چې زه یوه ګوله اضافه خوراک وکړم خو ما به زر رقم بهانې هغوي ته

راوړل او ویل به مې چې زړه مې نغواړي، او اشتها نلرم او فلان دی او بستان دی!
خو اوس؟

خپل په فکرونو کې وم چې د موټر د هارنګ غږ مې واوریده! عجیب ده خو د دومره وخت وروسته اوس هم کله چې د جهان د راتګ غږ اورم نو زړه کې مې یو عجیب ډول خوشحالي پېدا کیږي او بې اختیاره مې پر شونډو مسکا خپره کېږي، ژر، ژر مې د دیګ بخار سر بند کړو او پر جنید مې غږ کړو ترڅو دروازه خلاصه کړي، همدا چې جنید د دروازې خواته په ځغاستو شو ترڅو دروازه خلاصه کړي د مدثر او مزمل د ژړا غږ هم پورته شو. په تلوار مې لاسونه د اوبو نل لاندې ونیول او داسې حال کې چې خپل په لمنه مې لاسونه وچول او د ادی خبره چې تل به یې ماته ویل:" په لمنې باندې لاسونه وچ کول د یوه بېکارې ښځې کار دی" پر شونډو مسکا راویستي وه د مدثر او مزمل خوا ته لاړم.

په غېږ کې مې داوړه نشو اخیستې ځکه ماشالله دواړه لویان شوی وه، نو مجبوره شوم د مدثر د اخیستلو لپاره لاسونه اوږده کړم او مزمل د لاس څخه ونیسم! خو مدثر ځان شاته کش کړو او د نې، نې پر ویلو یې زه وپوهه ولم چې باید مزمل په غیږ کې واخلم! د هغه په دې کار مې نرۍ مسکا پر شونډو خپره شوه، کوچنې جهان! عجیب او خنده داره به وی خو ما مدثر ته تل کوچنې جهان ویل، ځکه تل یې داسې رفتار کاوه لکه د مزمل څخه چې لوی وی؟ داسې حال کې چې دواړه جملیان وه، خو مدثر تل په همدغه لږ عمر کې تل ځان پر مزمل مشر حساب کاوه او هغه ته یې د کوچنې په نظر کتل او زیاتر وختونه خپل شیان یې هغه ته ورکول او هغه باندې پام کاوه!

او له بلخوا د مدثر هغه تور سترګي، رفتار، غوسه، قهر کېدل او حتا ډوډۍ خوړل یې لا د جهان پشان وه! د نیلوفر خبره جهان دی کاپی کړي او د مدثر په شکل کېدي جوړ کړې، کله ناکله خپله هم حیرانه کیدم چې خدایه اخر څنګه یو ماشوم دومره د یو کس پشان کیدلې شې؟ که هرڅومره هغه کس یې پلار وې بیا هم دا دومره شباهت

امکان نلری، مزمل هم د مدثر کاپی وو په شکل او بڼه کې یوازیني فرق یې د سترګو وو، د مدثر سترګي د جهان پشان تکې توري وه، خو د مزمل سترګي زما پشان خرمایې وه، البته د سترګو بغیر یې نور رفتار او کردار هم متفاوت وو، څومره چې مدثر کلک وو هغومره مزمل ژړندوک او نازولي وو!

جهان به تل په خندا ویل: دا مزمل جنی کېدل خو بدبختانه زه زورو سوم او دی هلک سو، خو سترګي، اخلاق او چمونه یې ستا رقم سول!

ما به تل ورسره په ظاهره په دی خبره جنګ کاوه او دا خبره مې نه منل، خو رښتیا خو د پټ کېدو نه دی د مزمل اخلاق، رفتار او حتا ځیني عادتونه زما پشان وه. په همدی فکرونو کې وم چې د دهلېز دروازه خلاصه شوه لومړی جنید په ځغاستو راننوت او د هغه وروسته جهان په داسې حال کې چې یو لاس کې د مالټو پلاستیک نیولې و او بل لاس باندي د ځان پسې د د هلېز دروازه بنده ول راننوت، مدثر او مزمل دواړو د هغه په لېدو په یو چیغه "بابا" ناری کړل او په قسم سره ویلې شم چې د جهان سترګي زموږ په لېدو د خوشحالې څخه وځلېدل، په داسې یو مینه او محبت یې زموږ خوا ته راوکتل چې بې اختیاره زما پر شونډو مسکا راغله.

جهان په داسې حال کې چې خپل پټو د ځان څخه لرې کاوه لاسونه خلاص کړل او مدثر و مزمل ته یې په بیحد مینه ناک لهجه غږ کړل ترڅو د هغه خواته ورشې. د هغه په دی کار مدثر چې زما څنګ کې ولاړ وو او زما لمن یې لاس کې نیولې وه لومړی د جهان خواته په ځغاستو شو او ورپسی مزمل په چغو شو تر څو پر ځمکه یې خوشی کړم همدا چې پر ځمکه مې ښکته کړو په یوه منډه یې ځان تر جهان ورسه وه، ما په خندا د هغوی دا حالت ته کتل جهان داسې حال کې چې دواړه یې غیږ کې نیولې وه زما خواته راروان شو، همدا چې زما څنګ ته راورسېد ما په خندا او شیطنت ورته وویل:

- زه شکر چې د یعقوب او یوسف ملاقات بلاخره وشو. "مطلب مې د دوی هغه ناکراره رفتار او غیږ کې اخیستلو ته وه، جهان هم زما مطلب واخیست چې په لوړ

غږ یې وخندل او داسې حال کې چې خپل لاس ته یې اشاره کول ترڅو ورڅخه د مالټو پلاستیک واخلم ویې ویل: شه نو شه! نازولي ته اوس پر ما باندی القاب ایږدی؟

ما هم په خندا بغیر د څه ویلو د هغه د لاس څخه د مالټو پلاستیک واخیست او د آشپزخانې خواته روانه شوم، جهان هم د مدثر او مزمل پر شور ماشور نور بیکاره نشو چې زما سره خبره یو پر دوه کړی او همغسې دواړه په غېږ کې نیولې د جنید د کوټې خواته روان شو د ماښام ډوډۍ تقریبا تیار وه زه د سلات جوړولو حال کې وم چې د جهان لاسونه زما چار چاپیر راتاو شول او سر یې زما پر اوږه کیخود د دې کار سره یې عادت شوی وم نو ځکه کوم خاص توجه مې ورته ونکړل او خپل سلات جوړولو ته مې ادامه ورکړه.

جهان- امممم څه خوندور بویونه زما تر پزې"پوزې" راځې، دا څه دی پخ کړې نازولې؟

بغېر له دې چې خپل د سلات جوړولو څخه نظر واخلم و مې ویل: څه به مې پخ کړې وی ستا په نظر؟ درسته ورځ زه یم او غوښه او وریژی دی! باور پخدای نور دیګونه پخول مې لیاده وتې چې ګډو څنګه پوخ کېږي، فاصله څنګه پاخه کېږي سبزی څنګه پاخه کېږي؟ یوازی او یوازی غوښه او وریژی پخول مې زده کړې بس! که سبا بله ورځ د کوم بل دیګ په اړه دی تندی تروش کړو چې خراب دې پخ کړې نو په دې (خپل د لاس چاقو کوم باندی چې سلات مې جوړه هغه ته مې وښود او په ګواښ لرونکې لهجه مې ورته وویل: نو په دغه دې وهم، ځکه ما ټول دیګونه ستا د دې غوښو او وریژو له لاسه لیاده ووت.

زما په دې چاقو ښورول او ګواښونه کولو باندی جهان په لوړ غږ په خندا شو او بیا په ناڅاپه حرکت کې زه خپل خواته و څرخولم او په شیطنت یئ وویل: دا دومره غټ تهدید نازولې؟!
ما هم خندا راغلې وه، خو خپل خندا مې پټ کړل او و مې ویل: خود نو ته درسته

ورځ پر ما دا شیان پخه وی که سبا ورځ ترکاری پخه کړم او خراب راشي ته حق نه لرې ما ته تندی تروش کړې چې دا دې خراب پاخه کړی.
جهان همغسې خندا پر شونډو بغیر له دې چې نظر زما له سترګو واخلي په مینه ناک لهجه وویل: ته زهر پاخه کړه، زهر! بیا یې زما ومخ ته کېږده او وایه وخوره جهان! نو و به ګوری چې زه ستا د لاس څخه هغه زهر به لا په ورین تندی وخورم نور بووې، خو لری نازولي ...

د هغه په داسې مینه ناک لهجه د شرم څخه مې مخ تک سور شو، ژر مې خپل مخ ورڅخه وګرځوه او داسې حال کې چې ځان مې د سلات په جوړولو بوخت کاوه د شرم څخه په لړزیدونکې غږ مې وویل: بو...بوی نور تیاره ده ته لاړ شه ماشومان ته غږ کړه زه اوس سرخان راوړم.
د هغه کرار خندا مې واوریده او زه لا وشرمیدم نه پوهیږم ولې خو د دومره کلونو وروسته بیا هم د هغه خبرو زه داسې بې خوده کولم، د هغه لاسونه یو ځل بیا زما څخه راتاو شول او داسې حال کې چې زما د سر ویښتیان یې کرار ښکل کول د "صحیح دې په سترګو" پر ویلو راڅخه لرې شو.

د هغه د تلو سره یوه ژوره ساه مې واخیسته ترڅو خپل احساسات راکنټرول کړم. د څو شیبو وروسته چې لږ د مخ سور والې مې کم شو، په تلوار د سلات ځنګ کې دوه قاب میوه مې هم جوړه کړل او سرخان مې راوخیست دهلیز ته په تلو مدثر او مزمل مې ولیدل چې خپل په مات ګوډه ژبه داسې چې څوک نه پر پوهیدو چې څه لګیا دې؟! جهان ته یې یو څه ویل او جنید لکه ترجمان د هغوي خبرې جهان ته بیرته معنا کول! عجیب وو خو جنید د هغوي په خبرو پوهیدو داسې حال کې چې زه! چې مور یې یم په سخته پوهیدم چې څه وایي؟ زما په لیدو جهان مدثر او مزمل خپل خواته کش کړل او جنید باندی غږ کړل تر څو سرخان هوار کړي، جنید هم په تلوار زما له لاسه سرخان واخیست او زه بیرته د آشپزخانې خواته ولاړم د کاسو اچولو لپاره.

ما کاسې اچول او جنید ورل کله چې اخر کاسه پاتې شول نو جنید ته چې بیا د کاسو ورلو لپاره اشپزخاني ته را ننوتې و ومې ویل: ته نور ورځه کېنه ډوډۍ دې وخوره دا اخرې مجمه ده زه یې راوړم.
جنید- نه دا ما ته راکه ته یو جګ وبه راوخله زه پیالي هم ورم.
د هغه دومره فکر او ذکاوت ته مې مسکا پر شونډو راغله، مور به مې داسې کسانو ته چې هر شي ته یې فکر وه"سامان کاره ویل" او جنید د رښتیا هم سامان کار وو په هر کار پوهېدو خپل د عمر څخه ډېر هوښیار و کله ناکله حتا په نیمه شپه کله چې مدثر او مزمل په بېحد نارامي کول او ژړل به یې جنید به راتلو زما کمک ته، که څه هم ما او جهان به ورته ډېر ویل ورځه ویده شه خو هغه به تر څو چې مزمل او مدثر نه وایې کرار کړې نه تلو.

شاید ریشخند او مسخره په نظر راشې که ووایم د جنید اخلاق او رفتار هم د جهان پشان دی! خو دا څو وخته فکر کوم یو مرض مې پېدا کړې په نوم د "جهان" هر یو چې لږ خوش اخلاقې راسره وکړې لږ نرم طبعیت راسره وکړې نو زه د هغه کس په وجود کې د جهان د اخلاق، رفتار او یو نښې نشانې پسې ګرځم! او وایم دا د جهان کار دې هغه داسې دی، لکه اوس چې ماته په مدثر کې هم جهان ښکارېدو په مزمل کې هم د هغه اخلاق ښکارېدل او جنید خو بیخې راته د هغه کاپی ښکارېده، د جنید د تلو وروسته یو جک اوبه مې راوخیستل او د دهلېز خوا ته روان شوم د هغوي په لېدو چې لا ډوډۍ ته یې لاس نه وو وړې او ماته په تمه ناست وه مسکا مې پر شونډو خپره شوه.

د جهان مخامخ د جنید څنګ ته کښېناستم جهان د بسم الله پر ویلو مور ټول ډوډۍ خوړلو ته دعوت کړو، زما نظر بې اختیاره د جهان پر مخ څرخېده په تمه وم چې د هغه نظر خپل د پوخ کړې دیګ په اړه واورم چې ایا خوښ شوی او کنه؟ جهان د لومړۍ ګولې خوړلو وروسته زما منتظر نظر ته راوکتل او داسې حال کې چې خندل یې ویې ویل: داسې خوندوره! دا چشي وراچوي چې داسې مزی داره ډوډۍ راځې ها نازولې؟

د جهان په دې تعریف زړه مې د خوشحالۍ څخه په الوتنې شو، خو خپل شونډې مې وچیچل تر څو د خوشحالۍ هغه خندا چې بې اختیاره زما پر شونډو خپره کیدل مخ ونیسم په کراره غږ مې ورځخه مننه وکړل او نور مې هیڅ ونه ویل جهان هم همغسې مسکا پر خوله یوه ګوله خپله کول یوه یې مدثر او مزمل ته ورکول په دې منځ کې یې یو دوه ځل زما و مخ ته هم خپل د قاب څخه غوښه کېخودل او ما که څه هم اشتها ورته درلود خو د نیلوفر د خبرو په یاد راوړلو مجبوره کولم چې لاس ونیسم، جهاد دوه ځله خپل برخه غوښه زما قاب ته راواړول او ما دوه ځله هغه د جنید خوا ته ورکړل تر دې چې د جهان ناراض غږ پورته شو او په تروش تندی وویل:

جهان- ولې غوښه نخورې؟

د هغه په دې خبره ورخطا شوم خو ځان مې راټول کړو او په تلوار مې وویل: خورم یې کنه؟ چا ویل چې نه یې خورم؟

زما په خبره د جهان تندی نور هم تروش شو او د سر په اشاره یې هغه غوښو ته چې ده و ماته راکړې وه او ما د جنید خواته اړولې وه اشاره وکړل او ویې ویل: ویلو ته ضرورت نشته ګورم یې!

د هغه په خبره بیا مې انکار وکړو او د دې لپاره چې نور زیات په دې خبره کلک نه شې لږ غوښه مې وخوړل، جهان هم نور د ډوډۍ تر خلاصیدو څه ونه ویل، د ډوډۍ خوړلو وروسته جنید یو څه لوښې زما سره تر آشپزخانې ویوړل او بیا یې مزمل او مدثر د ځان پسی کړل او خپل د کوټې خواته لاړو جهان هم د لمونځ کولو لپاره کوټې ته لاړو ما هم ژر، ژر لوښې ومینځل او چاې مې دم کړل خو د دې څخه مخکې چې خپل کوټې ته لاړه شم د جنید د کوټې خواته لاړم او کله چې خیال مې د ماشومانو لخوا راحت شو چې ښه دې او لوبې کوې، نو پتنوس په لاس خپل کوټې ته ننوتم او لومړۍ شې باندې چې نظر مې ورباندې ولګېده نو بې اختیاره مې مسکا پر شونډو خپره شوه.

پرون غرمه جنید د کور په لاره کې الوچې اخیستې وه او یو دوه دانې ماته هم راکړل، او ما ته دومره خوند راکړو چې پیسې مې ورکړې او د نور الوچو اخیستلو پسې مې واستو خو جنید خالي لاس راغلو او راته ویې ویل"چې هغه کراچې وان تللې" او الوچې نه وه راوړې که څه هم ډېر زړه مې ورپسې وو خو څه مې ونه ویل تر دې چې پر همغه ماښام د ډوډۍ خوړلو وخت کې جنید راته وویل" ادی روپۍ راکړه سبا ګورم که هغه الوچې والا راغلې وو درته الوچي به واخلم!" دا خبره جهان واریده او پوهه شو چې ما الوچې غوښتل هغه دقه څه یې ونه ویل خو نن! سترګي مې یو ځل بیا خپل د نالې څنګ کې د الوچو پر پلاستیک ولګید او بیا مې نظر د جهان خوا ته چې د کوټې کونج کې ولاړ و او مونځ یې کاوه ښخ پاتې شو.

مینه همدا ده کنه! چې بغیر د څه ویلو ستا په خوښ، ناخوښ، غوسه، خندا، ژړا، غم، خوشحالي او هر حالت باندی پوهه شي بغیر د هېڅ لفظ ویلو څخه، بغیر د خبرو څخه ستا د زړه په خبره پوهه شي، د سترګو خبري دې ولولې او جهان زه همداسې درک کولم او زره،زره یې زه خپل په دی محبت ناکه کارونو پر ځان مینه کولم، پټنوس مې لاندی کیخود او په داسې حال کې چې د هغه لمونځ ته چې په بېحد یو ښکلې انداز باندې کاوه کتل مې یو پیاله چاې مې ډک کړل، د جهان مونځ بل رقم جادو درلودا! مکتب کې به استاذ موږ ته ویل "مونځ مو په خضوع او خشوع وکړې!" خو زه نه پوهېدم چې دا خضوع او خشوع باندې لا څنګه کېږي؟ خو د جهان د لمانځه لېدلو وروسته فکر کوم د استاذ مطلب د خشوع او خضوع څخه همدغه وو!

د هغه په سلام ګرځولو ما خپل نظر ورڅخه وګرځو چې خدای دې نه کوې ما خو تاته ښېخې کتل لا نه؟ دا څو وختونو کې دا زموږ یو عادت ګرځېدلې وو ما به ځان ناګاره اچو او جهان د دې باوجود چې پوهېده یوازې په یوه مسکا او سر ښورولو خپل نظر راڅخه اخیست او دعا به یې کول، اوس هم همغه کار یې وکړو او لاسونه یې دعا ته پورته کړل، د ښه شېبه دعا کولو وروسته راپاسېد د تل پشان د جای نماز لځایه خپل په پټو یې لمونځ کړی وو!

د راپاسېدلو سره سم يې خپل پټو هم لځان سره راټول کړو او زما خوا ته چې د کوټې په کونج کې په هوار کړې نالې ناسته وم راغلو زما د څنګ په نالې کښېناست خپل بالښت يې خپل د شا څخه راکش کړو او خپل راسته لاس سره يې کيخود عادت يې وو تل په راسته خوا به يې ډډه وهل! خپل مخ يې زما خواته راوګرځاوه او داسې حال کې چې دوه سترګې يې و ماته نيولې وه او نرۍ مسکا يې پر شونډو خپره وه خپل په واسکټ کې د يو شې پسې په ګرځېدلو شو او همغه حال کې وويل: شه نو نور څه خبرې دې نازولې؟ څه دې وکړل نن اومم؟

د جهان په دې خبره خپل د نن ورځې کړې کارونو ته مې نظر واچو او چندان موضوع مې د بيان لپاره پېدا نکړل! اصل خبره د موضوع نه وه بلکې زما فکر د نيلوفر خبرو دومره خراب کړې و چې د نورو وروځو پشان په شوق سره مې ورته خپل د ورځې د کوچنې موضوعاتو په اړه خبرې نشو کولې چې مزمل نن څه وکړل؟ مدثر څه وکړل؟جنيد ته نن استاذ په مکتب کې څه ويلې وه؟ او نن ما څومره کار وکړو کور کې او داسې نور کوچني موضوعات چې ما به تل په دې څو کالو کې هر ماښام جهان ته ويل او هغه به مسکا پر شونډو په خوند باندی را ته غوږ نيولې وو!

زما چوپتيا چې زياته شوه جهان خپل سر راپورته کړو او په مشکوک توګه يې وپوښتل: کوم شئ سوی؟

شايد زيات نازولې شوې وم! خو د جهان همدا پوښتنه کول کافې و چې سترګو کې مې اوښکې راټولې شې او په ژړغونې غږ ورته ووايم: ستا په نظر زه بېحد چاغ يم او بدرنګه معلومېږم؟
زما په دې پوښتني جهان څو شېبې په حيرت راوکتل خو څو شېبو وروسته حيرت يې په تروش تندی بدل شو او ويې پوښتل: چا درته ويلې چې ته چاغه او بدرنګه يې؟

زه يې پرينښودم چې ځواب ورکړم او په همغه تروش تندی خپل نظر ما ته ځېر کړو او څو شېبې وروسته لکه تازه چې په يو موضوع يې سر خلاص شوی اوسېږي ويې

ویل: شه نو تا د دغه خبرې لپاره نن ماښام ډوډۍ سمه نخوړل؟ دا چا درته ویلي چې ته چاغ او بدرنګ سوی یې؟ ها؟ دا څوک وو؟

لومړۍ مې غوښت نیلوفر ورته یاده کړم خو زه د نیلوفر له خبرو څخه خفه شوی نه وم پر ما خپل د خاله د لورګانو خبرې بد لګېدلې وه، نو ځکه مې وویل: هغه ورځ د ادی دوي کور کې وم چې زما خاله او د هغه لورګاني راغله هغوي زما پر لېدو یو د بل په غوږ کې پسپسک کوی او .. او ما ته یې ..( نه پوهېږم د جهان د څېر او دقیق نظر تاثیر وو که زما د نرۍ زړه! خو هر څه چې وو خبره مې پوره نشو کړې او اوښکې مې تر سترګو راتوې شوی، زما د ژړا په لېدو جهان خپل تکیه د بالښت څخه واخیستل په همغه تروش تندي پتنوس او د چای ترموز یو څنګ ته کړو او زه یې د لاس څخه نیولې د ځان خواته کش کړم، همدا چې سر مې د هغه پر سینه ولګېد ژړا مې لاپسې زیاته شوه، زما د ژړا په غږ د جهان د شونډې لاندی د نچ نچ ویل مې واوریدل او بیا د هغه لاسونه چې زما پر ویښتیانو یې تیر کړل او په مینه ناک لهجه یې وویل:

جهان- جان .. جان مه جاړه ته و خدای دغه نو خبره ده چې ته ورباندی جاړې؟
د جهان په دې خبره چې ویې ویل مه ژاړه! زما ژړا لا پسې زیاته شوه او همغسې د ژړا حالت کې مې وویل: هغ... هغوي ما ... ما ته ویل ... چا... چاغ ... زراعتی ... غوا ..

جهان زه لږ خپل د غیږې څخه جلا کړم خپل پر لاسونو یې زما اوښکې پاک کړل او داسې حال کې چې زما یو دوه تاره د پېکې ویښتیان یې زما د غوږ شاته کول ویې ویل: بد یې کړې چې تاته یې دسې خبره کړې، ته کله چاغه یې؟ ولې ماته نه شکاری دا ستا چاغ توب؟ ها؟ ته څونې"څومره"لیونۍ یې چې په دی دوغنې کک خبرو دې پر ځان دومره غټ غم نیولې.
په همغه ژړا او بند بند لهجه مې وویل: ته ... ته جنۍ نه یې چې ... چې زما حالت

درک کړې، ته نه پوهېږې... څو.. څومره زور غوارې کله ... کله چې یو نفر د ټولو مخکې درته ... درته و وایې چاغ ... بد.. بدرنګه.. غوا ...

زما په هر خبره د جهان د تندی ګونځې یو پر بل پسې زیاتیده، کله چې خبره مې خلاصه شوه نو جهان په همغه تروش تندی وپوښتل: ته ما ته دا ووایه چې تا ته زما نظر مهم دې که خپل د خاله د لورګانو؟
بغېر د څه ویلو مې ورته وکتل چې هغه یو ځل بیا خپل پوښتنه تکرار کړه او کله چې ما ورته وویل "ستا" نو هغه خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: اپرین نو خبره خلاصه، که د دې څخه بعد چا درته چاغ، بدرنګه، یا هر مرګ وویل ته ورته ووایه هر شې چې یم خپل په میړه ګرانه یم! او زما میړه چاغ ښزه خوښه وی نه دوه وچ کلک هډوکان، بس خبره خلاصه.

خوله مې خلاصه کړل ترڅو یوه خبره وکړم خو جهان اجازه رانکړل او داسې حال کې چې زما دواړه لاسونه یې خپل یو لاس کې نیولې وه او خپل پر بل لاس یې زما غومبرې باندی لاس تیره وه کرار یې وویل: زه پوهیژم ته ولې تر دې اندازی په دی خبرو خفه شوی یې، خو ته ولې همیشه دا خبره لیاده باسې نازولې! چې زه کم شل کلن ځوان نه یم چې ستا سره مې تازه کوژه کړې وی او پر تا نخرې وکم چې دسې بدن جوړ کړه او دسې کالې واغونده او اغسې وکه او دغسې وکه! زه ستا میړه یم، او زموژ په مینځ کې چې کم رابطه او پیوند دې هغه د اوس وخت د تازه بلوغ ته د رسیدلو هلکانو او انجونو په رقم نه دې چې په یو خبره، یا په یو کار خبره تر جدای یا نور ځایونو ورسېژی!

خپل د لاس فشار یې زما پر لاسونو ډېر کړو زما زنه یې خپل پر هغه بل لاس ونیول او داسې حال کې چې نرۍ مسکا یې پرشونډو خپره وه او په لهجه کې یو څه شیطنت څرګندېده وویل: وګوره موژ دوه دانې ګلالۍکوچنیان لرو، زموژ د واده دا دریم کال دې! که د خدای رضا وه شاید کال تر بله کال یو بل کوچنې هم ما ته

راوړې، باره زه د خدای څخه غواړم او ته د خدای نور چشي غواړې؟ د خلکو د خبرو پسې سر مه تاوه وه نازولې! خلک مرې لا په روز نه پرېږدی ژوندی خو لرې.

د جهان په هغه خبره چې ویې ویل" کال تر بله کال که د خدای رضا وه شاید یو بل کوچنې هم ماته راوړې" مخ مې د شرم څخه سور شو غوښتل مې خپل لاسونه د هغه د لاس څخه جلا کړم خو هغه پرینخودم او داسې حال کې چې په خندا یې زه بیرته خپل د غیږې خواته کش کولم ما په دروغجن قهر د هغه پر سینه یو دوه سوک ووهل او ومې ویل: بل کوچنې په خوب کې لا تر څلور پنځه کالو مه ګوره، په ویښه خو لرې.

زما په خبرې د جهان د خندا غږ پورته شو، د هغه خبرو او خندا زما د څو شېبو مخکې خفګان لیاده وویست، داسې حال کې چې د هغه د خندا پر غږ مې نرۍ مسکا پر شونډو راغلې وه او ټول وجود مې غوږ وو ترڅو د هغه ځواب واورم که څه هم د هغه هر خبره راباندی بېحد ښه لګېدل او زړه مې د خوشحالې څخه پورته ښکته کېدو خو په ظاهر به مې مخالفت کاوه! او زما په مخالفت به هر ځل د هغه د خندا غږ نور هم زور اخیست، د هغه د هر خندا سره به ما د ځان سره په زړه کې اقرار کاوه چې زه په دی سړې مینه یم! هغه هم لیونۍ مینه.

جهان- دسې مه وایه زه نن ځونې خوشحاله وم!
په ګنګس لهجه مې وپوښتل: د څه لپاره خوشحاله وې؟
جهان د فرش له سر د الوچو پلاستیک راواخیست، یو دانه یې وماته ونیوی او بیا یې زما د غوږ څنګ ته په شیطنت وویل: ما فکر کوې چې الوچې ته زړه تلل به دغسې بې دلیله نه وی که څنګه نازولې؟!

د جهان په خبره د خوشېبو لپاره مې سر خلاص نشو چې څه مطلب؟ خو کله چې پر مطلب یې پوهه شوم نو د حیرت څخه مې سترګې خلاصې پاتې شوی او په بې اختیاره غږ مې کلک وویل: نـــــــــه.

زما په داسې کلک نــــه باندې جهان په کټ کټ وخندل او ویې ویل: ولې نــــه! ما خو خپل وظیفه په کلک سر ته رسه ولې او پوره مطمن یم چې ...
جهان مې خبرې ته پرینخود د غیږ څخه یې جلا شوم او په غوسه مې ورته وویل: ستا مرګ راغلې د هغه وظیفې سره دی!

جهان په زوره وخندل او ویې ویل: نن دې دا تهدیدونه بیخې ډېر سوی نه دي؟
په شیطنت مې وویل: شکر باسه تر اوسه یوازې خبره تر ګواښ ده! وېره د هغه ورځې څخه وکړه چې عملې کړم.

زما په دی خبره هغه په کټ کټ وخندل او ویې ویل: نو خدای دې ما ته خیر راپیش کړې ستا په دې ګواښونو ...

***

کله ناکله د دې یو رقم وضعیت څخه ستړې کېدلم! هره ورځ یو شان تېرېدل، سهار څخه تر ماښام ماشومانو ته ډوډۍ ورکړه، کالې بدل کړه، پام ورباندې وساته چې ځانونه خوږ نکړې، د کور کار وکړه، دیګ پوخ کړه، کالې ومینځه، او خلاصه ژوند بیخې یو رنګ او ستړې کوونکې شوی و، زما د خوشحالې او آزادی وخت هغه وخت وو چې جهان به ماښام کور ته راغې! همغه څلور پنځه ساعت چې هغه به په زور د ستړیا څخه سترګې خلاصې نیول وه او زما سره به یې خبرې او مجلس کاوه همغه زما د دې ټول ورځې ستړیا او بدخلقې لمینځه وړل، که څه هم د ادې کور زموږ د کور سره نږدې و او یواځې د لس پنځلس دقو پیاده لاره یې درلود خو بیا هم د جهان د اجازی بغیر نشوم تللې!

نه پوهېږم ولې خو جهان زما د کور څخه په وتلو سخت خفه کېدو حتا که اجازه مې هم ورڅخه اخیستې وایې نو تندی به یې تروش کاوه او په یو سختې به یې اجازه راکړل لکه زه چې کوم امریکا ته دتلو اجازه ورڅخه اخلم، هغه هم څنګه اجازه! سهار وختې به ولاړ وو چې تیاره شه زه دې ورم د پلار کور ته، اته بجې به یې ویورم او

دولس بجی به د غرمه راورسېد چې راځه کور ته! د جهان په دې عادت ادی او بابا هم پوهه شوي وه نو هغوی به زیاتر وختونه کوښښ کاوه زموږ کور ته زما د لیدلو لپاره راشي نه دا چې ما خپل کور ته وغواړي، خو نن جلیل د ایران څخه د یو کال وروسته راغلې وو او مور مې میلمستیا کړې وه او زما څخه یې غوښتي وه چې ماښام د جهان سره ورشم!

سهار کله چې جهان تلو کار ته ورته ومې ویل چې بابا کور کې میلمانه یو، او هغه هم د تل پشان زما د بابا کور ته دتګ په اورېدلو تندی تروش کړو او یوائې د سر په خوځولو د سمده ځواب راکړو. که څه هم د هغه ځواب باندی ما فکر کاوه چې د میلمستیا تلو څخه باید لاس پریمنځم خو جهان ماذدیګر ځلور بجې راغې او ویې ویل "تیاره شه چې د پلار کور ته دې لاړ شو!"

دومره خوشحاله شوم په دې خبره یې چې په پنځه دقو کې ماشومان او ځان مې تیار کړو جهان بغیر د څه ویلو دهلیز کې ناست وو، کله چې مخکې و درېدم او د تلو مې ورته وویل نو د څو شیبو لپاره په ځېر نظر یې سر تر پښو چک کړم او بیا لځایه پاسېد داسې حال کې چې د دهلیز څخه وتې ویې ویل: کوچنیان په غیږ کې مه راخله بیا دې ملا درد کوې، دغسې تر لاس یې ونیسه زه موټر چالانده کوم لږ همدلته صبر وکه.

د هغه پر وتلو د مدثر او مزمل د پښو بوټان مې سم کړل جنید چې لا هم خپل کوټه کې و ورغږ مې کړل چې ژر کوه ناوخته دي! د جنید په راوتلو د جهان د موټر د هارنګ غږ مې هم واوریده. ما د مدثر لاس ونیو او جنید مزمل په غیږ کې کړو او زما څخه مخکې له کوره ووت، زموږ په لېدو جهان له موټر راښکته شو جنید او مدثر یې شاته سیټ کې کېنول او داسې حال کې چې ماته یې په سترګو د مخکې سیټ کې د کښېناستلو ویل خپل د کور د دروازی خواته لاړو تر څو قفل یې کړي، تر څو چې جهان د کور دروازه قفل کول موږ موټر کې ځاې پر ځاې شوی وو، جهان بغیر د څه ویلو موټر روښانه کړو. دومره لاره زموږ تر کور او د بابا تر کور نه وه، هغه هم

بلخصوص د موټر سره خو بيخی د پنځه دقو لاره وه، د بابا د کور مخکې لوی سړک څنګ ته جهان موټر ودره وو او زما خوا ته یې مخ کړو.

جهان- چشې واخلم؟
څو شیبې بغیر د څه ویلو په ګنګس انداز مې ورته وکتل، خو کله چې نظر مې د سړک شاوخوا پر دوکانو ولګېده پوهه شوم د جهان د خبری مطلب څه دې؟ نو ژر مې وویل: زما په نظر یو من سیبان واخله.

جهان د سر په خوځولو د موټر څخه ښکته شو او په کلک قدمونو د دوکان خواته لاړو ما د شالخوا وریسې کتل مقتدر او کلک قدم اخیستل یې داسې و چې د هر چا نظر وریسې څرخه وو او که څه هم کوم انجلۍ شاوخوا په هغه شپه کې نه وه چې د جهان پسې وګوری خو بیا هم زما زړه کې ناشنا مالکیت د جهان په اړه په جوش وو او هېڅ مې نه خوښېدل څوک ورته وګوری! جهان ډېر ژر د یو پلاستیک سیبانو سره د موټر خواته راغلو سیبان یې شاته سیټ کې د جنید سره کېخودل او موټر یې زموږ د کور د کوڅې خواته وګرځو، د ماښام آذانونه دانه مانه اوریدل کېدل چې د بابا د دروازی مخکې ښکته شو.

د هغه آشنا کوڅې په لېدو چې ما خپل د عمر شل کاله پکې تېر کړې وه نرۍ مسکا مې پر شونډو راغله، تل مې د دې کوڅې څخه بد راتلل ځکه بېحد تنګ او خیرن وه خو اوس داسې راته نه ښکارېدل اوس حتا د دې کوڅې د هغه شوخ ماشومانو پسې چې درسته ورځ به یې کوڅه کې چغې وهل او موږ به یې یو دم کرار ته نه پریښود زړه تنګ شوی وو، د جهان راتګ مې خپل شاته احساس کړو همدا چې وروګرځېدم هغه ښکته شو او مدثر یې زما د غیږ څخه واخیست او په تروش تندی د کور خواته اشاره وکړل او د شونډی لاندی کرار وویل: ننوځه ولې ولاړه یې؟

همغسې مسکا پر شونډو کورته ننوتم او جهان ته چې په تروش تندی باندی زما شاته راروان وو په شیطنت مې وویل: کوم ځاې کې چې تا دا اوس موټر ودره وو! که یاد

دې وی څو کاله مخکې همدلته ما د لومړۍ ځل لپاره ته ولېدلې هغه هم په هغه عجیب بڼه!

د هغه وخت په یاد راوړلو نرۍ مسکا مې پر شونډو خپره شوه او د سترګو له کونج مې ولېدل چې جهان هم وخندل، رښتیا چې هم تقدیر او قسمت څه کارونه چې پر انسان نه کوی هغه ورځ زما یو رګ لا نه وو خبر چې یوه ورځ به داسې راشې چې زه به په همغه اطرافې چې ریشخند مې واهه داسې لیونې مینه کېږم چې حد نلرې. مخ مې د جهان خواته وګرځوه تر څو د هغه خبری د هغه ورځ په اړه واورم خو د دې څخه مخکې چې جهان کوم څه ووایې ادی مې ولېدل چې د دهلیز څخه په خوشحالې راووتل او زموږ مخ ته راغلل، د هغې شاته مې نظر په اسما ولګېدی چې په مسکا یې زما خواته کتل، ادې د مزمل او جنید چې زموږ څخه مخکې، مخکې روان وه مخ ښکل کړو او بیایې په خوشحالې زما او د جهان خواته وکتل، جهان د تل پشان سر ښکته واچو او په بېحد ارام او مردانه توګه یې د ادی او اسما سره چې تازه زموږ خوا ته نږدې راغلې وه سترې مشې وکړل.

ادی- پخیر راغلې زوی راځه دننه.
جهان- معلم صیب چیرته دی؟
ادی- هغه د جلیل روی سره ولاړی جومات ته همدا اوس به راشې تاسو راځې دننه.

جهان د سیبانو هغه پلاستیک چې ما هېڅ فکر ورته نه وو شوی چې کله یې راخیستې و؟ د دهلیز مخکې زینو سره کېخود او په کرار داسی حال کې چې مدثر یې زما غیرې ته راکوې وویل: نو زه به هم ولاړ سم جومات ته هم به لمونځ وکم او هم به معلم صیب و وینم او د هغه سره به یوځای راسم.

او بیا بغیر له دې چې چا ته اجازه ورکړې تر څو کوم شې ووایې، په غټ قدمونو بیرته د کور د دروازی خواته لاړو، د هغه په داسې تلو اسما په حیرت باندې زما خواته راوکتل، خو زه چې پوهېدم چې جهان ولې داسې په تلوار لاړو نرۍ مسکا مې پر شونډو راغله! جهان بېحد په ځېنو خبرو کې کلک وو، هغه هېڅکله ادی ته لا په

پورته نظر نه کتل او تل به يې ويل "که څه هم ستا مور ما ته زما د مور پشان ده، او خور دې راته د روقيه څخه په کمه نه ده، خو د دې ټولو خبرو با وجور اسلام کې دومره هم نه ده روا چې يو کس دې خپل د خواشې يا خوشينې سره خبرى او مجلس وکړې" نو ځکه اوس چې ادې وويل بابا او جليل جومات ته تللې او کور کې کوم بل سړى نشته نو جهان ځان داسې په تلوار له کور وباسه.

د هغه په تلو موږ هم کور ته ننوتلو او تازه د ادى او اسما سره مې سترى مشى وکړل، مزمل او مدثر د اسما د زوى په لېدو د هغه سره په لوبه لګيا شول او جنيد هم ځان د هغوي سره مصروف کړو، خو له نظر څخه يې له ورايه ښکاريدل چې يوازى د مدثر او مزمل پسې نظر دې چې خوږ نشې، خپل حجاب مې وباسه ادى لاس رامخکې کړو حجاب يې راڅخه واخيست او همغه حال کې زما پر لېدو د خوشحالې څخه يې نظر وځلېده او ويې ويل: ماشالله کالې دې څومره درسره ښه معلوميږى! تازه اوس کالې دى پر بدن ښه معلوميږى پخوا خو دوه هډوکې وى سم د ګور د مړو پشان نه کالې درسره خوند کاوه نه هم سينګار.

د ادى په خبره په خلاصو سترګو د حيرت څخه مې وويل: ادى! يعنې ستا په نظر زه پخوا دومره بدرنګه وم؟
ادى- د ښځې ښايست په دې کېدى چې يو شې واچوى معلوم خو شې! پخوا به کالې چې به دې واغوندل اوږى به دې بوکې راوختلې داسې معلوميدل چې په اسکليټ دې کالې اغوندلى خو اوس( سر تر پايه يې راوکتل او په همغه خوشحاله لهجه يې وويل: خو اوس ماشالله نظره نه شې بدن دې ډک شوى کالې او سينګار ښه درسره ښکارى.

د ادى خبرو ته مې خندا راغلل او مخ مې د اسما خوا ته چې په خندا يې زما خواته راکتل واړو او ومې ويل: ته څه نظر لرې اسما؟ ستا په نظر چاغوالې راسره ښه ښکارې؟ يا که (په پوسخند او خفه لهجه مې وويل: ستا په نظر هم زراعتې غوا راڅخه جوړه شوى؟

د دې څخه مخکې چې اسما څه ووايې ادی چې زما حجاب يې په ميخ ځړه وو مخ راوګرځوه او په تروش تندي وويل: چا تا ته دسې خبره کړې؟
په همغه پوسخند مې وويل: نور به څوک وی موری؟ ستا خورزې ګيانې!
زما د خبرې په اورېدو ادی يوه هوسا ساه واخيسته، او زموږ خوا ته بيرته راغله نه پوهېږم د ادی هوسا ساه اخيستل په څه خاطر وو؟ شايد هغې فکر کړې و چې دا خبرې ماته جهان کړې؟ ځکه ورخطا شول!

ادی- نو هغه ورځ چې ته داسې ژر په تلوار ولاړې په همدی خبری وو؟
بغير د څه ويلو مې نظر د ماشومانو خواته کړو، هغه ورځ هغوي خپل په خبرو زه دومره پعذاب کړم چې مجبوره شوم د جهان راتګ ته انتظار ونکړم او خپل يوازی ځان کور ته لاړه شم، که څه هم جهان له دې چې يوازی راغلې وم او د هغه راتګ ته مې انتظار نه و کړې غوسه شو.
زما په خاموشې آسما په کراره لهجه وويل: تا به تل ماته ويل د خلکو د بيځايه خبرو پسې مه ګرځه! خو اوس خپل د هغوي د داسې خبرو پسې چې يوازی د ضد او بخيلې څخه يې کوی ګرځې او ځان ورباندې خفه کوی؟

بيا مې هم څه ونه ويل او په خاموش نظر مې يوازی هغوي ته نظر ونيو، د اسما خبری صحيح وه زه پوهېدم چې هغوی د ضد، بخيلې او حسادت څخه داسې خبری ما ته کوی، خو ما اوس د پخوا پشان هغه روحيه نه درلود! څه د جهان بيحد ناز خرابه کړې او نازک زړه کړې وم او څه هم چاغ بدن مې زما پخوانې پر ځان باور را کم کړې وو او که يو نفر د دروغو هم ويلې وايې بدرنګه شوی يې نو ما به په ساعتو، ساعتو هنداره کې ځانته کتل چې ايا د رښتيا بدرنګه شوی يم؟ ما ته ښکلا هېڅکله معيار او لومړيتوب نه وو خو اوس! نه پوهېږم زړه کې مې وېره ده چې هسې نه د نيلوفر خبره رښتيا شې او د جهان زړه راڅخه تور شوی!

هغه ميلمستيا چې ما بايد ورڅخه خوند اخيستې وايې او خپل د مور او خور سره مې وخت تېر کړې وايې، هغه ميلمستيا زما د بيځايه فکرونو او انديښنو له لاسه

راباندې زهر شوه، د دې لځایه چې خوشحاله شم او روحیه مې بدل شې، خفه او غمژن شوم زړه مې غوښت کاش ژر تر ژره بیرته خپل کور ته لاړه شم! نیم ساعت وروسته بابا، جلیل او جهان یو د بل پسې کور ته راننوتل جهان تر ټول شاته په داسې حال کې چې خپل فیرزوی تسبیح یې د ګوتو منځ کې اړول او سر یې ښکته نیولې وو راننوت.

ادې د میلمه خانې هغه دروازه چې د دهلېز منځ کې خلاصیدل او ټول کور ورځخه ښکاریده خلاصه کړې وه، د بابا په راتګ زه ژر لځایه پاسېدم او مخکې لاړم او لاس مې ورځخه ښکل کړو هغه هم په مهربانې زما ویښتیان ښکل کړل او زما د حال پوښتنه یې وکړل او بیا په همغه خندا مزمل او مدثر ته نارې کړل، مدثر او مزمل د بابا سره بیحد زیات عادت وه ځکه بابا هره ورځ زموږ کور ته د یو دوه ساعتو لپاره راتلو او کله ناکله به یې مدثر او مزمل هم د ځان سره خپل کور ته وړل نو ځکه پیژندل یې، او اوس چې کله هغوی د بابا غږ واورېده او بابا یې ولېده نو په یوه منډه یې ځانونه بابا ته راورسول، ما د هغوي خواته په خندا کتل چې د جلیل غږ تازه پر خود کړم او یاد مې شو چې جلیل او جهان هم همدلته دې!

جلیل: سترې مشې د خاله لورې، مشتاق دیدار!

په تلوار مې سر وګرځوي او نظر مې په جلیل ولګېد چې په ځېر نظر یې زما خواته راکتل! د جلیل څخه ما په دومره وخت کې هېځکله کوم بد نظر نه و لېدلې او اوس هم چې داسې په ځیر یې راکتل دلیل یې زما وزن وو! هر څوک د هغه لځایه وایې همداسې په تعجب یې کتل چیرته هغه د دوه څلویښت د ادی خبره د ګور مرې هوسۍ او چیرته دا 74/75 چاغ هوسۍ! پوهېدم چې د هغه د ځېر نظر دلیل همدا دې خو بې اختیاره مې نظر د جهان خوا ته ولاړې بغیر د څه ویلو په تروش تندی راکتل، د هغه داسې نظر ورخطا کړم ژر مې خپل لاس د ټېکرې خواته ویوړ چې وګورم ویښتیان خو مې نه ښکارې؟

خو نه ټپکرى مې په سر سم وو د جليل په دويم ځل غږ خپل د ذهنې کشمکش څخه راووتم.
جليل- څنګه يې ښه يې د خاله لورى!
د جليل لهجه يو رقم وه! داسې لکه په طعنه چې خبرى کوى؟ بغير له دې چې ورته وګورم ځواب مې ورکړو: شکر دې ښه يم تاسو ښه ياست؟ پخير راغلې؟ خاله،جميله ميروس، ټول ښه وه؟
جليل په همغه لهجه چې ما ته لږ پکې ريشخند او طعنه ښکاريدل وويل: شکر د خداى فضل خيرو خيرت دې، خو لکه چې پر تا باندې د خاله لورى (زما وزن ته يې اشاره وکړل او په همغه پوسخند يې وويل: يو څه زيات خيرت دې که څنګه؟

د جليل په دى خبره ما خپل شونډه د شرم له لاسه وچيچل، د خاله کورنۍ ټول همداسې تيز ژبې وه خپل او بل ته يې نه کتل او هر څه چې پر خوله ورتلل ويل يې، البته جليل زمونږ سره راحت وو او تل يې داسې ټوکې کول خو نن! نن د هغه خبرى ما ته ټوکې نه ښکاريدل، لهجه او د خبرو انداز يې خپل د خويندو پشان چينجن او د حسادت څخه ډک وو، د سترګو له کونج څخه مې د جهان خواته وکتل او ومې ليدل چې لاس کې تسبيح کلک کړل او د تندى کرښې لاپسې زياتې شول، نه پوهيږم ولې خو دا څو وخته ټول ژوند مې د هغه پر حالت څرخيده، د هغه تروش تندى زما زړه ناکراره کوو.

د دې لپاره چې جهان نور خفه نشي په تلوار مې د جليل ځواب د هو د الله فضل دى پر ويلو ورکړو او د مدثر او مزمل خواته چې د بابا غيږ کې وه ولاړم، ادى چې ټول فکر يې زما خوا ته وو د جليل په هغه بې پروا لهجه او خبرو فکر وکړو چې زه خفه شوم نو ځکه حالت يې ژر راټول کړو او بابا،جليل او جهان يې ميلمه خانې ته واستول!د هغوي په تګ ما يوه هوسا ساه واخيسته، جليل هيڅکله تر دې حده بې پروا او داسې مسخره خبرى نکول، داسې ښکاريدل چې د يو موضوع غوسه زما څخه باسې!

خو نه پوهېدم چې د څه په اړه جلیل زما څخه داسې خفه دی چې داسې خبرې راته کوي؟ اسما هم خپل د میړه د کار څخه لږ خفه معلومیده خو څه یې نه ویل زه هم آشپزخانې ته ولاړم ادې سره د مرستې کولو لپاره نیم ساعت وروسته ډوډۍ تیار شول ادې غوښتل یو سرخان هوار کړې هغه هم میلمه خانه کې او مورې ټول همملته یوځای کېنو! خو د جهان هغه تروش تندی او د جلیل هغه طعنه لرونکې لهجه زه و پوهه ولم چې جهان نغواړې زه د جلیل مخکې اوسیږم او په دی موضوع خفه کېږي چې هغه ما ته داسې بیځایه خبرې کوي، نو ځکه ادې ته مې وویل:

- سړیانو ته به میلمه خانه کې ډوډۍ واستو او مورې به دلته دهلېز کې کښېنو؟
زما په خبره ادې راوکتل او د دې څخه مخکې چې کوم څه ووایې ما وویل: زه هلته راحت نه یم مورې! که ته او آسما هلته کښېنې لاړ شې زه د مدثر او مزمل سره همدلته ځان ته سرخان هواره وم خو هلته نه درځم.
ادې په ورخطا لهجه وویل: وې ولې؟ مه وایه چې خپل د اوخښې د خبرې څخه خفه شوې؟
- زه د چا څخه نه یم خفه ادې! خو هلته راحت نه یم.

د دې څخه مخکې چې ادې کوم څه ووایې اسما چې ما یې راتګ ته پام نه و شوی ادې خبرو ته پرېنځود او ویې ویل: ادې هوسۍ صحیح وایې، زما په ګمان همدا به بهتره وی چې دواړه زومان خپل د خسر سره ډوډۍ وخوری او مورې هم مور او لورګانې کښېنو یو څه خپل زړونه تش کړو د هغوی په غیبت کولو.

د اسما په خبرو ادې راضي شوه چې دوه سرخان هوار کړو، په سترکو، سترګو کې مې د آسما څخه مننه وکړل چې مرسته یې وکړل کنه ادې په زوره زه همملته میلمه خانه کې کښېنولم، ژر مو ډوډۍ تیاره کړل او جنید هم په یوه منډه ټول شیان ویوړل او خپل هم همملته کښېناست مورې هم دهلیز کې سرخان هوار کړو او کښېناستو، مدثر او مزمل د ډوډۍ خوړلو لځایه یو ځل به میلمه خانې ته ځغاستل د جهان څنګ ته بیا به بیرته زما خواته راتلل ټول ډوډۍ وخت کې دوي دواړه په ګشت وه! د ډوډۍ

خوړولو وخت کې چې ما هر دقه خپل لاس نيو او نه مې خوړل نو ادی به په زوره مجبوره کولم تر څو ډوډۍ وخورم، په همدی "نه يې خورم"او ويې خوره" پر ويلو ډوډۍ مې وخوړل.

د ډوډۍ خوړلو وروسته د تل پشان موږ لوښې ټول کړل خو سرېانو په بيغم زړه بالښتونو ته تکيه ووهل او فرمان يې صادر کړو چې چای راوړی!

يعنې دا ميلمستيا اصل کې د سرېانو لپاره خدای راوړی نه د ښځو لپاره! ځکه دوي د هېڅ شئ غم نلري! کرار بيغم کښېنې چای غړپې، کيسې کوي، خو موږ مجبور د ميلمستيا لوښې ومينځو، کور پاک کړو، چای دم کړو ماشومان ويده کړو او که بيا وخت وو کښينو مجلس وکړو، البته هغه هم چيرته مجلس کېږي! ځکه هغه وخت دوی محترمانو خپل مجلسونه خلاص کړي او د کور ته د تلو ناری وهې! زما په نظر ادی هم زما پشان فکر کړې وو ځکه چې ويې ويل: لوښې مه مينځې بيا زه يې سهار مينځم، ما تاسو دلته د مجلس لپاره راغوښتي ياست نه کار کولو لپاره، نو د دې څخه مخکې چې ستاسو د خاوندانو غږونه د کور ته د تلو لپاره پورته شې راځې لږ مجلس وکړو.

د ادی په خبره ما او آسما موافقت وکړو، خو کله چې ادی د چای دواړه ترموزونه د جنيد په لاس ميلمه خانې ته واستول، نو زه تازه پوهه شوم چې ادی غواړی خپل د زومانو سره يوخای کښېنې او مجلس وکړی! او زما زړه هېڅ نه غوښت يو ځل بيا د جليل سره مخامخ شم د هغه د نظر څخه نن شيطنت معلوميده او داسې ښکاريدل لکه چې غواړې په خبرو، خبرو کې خپل غوسه پر ما سړه کړې! دې فکرونو اجازه رانکړل چې د ادی خبره ومنم او هغه او آسما چې زوی يې ژړل کوټې ته مې واستول او زه خپل د لوښو مينځلو پر بهانه پاتې شوم، که څه هم ادی ډېر ټېنګار وکړو خو ما هغه په زر بهانو راضې کړل چې بس تاسو لاړ شې زه هم درغلم، خو کله چې ادی ولاړه په بېحد کرار انداز لګيا شوم د لوښو پر مينځلو.

دا هم ښه وو ادی یو جوړه دستکشې تر اوسه زما لپاره چې کله ناکله دلته راځم او مرسته ورسره کوم اشپزخانه کې ساتلی وه، دست کشې مې پر لاسونو کړل او لګیا شوم د لوښو پر مینځلو، زړه مې غوښت تر هغه وخت چې جهان غړ کوې د کور ته د تګ لپاره تر هغه وخت د لوښو مینځل و ځنډه وم او میلمه خانې ته لاړه نشم.خو لا لس دقیقې نه وه تېرې شوې چې د مدثر او مزمل په ژړا چې د هغه سره سم د میلمه خانې څخه ادی را ووتله او په قهرجن انداز زما پسې راغلل په تلوار مې اخر پاتې دوه لوښې هم ومینځل او خپل لاسونه مې د اوبو لاندی ونیول ترڅو په تلوار مدثر او مزمل خوا ته لاړه شم، خو زما د وتلو مخکې ادې اشپزخانې ته راننوتل او تروش تندی وویل:

ادی- د ماشومانو زاره دې وچودل دا درې ساعت ته څه کوی چې هرځومره نارې وهم نه راځې؟
او بیا بغیر له دې چې زما د ځواب په تمه شې ویې ویل: و مې ویل درته چې دوه لوښې دی سبا سهار یې زه خپله مینځم ته راشه ماشومان دې واخله.
- سمده دا دې بیکاره شوم ادی.

ادی غوښتل بیا په تروش تندی یو څه ووایې خو د هغه مخکې د جهان غړ چې په دهلیز کې ولاړ و تر غوږ مې شو چې په کراره داسې حال کې چې مدثر او مزمل دواړه یې په غیږ کې نیولې وه وویل: زما په نظر د دواړو خوب راغلې چې داسې خرخشې"بهانې" کوی!

په تلوار د هغه خواته لاړم او غوښتل مې ماشومان ورڅخه واخلم، خو هغه اجازه رانکړل او ادی ته چې زما شاته ولاړه وه وویل: که اجازه مو وې موږ به نور ولاړسو دا کوچنیان بیخې نه کراریږی، لکه چې لږ تبه یې هم ده ایله ناکه بې تابې کوي!
د جهان په خبره ادی په تلوار وویل: تر اوسه خو لا سر ماښام دی زویه! زه به کوچنیانو ته د تبې شربت راوړم او دلته په یوه کوټه کې به دواړو ته ځایونه واچوام چې راحت بیده شې، هوسې تازه بیکاره شوه یوه پیاله چای لا ونه څښل.

جهان په کرار سر وخوځاوه او داسې حال کې چې سر یې ښکته نیولې و وویل: ولاې زه سهار وختې یو ځاې لژ کار لرم او مجبور باید جر ولاړسم، خو قول دې یو بله ورځ هوسۍ راوړم او د څو ورځو لپاره یې پاتې کم تر څو چې د نن ورځې جبران وسی.

ادی غوښتل په خبرو جهان راضی کړې ترڅو زه نن ماښام همدلته پاتې شم، خو جهان د سترګو په اشاره وپوهه ولم چې مور ته دې وایه بهتره به وی اجازه راکړی کنه په زوره دی ورم! شاید خنده داره وی خو جهان اشارو همغه معنا درلود نو ځکه ما هم ادی ته مخ کړو او ومې ویل: ادې زه خو څه د لرې ځاې په سفر نه یم راغلې، همدلته دوه قدم لاره ده لخیره سبا به بیا راشم نن د ماشومانو طبعیت لږ ښه نه ښکاری جهان هم کار لری که اجازه مو ویې نو موږ به اوس لاړ شو؟

ادې چې زما او د جهان نظر یو شان ولېد نور څه یې ونه ویل او په خفه انداز زما د حجاب راوړلو پسې ولاړه د هغې په تګ جهان بغیر د څه ویلو راوکتل که څه هم خوشحاله وم چې ژر د دې ځاې څخه لاړه شم او نور د جلیل سره مخامخ نشم خو بیا هم په داسې لهجه چې غوښتل مې ناراضه ښکاره شې ومې ویل: یو نن زه خپل د پلار کور ته راغلم خو ستا د لاسه بوږې مې لا د ستونې څخه تیره نه شوه چې غږ د "کور ته ځو، کور ته ځو، دې پورته شو!

په تمه وم چې د تل پشان جهان په خندا راته ځواب راکړې خو هغه یوازی تندی تروش کړو او څه یې ونه ویل! د هغه په دې کار لږ اندیښمنه شوم چې هسې نه میلمه خانه کې جلیل یو څه ویلې وې او د جهان پر طبعیت ښه نه وې لګیدلې؟ د ادی د لاس څخه مې حجاب واخیست او داسې حال کې چې لا نظر مې تر اوسه په جهان وو ومې ویل: زه به یوځل د بابا سره خدای پامانې وکړم ژر راځم.
زما په خبره جهان په همغه تروش تندی سر وخوځاوه او داسې حال کې چې ماشومان یې لاندې پر ځمکه کیخودل جنید ته یې غږ کړل ترڅو خپل ورونه تر لاس ونیسې او بیا یې ما ته مخ را وګرځوه او په کرار یې وویل: زه هم تر هغه وخت موټر چالانده کوم جر راسه.

د جهان په تلو زه هم په کرار ګامونو د میلمه خانې خواته روانه شوم که څه هم زړه مې نه غوښت د جلیل سره مخ شم خو د مجبورۍ څخه میلمه خانې ته ننوتلم، اسما زما په لیدو چې حجاب کړې ننوتلم په تلوار وویل: ولې دې حجاب اچولې هوسۍ؟ روانه یې ځې؟

د دې څخه مخکې چې زه کوم ځواب ورکړم جلیل په همغه طعنه لرونکې لهجه چې نن بیحد خپل د خویندو پشان شوې وه وویل: ټول خو زموږ رقم بیکاره نه دې آسما جانې! کاروباری خلک دې شرکتونه لرې ضرور خاوند یې سبا یو مهم ځای جلسه لري نو ځکه ژر روان دې، که څنګه د خاله لورۍ؟
د جلیل خبرو ته چې بېحد د کینې، حسادت او غوسې څخه ډک وه په خلاصه خوله مې وروکتل، زړه مې غوښت ورته ووایم "ما پر تا څه کړي چې ته داسې خبري کوې؟ " خو اوس شرایط فرق درلود زه هغه ژبه وره هوسۍ نه وم چې د هرچا سره مې خوله اچولې وایې، زه اوس د جهان خان سدوزي ښځه وم! او هغه راته په کراتو، کراتو تکرار کړې وه" هېڅکله د یو نر سره خوله مه اچوه که حتا هغه نر پلار یا ورور دې اوسیږي"

د جهان بد راتلل بغیر د هغه څخه د کوم بل سړی سره دوه اضافه خبری وکړم حتا که هغه خبری د جنګ وی! په همدی خاطر خپل شونډه مې وچیچل او بغیر له دې چې د جلیل د خبرو څخه تندی تروش کړم یا کوم ځواب ورکړم د اسما خواته مې مخ کړو او په ظاهری مسکا مې وویل: نه یم خبر ولې خو د مدثر او مزمل طبعیت چندان راته ښه نه ښکاری، نو ځکه ژر روان یو ان شاءالله سبا یا بل سبا که فرصت وو بیا به راشم، یا هم ته راشه د ادی سره زما د کور خ...

خبره مې لا نه وه پوره کړې چې جلیل په همغه غوسه پوسخند وواهه او ویې ویل: ته ولې زموږ د کور خواته نه راځې د خاله لورې؟چې اوس زما ښځه خپل پښو ته خپل کور ته غواړې؟ منم چې زموږ کور به ستا د پیسه داره خاوند د کور پشان نه وي خو نیتونه مو صاف دې او میلمه پالنه په ورین تندی کوو نه تروش تندی!

د جلیل دا خبري او رفتار بیخې له حد څخه تیر شوی وه غوښتل مې خوله خلاصه کړم او ورته ووایم " ته زما د میړه پر پیسو او دولت ولې سوځېږې؟ که نر یې ته یې هم وګټه،د دې لځایه چې د چینجنو ښځو پشان طعنې ووهې" خو د جهان د موټر هارنګ او د بابا غږ چې جلیل ته یې د نصیحت په لهجه خبری شروع کړل زما خبره خوله کې وچ کړل، په تلوار مې د ټولو سره خدای پامانې وکړو او د کور څخه ووتلم.

ادې غوښتل د کور تر دروازی راسره راشې د مخې ښې لپاره خو ما پرینښوده او هملته کور کې مې ورسره خدای پامانې وکړل، او خپل یوازی ځان د کور څخه ووتلم، د کور څخه پر وتلو نظر مې د جهان په موټر ولګېده چې زما مخکې چالانده ولاړ و او مدثر و مزمل د جنید غیږ کې په شاته سیټ کې ناست وه او خوشحاله معلومیدل! جهان راته اشاره وکړل ترڅو موټر ته پورته شم، زه هم په کرار هغه خواته روانه شوم چې ناڅاپه د مخامخ کور دروازه خلاصه شوه او عینکې انجنیر ورڅخه راووت! د هغه په لېدو حیرانه شوم، څو کاله کېدل چې هېڅ مې نه ولېدلې که څه هم د ادی او بابا کور ته په هفته کې دوه،درې ځله که جهان هرڅومره تندی راته تروش کې راتلم خو بیخې مې دا څو وخته لېدلې نه وو!

اخری ځل چې لېدلې مې وو زما د واده په ورځ وه! خو اوس هم همغسې وو د نیلوفر خبره موی"ویښته" اندازه فرق یې لا نه و کړې، هغه لکه چې زه ونه پیژندلم ځکه بغیر د نیم نظر کتلو روان شو، خو د جهان په قهرجن غږ چې ماته یې نارې کړل د هغه نظر هم را وګرځېده او تازه پر جهان یې سترګې وګېدل چې موټر کې ناست وو! او بیا سر یې ناڅاپه په بیحد تلوار باندی زما خواته را وڅرخېدو خو د جهان قهرجن غږ زه دومره و وېره ولم چې بغیر له دې چې د هغه خواته ولا ګورم موټر ته پورته شوم، زما د پورته کېدلو سره سم جهان موټر په بیحد تیز والې روان کړو، د سترګو له کونج مې د هغه خواته وکتل چې د زیات غوسې څخه یې تندی تروش نیولې وو او د ژبې لاندی کرار ویل: لعنت دې پر شیطان وی.

د هغه د دې حالت په لېدو خپل شونډه مې و چیچل او خپل د کړې کار څخه پښیمانه شوم، اصلا پر ما څه جبر وو چې هلته و درېدم او هغه عینکې انجنیر ته مې وکتل؟ البته یوازې یو نظر مې وروکتل بس! خو پوهېدم چې همدا یو نظر هم د جهان غوسه راپاره ولې شې کور ته تر رسېدلو نه ما څه وویل نه هم جهان!

کور ته په رسېدو جهان جنید ته د کور کیلې ورکړل تر څو دروازه خلاصه کړې او هغه هم په یوه منډه د کور دروازه خلاصه کړه، کور ته تر ننوتلو جهان هېڅ ونه ویل او همغسې په تروش تندی موټر حویلې ته ننباسو، د موټر د درېدلو سره زه ښکته شوم ترڅو مدثر او مزمل د شا سیټ څخه راوخلم خو زما څخه مخکې جهان هغوې دواړه راوخیستل! زه هم په کراره قدمونو د هغه پسې شوم دهلېز ته د ننوتلو سره سم مدثر او مزمل دواړو ژړا شروع کړل ترڅو پرېږدو د جنید کوټې ته لاړ شې، جهان هم په تروش تندی دواړه په ځمکه کیخودل او خپل کوټې ته ننوت، جرئت مې نه درلود چې ورپسې ورشم.

که څه هم قسم پر خدای که ما د هغه چشمکی انجنیر اغا ته په کتو کې کوم غرض او مقصد درلود، ما د هغه څخه هغه وخت چې د جهان نوم او نشان لا زما ژوند کې نه وو ښه نه راتلل څه ورسیږی اوس چې واده شوی وم او دوه ماشومان مې درلود، خو پوهېدم جهان غلط فکر کړې، د نیلوفر خبری مې ذهن ته راغلل هغې راته ویل هېڅکله خپل خاوند ته خپل د تیر په اړه مه وایه! ځکه انجوني د سړی تېر وخت ته دومره نګوری او آینده ته فکر کوی، خو سړیان د ښځو تېر وخت ته ګورې او پر هغه باندې قضاوت کوې، او دا خبره یې یودم رښتیا وه جهان که هرڅومره ځان کنټرول کړې وایې بیا هم زړه کې کله ناکله پر ما شک کاوه لکه همدا اوس!

ما یوازې هغه کار وکړو چې شاید ډېر کسان یې وکړې کله چې یو ټک شې یا ناڅاپه د کوم خوا څخه غږ شې هر کس د هغه غږ د اواز پسې ګوری لکه نن ماښام چې د انجنیر اغا د کور د دروازې په ټک ما بې اختیاره هغه خواته وکتل بغیر د کوم خاص مطلب څخه! خو جهان زما هغه د یوه شېبې نظر هم غلط معنا کړو، کله ناکله زړه مې

د هغه په داسې شک درد کاوه، ما دا څو کالو کې د هغه د اجازې بغیر قدم لا د کور څخه نه دی اخیستې خو بیا هم هغه زړه کې راباندې شکې دی، او زما هر کار ته څلور چشمي د شک او تردید په سترګه ګوري، زړه مې خفه او نیولې وو خو په دې خبره هم پوهېدم که اوس لاړه نشم او خبرې ورسره ونکړم نو زما داسې خاموش کیدل او خبرې نکول بیا په غلط معنا تعبیر کوی او زر رقم بیځایه فکرونه کوی.

په همدې فکر د اشپزخانې خواته لاړم یو څو پیالې چاې مې دم کړل او پتنوس په لاس کرار کوټې ته ننوتلم، جهان د عادت مطابق په نالې پروت وو او خپل یو لاس یې خپل په سترګو کېخودلې وو زما په راتلو یې هېڅ حرکت ونکړو، ما هم کرار پتنوس پر غالۍ کېخود او د هغه څنګ ته کښېناستم، زما په کښېناستلو هم هغه کوم عکس العمل و نه ښود، کرار مې خپل لاس د هغه پر لاس چې خپل پر سترګو یې کیخودلې و کیخود، زما په دې کار د څو شېبو وروسته هغه کرار خپل لاس د سترګو څخه لرې کړو او راوې کتل، چې ما ژر وویل: چاې مې درته راوړې څښې؟

جهان څو شېبې په ځېر راوکتل او بیا بغیر د څه ویلو یې سر د "هو" پشان وخوځاوه او کښېناست بالښت یې خپل شاته کیخود د هغه په کښېناستو زه لږ شاته شوم ترڅو راحت کښېني خو جهان اجازه رانکړل، د لاس څخه یې ونیولم او لا یې ځانته نږدې کړم، د هغه په دې کار زړه مې بې واره په درزېدو شو چې د جهان غږ مې خپل د غوږ څنګ ته واورید چې کرار یې وویل: چاې دې واچوه نازولې!

د هغه په دې خبره په همغه لړزانده لاسونو د چاي په اچولو لګیا شوم، کله چې پیاله مې ورته ډک کړل نو هغه زما د غوږ څنګ کې یوه ژوره ساه واخیسته او بیرته خپل ګرمه ساه یې زما پر مغزی خوشې کړل او زما لاس یې هم خوشې کړو د هغه په دې کار ټول بدن مې د یو عجیب احساس څخه ولړزیده او په تلوار لږ لرې شوم ورنه.

چې جهان کرار خو په تروش تندی وویل: ستا د اخشې څه کیسه ده؟
د هغه په دې ناساپه پوښتنه حیرانه شوم او ومې ویل: څه مطلب؟ زه پوهه نشوم.
جهان داسې حال کې چې خپل د چاې پیاله خپل خوا ته کش کول ویې ویل: وام

ولې ستا اخشې داسې چینجنې خبری ما او تاته نن وکړل؟ په څه دلیل؟ تا خو کوم کار نه دي کړې؟
د جهان په اخری خبره مې سترګي له حیرت څخه خلاصې شوی او په همغه حیرت مې وویل: ما کوم کار نه وې کړې؟ څنګه کار؟ زه د هغه سره څه کار لرم چې ته وایې کوم کار خو دې نه دې کړی؟

جهان په همغه تروش تندی وویل: د هغه خبری نن د بې ادبې څخه اوشتې"اوښتې" وه هغه سر عام هم ماته او هم تاته توهین او سپکاوي کوي، که د معلم صیب لیاظ نه وایې داسې کار مې ورسره کړې وایې چې عمر یئ دروشتې"درلودې" درس عبرت ورته سوی وایې.

د جهان په داسې قهرجن لهجه و ډاره شوم او په کراره مې وپوښتل: ایا هغه میلمه خانه کې تاته کوم خبره وکړه؟
جهان- خبره تر خبرو فرق لرې! هغه په طعنه، طعنه کې سم صحیح ماته شنزل"کنځل" کول! اصلاً زه دې خبرې ته فکر ورې یم چې یو اخشې په کم حق خپل د خوشینې د بدن او اندام په اړه نظر ورکوی؟

د جهان د خبرو په مقابل کې بې ځوابه شوم، هغه پر حق وو د رښتیا هم د جلیل نن کارونه سر عام سپکاوی وو، خو نه پوهېدم اخر ولې هغه داسې وکړل؟
جهان په همغه تروش تندی وویل: زه بیا هم وایم حتماً په دې منځ کې یوه خبره ضرور سته چې اول ستا د خاله لورګانو ستا سره سترګه خوړلې او همدا چې موقع په لاس ورشې تاته بیځایه خبری کوی او نن هم ستا اخشې داسې رفتار وکې د هغوې د دې کارونو تر شا حتما یو دلیل سته!

جهان د دې خبرې وروسته په څېر نظر زما خواته راوکتل، داسې لکه چې غوارې زما څخه اقرار واخلې ما غوښتل خوله خلاصه کړم او وایم چې نه پوهېږم ولې هغوې زما سره داسې رفتار کوې، خو ناساپه د یو فکر په راتلو چې د برق او باد پشان زما ذهن کې وګرځېدو د حیرت څخه مې سترګې خلاصې شوی، نه دا امکان نلرې اصلاً

هغه موضوع پر ما مربوط نه ده! خو د اسما خبرې مې چې ذهن ته راغلل ډاډمنه یې کړم چې د جهان خبره که کوم دلیل او موضوع د هغوي د داسې بد رفتار په وړاندې شتون ولري نو یوازې او یوازې همدا دلیل کېدلې شي، خو د دې دلیل ویل مطلب جهان د جهان د غوسې په اور تیل شېندل او د هغه د غوسې اور لا پسې تیزه ول.

په همدی خاطر په کراره مې وویل: نه پوهېږم خو هغوي تل همداسې چلند زما سره کوي، البته تر اوسه دا رفتار د خاله لورکانو کاوه خو لومړی ځل ده چې جلیل اوخښې داسې کار وکړو!
جهان په داسې حال کې چې زما سترګو ته ځېر و کرار وویل: ووایه.

- څه ووایم؟
جهان داسې حال کې چې خپل دوه سترګې پر ما ګنډلې وه کرار وویل: همغه خبره چې په ویل او نه ویلو کې زړه نا زړه یې ووایه!
د حیرت څخه مې سترګې خلاصه پاتې شوی، څنګه پوه شو چې د یو خبرې په کول او نه کولو کې زړه نا زړه یم؟ جهان خپل زما د دې پوښتنې ځواب راکړو.
جهان- ته چې کله یوه خبره پټه وی یا فکر کوې د هغه خبرې په کولو به زه خپه سم نو ماته مخامخ نه راګورې.

خپل شونډه مې وچیچل او نظر مې ورڅخه واخیست تقریبا څو کاله مخکې دقیقاً زموږ د کوژدی په وخت کې یوه ورځ راته ویلې وه چې ماته دروغ هېڅکله مه وایه ځکه زه پوهېږم ورباندې! او باید ووایم چې د ربښتیا هم جهان انسان شناس وو! او د مقابل نفر په قواره پوهېدو چې څنګه انسان دې؟ او ربښتیا وایې که دروغ؟ البته دا حس یې زما په وړاندې یو څه زیاد قوی وو لکه همدا اوس!

جهان- امممم غوږ یم کیسه وکه.
د هغه منتظر نظر ته مې وکتل او کرار مې وویل: نه پوهېږم تر کوم حد به زما ګمان صحیح وی او کنه خو کله چې تا وویل د هغوې د دې کارونو شاته ضرور یو دلیل شتون لرې نو ذهن ته مې یوازې یو فکر او دلیل راغې!

جهان داسې حال کې چې په همغه ځیر نظر ماته راکتل د سر په خوځولو کرار وویل:
د چشې فکر؟

زړه نا زړه وم د خبرې په ویلو او نه ویلو کې زړه مې ویل مه ورته وایه هسې د جهان طبعیت خراب کېږي، خو عقل مې ویل باید موضوع ورته کامل واضح کړم تر څو که کوم ورځ اتفاقاً د چا له خولې دا خبره واوریدل نو غوسه نشې، په همدی فکر خپل د خولې لاړې مې تیر کړل او داسې حال کې چې د جهان منتظر نظر ته مې کتل ومې ویل: تقریبا څو کال مخکې هغه وخت چې ستا نوم او نشان زما ژوند کې نه وو او ما د جهان په نوم کوم کس نه پیژنده، ما زیات خواستګاران درلودل.

د خبرې دې ځایته چې ورسېدم د جهان خواته مې وکتل چې له ورایه زما د زیات خواستګارانو په خبره یئ تندی تروش کړو خو بغیر د څه ویلو یې سر وخوځاوه تر څو زه خیل خبره پوره کړم، کله چې د هغه په تمه اوسېدل مې ولېدل نو کرار مې خپل خبرو ته دوام ورکړو او ومې ویل: یو د هغه خواستګارانو څخه د جلیل اوخښې ورور اجمل وو!

زما په دې خبره جهان خپل وریځې له حیرت څخه پورته کړل او ویې ویل: جالب سو شه بیا ...؟
- بیا؟ ... بیا نور کوم خاص خبره نشته، خاله هفته کې څلور ځله راتلل تر څو ما (تندی مې تروش کړو حتا د دومره کلونو وروسته کله چې فکر کوم اجمل زما خواستګار وو، زړه مې غوښتل چغې ووهم، په همغه تروش تندی مې وویل: خپل هغه چرسې زوی ته وغواړې! خو بابا اجمل نه خوښېده او هر ځل به یې ورته "نه" ویل خو خاله بیخې د بابا په "نه" ویلو نه منع کېدل تر دې چې ته راغلې او بابا تا ته "هو" کړل او د هغوي امید وشلېده، او ولاړه! خو اسما راته ویل چې..

د جهان منتظر نظر ته مې وکتل او کرار او په بیحد احتیاط مې وویل: اسما ویل خاله غواړې اجمل ته د هغه د کاکا لور وکړې،خو هغوي نه منې او وایې ..
بیا مې سر پورته کړو او د جهان مشکوک نظر ته مې وکتل او په بیحد کرار غږ داسې

چې خپل مې لا صحیح وا نه وریدو ومې ویل: د کاکا کورنۍ وایې دا هلک چې خپل په نوم کړې ښځې د ساتلو نه دې زموږ لور به څه وساتې! نو ځکه اوس هغه ته څوک ښځه نه ورکوي.

سر مې لاندې نیولې وو او لاس مې د غالې په ګلانو تیره وو چې جهان په حیرت او غوسه وویل: خپل په نوم کړې شزه!؟ "ښځه"
ژر مې سر پورته کړو پوهېدم چې دغه لفظ باندی به ضرور حساسیت ښکاره کړی نو ځکه ژر مې وویل: هسې د خلکو خبری دی، کنه نه مور ورته "هو" ویلې وه او نه هم کوم وعده او قول په دی منځ کې ورکړل شوی و، په دی کار کې هم خپل خاله ملامت ده چې بغیر له دې چې زموږ د کورنۍ نظر واوری ټول کلې خبر کړی وو چې زه د هغه د زوی...
خبره مې پری کړل او سر مې ښکته واچو.

جهان- ستا خوښېده؟
- څوک؟
جهان- خپل د خاله زوی؟
په حیرت مې د جهان خواته چې تندی تروش نیولې وو او شونډه یې له قهر چیچل وکتل او ومې ویل: ما د هغه د رنګ بد راتلل ته وایې خوښېده دی؟
زما په دې خبره لږ بیحد لږ د هغه د تندی کرښې کم شول او دا ځل لږ په کراره یې وپوښتل: ولې دې بد راتلل؟
د اجمل د قوارې او اخلاقو په یاد راوړل د خولې خوند راخراب کړو او په تروش تندی مې وویل: یو بې سواد، جاهل، چرسې، بد اخلاق، معتاد او په یوه خبره کې داسې کس و چې په هر ځل کتو یې ما د ځان سره ویل که د نړۍ په سر یوازینی نر همدی پاتی شی بیا به هم زه ورسره واده ونکړم.

زما په دی خبرو د جهان د تندی ګونځې لری شول او داسې حال کې چې د پخوا پشان همغه مهربان جهان ورځخه جوړ شوی و په خندا وویل: ولې دې دومره زړه

ورڅخه ډک دې ها نازولې؟
کله چې د جهان مهربانه لهجه او ورین تندی مې ولېد نو زړه او جرئت مې زیات شو او داسې حال کې چې لږ د هغه خواته نږدې کېدلم په شیطنت مې وویل: ځکه چې زما د معیار برابر نه وو!
جهان چې زما شیطانه او اغواګره لهجه واورېدل په حیرت باندې وریځې پورته واچول او په داسې حال کې چې کوښښ یې کاوه خپل ځان جدی وښایې په کلک لهجه یې وویل:

جهان- هغه وخت ستا معیار د میړه څخه چشې وو نازولې؟

غوښتل مې اوس چې جهان خوش اخلاق شوی او د پخوا پشان مهربان شوی لږ شیطنت ورسره وکړم، دا څو وختو کې پوهه شوی وم چې جهان د داسې ناز کولو او شیطنت کولو څخه چې هغه په خبرو ونیسې او ورسره مجلس وکړې خوشحاله کېږي او نن هم په کافې اندازه یې عصاب خراب وه نو ځکه مې اراده وکړه چې لږ یې فکر د دې خبرو څخه واړوم، نو ځکه کامل څنګ ته یې ورنږدې شوم داسې چې مخ مې د هغه د مخ مخامخ وو لاس مې د هغه په ګیره کې تیر کړو او داسې حال کې چې د هغه ځلیدونکې نظر ته مې کتل په همغه شیطنت مې وویل: ځکه زما انتخاب لږ عجیب او خاص دی!

جهان په نرۍ مسکا داسې حال کې چې په ځېر نظر یې زما خوا ته راکتل ویې ویل: لکه څنګه عجیب او خاص نازولې؟
لاس مې د هغه په ګریوان چې د تل پشان دوه د پورته تڼې خلاصې کړې وه، او د سینې ویښتیان یې ورڅخه ښکارېدل تېر کړو او ومې ویل: هغه داسې چې زما ذهنیت داسې دی چې نر باید خپل د ښځې څخه یو څو کاله مشر وي!
زما په دې خبره جهان لنډ وخندل او په همغه خندا یې وویل: شه نور؟
د هغه خندا زه هم په شیطنت راوستم او ومې ویل: باید سنګین او دروند عادت ولرې.

جهان- شه نور؟
- هوممم باید نمازگزاره وي.
جهان- شه نور؟
- نور امممم، که یو څو تاره د ویښتیانو یا ږیرې څخه یې سپین وې بیا نو بیخې مورد پسند است.

زما په دی خبره جهان د زړه د خلاص وخندل او د شونډی لاندی ځان سره کرار تکرار کړل: بیخی مورد پسند است؟!

ما هم وخندل او همغسې په شیطنت مې خپل خبرو ته دوام ورکړو زما د هر خبری سره د جهان د شونډو مسکا زیاتېده او د شه نور پر ویلو سره یې زه نوره هم شیطنت ته هڅولم.

- اصلاً ته پوهېږي زما مولیان خوښېږي؟!
زما په دې خبره د جهان د قهقهه غږ پورته شو او داسې حال کې چې زه یې خپل د غیږې خواته کش کولم خپل لاسونه یې کلک پر ما را تاو کړل او ویې ویل: شه نو شه! مولیان دې هم خوشیږی نازولې؟

دا چې د جهان په غیږه کې وم او هغه داسې په شیطنت او مهربانۍ راسره خبری کول د جلیل د نن شپې بد رفتار او خبری مې له ذهن څخه ووتل او یوازی او یوازی همدا شیبه او همدا حالت راته مهم وو او بس!
جهان- امممم و دې نه ویل نازولې چې ولې دې مولیان خوشیږی؟

په خندا مې وویل: بابا به کله ناکله ویل خپل لور یو مولی سرې ته ورکوم!
زما په دی خبره جهان په حیرت خپل خواته وګرځولم او داسې حال کې چې زما سترګو ته ځېر وو په حیرت او خندا وویل: معلم صیب ویل خپل لور مولی سړی ته ورکوم؟ او تا هم دا خبره خوشه وه؟ یعنې مطلب خوشېدې دې مولی؟
په شیطنت مې سر وخوځاوه او ومې ویل: ما د مولیانو ښه هم اوریدلې او بد هم

بې شماره! بابا تل ویل مولې ته دې ورکوم ځکه د هغه باور و چې مولیان د خدای په دین پوهېږي او د ښځې سره بد چلند نه کوې او ښه یې ساتې، حتا یو متل یې هم کاوه چې .. سم مې یاد هم نه دې خو ویل یې یوې ښځې تل دعا کول چې خدایه یا مې د مولا ښځه کړې، یا مې د مولا د کور غوا کړې!

زما په دې خبره جهان د زړه له تل وخندل او ویې ویل: اوس آرمان د دې چې د مولا شزه سې بیا هم د منلو ده خو دا د مولا د کور غوا؟! دا نو ولې؟
د هغه په خندا ما هم وخندل او ومې ویل: خو ومې ویل کنه مولیان په دین پوهېږي او حق او حقوق سم ورکوی نو ځکه که د مولا د کور غوا هم اوسیږی مولا درسره سم رفتار کوی او وایې دا هم د خدای مخلوق دې!

زما په دی خپره جهان داسې حال کې چې خندل خپل سر د منلو په پار وښوره وو، چې ما په سیطنت بیا وویل: خو ادی مولیان نه خوښېدل.
جهان د حیرت خپل یو وریځ پورته کړل او ویې ویل: ولې؟
- ځکه ادی تل ویل د عام انسان سره یو شیطان دی، خو د مولیانو سره لس دانې دی.
زما په دی خبره د جهان د قهقهه خندا غږ پورته شو او داسې حال کې چې لا یې هم خندل ویې ویل: او دا به یې هم ویل چې مولیان د دین او اسلام په نوم څلور شزی کوی؟!

د جهان په دی خبره چې یو دم د ادی د خبری مطابق وو سترګي مې له حیرت څخه خلاصې پاتې شوی چې جهان په خندا خپل په دوه ګوتو زما پوزه کش کړل او په همغه خندا او شیطنت یې وویل: دا خبره ما هم زیات اوریدلې، خو ته دا راته ووایه چې ستا مولیان ولې خوشېژي؟
خپل اوږې مې پورته واچول او ومې ویل: زما ټول مولیان نه خوښیږي، یوازی بعضی، بعضی چې خوش اخلاق او دیندار وی زما خوښیږی.
زما په دی خبرو جهان نری مسکا وکړل او ویې ویل: شه نو شه نازولې! دا وو ستا

معیار د میږه کولو څخه؟ صبر زه وګررم ایا ستا په معیار برابر وم کنه چې تا راته "هو" وویل؟

غوښتل مې ورته ووایم چې اول وخت کې نه وې برابر خو وروسته زما د معیار څخه لا بهترینه شوی! خو ومې نه ویل ځکه زما په نظر شاید د جهان فکر د حسیب خواته لاړ شي او انسان دی هسې نه زړه کې ووایې اول کې ځکه نه وم برابر ځکه چې ستا لین او دین بل ځای چلیده! که څه هم پوهېدم جهان زر کاله وروسته هم داسې خبره ما ته نه کوی خو بیا هم زما زړه ځانته ختا کار معلومیده نو ځکه خاموشی مې اختیار کړل، چې جهان په شیطنت وویل: اول معیار دې زما په نظر وویل دې چې د نر عمر د ښځې څخه باید څو کاله پورته وی؟

ور ومې کتل چې جهان په شیطنت سترګه ووهل او په خندا یې وویل: په دې کې خو په سلو کې ما 110 نمری ورې! ځکه ستا څخه څه کم او زیات اته نهه کال مشر یم.

په خندا مې د جهان خوشحاله څهرې ته کتل چې هغه بیا په خندا وویل: دویم دې وویل چې باید سنګین او دروند عادت ولرې!(زما سترګو ته ځیر شو او په مسکا یې وویل: زه دا نمره ته راکه نازولې.
په خندا مې وروکتل او زړه کې می وویل: دی عادت ته دی نمره د ټاکلو نه ده! ځکه بیحد خدای ښه اخلاق در کړی، خو دا خبره مې ونکړل د نیلوفر خبره سرېانو ته زیات جان او قربان هم مه وایه بیا دې په سر پورته کېږي، نو ځکه په شیطنت مې وویل: اومممم سلو کې 75 نمری درکوم که څه هم باید 60 درکړم خو خیر ..

زما په دی خبره جهان په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: ته و قران ته ماته 75/60 نمری راکوی؟ دا نو لغرچری" بې انصافې، چلبازی، حق خوړل" ده. اصلاً په کم دلیل ته ماته دا  75 یا هم 60 نمری راکوی؟ یعنی ستا په نظر زه سنګین او دروند عادت نلرم؟

په شیطنت مې وروکتل او ومې ویل: اوس چې ښه فکر کوم حق دې وو چې 50 نمرې درکړم.
جهان په قهرجن لهجه وویل: چشې دې وویل؟

د جهان په قهرجن لهجه و مې خندل او ومې ویل: ستا لاس چیرته دې دروند او سنګین صیب؟
جهان په حیرت خپل لاس ته چې زما پر پښه یې کیخودلې و وکتل او ویې ویل: چیرې دې ستا پر پشه د ..

جهان لکه چې تازه زما د خبرې په مطلب پوهه شو ځکه چوپ شو او څو شیبې وروسته په لوړ غږ په خندا شو او په شیطان لهجه یئ وویل: ستا زړه غواړی زه ستا په مخ کې خپل کوښه کې هغه هم داسې حال کې چې څوک نسته او یوازې موږ دواړه یو څنګه رفتار وکړم؟ اوس هم زه ډېر سنګین انسان یم چې داسی ماحول کې ناست یم درسره مجلس کوم، او هو زما د لاس ځای اوس هم خراب دی دا باید یو څه اخوا اخوا وایې ...

په کلک مې د جهان لاس چې په شیطنت یې زما پر پښه تیره وه وواهه، او داسې حال کې چې تندی مې تروش کاوه ومې ویل: وګوره داسې بی شرم، بی ادبه یې په دې کار دې نمرې 20 شول.
زما په دې خبره جهان په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: که ته په دې حساب وغواړې ماته نمرې راکې نازولې نو مجبور د هغه شلو څخه هم تیره سې او صفر راکې ځکه چې ...

د ځکه چې د ویلو سره سم یې زه په یو جست خپل خوا ته کش کړم چې بی اختیاره مې چیغ له خولې ووت ...

***

د مدثر او مزمل د ژړا په غږ چې د جنید له کوټې راتلو خپل د خوب ډکې سترګې مې لږ خلاصې کړل خو د زیات خوب له لاسه بې اختیاره بیرته بندی شوی، خو د هغوي دواړو د ژړا غږ یو ځل بیا زما سترګي خلاصې کړه خو دومره توان راکې نه وه چې لځایه پاسم او د هغوی خوا ته لاړ شم نو ځکه غږ مې پورته کړو او جهان ته مې ناری کړل.

- جهان!
جهان- اوممم جان ... څه سوی؟
په زاریو او د ناز په لهجه مې ورته وویل: لاړ شه خپل زامن راوړه ژاړی، زما د وس نه کیږی پخدای له پښو یې غورځولې یم درسته ورځ زه یم د دوي پسي منډې وهم.

زه لا د ګیلو او شکایت کولو حال کې وم چې جهان د ځان خواته کش کړم او داسی حال کې چې خپل سر یې زما ویښتیانو کې ننویستی خپل په هغه بډ غږ چې د خوب له امله نور هم نیول شوی و وویل: نو ته خپل زامن ولې خپل د ځان سره نه ویده کوی نازولی هوم؟ چې اوس نیمه شپه ما ورپسی استوی؟
په غوسه مې وویل: اول خو دا چې ستا هغه خانان زامن بغیر د جنید څخه نه ویده کیږی! او دویم که په یاد دې وی جناب نو سر ماښام دی خپل وویل "ایله کوه پریږده نن دواړه د جنید کوټه کې ویده شې!" ملامت ته وې نو اوس هم ورځه خپل یې راوړه زما ولاکه د وس کېږي.

د جهان د خوب څخه ډک د خندا غږ مې خپل د غوږ څنګ ته واوریده.
جهان- زما منې سر له سبا د کوټې هغه کونج کې د دې درې واړو ځایونه یوځای واچوه.

د ماشومانو غږونه چوپ شوی وه لکه چې جنید بیرته ویده کړې وه، ما هم بیرته کمپل په ځان راکش کړو او داسی حال کې چې مخ مې د جهان سینه کې پټ کاوه په طعنه مې ورته وویل: اوه نن ماښام ما چغې وهل مدثر او مزمل نور غټان شوی

باید نور یوازی کوټه کې ویده شې! او اوس بیا وایې چې درې واړو ځایونه همدی کوټه کې واچوه؟

زما په خبرو د جهان سینه زما د سر لاندی پورته ښکته شو چې پوهه شوم وې خندل او بیا د هغه لاسونه چې نور یې هم زه خپل سیني ته جوخته کړم او په همغه خوبجن غږ یې وویل: هغه وخت ما نور پلانونه درلودل نازولې!
– لکه څنګه پلانونه؟ جناب؟
بیا مې احساس وکړو چې سینه یې د خندا څخه پورته ښکته شوه.
جهان- هغه وخت ما غوښتل یو کوچني، شیرینکه دویم نازولې ولرم، خو افسوس چې هغه د ډاکټر فرمان زما ټول پلانونه خراب کړل.

پداسی حال کې چې د هغه د دې خبرو څخه مې خندا راغلی وه خو نمایشی توګه مې په سینه وواهه او ومې ویل: هو نو تاته خو کوم ستونزه نلری د کال په سر یو غواړې، ستونزی او جنجالونه خو یې زما په سر دی.
جهان- ته قول راکړه یو دانه کوچینکه شایسته ګک لور ماته راوړې خپل په رقم زه درته ضمانتې د سند او خط لیکلو سره درکوم چې ساتل به یې زه خپل کوم یوازی ځان، بیخی شیدی لا ته مه ورکوه ادی ته وایم هفته په هفته تازه تازه د ورې شیدی ورته راوستوی، شه اوس وایه څنګه خوشه دې ده کنه؟

– بیا هم زما ځواب همغه "نه" دی جناب.
جهان- بیا نو ولی نه دی؟
– ځکه چې ډاکټری ویل ...
جهان پرینخودم خبره مې پوره کړم او په بې حوصله لهجه یې وویل: په قران دا نو ریشخند دې.

د هغه په بی حوصله لهجه په خندا شوم، نن ماښام چې هغه سل رقم خپل په خبره چلونه ووهل چې ما راضې کړي د یو بل کوچنې راوړلو لپاره خو ما ورته هر ځل نه وویل! ما په دې شرایطو یو بل کوچنې نه غوښت، یو خوا مدثر او مزمل لا دومره نه

دې لويان شوی له بلخوا زما اضافه وزن زه پوهېږم چې دا اضافه وزن د حمل دوران کې ما ته ډېر ستونزی جوړه ولې شې، نو ځکه مې نه غوښتل اوس لپاره کوم بل ماشوم راوړم خو جهان يوازی همدا خبره نيولې وه "يوه کوچنې لور غواړم يو کوچنې لور غواړم!" کله ناکله د جهان دې کار ته مې خندا راتلل، يعنې تصور وکړې جهان خان سدوزی خپل په هغومره هيبت او دروند والې باندی کله ناکله د ماشومانو پشان ضد کوی.

کله چې نن ماښام جهان زيات وويل، کوچنې لور غواړم نو ما هم ورته د دروغو وويل چې ډاکټر راته ويل چې تر دوه کالو ماشوم مه راوړه ځکه اول باری ماشومان دې په عمليات پيدا سوی! که څه هم جهان زما په دې خبری باور ونکړو خو نور ټينګار يې هم ونکړو، په دې فکرونو چې نن ماښام مې څنګه چل ورکړو خندا مې راغله.

چې هغه کلک غيږه کې ونيول او داسی حال کې چې زما په اوږه يې خپل تيره غاښونه برابر کول ويې ويل: خانده خانده، پروا نکوې، زه خو پوهېژم نن ماشام تا ما ته چل راکې خو خير لياظ به دې وکو تر دې څو مياشتو د هغه نه بعد بيا موژ حساب کتاب لرو نازولې هغه هم انکير منکبرې حساب کتاب.

***

په زر تکليف او درد باندې لځايه پورته شوم او بيا کښېناستم د ستړيا له لاسه مې نفس، نفس واهه زړه مې غوښت همدغه حال کې د کوټې منځ کې پريوځم او نور سر پورته نکړم! زنګونونه مې، ملا مې، اوږې مې، ټول بدن مې زره، زره درد کاوه زړه مې راته بار بار ويل بس دې لږ دمه وکړه! خو د نيلوفر د خبرو په ياد راوړلو د استراحت کولو څخه منع کولم. شايد لس دقې به مې ورزش کړې وو چې د زيات ستړيا له لاسه پر فرش کښېناستم او اوږده، اوږده ساه ګانې اخيستل مې پيل کړل، څومره پخدای ريشخند او بې انصافې ده! يعنې کله چې وزن غواړې ډېر کړې بايد يوازی د

معمول خلاف یو دوه ګولۍ اضافه بوډۍ وخوری خو کله چې غوارې وزن کم کړې بیا !نو خدای دی درسره مرسته وکړي

ځکه هغه وخت خبره د یو دوه ګولو بوډۍ د نه خوړلو نه ده، بلکې باید رژیم ونیسې، ورزش وکړې او خلاصه چې وزن اخیستل شاید آسانه وی خو وزن کم کول ناممکن ده، په همدی فکرونو کې وم چې د کور دروازه خلاصه شوه او د ماشومانو غږونه راغلل لځایه پاسېدم، او د دهلیز خوا ته لاړم جنید مزمل او مدثر د بابا د کور څخه راوړی وه، د دواړو لاسونو کې هم بیسکیټ وه زه د زیات ورزش کولو څخه بیخې د مرګې حال ستړي وم جنید ته مې وویل چې مدثر او مزمل د یو څو ساعتو لپاره کرار کړي، ترڅو زه یو دوه ساعت لږ استراحت وکړم خو دومره ستړی شوی وم چې سر مې لا کیخودلې نه وو چې ویده شوی وم!

د جهان په اندیښمن غږ چې راته ناری وهل سترګي مې خلاصې کړي.
جهان- خیرت دې؟ شه خو یې؟ دا څلور ساعت کېږی راغلې یم ته بیده یې، مریضه خو نه یې؟

او د دې خبری سره سم په همغه اندیښمن انداز یې خپل لاس زما په تندی کیخود چې زه ژر لځایه پاسېدم، په حیرت مې د کړکۍ خواته وکتل هوا تیاره وه، زه چې ویده کېدلم تازه د غرمی دوه بجې وه خو اوس ماښام شوی و، څومره بېره ویده شوی وم د جهان په بیا ځلې غږ مې وروکتل او ومې ویل: هو .. هو ښه یم هغه .. (نه پوهېږم ولې خو و مې نشو کړې ورته ووایم چې ورزش باندی ستړی شوی وم نو ځکه مې وویل: هغه لږ ستړی شوی وم ما ویل لږ سر کېږدم او آرام وکړم تر څو چې ته راځې خو بیخې زیاته ویده شوی وم، تا ولې راویښه نکړم؟

جهان چې زما په خبرو لږ خیال هوسا شوی و وویل: ته دسې درنه بیده وی ما هم زړه ونسو چې راویشه دې کم، اوس هم کوچنیانو بیخې بې تابې کول او زه هم لږ ورختا سوم چې دا څنګه خوب دې چې په اندې لا نه اوړی نو ځکه مې راویشه کړې.

بغير له دې چې نور څه ووایم لځایه پاسېدم مدثر او مزمل د جنید کوټه کې وه خو د ژړا غږونه یې راتلل د هغوی خوا ته ولاړم زما په لیدو د دواړو ژړا لا زور واخیسته، غوښتل مې غیږ کې راوخلم او کوټه کې دواړ ته شیدی ورکړم خو زما د راخیستلو مخکې جهان چې زما شاته زما پسې راغلې وو رامخکې شو او دواړه یې غیږ وخیستل زه هم ورپسی شوم کوټې ته ننوتم، جهان لومړی مزمل زما غیږ ته راکړو ترخو شېدي ورکړم او خپل یې مدثر راوخیست او د کوټې منځ کې په ګرځیدو شو تر څو هغه کرار کړی، ما هم په تلوار مزمل ته شیدی ورکړل او بیا مې مدثر خواته لاس ونیو، جهان داسې حال کې چې مدثر زما غیږی ته راکوه او مزمل یې راځخه اخیست زما سینې ته چې لږ د کالو څخه معلومیدل اشاره وکړل او په شیطنت یې وویل:

جهان- نازولې لژ پکر دې نیسه هغه چې خپل زامنو ته یې داسې مفته، مفته ورکوی زما مال او دولت دی.

د جهان په دې خبره د شرم څخه تک سره شوم او په غوسه مې ورته یو بې شرم بی ادب وویل چې هغه هم په مقابل کې یوازی وخندل، مدثر مې چې ورڅخه راوخیست نو د شیدی ورکولو وخت کې جهان ته مې شاه کړل، زما په دې کار یو ځل بیا د هغه د خندا غږ پورته شو، د جهان په خبرو ماته د څو میاشتو مخکې یو پیښه را یاد شول.

څو میاشتي مخکې مزمل بیحد مریض وو، جهان هم کور کې نه و، نو مجبور شوم چې د بابا کور ته لاړه شم، هلته مې مدثر ادی ته پریخود او خپل د بابا سره مزمل مو راوخیست او ډاکټر ته ولاړو ډاکټر معاینات وکړل لږ دوا یې هم ولیکل او بابا روان شو ترخو دوا راوړی، او زه مزمل په غیږ کې د ډاکټر سره چې تقریبا د 34/35 کالو سړی وو یوازی پاتی شوم هغه هم د بابا د تللو سره سم همداسی بیځایه پوښتني کول پیل کړل، مثال ماشوم ته څه ورکوی ماشوم؟ او ماشوم تغذیه څنګه ده؟ او فلان څنګه دی؟ او بیستان څنګه دی؟ خلاصه په خبرو،خبرو کې ما ورته وویل چې

دا جوړه ماشوم دی او هغه بل یې د ده څخه یو څه صحتمند دې او دا لږ داسې ناجوړی دی.

کله چې ورته مې وویل جوړه ماشوم دی، او بل جملي یې په کور کېدي ډاکټر په ځیر نظر د سر د ویښتیانو څخه نیولې د پښو تر نوک اسکن کړم بیا یې وویل: دواړه ماشومانو ته خپل شیدې ورکوی؟ که وچې شیدی ورکوی؟
ما هم ورته وویل: نه وچې شیدی نه ورکوم خپل شېدي ورکوم.

دا خبره نه شول سم بلا شول، هغه یو داسې خبره راته وکړل چې د شرم د لاسه ګز ګز د ځمکې څخه ووتلم، لومړۍ په همغه ځیر نظر زما خواته راوکتل البته باید ووایم چې نظر یې زیات زما د سینو خواته وو بیا یې کرار وویل: ښه باډي لرې سینې دې هم ښه غټې دې معلومداره خبره ده چې شیدی به هم ډېری ولری!

یعنې هغه دقه کې مې اول خو شکر وویست چې جهان راسره نه وو! یعنې که خدای مکړه جهان وایې او د ډاکټر دا نجس نظر او دا مرداره خبره یې اوریدلی وایې بغیر د کوم شک ویلې شم د ډاکټر خوله یې ورمات کول! بغیر له کوم شک، خو له یوه خوا افسوس او کرکه مې راغلل چې یو ډاکټر چې دومره سواد، دومره علم، دومره رتبه په یو جامعه کې لری د هغه نظر او د هغه الفاظ او کردار د یو ښځې سره داسی بی ادبانه او بی شرمانه څنګه کیدلې شی؟ که زموږ ډاکتران داسې کسان وي نو څه ګیله د یو بې سواده جاهل څخه وکړو؟ کله چې سواد داره مو داسی خدای او رسول شرمه ولې وی!

د ډاکټر په هغه خبره په یو جست لځایه پاسېدم او له کوټې ووتم بابا چې راغلو بغیر له دې چې څه ورته ووایم چوپه خوله ورسره روانه شوم، څه مې ورته ویلې وایې؟ د پښتنو جامعه ده که ووایې ډاکټر داسې خبره راته وکړل شاید هغه دقه د ډاکټر ګریوان راونیسي خو د هغه وروسته ټول ملامت ښځه ده! ځکه ټول وایې ضرور ښځې کې کوم چینجې وو چې ډاکټر داسې خبره ورته کړې، کنه یو سړی تر هغه وخت چې ښځه ورته لاره ورنکړی هیڅکله داسی کار نکوی! دا زموږ د جامعي سوچ

دی او د دې سوچ څخه نه زما پلار استثنا وو نه هم جهان، هغوی هم نران وه د هغوی ذهن کې هم لومړۍ همدا فکر راتلو، نو ځکه چوپه خوله بغیر د څه ویلو د بابا سره د کور خواته روانه شوم البته زړه کې مې څه چې کنځل او ښیرا وه هغه ډاکټر ته مې وکړل.

د جهان په غږ له فکرونو څخه راووتلم.
جهان- تاته وایم.
- ها؟
جهان په مشکوک نظر راوکتل او ویې ویل: نن راته بیخې شه نه معلومیژی، کوم خبره سوی؟ دا دری ساعت کیژی ناری وهم جواب نه راکوی!
-نه څه خبره به سوی وی؟ ومې ویل کنه لږ ستړې یم فکر مې پر ځای نه دې اواز مې درنه وا نه وریدو.
جهان- څه کار دې کړي چې تر دې حد ستړې یې؟

- کور دې ماشومان دې ډوډۍ غواړی، کالې غواړی، کور پاکول غواړی دا دومره کارونه یوازی ځان کول هغه هم د مدثر او مزمل سره انسان د پښو اچوی، که د ادی کور نږدی نه وایې او هلته مې کله ناکله نه استول د وخت یا زه مړه وم یا هم خدای نکرده دوی مړه وه(زما په دې خبری جهان تندی تروش کړو او کرار د شونډو لاندی" خدای دی نکوی وویل چې ما خپل خبرو ته دوام ورکړو او ومې ویل: خلک د یو ماشوم د ساتلو نه دی هغه وخت زه دوه دانې هغه هم داسی ماشومان ساتم بیا هم ته پوښتنه کوی ولې ستړې یی؟

زما د خبرو خلاصیدو وروسته جهان د تایید په توګه سر وخوځاوه او کرار یې وویل: امممم دا هم د شهر مشکلات دی کنه اوس کندهار کې وای کوچنیان دي ولاکه تا لیدلی وایې چې چا واخیستل؟ چا ورته ډوډۍ ورکړل؟ او چا بیده کړل؟ هلته د کور کار هم درباندی اسانه کیدی خو شزې واست هر چا یو کار کړی وای کار خلاص وو،

خو دلته ستا خبره هر کار ستا په غاړه دی او د کوچنیانو سره کار کول هم سخت دی.

په تمه وم فکر مې کاوه جهان غواړی یو بل خبره هم وکړې؟ خو هغه بغیر د نور څه ویلو لځایه پاسېد او داسې حال کې چې مسکا پر شونډو زما خواته کتل ویې ویل: اوس چې زما نازولې دونې سترې سوی او دونې ګیلې وکړل نو د نن ماشام دیګ به زه ورته پوخ کم تر څو جبران زحمت اوسیړی څنګه خوشه دې ده؟

د جهان په دی خبره ما په کراره وخندل او د تایید په توګه مې سر وخوځاوه چې جهان په خندا زما غومبرې کش کړو او بیا مدثر او مزمل یې ښکل کړل او له کوټې ووت. ما هم مدثر او مزمل چې بیحد سترې شوی وه په پنځه دقیقو کې ویده کړل او ژر د هغه پسې له کوټې و وتلم تر څو و ګورم څه پخه وی؟ آشپزخانې ته په ننوتلو جهان مې ولید چې په یو ښایسته انداز باندې ولاړ و چاقو په لاس او کرار کرار یې لکه آشپزانو پشان پیاز میده کول، دومره د هغه داسې انداز راباندی ښه ولګید چې بې اختیاره د دهلیز خواته ولاړم او په تلوار مې خپل موبایل راوخیست او ژر بیرته آشپزخانې ته راغلم جهان همغسې لګیا وو په آشپزی چې ما ورځخه عکس واخیست، زما اراده د زیات عکسونو د اخیستلو وه خو فکر مې نه وو د کمری فلش خلاص وو او همدا چې ګروپ یې روښانه شو او کړچ یې کړل جهان په تلوار زما خواته راوګرځېدو ما په ناراضه توګه خپل موبایل ته وکتل چې د هغه یو کرش او خراب عکس پکی اخیستل شوی وو، او په همغه ناراضه څهره مې وویل: سم رانغې.

زما د ناراضه څهری په لیدو جهان په خندا وویل: زه اوس یې واخله زه شور نخورم.
- نه خوند یې په بیخبرې کې وو.
جهان په خندا سر وخوځاوه چې ما وویل: څه پخه وی؟
جهان- امممم غوشه!
د غوښې د نوم په اوریدو مې تندی تروش کړو خو د دې ځخه مخکې چې څه ووایم جهان وویل: البته د چرګ غوشه ده!

- غوښه، غوښه ده.
جهان- یا نو غوشه تر غوشی فرق لری نازولې، د چرګ غوشه له سر په غوشه کې مه شماره.

په تروش تندی مې ورته کتل چې جهان په خندا سترګک ووهل او ویې ویل: بخشه کوه نو ما یواځې غوشه پخول زده نن ماشام زموژ سره غریبانه خوراک وکه.
- ته پوهېږي نن زه ولې دومره ستړی وم؟
جهان بغیر د څه ویلو راوکتل چې ما په همغه تروش تندی وویل: ځکه دری ساعت لګیا وم ورزش مې کاوه! د سهار راهیسې مې هم ډوډۍ نه ده خوړلې او ته( په خفه لهجه مې وویل: اصلاً زه نن ماښام ډوډۍ نخورم، پخه یئ کړه ته او جنید یې وخوری.

زما په خبرو جهان خپل د لاس چاقو د پیاز سره ختا کړو او په تروش تندی زما خواته مخ راوګرځوه، او ناساپه په داسې یو قهرجن لهجه یې خبري پیل کړل چې د وېری څخه زما اوړی وپریدل: څه جبر وو؟ اصلاً ته ما ته دا وواېه چې ته غواړې وزن د چا لپاره کم کړې؟ که زما لپاره کم کوی نو ما خو اول کې درته وویل ستا د وزن سره کوم مشکل نلرم! او که د خلکو د خبرو لپاره یې کم کوی بیا نو ډېر بیعقل یې! وینم دا څو میاشتې کېژی پر ځان دی غم جوړ کړې چې چشی دی؟ پلانکې ماته وویل ته چاغه یې!

بد یې کړی هر چا چې تاته ویلې چې ته چاغه یې، اصلا هغوي څه کاره دي چې زما د شزې د وزن په باره کې خبری کوي؟ اصلاً دا ستا وزن یې د ۲۰۰ کیلو! پر دوی څه؟ دوی تاته ډوډۍ درکوي که زه؟ ته زما شزه یې که د( جهان خپل خبره بند کړل او داسې حال کې چې خپل  په ږېره کې لاس تېره وه په کلک څو ځله د شونډو لاندی استغفار وویل بیا یې په کرار او نرمه لهجه وویل: مکوه نازولې مکوه.. په دې بیځایه خبرو مه زما عصاب خراب کوه مه هم خپل ده، په قران ته ډېر ساده یې!

هغوي خپل د ضد او بخیلۍ څخه تاته داسی وایې، هغوي ستا د ژوند سره بخیلې کوی ته دوه دانې کوچنې شایسته، شایسته جوړه یې زامن لري،یو کور لری، یو کورنۍ لری، یو میړه لرې چې د لیونیانو رقم درباندی مئین دی ستا هر حکم پر سر سترګو منې، د خاله لورګانې دی دا خبری نسې هضم کولې او بل کار خو نسې کولې نو غواړې خپل په دی خبرو تا خفه کړې او ته هم د هغوي خبری منې او پر ځان غم نیسې.!

لومړۍ ځل وو چې د دومره وخت وروسته جهان داسې په تنده لهجه راسره خبری کول، د هغه په داسې قهرجن غږ زما سترګي له اوښکو ډکي شوی چې جهان سر د افسوس په توګه وخوځاوه خپل لاسونه یې د نل لاندی پریمنځل او زما خواته راغلو. همدا چې غیږه یې خلاصه کړه او زه یې غیږ کې ونیولم بې اختیاره د یو ماشوم پشان چې مور او پلار یې ورباندې د یو کار پر سر پټکه او غوسه کړې وی او اوس بیرته ناز ورکوي نو ماشوم ورته ځان معصوم کوی او ناز ورباندی کوی او ژاړی، ما هم بې اختیاره همغسې وکړل چې جهان داسې حال کې چې غیږ کې نیولې وم ویې ویل:

جهان- جان .. جان مه جاړه قربان دی سم، ما خو تاته چشې ونه ویل بیا ولې جاړی؟ د هغه په دی خبرو ژړا مې لا پسې زیاته شوه او ومې ویل: تا ... تا ماته وویل بې عقلې! تا .. تا ... پر ما چغې ووهل.

زما په خبرو د جهان سینه زما د سر لاندی پورته ښکته شول او بیا داسې لهجه باندې چې خندا ورڅخه له ورایه ښکاریده ویې ویل: یعنې هغه دومره خبرو کې تا یواځې دی خبری ته پکر سو چې ما درته بیعقل وویل او په پورته آواز مې درسره خبری وکړل؟ نور شې دی وا نه وریدل؟

ځواب مې ورنکړو چې جهان په خندا خپل د غیږې څخه جلا کړم او داسې حال کې چې زما اوښکې پاک کول په همغه خندانه او شیطانه لهجه وویل: شکر وباسه چې میړه دې زه یم! کنه د وخت خدای نکرده اوه کفن دې شکول.

په حیرت مې وروکتل چې جهان په همغه خندا زما د سر ویښتیان ښکل کړل او ویې ویل: هې هې نازولې تا د سرپانو غوسه او شنزل(کنځل) کول نه دي لېدلي، ما یوازې خپل ژغ(غږ) لـــږ پورته کې هغه هم ستا د پاره کنې نور سرپان د ژغ د لاسه لاس پورته کوی، او جوړ فرش ورکوی.
د جهان په دي خبره په تلوار د غیرې څخه یې لری شوم او په مظلومیت مې وویل: یعنې ته هم غوارې پر ما لاس پورته کړې او ومې وهې؟
زما د مظلومو سترګو پر لیدو جهان په خندا وویل: ای زه دې قربان د دې سترګو څخه سم، خدای دی هغه ورځ نه راورې چې زه دې وغوارم پر تا لاس پورته کړم ما یو وار ته وهلې یې چې شاید ظاهراً وار تا خوړلې و خو قسم پر خدای چې درد یې زما زړه تیر کړی و ...

د جهان په دې خبره ما هغه وختونه او د جهان هغه نارامه حالت رایاد شو، هغه وخت چې جهان تازه د حسیب د موضوع څخه خبر شوی وو، جهان هم لکه چې هغه وختونه په یاد شول چې ژر یې خبره بدل کړل او د آشپزی کولو پر بهانه زما څخه لری شو ټوله شپه نور کوم داسی موضوع رامخکې نشوه چې موږ خبره وربانډی یو پر دوه کړو د تل پشان ډوډۍ مو وخوړل ماشومان ولاړل د جنید کوټې ته او ما چاې دم کړل او خپل کوټې ته ولاړم جهان هم د تل پشان پر لمانځه ولاړ و ما هم چای واچو او د سترګو له کونجو څخه د هغه لمانځه کولو ته ځېر شوم او لا پیاله چاې مې اچولې نه وه چې د جهان مونځ خلاص شو او زما څنګ ته راغلو.

د تل پشان زما د ورځ پوښتنه یې وکړل او ما هم بغیر له دی چې د هغه ورزش کولو موضوع دویم ځل ورته بیان کړم ورته کیسه مې وکړل او خبرو خبرو کې ځایونه مې واچول مدثر او مزمل ته مې شیدی ورکړل او ویده مې کړل جهان په دې ټوله موده کې چې ما کار کوه زما خواته راکتل کله چې کارونه مې خلاص شول خپل غیرږه یې راته خلاصه کړه او زه هم د عادت مطابق غیږ کې پریوتم تر څو ویده شم جهان داسې حال کې چې زما ویښتیانو کې ګوتې وهل د تل پشان د خوب څخه مخکې دعا ویل پیل کړل!

دا دعا جهان هره شپه ویل تر دې حده چې زما هم څه ناخه ټول زده شوی وه، لومړۍ د 29 سپاري څخه سورت ملک ویل بیا یې درې ځله الحمد الله،درې ځله چهار قل او درې ځل ایت الکرسي او د هغه وروسته د خوب دعا "الهم بسمک اموت و احیا" ویل د هغه د دعاګانو د اوریدلو حال کې تل ماته خوب راتلو او ویده کیدلم او اوس هم کرار کرار سترګې مې ګرم کېدل او خوب راباندی غالب کیدو چې جهان وویل:

جهان- نازولې بیده سوی؟
په همغه پټو سترګو مې وویل: اوممم نه ویښه یم.
جهان- نن ادی زنګ وهلې وو، سلام یې ویل درته.
- امم علیک سلام څنګه وه ښه وه؟
جهان- شکر ښه وه پوهېږې ولې زنګ وهلې وو؟
- شکر چې ښه وه، نه ولې زنګ وهلې وو؟
جهان په خندا وویل: د خیره د اختر نه بعد د بشیر واده دی زنګ یې وهلې وو او ویل یې تاسو د اختر څخه مخکې راسی روژه هم زموږ سره تیر کی.

د بشیر د نوم په اوریدو خوب مې د سترګو و پریدی او په حیرت مې وویل: بشیر؟ همدا خپل وراره بشیر یاده وی؟
جهان په خندا وویل: هو نو، څو بشیره موږ لرو؟
- هغه خو ډېر ماشوم دې!
زما په خبره جهان کرار وخندل او ویې ویل: د کوم خوا ماشوم دی؟ غټ سړی دی.

په حیرت د جهان خواته مې مخ کړو او ومې ویل:غټ سړی؟ هغه تازه د 13 کالو هلک دې د جنید څخه دوه دری کاله مشر دی.
جهان په همغه خندانه څهره وویل: عمر یې صحیح دې چې د 13/14 کال و دې خو ماشالله قد او قواره یې د 17/18 کلن ځوان رقم ده تازه همدا مخکې میاشت چې زه تللې وم کندهار ته ومې لېدې خپل په ژیره(ږیره) یې چاړه تیره کړې وه او اوس

ماشالله داسی ببره ژیره یې راغلې وه چې زما ژیره ورته دوه تار معلومیده او قد یې هم دونی جګ سوی وو چې ما اول وار فکر وکې جمشید دې!

- خو بیا هم جهان هغه ماشوم دی! قد او قواره د عمر او عقل سره فرق لری.
جهان- عمر یو عدد دې، عقل او شعور د عمر سره کار نلری او هو خبره د مجبوری ده، کنې موږ هم دونې ظالمان نه یو چې دسې کوچنې هلک ته واده وکو.
- د څه مجبورې؟
جهان- د انجلۍ عمر!
په حیرت مې وویل: د انجلۍ عمر څه؟
جهان- د فاطمي عمر ډیر دې، نه کیږي چې یو دوه کاله صبر وکو.
د حیرت څخه په خلاصه خوله مې وویل: د فاطمي عمر زیات دی؟
جهان- هو نو.
- هغه وخت د څو کالو ده چې ته وایې زیات دی؟
جهان په خندا وویل: ولاکه د قیق حساب خو نلرم خو بابا ویل د 19/20 کالو شاید وی.

- یعنې ستا په نظر د 19/20 کالو انجلۍ عمر بیحد زیات دی؟ او باید ژر تر ژره یې واده کړې؟ نو هغه وخت چې زما عمر د 21 کالو وو او ستا سره مې کوژده وکړل زه ستا په نظر بوډې معلومیدم؟

زما په دې خبره جهان په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: د دې نظر مې موضوع ته فکر نه وو کړې.
په غوسه مې په څنګل باندی په سینه وواهه او ومې ویل: خانده مه ماته ځواب راکړه، یعنې هغه وخت ستا په نظر زه بوډې وم چې ته زما غوښتنې ته راغلې؟
جهان داسې حال کې چې کوښښ کاوه خپل خندا کنترول کړې وویل: زموږ موضوع او د هغوی موضوع فرق لری.
- څه فرق لری؟

جهان- امممم د ځمکې څخه تر آسمان فرق لرى نازولې! ګوره ته د کوم کوچنې هلک چې عمر يې ستا څخه 8/9 کال لږ وی په نوم نه وی! ته تازه د 21 کالو پيغله وی او خپل د پلار په کور ناسته وې چې ټول خواستګاران هلکان دی د عمر له لحاظ ستا همزولې وه يا که ډير کوچنې وايې شايد يو يا دوه کاله د عمر تفاوت وايې، نو ځکه هر وخت چې واده دې کړی وايې خپل د همزولې سره واده راتلو خو دلته خبره فرق کوی، فاطمه د 20 کالو ده او بشير د 13/14 کالو که موږ څلور پنځه کال نور هم صبر وکړو چې بشير يو څه ځوان سې هلته د فاطمي عمر د 24/25 کالو کيږی او په کلې کې يو 24/25 کلنې انجلۍ ته سپين سرى وايې، نو ځکه ژر واده کوو چې د خلکو فکر و دی خبری ته ولاړ نسې.

او هو هلکان ماشالله يو کال کې قد او قواره باسې همدغه اوس بشير او فاطمه که د يو بل سره و دريږی فيکس يو اندازه دی حتا بشير لا ورڅخه په عمر کې ډېر معلوميږي اوس په خبره پوی سوی نازولې؟

په همغه ناراضه څهرې مې وروکتل او ومې ويل: هو همدومره پوهه شوم چې د هلک عمر چې د 30 وی 40 وی که حتا د 50 کالو بوډا وې او د يو 12/13 کلنې انجلۍ سره واده وکړې هيڅ مشکل نلری او هيڅوک ورته بوډا نه وايې او د انجلې پر حال افسوس نه کوې خو که جنې د يو هلک سره واده وکړې چې عمر يې د هغې څخه 3/4 کال لږ وي نو ټول خلک ورته وايې چې جنۍ سپين سري ده او هلک لا ماشوم دی!

زما په دې خبره جهان څو شيبې په ځير راوکتل او بيا يې په کرار خو په کلک لهجه ځواب راکړو: زه د خلکو د خبرو سره کم کار نلرم خو مطلب که دې ما ته او خپل ځانته وي! نو باور وکه که هغه وخت چې ما ته وليدلې او دربناندی مين سوم که هغه وخت ستا عمر زما څخه 8/9 کال غټ هم وايې بيا هم ما غوشتل درسره واده وکم، ما ته عمر مهم نه دی ومې ويل درته چې عمر يو عدد دې او بس، نو هر دقه ما ته مه راياده وه چې په عمر کې زه ستا څخه څوني مشر يم؟!

د جهان په دې خبره خوله مې نوره بنده کړه، دا څو وخته تازه د دې موضوع سره عادت شوی وو او کله ناکله چې ورته بوڅا مې ویل نه خفه کېدو خو اوس چې څنګه تندی ترشو کړو پوهه شوم چې بیا یې ذهن د نور خبرو خواته لاړو او خفه شو، زړه کې مې د ځان سره وویل اصلاً پر ما یې څه چې بشیر د فاطمې څخه په عمر کې ماشوم دی؟ زه خو باید د دې واده په هرخومره ژر کیدلو خوشحاله اوسېږم! ځکه که خدای نکرده دا واده ونشې بیا د جهان د کاکا کورنۍ د جهان پسې کېږي چې زما لور خو ستا پر نوم وه راشه ویې کړه؟!

په دې فکر چې جهان وغوارۍ بله ښځه وکړې د بدن ټول ویښتیان مې سیخ شول ځان مې ژر د جهان خواته نږدی کړو او داسې حال کې چې د هغه سینه کې مې خپل مخ پټ کاوه سینه مې ورڅخه ښکل کړل او کرار مې وویل: او که ما ستا څخه دومره شناخت درلود لکه څنګه چې اوس یئ لرم نو که ته د 50 کالو په عمر هم واې او زما غوښتنې ته راغلې وایې د بابا د "هو" او "نه" د ویلو څخه مخکې ما درته "هو" ویل جناب جهان خان سدوزي صاحب!

جهان څه ونه ویل خو همدا چې لاسونه یې کلک پر ما راتاو کړل او زما د سر ویښتیان یې ښکل کړل پوهه شوم چې زما په خبرو خوشحاله شوی.

***

د روژي میاشت څنګه راغله او څنګه ولاړه خبره لا نشوم! نن د روژی 28 وه او زه لګیا وم د مدثر،مزمل، جنید، جهان او خپل کالي مې بکس کې اچول ترڅو همدا چې جهان راغلو حرکت وکړو د کندهار پخوا، ارباب دا یوه هفته کېدل چې مسلسل زنګونه جهان ته پیل کړې وه او بار، بار یې ورته ویل چې د اختر څخه مخکې راشې اختر هم زموږ سره تیر کړې او د اختر یوه هفته وروسته د بشیر واده هم تیر کړې او

د هغه وروسته بیرته لاړ شي، او د هغه د دومره زنګونو او ټینګار وروسته نن جهان د تلو اراده کړې وه او ماته یې وویل: چې خپل شیان راټول کړه زه یو ساعت کې خپل کارونه سم کوم او درځم درپسې.

ما هم یو ساعت مخکې د ادی بابا او اسما سره خدای پاماني وکړل او اوس لګیا وم خپل د تلو شیان مې سم کول، البته بابا څو دقیقې مخکې راغلو او ادی چې کوم شیان پخه کړې وه تر څو که موږ تر ماښام کندهار ته ونه رسېدو په لاره کې وخورو ما ته راکړل او بیرته ولاړی، البته ادی بابا ته هسی دا بهانه کړې وه، اصل کې ځکه چې ادی خبره وه چې زه میاشتني مریضه یم او روژې خورم نو ماته یې داشیان راوستول، چې لاره کې وخورم!

د څو دقو وروسته جهان هم راورسېدو او کله چې هر څه یې تیار ولیدل نو ډېر ژر شیان یی موټر ته ویوړل او ناری کړل چې راځې، ما هم خپل حجاب سم کړو او موټر ته پورته شوم مزمل چې د جنید غیږ کې وو ورځخه مې راوخیست خو مدثر چغې وهل هغه مې د جنید غیږ کې خوشی کړو جهان د خدای خیر پر ویلو موټر روښانه کړو کرار کرار کورونه زموږ شاته پاتې کیدل او موږ پوخ سړک ته ځان نږدی کاوه دوه ځله په دی لاره تللې وم خو بیا مې هم په یاد نه وو! لومړی ځل خو حساب کې نه راځې ځکه واده مې وو او زیاتر لاره مې په خوب او ژړا تیره کړې وه دویم ځل د روقیه واده ته چې تلو هغه وخت هم مدثر او مزمل ماشومان وه او دومره یې ټوله لاره کې وژړل او پعذابول یې وکړل چې ما شاوخوا د کتلو فرصت پیدا نکړو.

خو اوس هېڅ ستونزه نه وه او ما په راحت خیال کولې شو چې شاوخوا وګورم، پوخ سړک باندی زموږ د موټر بغیر یو څو دانې مسافر وړونکې موټران وه او یو څو هم زموږ پشان کوچنې موټران جهان بغیر د څه ویلو مخامخ کتل خو د څهرې څخه یې ستړیا ښکاریده! دا یوه هفته کېدل چې لګیا و ټول شیان یې سم کول تر څو د ده په نه موجودیت کې کوم ستونزه رامخکې نشې. ژوره ساه مې واخیسته او د موټر د

ښېښې څخه مې بهر ماحول ته وکتل ماشومه چې وم فکر مې کاوه ټول افغانستان همدا کابل دی!

خو کله چې د لومړۍ ځل لپاره موټر کې کښیناستم او د کابل څخه بهر دښتی، کلې، او لاری کوڅي مې ولیدی هغه وخت پوهه شوم چې افغانستان یوازی کابل نه دې بلکې افغانستان ډېـــــر غټ دی! سر مې په ښیښه تکیه کړی وو او همدی فکرونو کې وم د روژی میاشت وه او نه کیدل چې موټر کې کوم سندره روښانه کړم البته جهان د سندری څخه بد راتلل که روژه هم نه وایې بیا هم هغه اجازه نه راکول، البته که ډیر مې زاری کړی وایې نو یو نعت یا ترانه یې چالانده کول چې خپل د کړی خبری څخه یی انسان پیښمانه کاوه، مزمل په ژړا شو هرڅومره چې اخوا دیخوا مې کړو کرار نشو مجبوره شوم چې شیدی ورکړم خو همدا چې اراده مې وکړل تر څو خپل ټیکری لږ لری کړم او مزمل ته شیدی ورکړم جهان په حیرت او تروش تندی وویل: چشی کوی؟

ما هم په حیرت مزمل ته اشاره وکړل او ومې ویل: شیدی ورکوم څه کوم؟!
زما په خبره جهان بد بد راوکتل او ویې ویل: پوخ سړک دی ته هم مخکې سیټ کې ناسته یې غواړې دسی حالت باندی شیدی ورکی؟
د هغه په خبره حیرت مې لاپسې زیات شو او ومې ویل: موټر روان دی او که روان هم نه وایی بیا هم چا ته څه نه معلومیده، ماشوم ژاړی او ته داسی پوښتنی کوی؟!

زما په خبره جهان نور څه ونه ویل خو په تروش تندی خپل پټو زما خواته راوچوه،که د څو کالو مخکې هوسۍ وایې نو د جهان په دی کار مې ورسره یو غټ جنګ کاوه خو اوس د جهان په ذهنیت او اعتقاداتو پوهه شوی وم نو ځکه بغیر د څه ویلو مې پټو پر ځان واچو او بیا مې مزمل ته شیدی ورکړل، عجیب ده خو اوس راباندی د جهان دا سختګیرانې،دا تندی تروش کول حتا دا ځیر نظر یې چې زما حجاب خواته یې کاوه چې تنګ خو نه وي، یا خراب خو نه وې، راباندې بد نه لګیدو بلکې عجیب به وې که ووایم خوښېدو مې!

ځکه د هغه دا کارونو ما ته داسې احساس راکو لکه ما ته چې توجه لرې، پر ما غیرت لرې، زما هر کار او هر خبره ورته مهم ده، یو رقم پر ما یې د مالکیت دعوا کول! او دا یې تل ویل:"ستا کار، ستا خبرې، ستا د وجود زره، زره پر ما مربوط ده او زه ستا د جسم او روح مالک یم!" ما څو کاله مخکې د داسې خبرو څخه کرکه راتلل، او د هغه سړیانو څخه خو مې نفرت کیدو کوم چې ښځه به یې خپل مال او دولت ګڼل او د هغې په هر کار به یې کار درلود، خو اوس ...

اوس راته د جهان دا مالکیت خوند راکوه، عجیب ده خو کله چې به جهان ویل "زما ښځه" دا لفظ د مالکیت"زما" به یې زما په زړه کې کیلو کیلو ګوډې ماتول، زما په نظر دا چې د یوې ښځې بد راځې له دې چې یو سړی ورباندی د مالکیت دعوا وکړی دا دوه دلیل لری، لومړی دا چې هغه سړي د دې په زړه نه دی نو ځکه د هغه سړی د مالکیت څخه یې بد راځې، او دویم دا چې هغه سړی په مالکیت کې رښتېن ولې نشته او د دروغو دعوا ده.

مزمل او مدثر دواړه ویده شوی وه جنید هم د خوب څخه زنګېدو زه که څه هم لومړۍ څو ساعتو کې د لارې شاوخوا مې کتل او خوشحاله وم خو کرار کرار ستړی شوم او زړه مې تنګ شو، د کابل ښار څخه پوره وتلې وو اوس نه کوم کور تر سترګو کیدې او نه هم کوم دوکان یا تعمیرا هسې دښته وه. خالې لکه ریګستان پشان لمر د غرونو په څوکه لګیدو او ژیړه طلای رنګ ځلا یې کول د ځینو غرونو په سر یوه پوسته هم تر سترګو کیدل نور هېڅ هم نه وه!

په دی نیم ساعت کې د زیات خلق تنګې څخه مې زر ځله خو د جهان څخه پوښتنه وکړل چې کله رسیږو؟ او څومره لاره پاتې؟ جهان به هر ځل په خندا ویل:"لا زیات لاره پاتې ویده شه چې لږ ستړیا دی کمه شي." خو دا لعنتې خوب کله زما سترګو ته راتلو جنید، مدثر، مزمل ټول ویده وه یوازی زه او جهان ویښ وو، هوا مخ پر تیاره کیدو وه که څه هم وړی وم خو د ماښام اذان ته چندان زیات وخت نه وو پاتې او که

لږ نور مې صبر کړی وایی نو د جهان سره به مې یو ځای ډوډۍ خوړلې وایې، که څه هم جهان راته په خندا وویل: تخو هسې هم خدای بخشلې یې ډوډۍ دی وخوره.

خو زما زړه نه کیدو او غوښتل مې د هغه سره یوځای ډوډۍ وخورم، په همدی فکرونو کې خوب وړی وم، نه پوهېږم څومره ویده شوی وم خو د جهان په غږ له خوب راپاسیدم.
جهان- شینه(کینه) یو شې وخوره لس دقیقو کې رسیږو لخیره بیا هلته خدای خبر وخت پیدا کی چې ډوډۍ وخوری.

د جهان په خبره مې په حیرت شاوخوا وکتل چې ګورم هوا پوره تیاره شوی او جهان د موټر ګروپونه بل کړی وه ماشومان هم راویښ شوی وه او دواړه د جنید سره په شاته سیټ کې لوبې کول، په حیرت مې وپوښتل: دومره ژر ورسیدو؟
زما په خبره جهان کرار وخندل او داسی حال کې چې نیم نظر یې زما خواته کاوه ویې ویل: جر ورسیدو؟ ستا خوب درووند سوی نازولې! کنې ما نیم ساعت موټر ودروې روژه مې ماته کړل،مونځ مې وکی بیا مې حرکت وکې او ته په دی ټول لاره بیده وی! تقریبا دری څلور ساعت کېژی!

د جهان په دی خبره مې د حیرت څخه سترګي خلاصې پاتې شوی چې جهان زما د حیرت زده څهری په لیدو کرار وخندل، غوښتل یې یوڅه ووایې خو د څه ویلو مخکې موبایل ته زنګ راغلو ما هم ورڅخه نظر واخیست او مزمل مې د جنید د غیږ څخه را واخیست ځکه د دواړو غیږ کې نیول ورته سخته وه، همغه حال کې مې د جهان غږ هم واوریده چې ویې ویل: بس دغه دي در ورسیدو پنځه دقیقو کې د خیره د کور مخکې یو.

د جهان له خبرو پوهه شوم چې د موبایل هغه خوا ضرور یا ارباب وو، یا هم د جهان کوم ورور،چې جهان داسی خپل د راتګ وخت ورته و ویلو، د زنګ خلاصیدو وروسته جهان بیا راته وویل چې ډوډۍ وخوره خو زما بیخې اشتها نه وه او د جهان د زیات ویلو با وجود مې هم ګوله ډوډۍ ونخوړل، د څو شېبو وروسته جهان موټر د سړک

 څخه د کوڅو خوا ته وګرځوو او لومړۍ لاره او کوڅه وه چې د دومره ساعتونو وروسته زما په نظر لږ اشنا ښکاریدل که څه هم دومره زیات مې پکې وخت نه و تیر کړی خو بیا هم پوهیدم چې دا د ارباب د کور مخکې کوڅه ده.

جنید هم کوڅه لکه چې وپیژندل ځکه په خوشحالۍ مدثر ته چې په غیږ کې نیولې وو، د همدی لرې او تیارې لارې څخه د لاس په اشاره باندی د کور دروازه ښودل او خندل یې، زما پر شونډو هم مسکا راغلل لومړی ځل چې راغلې وم هغه وخت هم ماښام وو او ما شاوخوا هېڅ ونه لیدل او اوس هم! لا کور ته رسیدلی نه وو چې جمشید مې د لرې څخه ولیدو چې لاس یې خوځاوه او د موټر خواته راروان وو، د هغه په نږدی راتلو جهان په خندا د موټر ښیښه ښکته کړل او جمشید د تل پشان په همغه شور او هیجان وویل: ای ماشالله پخیر پخیر، ولې مو دونې ناوخته کړل؟

جهان- علیک سلام دا لا ناوخته دی؟
جمشید په خندا وویل: یا ناوخته خو نه دي خو ادی او بابا دونې زیات وویل جهان دوي ناوخته کړل، جهان دوي ناوخته کړل او زر واره یې زه د سړک تر غاړی واستولم چې ما هم فکر وکې شاید د رشتیا مو ناوخته کړی وی؟!

د جمشید په خبره جهان په کراره وخندل او ویې ویل: ادی او بابا همیشه دغسې ورختا دي، اوس ولاړسو که دلته مجلس کوی؟
جمشید په خندا وویل: یا.. یا راځې نور مجلس به په کور کې وکو، د دې څخه مخکې چې بابا خپل راسې.

جمشید په همغه ځغاستو بیرته د کور خواته لاړو او جهان موټر روان کړو څو شیبې وروسته موټر د ارباب د کور په هغه لوې حویلې کې ودرېده، د کورنۍ ټول غړی حویلې ته راغلې وه او زموږ د راتګ په تمه وه! که څه هم دومره وخت زما د واده څخه تیریده او دومره شناخت مې اوس د دوي څخه درلود خو بیا هم داسې ناساپه د دومره خلکو مخکې تلل زړه کې راته ویره اوچول هغه هم د دی وزن او شکل، صورت سره، لومړی جنید د موټر څخه ښکته شو او مدثر یې د ځان سره ویوړو

ورپسي جهان ښکته شو ما ځانته دلداري ورکولو چې ښکته شه او دومره مه ویرېږه خو جرئت مې نه درلود! زه په همدې کش مکش کې وم چې جهان زما خواته راوګرځیدو مزمل یې زما له غیږې څخه واخیست او همغه حال کې کرار وویل:

جهان- ولې بیریږي؟ خپل کور د دې راځه.
په حیرت مې د جهان خواته وکتل او دا چې په داسی حالت کې لا زما خواته یې فکر وو مسکا مې پر شونډو راغله چې هغه هم په ځواب کې راته مسکې شو او مزمل یئ زما له غیږې څخه واخیست او ولاړې د جهان په خبره لکه چې زما په بدن کې زر کیلو واټ مثبت انرژي تزریق شوی وی دومره په خوشحاله او بی غم زړه له موټر څخه راښکته شوم، مدثر او مزمل خو راته بیخی نه ښکاریدل چې چیرته دی؟ ځکه یو ثانیه د یو چا غیږ کې وه بل ثانیه د بل چا!

نظر مې پر جهان ولګېدي چې مور یې په ژړا ورڅخه مخ ښکل کړو او جهان بیا د هغې لاس ښکل کړو او په خندا یې ورته یو شې وویل چې مور یې ژر خپل د ټیکرې په څوکه خپل اوښکې پاک کړل، خپل د مور سره د سترې مشې وروسته جهان د ارباب خوا ته چې په مسکا او شوق یې د جهان خوا ته کتل ولاړې او د هغه لاس یې ښکل کړو او ورسره سترې مشې وکړل ارباب که څه هم په ظاهره محبت نه ښکاره کاوه خو د سترګو څخه یې له ورایه ښکاریده چې څومره خوشحاله دی!

د جهان د مور په غږ ژر مې نظر د جهان او ارباب څخه واخیست او د هغې خواته وګرځیدم، کله چې ځانته مې نږدی ولېدل نو ژر ښکته شوم تر څو لاس یې ښکل کړم، ما د هغې لاس ښکل کړو او هغې هم د تل پشان زما مخ ښکل کړو او بیا یې راڅخه زما د کورنۍ پوښتنه وکړل چې څنګه دي؟ او ما هم ورته شکر ښه دی سلامونه یې ویل ځواب ورکړو، کله چې د جهان د مور سره مې سترې مشې وکړل د هغه وروسته د جهان وریندارګیاني یو، یو رانږدی شول او که څه هم زما په لیدو یې سترګو کې حیرت ښکاریدو خو په بیحد خوش اخلاقې ټولو راسره سترې مشی

وکړل، مورې تازه روغبړ خلاص کړی وو چې ارباب غږ کړل چې کور ته راځې ېول مجلس خو په حویلې کی نه کوی؟

د هغه په غږ ېول د کور خواته روان شو دوي له مخکې څخه دهلیز کې نالې اچولې وه ېول د هلیز کې کښېناستو جهان د ارباب څنګ ته نالې باندې کیناست زه هم د دهلیز یو کونج کې د جهان د مور څنګ ته کېناستم مدثر او مزمل هم د جمشید غیږ کې وه تازه د کښېناستلو وروسته ارباب زما خواته پام شو او ستړی مشی وکړل البته ما غوښتل چې د ارباب لاس ښکل کړم! خو وخت تیر وو اوس چې ېول ناست وه لځایه راپاسیدل او هلته تلل تر څو لاس یې ښکل کړم بیخی بد ښکاریده نو ما هم د همغه لری څخه ورسره روغبړ وکړو.

ارباب- څنګه و معلم صیب شه خو وو؟
- شکر الحمدالله شه وو سلامونه یې ویل.
ارباب د سر خوځولو حال کې کرار وویل: علیک سلام، زه شکر چې شه وو.
ارباب سره چې ستړی مشی خلاصه شوه د جهان مشر ورور بیا ورپسې جهانګیر او جمشید دوارو ستړی مشی وکړل دری وارو یو رقم ستړی مشی وکړل؟ " وریندارې څنګه یې شه یی؟ کورنۍ مو شه وه؟" او ما هم دری وارو ته یو رقم ځواب ورکړو " شکر د خدای فضل دی ېول شه وه سلامونه یې ویل خپل شه یاست روژه پخیر تیریږی؟"

او هغوی هم د هو الحمدالله بیحد شه روژه ده پر ویلو بحث خلاص کړو! همدا لومړۍ ځل وو چې ما د جهان د ورونو سره دومره خبری کول! کنه نه هغوی زما په کار کې کار درلود نه هم ما، دا دومره وخت زما د واده وشو ما د جهان یو ورور نه دی لیدلی چې د کوم وریندارې سره دی مجلس وکړی یا کومه خبره وکړی د جهان عادت هم همداسی وو. هغه هم خپل د وریندارګیانو سره همغسې ستړی مشی وکړل لکه څنګه چې د هغه ورونو زما سره کړی وه، کله چې لږ ماحول د روغبړ او جوړپخیر حالت څخه راووت ارباب په یو داسی نظر چې سترګي له خوشحالې څخه ځلیدل د

مدثر او مزمل خواته چې د جمشید په غیږ کې وه وکتل او بیایې جهان خواته مخ کړو او ویې ویل: کم یې مزمل دی او کم یې مدثر؟ دواړه یو رقم دی زه خو یې نسم سره بیل کولې.

د ارباب په خبره ټولو وخندل چې جهان زما خواته د نیم نظر په راچولو ارباب ته وویل: هغه چې توری سترګې دی مدثر دی او هغه چې خرمایي رنګ سترګې دی خپل د مور په رقم هغه مزمل دی، البته ورته نوم یې واخلې هغوي خپل ځانونه پیژني "ها" وایې.

د جهان په خبره چې ویې ویل د مور پشان سترګی دې ما د شرم شونډه وچیچل خو د جمشید په کار مې خندا راغله هغه لکه یو جنایی پولیس پشان د مدثر او مزمل سترګو ته د موبایل ګروپ واچو او تحقیق یې پیل کړو او د څو شیبو وروسته یې مزمل د ارباب خواته ونیو او ویې ویل: دا نفر شناسایې سو دا مزمل خان صیب دی.

د هغه په دی کار ټولو وخندل، ارباب لاس د مزمل خواته ونیو او ناری کړل تر څو هغه ته ورشي خو مزمل هک حیران شاوخوا ته کتل! زه هم حیرت کې وم، زه د دې خبری څخه په حیرت کې وم چې څنګه دوی دواړو تر اوسه ژړلې نه دی او د جمشید غیږ کې ناست دی؟ شاید دلیل یې د جنید شتون د جمشید څنګ کې وو، خو اوس چې داسې پر میدان یې کیخودل تر څو ارباب ته لاړ شې نو دواړو تازه فکر شو چې دا موږ چیرته یو؟ او دا څوک دی؟

ارباب- هله دلته راسه ..
د ارباب پر غږ او د جمشید پر ټیله کولو چې مزمل یې د ارباب خواته ټیله کو مزمل ناساپه ژړا پیل کړل او زما پسی په ګرځیدو شو، خو ځکه چې زه یو کونج کې ناسته وم نو زه یې ونه لیدم او ژړای لا پسی زیاته شوه د مزمل په ژړا مدثر هم خوله خلاصه کړه او دواړو چغې وهل پیل کړل.

جمشيد- ای .. ای څه پيريان پر توي"تاسو" دوارو راغلل؟ ولې جاړې؟
جنيد د هغوی د کرارولو کوښښ کاوه خو د هغوي يو خاصيت دا وو کله چې يو ځل يې ژړا پيل کړې وايې بيا نو تر څو چې ما نه وايې اخيستې نه کرار کېدل اوس هم سترګي پټې کړې وه او يواځې ژړل يې، د دې لپاره چې نور د موجود کسانو عصاب خراب نکړې غږ مې کړل او زما د غږ سره سم دواړه لاس پر لاس شول تر څو چې زما غيږ ته راورسېدل، همدا چې ما وخيستل دواړه کرار شول، د هغوي په داسې ناساپه چوپ کيدو جمشيد په خندا وويل: ورينداړې دا کم بڼه(تبې) دې ورنه ووهل چې دسی خاموش سول؟

د جمشيد په خبره ما کرار وخندل، خو جهان داسې حال کې چې خپل تکيه يې پر بالښت سم کول ويې ويل: يا کرار کوچنيان دې دونې نه جاړې دا اوس هم لږ بېګانګې کوي.
د جهان د خبری سره سم د جهان مور چې زما څنګ ته ناسته وه او په مينه ناک انداز يې مدثر او مزمل ته کتل چې زه يې کلک نيولې وم ويې ويل: قربان يې سم شايد سترې سوی وی؟ ډوډی خوړلې؟
غوښتل مې ځواب ورکړم خو زما د څه ويلو مخکې جهان وويل: دوي خو لا شيدی وخوړل البته څو ساعت مخکې! خو مور يې شئ نه دې خوړلې د روژه مات وخت کې هم بيده وه، ديته ډوډی راوړه بس هغوي هم کراريژی.

د جهان په خبره د جهان مور په تلوار وويل: وې ولې دی وختي ونه ويل؟
بيا يې د زرلشتې خواته وکتل چې هغه هم په يو جست لځايه پاځيده تر څو ماته ډوډی راوړې ما د شرم څخه سر ښکته ونيو دا چې د توجه مرکز اوسيږم تل شرميدم خو جهان په کراره لګيا وو خپل د پلار او ورونو سره يې مجلس کاوه، همدی وخت کې د جمشيد ښځه چې ما يوازی يوځل هغه هم د واده په ورځ ليدلې وه د چاي پيالو څخه ډک پتونس په لاس دهليز ته رانتوتل! د واده په ورځ مې سم صحيح نه وه لېدلې ځکه يوخوا مدثر او مزمل چغي وهل او ژړل يې بلخوا روقيه ته مې آرايش کاوه او داسې بد حال وو چې بيخې پوهه نشوم ناوی څنګه ده او څنګه نه ده؟

خو اوس د څلور،پنځه میاشتو وروسته مې تازه سم صحیح ولېده ښکلې وه! یعنې داسي افسانوي ښایست خو یې نه درلود خو بیا هم برابره وه دومره بدرنګه نه وه مناسب خوله، پوزه، سترګي او قد هر شي برابر وو خو لږ بیحد زیات آریش یې کړی وو چې د سپین کولو لځایه مخ ورته لږ شین کړې وو! د آرایش څخه یې که راتیره شم نور نو ماشالله تک سره لاسونه چې معلومیدل همدا څو ورځې مخکې یې نکریزی وربانديې وهلې د طلاو څخه ډک وه یو د طلاو غاړه ګې هم غاړه کې وه چې د ټیکر د لاندی څخه لا ښکاریدل او د طلاو چارګل، خلاصه چې بیخي په طلا اچولو کې حد کړی وو.

داسې ښکاریدل لکه همدغه دقه یې چې را واده کړې وی! د هغې د سره لاسونو او پښو په لیدو خپل ځان مې په یاد شو ما د واده په دویمه هفته دا ټول شیان پریښودل خو دا لا همغسې پر ځان رسیدل، د هغې په راتلو لږ خاموشې خپره شوه، همدا چې دهلیز ته راننوتل پتونس یې پر فرش کیخودو او مخامخ زما خواته د ستړي مشی لپاره راغلل! ما هم ژر مدثر او مزمل چې زه یې کلک نیولې وم د جهان د مور غیږ ته ورکړل او د ستړي مشې لپاره پاسیدم همدا چې لاس یې راکړو بیا مو د یو بل مخ ښکل کړو همدا څو شیبو کې بغیر د کوم څه ویلو پوهه شوم چې یا ډېر چالاک ده یا هم ډېر ساده!

ځکه د مخ ښکل کولو وخت کې داسی کلک، کلک زما مخ ښکل کړو چې دوه معنا د هغې دا کار درلود یا زیات چالاک یا هم زیاد ساده! البته شک مې پر یقین هغه وخت بدل شو چې زما سره د ستړي مشی وروسته مخامخ د جهان خواته ورغله او د ستړي مشې لپاره یې هغه ته لاس ونیو! د هغې په دی کار جهان او د جهان کورنۍ خو لری چې زما خوله لا د حیرت څخه خلاصه پاتې شوه، ما جهان پېژنده او پوهېدم چې جهان بغیر د خپل مور، خویندو او زما څخه د بل جنۍ لاس خپل ټول عمر کې نه دي نیولې او بد یې راځي که هغه د کاکا لوری وی، که وریندارہ یا هم بل هر څوک جهان په لاس باندې هیڅکله د ښځو سره ستړي مشی نه کوی.

البته سترې مشی خو لری چې جهان د کوم کار لپاره لا ورته لاس نه ورکوي، زما یاد دي هغه زمورږ د نکریزو پر شپه کله چې اسما غوښتل گوته یې ورته سره کړې جهان ځنگه تندی تروش ونیو او شاوخوا پر کتو شو ترڅو پر یو بهانه خپل لاس اسما ته ورنکړی، اخر هم ما ورته گوته سره کړل! رسم خو دسې و چې د ناوی خور خپل اوخښې گوته سره کړې خو ما د جهان لپاره هغه رسم پریخود او خپل مې ورته گوته سره کړه. نه پوهېږم د جمشید ښځې د چالاکې څخه دا کار وکړو که د سادگي څخه؟ خو هر څه چې وو د څو شیبو لپاره یو دم مطلق خاموشې دهلیز کې خپره شول، ټولو د جهان خواته کتل جهان چې هم ولیدل چې دا نه شاته کیږی نو په تلوار یې د ارباب د څنگ څخه د هغه پټو راوخیست خپل پر لاس یې وپیچو او بیا یې لاس ورکړو!

جهان- سترې مسې وریندارې ځنگه یې شه یې؟
هغې هم لکه چې تازه فکر شو چې عجب بد کار یې کړی؟ ځکه شاوخوا مورږ ته یې وکتل چې په رډو سترگو مو د دې کارونه څارل او بیا بیچاره گې ناځاپه بغیر له دې چې جهان ته لاس ورکړې په تلوار شاته شوه او له دهلیز څخه ووتل د هغې دی حرکاتو ته ما داسې په حیرت، حیرت کتل نه پوهیدم چې اوس څه وشو؟ او دا ځنگه چل وو؟ جهان هم څو شیبې په حیرت د هغې تگ ته وکتل بیا یې لاس راښکته کړو، مورږ ټول حیران وو خو د جمشید تندی تروش و او د غوسې څخه یې خپل شونډه چیچل، د هغه دروند ماحول چې د ده د ښځې په راتگ رامنتځه شوی وو د هغه د لمینځه ورلو لپاره د تل پشان گل بې بې رامخکې شوه او د چایو پیالې یې د هر نفر مخکې کیخودل او فضا یې بیرته لږ عادی کړه.

خو زه لا هم د هغې د کار په حیرت کې وم چې د جهان مور په کراره داسې چې یوازې زه یې واورم ویې ویل: شه انجلۍ ده کله ناکله چې دسې ورختا سې بیا دا رقم کیږی او نه پوهیږی چې چشی وکی؟

د هغې په خبره په حیرت مې وروکتل یعنې لیون حالې وه؟ په دی فکر مې ژر خپل سر وخوځاوه خدای دی نکوی، جمشید ډیر سم هلک وو خدای دی نکوی چې ښځه یې داسې وی، خدای دی وکړی همغه د جهان د مور خبره د ورختای څخه یط دسی کړی وی، څو شېبې وروسته زرلشتې دوه بولانې، شلمبې، او یو قاب کې د جرگ قورمه راوړل ټول په خبرو لگیا وه او د چا فکر زما خواته نه و خو بیا هم دا چې داسې د دومره خلکو په شتون کې ډوډۍ وخورم شرمیدم نیم بولانې مې د شلمبو سره وخوړی او نور ډوډېس مې بیرته واستول زما د ډوډۍ د خلاصیدو سره سم یو ځوان چې چهار شانه، ښایسته قد او قامت یې درلود، د منظم ږیرې سره چې معلومیدل تازه یې اصلاح کړې دهلیز ته راننوت او په بیحد ماشالله ډېر او مردانه غږ یې په کلک لهجه سلام وویل او بیا مخامخ د جهان خواته ولاړی.

د هغه په دی کار او د گل بې بې په خوشحاله څهره او د جهان په خبره ډاډمنه شوم چې دغه ښکلې، چهارشانه ځوان بشیر دی؟! باور مې نه کیدو همدغه څو میاشتې مخکې چې د جمشید او روقیه واده ته راغلې وم دومره کوچنې ماشوم وو خو اوس! د هغه په راتلو جهان لځایه پاسېدو او په غیږ باندی ورسره ستړی مشی وکړل او په خوشحالې خپل څنگ کې ورته ځای ورکړو.

جهان- راسه کاکا دې جارسې زما اندۍ(څنگ) ته کشینه(کینه)
د جهان په خبره جمشید په شیطنت وویل: هو هو ورځه اندې ته یې کشینه دغه دې وختونه دی زوم صیب د واده بعد ولاکه څوک درته د کوټې کونج کې لاځاې درکړې، اندې خو لری خبره ..

د جمشید په خبره ټولو وخندل چې ارباب ورته په طنز لرونکې لهجه وویل: اوس ته چا د کور باسلې یې چې دسی وایې؟
جمشید- باسل نو نور تور ویې که سپین؟ داسې ظلم زما حق کې روان دې چې ژبه یې د ویلو څخه عاجزه ده..

د جمشید په دې شیطنت ټولو خندل چې تازه د بشیر فکر زما خواته شو او په همغه بډ غږ چې بیحد جهان ته ورته و وویل: د کاکا شزې ستړی مسی پخیر راغلې؟

زه لا تر اوسه حیرانه وم باور مې نه راتلو چې هغه ماشوم هلک دې د څو میاشتو په موده کې دومره تغیر کړی وی! نه پوهېږم ځنګه ځواب مې ورکړو خو ټوله شپه زما دوه سترګې د بشیر په رفتار او خبرو کې وو، خبری هم فرق کړی و د مشرانو سره یې د کاروبار خبری کول جهان به ورځخه پوښتنه کول او هغه به ځواب ورکو د بشیر د هر ځواب او خبری سره د جهان څخه نیولې د کور د ټول سرپانو تندی خلاصیده او په افتخار یې د هغه خوا ته کتل، د دوي لیولتیا ځکه د بشیر سره دومره زیات وه ځکه چې د دوې د کورنۍ لومړۍ مشر هلک وو!

دا دومره وخت کې په دی خبره پوهه شوی وم چې د جهان څخه بغیر نور که د دې کور نر دی که ښځه ده بیحد هلک (نر، مذکر) ماشوم خوښېږی او دا چې ما ته داسې کله ناکله توجه د جهان مور، یا ارباب کوی یوازینې دلیل یې همدا دې چې ما دوه دانې هلکان ورته راوړی! نو ځکه زما رتبه لږ په دی نورو اینږورګانو یې پورته وه، البته جنید هم وو!

جنید په ارباب بیحد ګران وو د هغه لپاره به هره میاشت یوځل ضرور کابل ته راتلو او څو ځله یې د مکتب رخصتیانو کې جنید هم ځان سره وړی وو، خلاصه چې تر نیمه شپو جمشید په زر رقم خبرو او ټوکو بشیر پعذاب کړو، البته د هغه ټول خبری د واده په شاوخوا څرخیدل کله به یې ورته ویل:"کاکا دې جارسې ګوره کله چې مولا درته وایې قبوله دې ده او قبوله دې وه او قبوله به دې وی، ورختا نسې، رنګ دې جړ نسې چې زموږ پزه به پری کې، په بیحد کرار او دروند انداز کرار، کرارووایه زه یې هم ثبت کوم ځکه دا به ستا د عمر غټ ترینه غلطی وی" خلاصه چې جمشید دومره پعذاب کول وکړل چې اخر ارباب خپل د لاس تسبیح ورپسې وغورځول او بلاخره جمشید قناعت وکړو چې خوله بنده کړی او نور څه ونه وایې.

تر نيمې شپې ټول ناست وه او مجلس يې کاوه البته د هر چا بيل، بيل مجلس و سرېانو د واده په اړه خبرې کول چې په کوم ورځ واده ونيسې؟ څومره به خرچه راشي؟ څومره کسان به راشي؟ او خلاصه پيسو والا بحث وو، خو د دهليز ديخوا مورږ ښځو د کالو بحث کاوه ګل بې بې غوښتل يوه جوړه کالي يو رنګ مورږ ټول وکړو د اتڼ لپاره! او د جهان مور هم ويل چې سر له سبا خريد شروع کړي ترڅو تر هغه وخت وګنډل شي که څه هم نه اخوا د سرېانو بحث ماته جالب و او نه هم ديخوا د ښځو بحث خو د مجبورۍ څخه ناسته وم، مزمل او مدثر دواړه زما غيږ کې ويده شوي وه، همدا چې لږ وخوځېدم د مزمل د ژړا غږ پورته شو د هغه په ژړا د جهان فکر زما خواته شو

او لکه چې زما له نظر پوهه شو چې څومره ستړې يم او نور د دې ماحول د زغملو توان نه لرم چې لځايه راپاسېدو خو د ځان سره يې خپل د چاى پياله او ترموز هم راوخيست او ويې ويل: شپه نور تيره ده يو ګړې به استراحت وکړو تر څو پيشلمې کېږي، او هو ستوي(ستاسو) په اجازه دا چاى به زه ويسم که توى(تاسو يې) نه چشي!؟

د جهان په خبره ټول کرار کرار خپل د کوټو خواته روان شول، جهان هم زما خواته راغلو پياله او د چاى ترموز يې ماته راکړل او مزمل او مدثر يې خپل په غيږ کې کړل او د پورته منزل زمورږ د پخوانې کوټې خواته روان شو، زه هم ورپسې روانه شوم جنيد د نورو ماشومانو سره لاندې منزل کې ويده شو پورته خپل کوټې ته په رسيدو مسکا مې پر شونډو راغله همغسې وه لکه څنګه چې څو کاله مخکې وه، غالي، پردې، نالې ټول شيان يې همغسې منظم کيخودل شوي وه خو دومره معلوميدل چې پريمنځل شوي او پاک دي د جهان پر غږ مې وروکتل چې هغه د نالې خواته اشاره وکړل، ما هم په تلوار د چاى پياله او ترموز کيخود او يو نالي مې پر ځمکه هوار کړل ترڅو ماشومان وربانديې څملوي، د ماشومانو د څملولو وروسته جهان هم هملته کښېناست او شاته ديوال ته يې ډډ ولګول

که څه هم څو ساعت موټر کی ویده شوی وم خو بیا مې هم خوب راتلو نو ځکه د ماشومانو څنګ ته مې یو بله نالې هم د ځان لپاره واچول او یو نرۍ کمپل مې هم راوخیست هوا ګرمه وه همغه نرۍ کمپل هم د ماشومانو او هم زما لپاره بس وو، جهان ځانته د چایو پیاله ډکول چې ما خپل ځای د ماشومانو څنګ ته سم کړو او څملیدم.

جهان- ځای دی راحته دی؟
د جهان په طعنې پوهه شوم، ما خپل او د ماشومانو ځای یوازی اچولې و خو د هغه ځای تر اوسه نه و معلوم، داسې حال کې چې خندا مې راغلې وه ومې ویل: هو شکر بیخې راحته دی مننه.
زما په خبره هغه ته هم خندا ورغله او ویې ویل: زه چیرې بیده سم؟
- خپل لخیره هغه نالې ځانته کش کړه او ویده شه کمپل هم غواړې هغه دې.
جهان- یعنې ته دېخوا نه راځې؟
په شیطنت مې وویل: نه مننه، زما ځای راحت دې ته خپل غم وکړه.
جهان داسې حال کې چې خپل سینې ته اشاره کول زما پشان په شیطنت یې وویل: یعنې تاته بغیر زما د غیږې څخه خوب درځې؟

- هو هو ډېر هم ښه خوب راځې راحت کولې شم ویده شم او څوک هم نشته چې نیمه شپه مې د یو څنګ څخه بل څنګه کړی، یا مې راویښه کړې چې ښه یې؟؟
زما په خبره جهان داسې حال کې چې خندل خپل د چای د پیالې څخه یو غړپ وکړو او ویې ویل: ته چې کله بیده کېږی نو خدای دې نکوی خو سم د مړې رقم بې حرکت یې نفس لا په کلک نه اخلې نو زه مجبوره یم چې تحقیق وکم چې ژوندی یې کنه؟

- په خوب کې خلک لغتې نه وهې، همداسې ویده کیږی نو تحقیق ته څه ضرورت؟
جهان- یا نو ستا خوب بېخې بل رقم دې! ګوره دغه زه چې ماشام بیده سم نو ټوله شپه کې حتماً د یو اندې څخه په بل اندی ضرور اوړم ځکه یو اندی د انسان شل

کېڅې، خو ته بیخې شور نخورې نو ځکه مجبور زه دې پر انډې کړم چې دا یوخوا انډې دې شل نسې.

د جهان دومره فکر ته مې هم حیرت وکړو او هم مې خندا راغله، جهان خپل پیاله چاې وڅښل او د لمونځ کولو لپاره پاسېدو د هغه په تلو ما هم خپل شیطنت پریخود او پاسېدم د هغه ځاې مې خپل څنګ ته واچو جهان رښتیا ویل ما عادت کړې وو او د هغه د غیرې څخه بغیر خوب نه راتلو هسې مې دا څو دقې ورسره ټوکې کول، جهان چې کله بیرته کوټې ته راغلو او خپل ځاې زما څنګ ته ولید نو نرۍ مسکا یې پر شونډو راغله او بغیر د څه ویلو جاې نماز یې هوار کړو او پر لمانځه ودرېد.

***

سهار وختي د خوب څخه د بشیر په غږ راویښه شوم چې جهان ته یې ناری وهل! کله چې جهان ووت زه هم ورپسې ووتم چې ګورم د جهان آس د حویلې منځ کې ولاړ دې او جهان په خوشحالې وربandې ګرځې راګرځې او لاس وربانډې تیره وی. کله چې موږ د دې ځای څخه ولاړو جهان خپل آس خپل ملګری ته ورکړې وو ترڅو هغه یې ورته وساتې آس هم لکه چې جهان پیژندلې و ځکه د خوشحالې څخه یې عجیب غریب غږونه ویستل او خپل سر یې د جهان پر لاس تیره وه، د هغوی پر اوازونو ارباب دوي هم راووتل جهان داسې حال کې چې په ځېر نظر د آس خواته کتل بشیر ته یې وویل اوبه راوړی ترڅو خپل آس پریمنځې، که څه هم بشیر ورته ډېر وویل چې اس یې تازه پریمنځلې خو جهان ویل چې غواړې خپل پر لاسونو یې !یو ځل پریمنځې

د جهان پر ویلو بشیر دوه سطل اوبه ورته راوړل او هغه لګیا شو خپل د اس پر پریمنځلو دومره په احتیاط او توجه یې هر ویښته ورته پریمنځو چې زما لا بخیلې وشوه، د جهان کار ته په کتو وم چې د ماشومانو د ژړا غږ مې واوریده په تلوار د پورته منځل خواته په تلو شوم

مدثر او مزمل مې تازه کرار کړې وه چې د جهان مور بوډۍ په لاس کوټې ته رانوتل او ویې ویل:" چې جهان ویلې ته روژه نه نیسې نو بوډۍ مې درته راوړل." دهغې په دې کار زه دومره وشرمیدم چې حد نه درلود، او بدتر یې لا دا چې همدا کښېناست او زما سره یې مجلس شروع کړو یعنې نه پوهېږم څه یې راوړې وه او ما څه وخوړل؟ یوازې د شرم له لاسه ګز ګز له ځمکې ووتم، خبرو خبرو کې راڅخه د اختر د کالو په اړه پوښتنه وکړل او کله چې ما وویل لا ترا اوسه مې کالې نه دې کړې غوسه شوه او سم زما د مور پشان خبرې راته وکړل! د جهان مور بیحد ښه ښځه وه یعنې تل یې زما حق کې د یو رښتینې مور رقم رفتار کاوه که څه هم دا څو وخته له دی چې کابل ته تللې و یو څه خفه وه او کله ناکله یې طعنه کې ویل:" پخوا خلکو انجونۍ را واده کول خو اوس وخت انجونۍ میرو ګان ځانته واده کوی"

مطلب یې د جهان تګ کابل ته وو! خو د دې ټولو خبرو با وجود ډېره مهربانه ښځه وه، کله چې واوریدل ما کالې لا تر اوسه نه دې اخیستې له کوټې ووته او څو دقیقې لا نه وه تیر شوی چې جنید زما پسې راغلو چې جهان بابا وایې دلته راشه! کله چې ورغلم نو جهان، ارباب او د جهان مور کوټه کې ناست وه او د جهان مور او پلار دواړو جهان ته خبرې کول او جهان یې ملامت کاوه له دې چې ولې لا تر اوسه ما ته کالې نه دې کړې؟! جهان هم یوازې په حیرت ویل: "ما ورته پیسې ورکړل چې خپل د مور یا خور سره ولاړسې او ځانته او کوچنیانو ته د اختر لپاره کالې وکی، نور ولاکه خبر یم چې ولې نه دی کړې؟

کله چې د جهان په خبره هغوی زما خواته راوکتل تر څو دلیل واوری ما هم یوازی وویل چې کالې ډیر لرم او ماشومانو ته مې کالې کړې نور ضرورت نشته، خو د تل پشان د جهان مور خپل همغه د سیال او سیال دارې خبرې وکړل او خپل د مشهور متل پر ویلو" خلک په څه وایې د جهان خان شزی اختر ته کالې لا نه وه کړې! ته نه پوهېږې خو د دې خبرې څخه خلک زر رقم خبرې پورته کوی" د هغې په داسې جدی انداز خبرو باندی ارباب په یوه خبره کې فیصله صادره کړه! او هغه هم دا چې همدا

نن ما او جهان ولاړ شو بازار ته تر څو زه ځانته یوه جوړه نوی کالې د اختر لپاره وکړم.

او د ارباب خبره هم یعنې اخری حکم او تمام، ماشومان مې دواړه د جهان مور ته پریخودل او زه د جهان سره د بازار پخوا روانه شوم، اصلا مې زړه نه غوښت چې دا اختر دې نوي کالې ځانته واخلم نه پوهېږم ولې خو هېڅ شوق مې اختر ته نه درلود یوازې غوښتل مې ماشومانو ته ښه جوړه وکړم او هغوی خوشحاله وساتم هلته چې هم ورسیدو ما همدغه کار وکړو د ماشومانو هره جوړه کالې چې مې لیدل هغه مې اخیستل تقریبا دری څلور جوړې کالی او دریشې می مزمل او مدثر ته واخیستل او او یو جوړه کالې می هم جنید ته واخیستل البته په زر رقم زاریو! جنید راته د یو جوړه کالو او واسکټ د اخیستلو فرمایش راکړی وو خو هغه کالې او واسکټ د جهان نه و خوښ!

ځکه چې جهان ویل دا بېزاین کالې او واسکټ لوفر او لوچک هلکان کوی او دا واسکټ خو "کونیان" هلکان اچوی خو ما دومره ورته وویل چې اخر په تروش تندی واخیستل! د حق څخه که تیره نشم د رښتیا هم واسکټ یې یو څه بیحد بل رقم وو، شپارس اوولس جیب یې درلود! خو جنید د دومره وخت وروسته پر ما یو ناز کړی وو نو زړه مې ورڅخه نشو مات کولی، دومره وګرځیدو خو زما هېڅ شې هم د ځان لپاره خوښ نشو، تر دی چې د جهان حوصله خلاصه شوه او په تنده لهجه یې وویل:

جهان- زه خو پوهیږم چې ستا مرض چیشې دی، ته فکر کوی چې چاغ سوی یې او یو جوړه کالې هم درسره خوند نه کوی نو ځکه کالې نکوی اوه؟
د جهان په دی خبره مې سر ښکته واچو ځکه چې هغه زما د زړه خبره کړی وه زما یوازینی دلیل د کالو نه اخیستلو همدغه وو، جهان چې زما خاموشی ولیده تندی لاپسی تروش کړو او داسی حال کې چې زه یې د لاس نیولې وم د یو دوکان خواته ولاړو هلته رنګارنګ بخمل کالې وه، همدا چې خوله مې اعتراض او "نه" ویلو ته جوړه کړل جهان په تیزې سره وویل: خبری مکوه، ته چی ځانته اوس کالې نکوی او

فکر کوی چې بدرنګه معلومېژی نو زه درته خپل پر خوشی کالې کوم که کوم چا مبادا د غلطی څخه هم که وویل اول خو بد کوی چې وغواړی دسی خبره وکړی خو بیا هم که ویې ویل ته هم ورته ووایه دا مې میرہ راته خوش کړی او د هغه پر خوش مې کړی.

د جهان په دی خبره زه خاموش شوم چې دوکاندار زمونږ خواته راغلو او لکه چې جهان یې پیژنده ځکه ستړی مشې ورسره وکړل خو د دوکاندار په خبره ما حیرت وکړو! هغه جهان ته جهان غږ نه کاوه! ما اوریدلی وه جهان ته ځینو خلکو د ارباب یا د خان صیب زوی ویل خو دا دوکاندار جهان ته سردار صیب غږ کاوه! دوکاندار د عمر څخه ډیر بوډا معلومیده ما اول فکر وکړو چی جهان یې د کوم بل چا سره په غلطی نیولی؟! خو کله چې د جهان څخه د ارباب پوښتنه یې وکړل او د نورو شیانو پوهه شوم چې د رښتیا هم جهان پیژنی خو حیرت مې د سردار د نوم سره وو چې جهان ته یې ویل!

جهان هم بغیر د کوم خاص ریکشن څخه ځواب ورکوه او کله چې خبری او ستړی مشې خلاصه شوه نو د تل پشان هر وخت که زه د جهان څنګ کې وم او لرې شناخته کس یې لېدلې وایې نو زه یې ورته په دری لفظو کې معرفی کولم اوس هم همغسې معرفی کړم "شزه مې ده" او عجیب لا دا چې هغه سړیانو به نور زما خواته نه راکتل او نه هم کوم پوښتنه کول! یعنې ما سړیان لیدلی وه خو داسی نه، کله چې لا واده شوی نه وم او د بابا سره به بیرون تلم او هلته که کوم شناخته سره مخ کیدو او بابا ویل دا زما لور ده! نو هغه کسانو به ضرور یو پوښتنه یو ستړی مشی کول، خو د جهان سره چې زه هر وخت تللی یم د جهان د معرفی کولو وروسته هغه سړی زما خواته دویم ځل نه دی کتلی معرفی کول خو لری!

د جهان او د هغه سړی د خبرو وروسته چې زه یوازی تماشاچې وم جهان د کالو خواته ورغلو په اول نظر کې د یو جوړه کالو په لیدو سترګې وځلیدی او زما خواته یې راوکتل ترخو تایید یې کړم چې څنګه کالې دی؟! جهان چې پر کوم کالو لاس

کېخودلې وو هغه يو جوړه بخمل شنه کالې وه چې باران غميان يې درلود! مطلب سر تر پايه پر غميو جوړ شوی وو، د هغه کالو په لېدو مې زړه غوښت ورته ووايم چې يو خوا ګرمې بلخوا دا دومره د غميو ډک کالې زه کله اچوم؟ خو د جهان نظر ته مې چې وکتل چې داسې خوشحاله معلوميدې خپل د انتخاب څخه نو څه مې ونه ويل او سر مې د سمده په نشان ورته وخوځاوه چې جهان په خوشحالې همغه کالې دوکاندار ته وخودل ترڅو موږ ته متر کړې.

د کالو د اخيستلو وروسته کله چې د کور پخوا روان وو ما جهان ته د هغه بوډا دوکانداره خبره وکړل چې ولې تاته سردار وويل؟ غلط شوی وو که څنګه؟ خو جهان په خندا وويل: يا نه وو غلط سوی زموږ ځينې شناخته او خپلوان ما ته دغسې سردار وايې.
په حيرت مې وپوښتل: په څه خاطر همداسی درته سردار وايې؟ کوم خاص دليل؟ جهان داسې حال کې چې مخامخ سړک ته يې کتل همغسې مسکا پرشونډو يې وويل: زما د نيکه نوم سردار علی خان وو، خدای دی وبخښې، زما چهره زما پلار وايې چې هغه ته لږ تللې! نو زما خدای بخښلې انا باندې زما نيکه ډېر ګران وو نو ماته به يې د ناز ويل سردار! نو دغه نوم بيا کله ناکله خپلوانو هم ماته اخيستې تر دې چې اوس هم کله ناکله ځينې کسان ماته سردار وايې.

په حيرت مې سروخوځاوه او تازه مې د څو کالو مخکې خبره رایاد شول! کله چې د لومړۍ ځل لپاره د جهان د کاکا کور ته ميلمستيا په خاطر تللې وه هلته د جهان د مشر کاکا ښځې جهان ته د سردار په نوم غږ وکړل او ما فکر وکړو چې هغه غلطه شوی! خو نه وم خبره چې د هغه نوم شاته دومره غټ داستان پروت دې! کله چې کورته ورسيدو نو مزمل لږ ژړلې وه خو مدثر کرار وو کالې مې لا پر ځمکه کيخودلې نه وه چې لاس پر لاس شول او ټولو خپل نظر ورکول وربانده پيل کړل، ټولو لږ حيرت کړې و له دې چې ما بخمل کالې اخيستې ما هم د ټولو ځواب کې يوازې ويل جهان راته خوښ کړې!

په ټولو کې د جهان مور زما کالو ته سخت خوشحاله وه تر دی حد چې همغه دقه کې زما د یو جوړه کالو سره خیاطي ته واستول ترڅو راته وګنډی، ما هم څه ونه ویل او په خندا مې د دوې دی کارونو ته کتل چې جنید د ارباب او بشیر سره دهلیز ته راننوتل او یو ځل بیا زه د بشیر د دې نوی څهری په لیدو حیرانه شوم، ماشالله بیحد تغیر یې کړی وو، همدا چې د جنید نظر پر ما ولګیدو په ځغاستو زما خواته راغلو تر څو وګوری چې ایا ما د ده فرمایش پر ځای کړی او هغه کالې مې ورته راوړی او کنه؟ خو زما د څه ویلو مخکې یا هم د جنید د څه ویلو مخکې جهان چې پورته منزل ته تللې وو د مونځ کولو لپاره راښکته شو او د جنید په لیدو یې په تروش تندی وویل: اخیستې خو مې دې خو اغوستلو کې اجازه نلرې دا کالې واچوی.

د جهان په خبره د ارباب او د کور نور کسانو نظر هم زموږ خواته شو، د جنید سترګې د جهان په دی امرانه لهجه د اوښکو ډکې شول او زما خواته په راکتو شو تر څو زه یې خوا ونیسم او ما هم د تل پشان د هغه د اوښکو په لیدو د جهان خواته مخ کړو او ومې ویل: دومره بد کالې هم نه دې پریړده واچوی، ماشوم دې د یو شئ شوق یې کړې څه یې کوی ته؟

جهان په تروش تندی وویل: څه یې کوم زه؟ دا ټول ستا نازونو دسې شئ ورنه جوړ کړې، سبا ورځ که کم کار وکې اول ګوته ماته نیول کېږې چې دې پلار وو!
- اوس څه یې کړې یوازی یو جوړه کالې دی او بس.
جهان- کالې دی او بس؟ ته د دې شهزاده څخه پوښتنه وکه چې دا څو میاشتي ولې د یو سورت څخه تر بل نه دې تللې؟ څلور میاشتو کې خلک قران شریف حفظ کوی او هغه وخت ده یو یو سورت لا نه دی حفظ کړی؟!

د جهان په دی خبره ما او جنید یو بل ته وکتل دې خبری کې ورته څه ناڅه دواړه ملامت وو، جهان غوښتل جنید حافظ د قران شئ، اوګ جنید هم ښه صحیح درس ویلو خو د کوم وخت څخه چې کابل ته تللې و نه پوهېږم ولې جنید راته زارۍ پیل کړی وه چې زه غوارم ډاکټر شم نه قاری یا حافظ د قران! البته موږ دواړو توافق په

دی کړی وو چې تر هغه وخت چې د ډاکټری درسونو ته رسیږی کرار، کرار د قران شریف حفظ وکړی ترڅو لخیره هم حافظ شي او هم ډاکټر! خو ماشومان یو عادت لری کله چې د یو شئ سره یې شوق پیدا شي دویم شئ پریږدي جنید هم همداسې کړی وه.

جهان- ها؟! څه وسو ولې جواب نه راکوی؟
ما خپل ستونې صاف کړو او کرار مې وویل: کوې حفظ هم کوی کرار، کرار لا ماشوم دې ولې دومره سختې کوی؟ او هو که حافظ نشو څه قیامت خو نه راځې، ماشالله ستاسو کور کې او قوم کې ټول حافظان او مولیان دې اوس که زما زوی پکې مولوې نشې او ...

جهان تر خبری پرینږدم او ویې ویل: او که حافظ نشو چشې سې؟
پوهېدم جهان په دی خبره کې جدی دی او بلخوا ټولو هم زموږ بحث کې غوږ و نو ځکه کرار مې وویل: حافظ کېږي خو ضرور ان شاءالله که د خدای رضا وه، خو د قران د حافظ کېدو څنګ کې که ډاکټر شې ..
جهان: ډاکټر او دی؟ دې چې کال کې یو سورت د قران نسې حفظ کولې ډاکټر به څنکه سې؟
نه پوهېږم ولې خو ناڅاپه مې له خولې ورته وپریدل او ومې ویل: هر شې کې مهم لیاقت نه وي پیسه دار پلار خلک د څه لپاره غواړی؟ همدغه ورځو ته پکار راځې کنه، که ډاکټری ته کامیاب نشو ته ورته د کوم خارجی هیواد تحصیلې بورس واخله پر پیسو!

زما په خبره د جهان سترګي د حیرت څخه خلاصه پاتې شو لا یې خبره د ویلو لپاره نه وه جوړه کړې چې د دهلیز له هغه بلخوا څخه د ارباب د خندا غږ ناڅاپه پورته شو او د څو شیبو وروسته یې په همغه خندا داسې حال کې چې جهان مخاطب وو وویل: فیصله د وختی څخه سوی، مور او زوی وخت پلانونه جوړ کړی تاته یې

یوازی خبر درکی سر دی خلاص سو؟ سر له سبا د تحصیلې بورس پسی په ګرځیدو سه، پیسه دار پلاره ..

او بیا په خندا سو د ارباب په خندا جهان هم وخندل او داسې حال کې چې خپل تسبیح د واسکټ څخه راخیستل ما او جنید ته په کتلو یې سر وخوځاوه او ویې ویل: معلومېژی خو دغسې.

د ارباب په خبره ما د شرم څخه شونډه وچیچل او ژر له هغه ځای ولاړم، تر ماښام مې ځان اخوا دیخوا کړو تر څو د ارباب یا هم د جهان سره مخ نشم، ماښام آذان خوا وه چې خیاطي زما کالې ګنډلي راوړل! دا چې دومر ژر تیار شول حیرانه شوم، همدا چې کالې راوړل د جهان مور ویل واچوه چې مورې یې وګور چې څنګه دی؟ ما هم د هغوی په ډېر ویلو ومنل کله چې کالې مې اچول فکر مې کاوه شاید تنګ اوسیږی خو عجیب وه یو دم زما پر سایز ګنډل شوی وه، غوښتل مې له کوټې څخه ووځم او هغوي ته چې دهلیز کې ماته په تمه وه خپل کالې ښکاره کړم خو زما د وتلو مخکې د کوټې دروازه خلاصه شوه او جهان راننوت.

د هغه په لیدو په حیرت باندې ځای پر ځای ودریدم هغه هم زما پشان حیرت کړې و خو څو ثاني وروسته حیرت یې ځای شیطنت ته ورکړو او په څیر، څیر یې راوکتل د هغه د داسې نظر په لیدو شونډه مې وچیچل او داسې حال کې چې کوښښ مې کاوه غږ مې ونه لرزیږی ومې ویل: د لارې څخه لری شه مور دوي دې په تمه دی تر څو زما کالې وګوری.

زما په خبره جهان خپل دواړه وریځې پورته واچول او په شطینت یې وویل: نچ زما شزې زما انتخاب کړی کالې اغوندلې هغه وخت د دې لځایه چې ماته یې شکاره کې غواړی ولاړسې بل چاته یې وشه یې؟!(ښکاره کړی؟) داسې کار خو خوند نه کوی نو نازولې، تا باید اول ماته خپل کالې شکاره کړې وایې.
جهان د هر خبری کولو سره کرار، کرار زما خواته مخکې راروان و او د نظر څخه یې زه پوهېدم چې چندانې ښه پلانونه نلرې، دا څو وخته مې پېژندلې وو هر کله چې

غوښتل يې شيطنت وکړې نو خپل راسته وريځ يې پورته اچول او نرۍ مسکا يې پر شونډو راتلل همدا چې رانږدې شو ما په تلوار وويل: روژه ده!

زما په خبره جهان د څو شيبو لپاره خپل پر ځای کې و درید خو ناڅاپه په خندا شو او ويې ويل: زه هم خبر يم چې روژه ده، خدای دې د خير روژه کې.
- مطلب مې شيطنت مه کوه هسې روژه دې خراب کېږي.
زما په خبره د جهان خندا لاپسې زياته شوه او ويې ويل: ما نو اوس څه کړې چې ته وايې روژه به دې خرابه سې؟ زه خو کوم دسې شيطان فکر نلرم، البته ها که ستا فکر هغه خوا ته تللې وی خوشحالېژم چې کمک درسره وکم.

د جهان په دی خبره د شرم څخه تک سره شوم او داسې حال کې چې د ګواښ په انداز مې خپل ګوته د هغه و مخ ته خوځول ومې ويل: زه هېڅکله غلط فکر نکوم خو ته رامعلوم يې ځکه مې درته وويل.
جهان داسې حال کې چې کامل ماته رانږدې شوی و په خندا وويل: يا نو نازولې دونې هم بې کنټرول نه يم چې خپل روژه خرابه کم، هغه هم اوس چې لس پنځلس دقې آذانو ته پاتې.

د جهان په دې خبره ما د زيات شرم څخه شونډه وچیچل چې هغه ناڅاپه پر مخ ښکل کړم هغه هم يوځل نه بلکې دوه ځله! د هغه په دی کار ما بې اختياره "وې" له خولې ورته ووت او ژر ورڅخه لرې شوم او د حيرت څخه په راوتلو سترګو مې وويل: روژه دی لاړه خرابه شوه!

جهان بيا هم بغير د کوم خاص ريکشن څخه يوازې وخندل او داسې حال کې چې زما د کالو خواته يې په دقيق نظر کتل ويې ويل: يو څه لږ تنګ يې درته ګنډلې نه دې؟
- زه څه وايم ته څه وايې؟ وايم روژه دی خرابه شوه او ته د کالو خبره کوې؟
زما په خبره جهان دا ځل په لوړ غږ وخندل او ويې ويل: چا ويل چې خرابه سوه؟ اصلاً ولې خرابه سوه؟

په شرم او حیرت مې وویل: تا ... تا زه د روژې په حال کې ... ښکل کړم نو روژه دې خرابه شوه.!

دا ځل جهان په حیرت راوکتل او ویې ویل: ساتیرې کوې یا د رشتیا وایې؟
- شوخې چیرته ده؟ ستا روژه د رښتیا لاړه خرابه شوه.
جهان په همغه حیرت وویل: په یو وچ کلک مچ باندې کله روژه خرابه کېږي؟ تا ته چا ویلې چې خرابه کېږي؟
- مولوې ویل.
جهان په شیطنت وویل: مولوې چشې ویل؟
په تروش تندی مې وویل: هر څه چې یې ویل خو دومره پوهه شه چې ستا روژه لاړه خرابه شوه جناب.
جهان په خندا وویل: نچ نه ده خرابه شوې مثلاً زه هم نیم کله مولا یم دونې خو مې سر خلاصیږي.

ما په تردید ورته کتل ځکه زما په نظر روژه یې خرابه وه، خو جهان نه منل! زما د مشکوک نظر په لیدو جهان په خندا وویل: د پیغمبر"ص" د وفات څخه وروسته یوه ورځ د صاحبه کرامو په منځ کې د دغه خبرې پر سر اختلاف راغې او هغوې ولاړل د ام المومنین څخه یې دغه پوښتنه وکړل نو د پیغمبر"ص" ټولو شزو وویل دغه پوښتنه د حضرت عایشي "رض" څخه وکړې کله چې دوي د هغې څخه دا پوښتنه وکړل نو بې بې عایشې "رض" ورته وویل(جهان زما منتظر نظر ته په خندا راوکتل او داسې حال کې چې خپل پر لاس یې زما زنه نیولې وه په خندا خپل خبره وکړل او ویې وویل: عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُ وَيُبَاشِرُ وَهُوَ صَائِمٌ وَكَانَ أَمْلَكَكُمْ لأَرَبِهِ (أي حاجته) روى البخاري (1927) ومسلم (1106)

د جهان په هغه فصیح او روانه عربې ویلو ما په حیرت وروکتل، اصلاً پوهه نشوم چې څه یې وویل؟ او څه معنا یې کړل؟ هغه هم لکه چې پوهه شو چې زما سر پر یوه خبره یې هم خلاص نشوه ځکه په خندا یې وویل: بې بې عایشې "رض" هغوي

ته په شرم وویل: پیغمبر "ص" به زه د روژي په وخت مچ کولم خو د هغه په مچ کولو کې کوم شهوت نه وو! مطلب د خبری دا دې نازولې چې فقهاو لیکلي دي چې که څوک د خپلې شزی سره ملاعبت او مستي لکه په شهوت سره میرمنې ته لاس وړل. د شزی مچ کول، له شزی سره بالشهوت مصافحه او معانقه کول (غاړه ورکول) وکړي او په دې سره یې انزال ونه شو نو روژه یې ماته نده. او که په ملاعبت سره یې انزال وشو نو روژه یې ماته ده صرف قضائي به راوړي کفاره ورباندې نشته،

مطلب دا چې خبره په شهوت باندی خرابه کیږی، خو ما چې هر وخت تاته کتلې هغه نظر د شهوت او جسمی ارضا لپاره نه و، ته د نظر فرق نسې کولې لا کوچنې یې و دې خبرو ته، اوس پوهه سوی په مچ کولو روژه نه خرابه کېږي؟
د جهان و دومره دلایلو ته چې پر یوه یې هم زما سر نه و خلاص شوی په خلاصه خوله وکتل او اخر کې مې ورته وویل: اوس نو شه سو خپل د هر کار د ثبوت لپاره دلایل د اسلام راوړه.

زما په دی خبره جهان کرار وخندل او ویې ویل: دلایل خو بې انتها راسره دی خو تا ته د نژدی راتلو لپاره دوه دلیل کافې اوشافې دی.
بغیر د څه ویلو په تمه وم چې پوهه شم کوم دوه دلیل دی؟ چې زما د منتظر نظر په لیدو جهان په شیطنت وویل: اول او مهم دا چې شزه مې یې په حلال او شرعي نکاح! دویم دا چې مین یم درباندې او د میني کوم باډر او قوانین نسته البته یو قانون یې سته هغه هم د نکاح چې ما د یو وار لځایه درې واره تازه کړل خپل نکاح!

بغیر د څه ویلو شاته مې ټیله کړو، چې یو ګام شاته شو او لاره یې راکړه تر څو لاړه شم، البته زما دومره زور چیرته وو چې زما په ټیله کولو دې جهان شاته شې! خو هغه له قصد لاره راکړه تر څو د دې څخه نور زیات د شرم څخه تکه سره نشم کله چې له کوټې ووتم تازه یو هوسا نفس مې واخیست او په کرار د دهلیز خوا ته ولاړم دهلیز ته تر ننوتلو مخکې څو شېبې د دروازی څنګ ته ودرېدم تر څو یو نفس تازه کړم او بیا د هغه وروسته دهلیز ته ننوتم، زما په ننوتلو ټولو ماشالله، ماشالله ویل

پیل کړل او ټولو زما د کالو تعریف وکړو، البته یو دلیل د تعریف یې دا وو چې زما کالې بخمل وه! او دوي بخمل کالې خوښېدل نو ځکه چا ورباندی کوم انتقاد نه درلود.

د دې څخه وروسته چې زما د کالو تعریفونه ټولو وکړل، هر یو خپل د کار پسې روان شو د جمشید ښځه چې نوم یې آمنه وه تر ډېره زما سره ناسته وه او د حق تیره نشم ډېره ښه جنۍ وه، یعنې څنګه چې اول شپه ښکاریدل هغسې نه وه، ډېر خوش اخلاق او شوخ جنۍ وه د خبرو انداز یې داسې و لکه جمشید! بیحد د هغه پشان رفتار یې درلود، د جهان د مور خبره صحیح وه هغې د ورختای څخه داسې عجیب رفتار کړی وو کنه نور ډېره هوښیاره جنۍ وه او زه د زړه له تل خوشحاله شوم چې لیونۍ نه ده! د روژه مات وخت کې کله چې مولا صاحب الله اکبر کړل او دوي خپل روژه مات کړه د جمشید غږ راتلو چې په خندا یې وویل: سبا د خیر اختر دی نو د اوس څخه مو اختر مبارک څه.

د جمشید په دی خبره جهانګیر وویل: خیر وایه، شاید سبا هم روژه وي تر اوسه لا نه دې معلوم.

لومړۍ ځل و چې ما د جهانګیر غږ واوریده او هغه مې د خبرو کولو حال کې ولید! زما په نظر د جهان په ټول کورنۍ او ورونو کې بد اخلاق ترینه او تند خوی ترینه کس جهانګیر وو! تل یې تندی تروش و که څه هم تروش تندی لکه چې د جهان د کورنۍ یو میراث و او د مشر څخه نیولې تر کشر د ټولو تندی تروش و، خو د جهانګیر دا تروش تندی یو څه د حد اوښتې وو، جمشد ویل اختر دی خو جهانګیر ورته ویل چې نه دی! خو لا یو ساعت نه وو تیر شوی چې اعلان وشو چې سبا اختر دی، د اعلان وروسته جمشید یو څه ریشخند او طعنې په جهانګیر وار کړل او ځان یې ورته بزرګ، بزرګ کړو چې ماته خو د اول خبر راغلې وو!

او د دوارو ورونو خبري او ټوکې همدلته خلاص شول، خو ما تعجب او البته شرم هغه وخت وکړو چې آشپزخانې ته ولاړم تر څو یو جک اوبه راوړم او د جهانګیر

دوارې ښځې مې یو د بل سره په خبرو ولیدل چې لګیا وه د یو داسې موضوع په اړه یې خبرې کول چې زه نه پوهېدم وخاندم، وژاړم، وشرمیږم اخر څه وکم؟ د جهانګیر یوې ښځې دې بلې ته ویل روژه خو خلاصه شوه او نن ماښام جهانګیر راځې نو ځکه چې زه مشره ښځه یم نن شپه دې زما سره وی! خو زرلشتې هم نه منل هغې هم ویل چې "نه"نن شپه دې زما سره وی.

یعنې خلاصه دوارو بنو د میړه په سر جنګ وو، چې نن شپه د چا کوټې ته لاړ شې!؟ او هغه هم د جهانګیر پشان سړی پر سر یې جنګ وو! ما په دی دومره وخت کې د جهانګیر یو ناز خبره او کار نه و لیدلې بیا نه پوهېدم چې ولې دوي دوارې دومره لیواله دې چې جهانګیر دې د دوي کوټې ته ورشی؟ ها که جهانګیر داسې خوش اخلاق او مینه ناک سړی هم وایې بیا هم زما په نظر شرم وو چې د یو سړی پر سر دی دوه ښځې دسې یو دبل سره جنګ وکړې، یعنې که کوم ورځ خدای دی نه کوی که جهان بله ښځه وکړې ایا زه به هم د هغه پر سر جنګ وکړم؟ په دې فکر مې ژر خپل سر و خوځاوه خدای دی نکوی، خو بیا هم که خدای مکړه داسې ورځ راشې زه هېڅکله دا کار نه کوم! زما په نظر دا نو اخرې حد شرم دی چې د خاوند پر سر دی جنګ وکړم!

بغیر له دې چې د هغوي خبرو ته نور غوږ ونیسم خپل د کوټې خواته ورغلم، او داسې خندا مې راتلل چې حد یې نه درلود کوټې ته چې ورسیدم مدثر او مزمل دوارې مې ویده ولیدل دلته چې راغلې وو دا ماشومان په کراره نه وه! سهار د مولا پر اذان به چې شوخي پیل کړل د ماښام تر اذان یوازی د لوړی په وخت کې به زه یې یادولم نور نه وم خبر چې چیرته دی؟ او څه کوی؟ زه هم دومره ورپسې شله نه شوم چې څه کوی؟ ځکه د حق تیره نشم د جهان کورنۍ زما څخه یې سم ماشومان ساتل.

د جهان مور وه چې د دوارو نفس اخیستلو ته یې لا جان قربان ویل ارباب و چې خپل په هغه دومره هیبت او جلال باندې په واسکټ کې دوي دوارو ته بیسکیټ او

جوس راوړو او داسې کاکاګان یې درلود چې د دوي د ژړا غږ به پورته شوی نه وه چې هغوی به زما د کوټې د دروازې مخکې ولاړ وه چې ولې دوي ژاړې وریندارۍ؟ د جهان کورنۍ بیحد مهربانه او بیحد ماشوم دوسته وه، دومره ورباندې ماشومان ګران وه چې حد یې نه درلود شاید د دوي همدا مینه د ماشومانو سره وه چې ښځو یې کال تر کال یو، یو ماشوم ورته راوړو؟!

د مدثر او مزمل څنګ ته مې نالې واچول او څملیدم خو هر دقه ذهن ته مې د جهانګیر د دواړو ښځو د خاوند پر سر د جنګ خبرې خیال ته راتلل او خندل مې چې جهان کوټې ته راننوت او همدا چې نظر یې زما پر خندانه څهره ولګېده د حیرت څخه یې خپل وریځې پورته واچول او ویې ویل:

جهان- امممم خوشحاله معلومیږې خیرت خو دی؟
داسې حال کې چې لا هم مسکا مې پر شونډو وه ومې ویل: خیرو خیرت ولې خندا هم جرم دی؟
جهان په همغه حیرت وویل: یا چا ویل چې جرم دی؟ خو که د خندا دلیل دې ووایې شاید موږ هم وخاندو او ثواب دی نصیب سې!
په شیطنت او خندا مې وویل: نن زیات مولوې شوی نه یې؟ هر شي کې اسلامې دلیلونه دې او ثوابونه دی؟
زما په دی خبره جهان په کراره وخندل او داسې حال کې چې پر نالې کښیناست ویې ویل: خو تا وویل چې مولیان مې خوښیږې! نو ځکه ما هم درته ځان دسې مولوی، مولوې کوی.

- زما مطلب دا نه وو.
جهان- نو بیا ته څنګه مولیان یاده وی؟
- ستا خبرې او کارونه د مولیانو په شانتې نه بلکې زیات د یو حاضر ځواب کس په شانتې دی چې خپل هر کار ته د اسلام څخه یو دلیل راوړې.
زما په خبره جهان خپل وریځه پورته واچول او په داسې حال کې چې نرۍ مسکا

یې پر شونډو خپره وه وويل: يعنې زما کار بد دی؟ که بد وي نو اسلام کې هر څونې چې وګرځې بد کار لپاره دليل نسې پيدا کولې چې هغه سم کې، بد بد وی نازولې، که زه درته د يو موضوع په باره کې دليل راوړم مطلب مې دا دې چې ته پوهه سې ځکه دا څو وخته وينم چې اسلامې معلومات دې بيحد لږ دی.

په حيرت مې وويل: زما اسلامې معلومات لږ دی؟
جهان په داسې حال کې چې کوښښ کاوه خپل خندا پټه کړې خپل سر د "هو" په ډول وخوځاوه، چې ما په غوسه ورته تندی تروش کړو او ومې ويل: خپل به دی اسلامې معلومات کم وی،زما معلومات په اسلامې موضوعاتو کې ستا څخه بيحد ډير دی، که نه منې پوښتنه وکړه چې جيم جواب دی کړم.
زما په دی خبره جهان په کرار وخندل او ويې ويل: شه نو ته ما جيم جواب کوی نازولې؟
په شيطنت مې وويل: هغه ستاسو کندهاريانو خبره دا ګز دا ميدان راوړاندی شه.
زما په دی خبره د جهان د خندا غږ لا پسې پورته شو او ويې ويل: زه يو شرط په ولګو.

په منتظر نظر مې ورته وکتل چې جهان خپل تکيه د بالښت څخه واخيسته او په همغه خندا يې وويل: زه درنه په حساب پنځه سوال کوم که پنځه کې دې درې صحيح جواب کړل منم چې ته تکړه يې، خو که دې صحيح جواب نه کړل نو زما دوه شرط به منې.
په حيرت مې وويل: دوه شرط؟ د څه شرط؟
جهان په خندا او شيطنت وويل: يا نو زه خپل شرطونه د ګټلو بعد درته وايم.
- او که زه يې وګټم بيا؟
جهان- بيا هغه وخت ته دوه شرط ياد کړه زه يې درته پوره کوم.

د جهان په دی خبره په فکر کې لاړم، زما اسلامې معلومات ښه وه ګوزاره يې کول خو پوهيدم چې د جهان اسلامې معلومات زما څخه زيات دی او خبره که فقهي

موضوعاتو ته ويسې لکه نن غرمه نو زما بايله سل پر سله ده.
جهان- څنګه لکه چې د اوس څخه دی بايله ومنل؟
د جهان پر غږ مې سر پورته کړو او د هغه خنداني څهرې ته مې وکتل، اصلاً که فکر وکړم دا ما وبايلل جهان به څه وکړي؟ زه جهان پيژنم داسې شرط نه ياده وي چې زه دی ورباندی پعذابه شم، په دی فکر مې شيطانه مسکا وکړل او ومې ويل: قبول خو تفسيري، او فقهی موضوعاتو په اړه به پوښتنه نه کوی.

زما په دی خبره جهان په لوړ غږ وخندل او ويې ويل: نو چشې پاتې سول؟ که دا موضوعات اخوا کو مجبور درنه پوشتنه وکم اسلامي څو بناوی دی؟ يا څو کتابه؟
خپل اوږي مې پورته واچول او ومې ويل: زه کار نلرم ما نه تفسير ويلې او نه هم فقه نو پوښتنه دی بايد عام او اسانه وی، کنه خپل بايله ومنه.
جهان داسې حال کې چې خندل خپل ډيره کې لاس تير کړو او بيا ما ته په ځير، ځير په کتو شو او د شونډی لاندی ځان سره کرار کرار ويل: آسانه او عام پوشتنه اوممم ...!؟

ناساپه يې سر راپورته کړو او ويې ويل: د کوم پيغمبر لقب خليل الله دی؟
په تلوار مې وويل: ابراهيم "ع"
او بيا په لوړ غږ په خندا شوم او داسې حال کې چې خپل سترګي مې ورته د شوخی څخه کړی،وړی کول د هغه کسانو پشان چې خپل باډی ښايې او وايې زه زرور يم ما هم همغسې ريکشن ورته وکړو، زما په دی مسخره حالاتو جهان په کټ کټ وخندل کله چې خندا يې خلاصه شوه داسې حال کې چې خپل ډيره کې لاس واهه ويې ويل: يا لکه چې کم لاس مې نيولې وې نازولې.

په خندا او شيطنت مې وويل: لياده دې وتلې لکه چې اينجانب فارغ رشته ادبيات استم جناب!
زما په دی خبره جهان خپل وريځې پورته کړل او ويې ويل: امممم رشتيا وايې لياده مې وتلې وه تخو تعليم يافته يې ماشالله، شه وو چې را په ياد دې کړل اوس

نو سخت سوال کوم.
- څوک وېره وی!؟ پوښتنه کوه.
زما په خبره جهان وخندل او د څو شېبو خاموشۍ وروسته یې وویل: د پیغمبر"ص" هغه کوم بې بې وه چې نکاح یې د رسول الله"ص" سره په اسمانو کې وتړل سوه؟
د جهان په دی پوښتنه مسکا مې له شونډو ولاړه چې جهان په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: ها څه وسو؟ لکه چې موټر دی پنچر سو؟

- نچ زده مې دی ته صبر لږ په اختلاف کې یم.
جهان بغیر د څه ویلو په خندا راوکتل، چې ما خپل په ذهن فشار راوست تر څو صحیح ځواب پیدا کړم ما دا پوښتنه اوریدلی وه، او پوهېدم چې څوک وه حتا تر دی حده مې یاد دې چې هغې بې بې به په دی باندی فخر کاوه او د پیغمبر"ص" نورو میرمنو ته به یې ویل چې زما نکاح د رسول الله"ص" سره په اسمانونو کې تړل شوی! خو د بې بې نوم مې یاد ته نه راتلو!
جهان په همغه خندا وویل: اوممم؟ شه نو وخت پوره سو څوک وه؟
په مظلومیت مې وویل: لږ مراعات وکړه لږ تخفیف راکړه.
زما په خبره جهان په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: یا نو نازولې موږ مفته تخفیف چا ته نه ورکو، تخفیف غواړې باید یو کوچنې جایزه ماته راکې.

په تروش تندی مې وویل: د څه جایزه؟
جهان په شیطنت خپل غیږی ته اشاره وکړل او ویې ویل: دلته نژدی راسره هم تخفیف به ډېر درکړم هم به کومک وکم څنګه خوشه دې ده؟!
بد بد مې وروکتل چې هغه په خندا وویل: ګوره اوس دې هم په فایده ده یو کوچنې جایزه اخلم هم درته دا سوال څلور جوابه کوم او هم راروان پوشتنه آسانه کوم! خو که رانغلې بیا نو امکان لری شرط وبایلې او کله چې شرط وبایلې بیا نووو ...

جهان خپل خبره پوره نکړل او په خندا شو، زړه نا زړه مې ورته کتل، ناساپه یو فکر مې ذهن ته راغلو البته فکر نه باید ووایم یو نصیحت مې ذهن ته راغلو، ماذدیګر

لخوا په شمشاد تلویزیون کې یو مولوی کښینې او خلک ورته زنګ وهې او ورځخه مثلې پوښتنه کوی او دا مولوې ځواب ورکوی، یوه ورځ دې مولوی ته یوې ښځې زنګ وواهه او ورته ویې ویل چې مولا صیب که زه خپل د خاوند لپاره سترګې توری کرم ګناه خو نلری؟ نو مولا ورته وویل چې ګناه چیرته ده؟ بلکې ثواب لرې او یوازې سترګي نه بلکې ورته ځان سینګار کړه او ښکلی جامې واچوه او خلاصه ته چې هر څومره خپل خاوند سره محبت کوی او پر هغه ناز کوی هغومره خدای تاته ثواب درکوی!

او د دې په اړه یې احادیث او واقعات بیان کړل چې یوه واقعه یې زما ذهن کې تر اوسه ده ویل یې پیغمبر"ص" به چې کله جنګ ته تلو نو میرمنو به یې خپل په منځ کې پچه اچول او د هر چا نوم به چې راوتلې وایې هغه به د پیغمبر"ص" سره تلل خلاصه چې هغوي نوم اچونه وکړه او د حضرت عایشه "رض" نوم راووت او دا د پیغمبر(ص) سره روانه شوه څه واټن چې د مدیني څخه لری شوه نه پوهیږم دا ځای مې لیاده ووت چې څه پیښه واقع شوی وه خو هغه جنګ ونشو نو رسول"ص" بیرته د مدیني په لوری راروان شو یوځای خپل لښکریانو ته وویل چې تاسو مخکې لاړ شې او کله چې هغوي روان شول او ښه له سترګو پناه شول نو رسول"ص" بی بی عایشې ته په خندا وویل: حمیرا زما سره منډه لګوی؟

پیغمبر"ص" د زیات میني څخه بی بی عایشي ته حمیرا ویل! په عربي کی حمیرا په معنا د سرې ده! او ویل کیږی چې حضرت عایشه "رض" سره او سپینه وه نو ځکه رسول الله"ص" ورته حمیرا ویل، خلاصه چې حضرت عایشي ومنل او د پیغمبر"ص" سره یې منډه ووهل او ورځخه یې وګټل! یعنی مطلب پیغمبر"ص" دومره خوش اخلاق و چې خپل د میرمنو سره به یې ټوکي ټکالې او شوخي کول او خپل صحابه کرامو ته به یې هم تل حکم کاوه چې د ښځو سره نرمې کوی او بد چلند مه ورسره کوی. نو اوس که زه یو څه ورنږدی شوم څه ګناه خو نه ده هسې د مولوی خبره ثواب هم ګڼي  په دی فکرونو مې شیطانه مسکا پر شونډو راغله او بغیر د څه ویلو لځایه پاځیدم او د جهان خواته نږدی شوم، زما په نږدی ورتلو د جهان سترګي د

خوشحالۍ وځلیدل چې ځنګ ته یې کښېناستم او په ناز مې وویل: اوممم دا هم ستا غیږه! اوس زما تخفیف راکړه شابه.

جهان په شیطنت وویل: یا نو ما خو وویل نژدی راسره چې جایزه واخلم!
پوهېدم مطلب یې د جایزی څخه ښکل کول دي لږ ورتېږېه شوم چې زما په دی کار د هغه سترګي له حیرت راووتل، حق یې درلود ما په دې دومره وخت کې هېڅکله داسې کار نه وکړی، زما په نظر په انجونو باندی که هرڅومره خپل خاوندان ګران وی او ورسره فری اوسیږی بیا هم نشي کولې یو رابطي لپاره لومړۍ ګام دوې واخلې او ورمخکې شي دا زمورِ انجونو ذات دي چې صبر کو تر څو لومړۍ ګام سړی واخلې خو دا چې ما لومړۍ ځل بغیر د ناز، نخرو او مکوه او هغه او دا ویلو څخه غوښتل ښکل یې کړم جهان حیران وو، د هغه د حیرت په لیدو زما شیطنت نور هم زیات شو دومره یې مخ ته نږدی شوم چې نفس مې د هغه پر مخ لګیدو لاس مې د هغه پر سینه کیخودو چې ناځاپه د زړه په هغه بېحد تیز دربیدو یې حیرانه شوم!

زړه یې په سلو اتیا کې واهه، یعنې زما په دومره کوچنې کار جهان تر دې حد بی کنټرول شوی وو؟ یوه شیبه کې مې ورته زړه وسوځید زه مریضه وم! او پوهیدم که یو څه نور داسې ناز وکړم جهان پعذاب کیږی نو ځکه شاته شوم او ومې ویل: اصلاً دا انصاف نه دی تا یوه پوښتنه وکړل ما ځواب درکړو اوس زما نمبر دی زه باید پوښتنه وکړم نه ته!

زما په شاته کېدو جهان خپل د ستوښې لاړې تیری کړل او د څو شیبو خاموشې وروسته یې وویل: زه صحیح دې ته پوشتنه وکه، خو بیا چې زما نمبر راغلو زما پوشتنه بیا هم همدا ده.
په خندا مې وویل: پراو نکوې اوس زه یوه پوښتنه وکړم!
زما په خبره جهان په مسکا باندی خپل سر د "هو" په بڼه وخوځاوه چې ما په ناز وخندل او ومې ویل: اصل کې چیستان دې.
جهان تر اوسه لکه چې فکر ځای ته نه وو راغلې ځکه بغیر د کوم مخالفت یا دا چې

ووايې دا خو اسلامې پوښتنی وه نه چیستان! په مسکا سر وخوځاوه او زه یې د پوښتني کولو لپاره وهڅولم.
— یو کونې، ړوند او ګونګ ځې چکر ته، لاره کې کونې مړ کېږي ګونګ ړوند ته څنګه ووایې چې کونې مړ دې؟

زما د خبرو خلاصیدو وروسته جهان خپل سر راپورته کړو او په لوړ غږ یې وخندل او ویې ویل: و دې بایلل نازولي موږ کوچنیوالې کې دغه سوالونه یو د بل څخه ډېر کول جواب یې زه خبر یم راکه زما جایزه.

په مشکوک نظر مې ورته وکتل او ومې ویل: نه ترڅو ځواب رانکړې جایزه نشته، ته هسې ماته چل راکوی.
جهان په ځېر نظر راوکتل او په همغه مسکا یې وویل: ګونګ د ړوند لاس نیسې او د کونې د مړ جسد په زړه ایږدی په دا رقم ړوند پوهیږی چې کونې مړ دې.

د هغه د صحیح ځواب په اوریدو سترګي مې له حیرت خلاصي پاتي شوي، پوهیدم اوس بیا خبره تر جایزی وړی، نوځکه د تښتېدلو اراده مې وکړل همدا چې د دروازی خواته مې وکتل تر څو الفرار وکړن جهان د لاس څخه کلکه ونیولم او په شیطانه خندا یې وویل: نه نو نازولي زه چې ترڅو خپل حق وانخلم نه دې ایله کوم
په دروغو مې تندی تروش کړو او ومې ویل: زه نو چیرته تښتیدلی یم چې ته داسې وایې؟

زما په خبري هغه خپل خواته کش کړم او په خندانه لهجه یې وویل: د عمر په دې دومره کلونو کې چې یو شې باندی شه مې سر خلاص سوی دی هغه د خلکو د سترګو نظر دی! او ستا د نظر له ورایه شکاریدل چی غواړی څه کار وکی نازولي!

— نه ما داسی اراده اصلاً نه درلود، ما یوازی غوښتل تاته چای راوړم.
زما په خبره هغه لا په لوړه غږ وخندل او ویې ویل: زه صحیح دی و به منم چې ستا

اراده د چای راوړلو وه نه زما د جایزی د نه راکولو خو زما عادت دی د چای مخکي شیرنی وخورم.

د هغه په خبره د شرم څخه تکه سره شوم، په سینه مې واهه او ومې ویل: ډېر بې شرم يې په خدای.

جهان بغیر له دې چې زما خبرو ته غوږ ونیسي په خندا غوښتل خپل په خبره خپل جایزه واخلي لا مخ يې زما ومخ ته نه وو رانږدی کړې چې د دروازې ټک پورته شو او د ټک سره سم نه سلام نه کلام دروازه خلاصه شوه او د جهان مور کوټې ته راننوتل، د څو شیبو لپاره درې واړه خاموش وو! خو ناساپه د جهان مور بې اختیاره"وی" کړل او زموږ خوا ته يې شا کړل د هغې په چیغه جهان په داسې یو جست زما څخه لری شو چې هغه حالت کې لا ما ته د جهان په هغه کار خندا راغلل، جهان څو ځل خوله خلاصه کړه چې خپل مور ته یو څه ووایې خو اخر کې په تلوار خپل پټو راوخیست او د کوټې څخه ووت.

پوهېدم چې جهان غوښتل خپل مور ته د هغې په دی کار باندی چې ناڅاپه بغیر د دروازی ټکولو کوټې ته راننوتل یو څه ووایې خو ځان يې کنترول کړو او لاړی، جهان کرکه درلود له دې چې زموږ دواړو کوټې ته څوک بی اجازی راشې یو ځل جنید داسې کار وکړو البته که څه هم موږ چندان بد وضعیت کې نه وو، زه ناسته وم مدثر ته مې شیدی ورکول او جهان خپل حساب کتاب کاوه خو بیا هم جهان جنید ښه سپک کړو تر څو بیا داسې کار ونکړی، او اوس! البته که څه هم یعنې بیحد بد حالت کې نه وو خو بیا هم ... نه پوهیدم چې څه وکړم؟ جهان خو ځان وباسو خو زه يې یوازی په دی شرم ناکه حالت کې پریخودم.

ژر مې خپل ټیکری پر سر سم کړو او په  داسی غږ چې د شرم له لاسه لړزیدو د جهان مور ته مې وویل: کوم کار مو زما سره درلود؟

زما په غږ تازه د جهان بیچاره مور چې زموږ څخه لا زیاته شرمیدلې او خجالت زده وه مخ راوګرځوه او کرار یې وویل: نکریزی مې راوړی وه ترڅوته خپل لاسونه او پښې سری کې سهار د خیره اختر دې او ټول کلې دلته راځې بده ده سپیره لاسونه دی وې ته هم ماشالله نوی ناوی په حساب کې راځې.

لفظ د نوي ناوی په حساب کې راځې داسې بل رقم وویل، لکه طنز! خو بغیر له دې چې ورته کوم خاص توجه وکړم هغه مې کښېناستلو ته راوبلل، او خپل ورته مخامخ کښېناستم نکریزی مې د هغې له لاسه واخیستل او خپل لاسونه سره کول مې پیل کړل یوازی غوښتل مې ځان مصروف وښایم تر څو د څو شیبو مخکې حالت ته مې فکر لاړ نشي، لاسونه مې سره کړل کله چې نمبر د پښو د سره کولو راغې د جهان مور کوم دسمالونه چې د ځان سره راوړی وه هغه یې راوخیستل او ماته یې وویل چې پښې به دې زه سری کړم، ما هم بغیر د چون او چرا څخه ومنل او هغې هم په بیحد حوصله او مهربانې زما پښې سری کول پیل کړل

او همدې منځ کې مجلس هم کاوه،زیاتر خبری او مجلس یې د روقیه او جمشید په اړه وو چې دوي دواړه تر اوسه ماشوم نلری، او په دی اړه خفه او پریشانه وه ما ورته لږ دلداری ورکړل او ومې ویل لا یو کال یې د واده نه دی شوی او خدای مهربانه دی.

دشپې تر زیات وخت د جهان د مور سره مې مجلس وکړو البته زیاتر خبری هغې وکړل او ما یوازی هو هو ورسره ویل، ما د مشرانو ښځو سره مجلس نه وو زده! یعنې خپل د عمر کس که وایې بیا هم یو خبره مې ورسره کولې شول خو دا چې عمر یې زما څخه ډیر وې بیا نو نه پوهېږم چې څنګه مجلس ورسره وکړم؟ د یو ساعت مجلس وروسته د جهان مور لاړه د هغې په تګ زه هم خپل د ځاې خواته لاړم او څملیدم خو خوب نه راتلو او د جهان راتګ ته په تمه وم، خو یو ساعت دوه شول او دوه دری خو جهان رانغلو او همدی فکرونو کې چی اوس به جهان راشې او اوس به راشې خوب وړی وم، سهار د شور ماشور په غږونو له خوب راپاسیدم څنګ ته مې

چې وکتل نو جهان مې په درووند خوب ویده خپل و څنګ ته ولید د هغه په لیدو نرۍ مسکا مې پر شونډو راغله او خپل لاسونو ته مې وکتل

ماښام نیمه شپه کله چې زه ویده شوی وم جهان راغلې وو او ما ته یې بنګړې راوړې وه، همغه د خوب حالت کې راته په لاس کړل که څه هم ما ورته ډېر وویل چې مکوه او زه یې سهار خپل په لاس کوم خو هغه ویل نه زه غوارم خپل درته واچوم او اخر هم خپل کار یې وکړو زما د کالو په رنګ یې راته بنګړې راوړې وه، په دی کار یې خندا مې راغله څومره یې توجه کړې وه تر څو ضرور زما د کالو په رنګ وی او سیټ شې د شور ماشور غږونه چې زیات شول لځایه کرار پاسیدم او داسې حال کې چې لاسونه او پښې مې دواړه په دسمالونو تړل شوی وه کرار کرار له کوټې ووتم او ګورم چې د جهان هر ورینداره ژر،ژر خپل خاوند ته د حمام کولو لپاره اوبه تیاره وی!

حیرانه شوم چې دا نو څه چل دی؟ خو ډېر ژر مې راياد شول چې د اختر ورځ ده او ټول ځانونه د اختر د لمانځه لپاره تیاره وې ترڅو ژر ځانونه د اختر مونځ ته ورسه وی نو زه هم په تلوار بیرته کوټې ته راغلم او د جهان خواته ورغلم کرار مې له اوږې څخه وخوځاوه او غږ مې کړل: جهان! جهان ...پاسه .. ناوخته دی...

زما په خوځاولو او غږ کولو جهان په تلوار خپل لاس له سترګو لرې کړو او راپاسیدو، زما په لیدو چې څنګ ته یې ناسته وم په ورختای وپوښتل: څه سوی شه یې؟
- پاسه اودس وکړه چې اوس د اختر لمونځ کېږی خوب پاتې شوی یې، ټول لاړل.
زما په خبره د جهان خوب وپرید ژر یې خپل د لاس ساعت ته وکتل خو د څو شیبو وروسته یې په حیرت وویل: لا خو وختې دی تازه درې نیمې بجی دی د سهار اذان لا نه دی سوی اختر مونځ خو لا لری!
ما هم د هغه رقم په حیرت وویل: خو ستا ورونه ټول پاسیدلې او حمام کوی!

زما په دی خبره جهان ناساپه په لوړ غږ وخندل او بیا یې زما لاس کش کړو او زه یې بیرته ځای کې څملولم همغه حال کې په خندا وویل: دا کم کسان چې د مولا د اذانو

تر مخ ولاړ سوی دوي ټولو ماشام ګلونو ته اوبه ورکړی، موږ نو چشیبکړی چې سهار وختی ولاړ سو؟ کراره بیده سه لا ډیر وخت پاتی اختر مونځ ته.

د جهان په خبره د شرم څخه تکه سره شوم په سینه مې وواهه او ومې ویل: ډېر بی شرم یې، اصلاً هم هغه موضوع نه ده کوم چې ته وایې بلکې د اختر د لمانځه لپاره داسې ژر ولاړ شوی.
جهان په همغه خندا داسې حال کې چې زه کلکه غیږ کې نیولې وم وویل: د اختر مونځ لس کم اته بجې کیږی! او اوس دری نیمې بجې دی او د سهار اذان لا نه دی سوی، نو خپل فکر وکه دونی جر خو څوک د اختر لپاره نه ولاړیږی نازولې!

د جهان په دی خبره تازه زما هوش او فکر هم و دی موضوع ته ورسید او د شرم څخه صم بکم شوم. خو د څو شیبو وروسته کرار مې وویل: ته د سهار مونځ نه کوی؟
جهان- کوم یې صبر لږ اوضاع کراره سې حمام بیکاره سې ځم، لا نیم ساعت وخت سته.

د جهان په دی خبره ما هم نور څه ونه ویل او سترګې مې پټې کړل نه پوهېږم د بې خوبی اثر و که د جهان د ګرمې غیږی خو ډیر ژر خوب وړی وم. سهار د جهان په غږ راویښه شوم چې ویل یې زما کالې راکړه چې دم په دم  د اختر مونځ کیږی په تلوار پاسیدم او هغه ته مې کالې ورکړل د هغه وروسته جنید راغلو د هغه کالې می هم ورکړل او بلاخره سړیان د کور څخه د مسجد پخوا روان شول تر څو د اختر مونځ ادا کړې، زه هم لاندی منزل ته لاړم تر څو وګورم کوم کار شته او کنه؟ کله چې ولاړم نو د کور ټول ښځې په کار لګیا وه یوی چای دم کاوه بلې ډوډۍ پخول بلې کور جارو کاوه خلاصه چې یوه هم نه وه بیکاره د جهان مور چې پر ما نظر ولګیده نو راته ویې ویل چې د میلمنو لپاره د اختر شیرنی سمه کړم ځکه د اختر د لمانځه وروسته ټول کلي د ارباب کور ته راتلل د اختر مبارکی ته.

ما هم مدثر او مزمل پر هغې وسپارل تر څو که راویښ شول کرار یې کړی او خپل لګیا شوم د اختر شیرنۍ په جوړولو کله چې جوړ مې کړل نو دومره کس نه و بیکاره چې تر میلمه خانې ویسی اخر مجبور خپل مې سرخان راوخیست او د میلمه خانې پخوا روانه شوم دومره وخت مې دلته تیر کړی و خو تر اوسه د جهان دوي د کور د سرپانو میلمه خانه چې د اصلې کور څخه یو څه لرې د حویلې د دروازې څنګ ته وه نه و مې لیدلی کله چې ورننوتلم حیرانه شوم، بیحد ماشالله غټ میلمه خانه وه سر تر پایه په قالینو پوښل شوی وه او نالې پکې هواری وه میلمه خانه پاکه وه خو ما بیا هم یو جارو وربانډی تیر کړو او سرخان مې هوار کړو.

اوس نو لوی مصیبت دا وو چې د کور د هغه سر څخه دلته د شیرنۍ تیار شوی قابونه چا راوړل؟ بله چاره نه وه خپله روانه شوم پتونس مې راوخیست او د شیرنۍ چلول مې پیل کړل دومره ولاړم او راغلم چې د ستړیا څخه مې نور نفس نه راوت، کله چې ټول قابونه مې راوړل بیا نو لګیا شوم پر منظم کولو یې ټول مې په منظم او ښایسته ډیزاین پر سرخانه کیخودل کله چې کار مې خلاص شو خپل شهکار ته مې په خوشحاله نظر وکتل، خو خوشحالي مې د دې په یاد راوړلو چې باید د دې ځایه لاړه شم و پریده دومره وس راکې نه وه چې تر کوره بیرته لاړه شم خو چاره نه وه، په ستړی،ستړی ګامونو کور ته ورغلم او د جهان د وریندارګیانو په لیدو چې تراوسه نه وه بیکارې شوی زړه مې وسوځید.

کله ناکله زرلشتې یا هم د جهان نورو وریندارګیانو به ماته په طعنه یا هم ټوکو کې ویل:" پر مفته خلاصه شوی" څوک چې پر میړه ګرانه وی نو ستا رقم به وی" خدای چې ورکوی نو نه وایې چې د چا لور یې؟" خلاصه داسې ارمانجنې یا هم چینجې خبری به یې راته کول خو زه نه پوهیدم چې دلیل یې څه دی؟ خو نن پوهه شوم! او حق ورکوم چې کله ناکله زما سره حسادت او بخیلې وکړي.

په پښتنو کې او بلخصوص په کلېوال ماحول کې یوه جنۍ یو کور ته یوازی د خاوند لپاره نه واده کیږي،بلکې د هغه کس ټول کور ته ور واده کیږي هغه جنۍ مکلف ده

چې د خسر خدمت یوازې وکړې د خواښې ده یوازې وکړې د لیور او ایندروګیانو ته یوازې وکړې او د کور کار او زر نور رقم خبرې خپل پر ځان ویسي او چونګ ونه وهې که خدای مکړه لږ خوله کړه وښوره وی او اعتراض وکړې نو ټول وایې چې دا ویش غواړې! او لفظ د ویش د پښتنو په اجتماع او ټولنه کې د جنګ جهانې د لفظ څخه څه په کمه نه دی، دلته ما ډېر داسې کسان لیدلی چې اوه اته زامن لری او ټولو ته یې هم ودونه کړې او هر یو ماشالله دری څلور یا هم پنځه اولادونه لری خو بیا هم ټول یو کور کې ژوند کوی او جلا کېږي نه.

خلاصه چې د ویش لفظ په پښتنو کې بد لفظ دی او دوي ورځخه کرکه لری. دلته دوي د یوازې کور د درلودو ارمان نشي کولې خواښې، خسر، لیورنه به ساتې او خدمت به کوی د سهار څخه تر ماښام به کالې، جارو، ډوډۍ او نور کارونه به کوي او ماشومان به لویه وی خو زه یو کال راغلم د دوي خبره په مفته مې وخوړل او بیرته لاړم کابل ته! هلته هم ما پر مفت خوړلې کله چې زړه مې غواړې کار کوم کله چې نغواړې نه کوم څوک نشته چې راباندی زور ووایې یو بیچاره جهان دی چې څلوریښت ساعت زما تندی ته ګوری که لږ شانتی ووایم سترې یم وایې کار مکوه.

یاد مې دی مدثر او مزمل چې د دری څلور میاشتو ول بیحد ژړندوک(هغه ماشوم چې ۲۴ ساعت خوله خلاصه وی او ژاړې هغه ته ژړندوک ویل کېږي) او مریضان وه باید ۲۴ ساعت مې په غیږ کې کرار کړې وایې هغه وخت جهان یوی ښځې ته پیسی ورکول تر څو هفته په هفته راشې زموږ کالې پریمنځې او کور پاک کړې! ادی چې په دی خبره شوه نو ما ته یې سم خبری وکړل او ویې ویل:" چې یوه ښځه باید خپل کار خپله وکړې" د ادی په خبره زه هم مجبوره شوم تر څو جهان ته وویل چې نور هغه ښځه رخصت کړې که څه هم هغه وخت عیش او مزی وه مفت کور پاکیدو کالې مینځل کیدل خو په هر حال زه اوس هم دومره سترې نه یم څومره چې د جهان وریندارګیانې سترې دی.

په همدی فکرونو کې کور ته ننوتم د جهان مور لاندی منزل کې نه ښکاریده پورته چې لاړم نو زما کوټه کې د مدثر او مزمل خنګ ته ناسته وه هغوي هم لګیا وه کوټه کې شوخي کول او دي ورته په مینه،مینه کتل زما په لیدو په تلوار یې وویل: یو دوه ورځې میلمستیا مو لا در نکړل سترۍ هلاکه راغلې او موږ درباندی کار شروع کی.
په مسکا مې کرار وویل: مشکل نشته څه بیګانه خو نه یم خپل کور مې دی.
زما په دی خبره د جهان د مور تندی خلاص شو او په مسکا یې راته وویل: کوچنیان کرار دی ته ولاړسه حمام وکه او خپل کالې واغونده، اوس دم په دم سرپیان راځې.

ما چې هم ماشومان کرار ولېدل نو د هغې خبره مې ومنل او بغیر د نور څه ویلو خپل کالې مې راوخیستل او د حمام خواته ولاړم، خپل د پښو په لیدو خندا مې راغله په دسمال ترلو پښو باندی دومره کارونه مې وکړل دا هم ښه و چې ټول په کارونو بوخت وه او زه یې داسې حال کې لیدلی نه وم لومړۍ مې خپل د پښو دسمالونه اخوا کړل او پښې مې ومینځل پښې می بیحد تک سور رنګ اخیستې و، د هغه رنګ په لیدو د مور خبره مې یاد ته راغلل البته دا یو عام تکیه کلام یا په عام لهجه د سپین سرو خبری دي چې وایې د کوم ښځې پښې چې په نکریزو سم داسې تکې سرې شې نو هغه ښځه پر خاوند ډیره ګرانه ده!

په دی فکرونو مې خندا لا زیاته شوه غوښتل مې خپل ویښتیان خلاص کړم چې نظر مې خپل پر لاس ولګیده، ما خپل د ګوتو سرونه سره کړی وه او د ورغوي منځ کې مې ګردي نقش ویستلی وو، خو ماښام چې جهان غوښتل راته بنګړی په لاس کړي ټول د لاس نقش یې راته ګډوډ کړی وو، او نکریزی اخوا دیخوا شوی وه حتا په بنګړیو هم یو څه نکریزی لګیدل وه، په افسوس مې سر وخوځاوه دومره مې ورته وویل چې مه کوه او زه یې سهار خپل پر لاس کوم خو زما خبره یې ونه منل زما ټول نقش یې راخراب کړو. که دا د پخوا وخت وایې داسې جنګ مې ورسره کړی وایې! خو اوس د ادی خبره هوښیاره شوی وم د موضوع نور اړخونو ته مې هم کتل نقش مې شاید خراب شوی وو خو هغه په دی نیمه شپه تللې وو او ماته یې بنګړی راوړی وه!

د حمام کولو وروسته ژر مې په مدثر او مزمل هم کالي واچول او خپل د ويښتيانو ګمنځ کول مې پيل کړل چې د باندی د سرېانو د راتلو غږونه پورته شول او څو شېبې لا نه وه تير شوی چې جنيد په خوشحالې کوټې ته راننوت او زما خواته راغلو د اختر مبارکې لپاره زما لاس يې ښکل کړو او ما يې هم تندی ورته ښکل کړو که څه هم د لاس ښکل کولو سره يې موافقه نه وم خو جنيد خفه کيدو لومړۍ ځل چې د لاس ښکل کولو څخه مې منع کړو په معصوميت سره يې راته وويل: چې ټول کوچنيان خپل د مور لاس ښکل کوی! د هغه دومره معصوميت او مظلوميت ته مې زړه وسوځيد که څه هم نه مې خوښيدل خو بيا هم د هغه د زړه لپاره مې اجازه ورکول تر څو لاس مې ښکل کړي.

دا هم زما د ښه بخت وو چې د جنيد مينه پر ما وولیدل او ما ته يې خپل د مور پر سترګه وکتل کنه خدای خبر څه بد حال به وايې زموږ دواړو، ما ډير داسې کيسې اوريدلې چې سرېی دويم ښځه کوی نو د لومړۍ ميرمن اولادونه يې خپل د ميری سره نه چليږي او ورسره بد رفتار کوی، خو شکر جنيد داسې نه وو شايد يو دليل يې دا وو چې هغه خپل مور له سر ليدلی نه وه چې وغواړی د هغې خوا ونيسی او زما سره بد چلند وکړی.

زما سره د اختر مبارکې وروسته جنيد د مدثر او مزمل خواته ولاړو او د مشرانو پشان يې د دواړو سره بغل کشې وکړه د هغه په دې کار زما خندا راغله، خپل ويښتيان مې ژر ژر شاته وتړل ټيکرې مې به سر سم کړو غوښتل مې لاندی لاړه شم او همدغه فرصت کې چې ټول راغلې او يوزاې دی د ټولو سره اختر مبارکې وکړم او ځان بيغمه کړم، خو د کوټې څخه د وتلو مخکې جنيد په کراره غږ وويل: ادې هغه کالو باندې چشې وکم؟
د جنيد پر غږ مې مخ ور واړو پوهيدم مطلب يې هغه کالې وه چې جهان ويل اجازه نلرې چې واچوی، څو شيبې مې د هغه مظلوم څهرې ته وکتل او بيا مې په مسکا ورته وويل: اوس لپاره يې مه اچوه، کله چې ميلمانه راغلل او پلار دی لاړې ميلمه خانې ته، ته دې کالې واچوه او لاړ شه د هلکانو سره چکر ته.

جنيد- که بابا وليدم بيا؟
په شيطنت مې وويل: بيا نو زه خو يم، پلار دې کرار کوم چې څه درته ونه وايې.
زما په دی خبره جنيد په خوشحالۍ وخندل او مدثر يې راوخيست ما هم مزمل په غېږ کې کړو او لاندی منزل خواته ولاړو کله چې ننوتلم نو ټول کسان هلته وه لکه چې د جهان وريندارګيانې هم تازه بيکاره شوی وه او راغلې وه اختر مبارکی ته ټولو لومړۍ د ارباب او د جهان د مور لاس ښکل کړل او د هغه ورسته يې خپل د خاوندانو لاسونه هم ښکل کړل او اختر مبارکی وکړل!

د هغوي په دی کار په حيرت می وروکتل د ارباب او د جهان د مور لاس ښکل کول خو صحيح دی خو خپل د خاوندانو لاسونه يې ولی ښکل کړل؟ په همغه حيرت مې هغوي ته کتل چې تازه مې په ارباب نظر ولګيده چې په تمه ماته ولاړ و تر څو اختر مبارکي ورسر وکړم. د هغه د نظر په ليدو په تلوار ورمخکې شوم او لاس مې ورنه ښکل کړو او د شونډې لاندی مې ورته همغه قديمې خبری" اختر مو مبارک شه مونځ روژی مو قبول شه ورته وويل چې هغه هم په ځواب کې همداسی يو شی وويل خو زه د زيات استرس څخه پوهه نشوم چې څه وو؟ نه پوهيږم ولې خو د ارباب څخه مې بيحد وېره درلود، څهره يې يو رقم هيبت ناکه او ډارونکې وه، نه پوهېږم د جهان مور ولې ورڅخه نه وېرېږی؟

د اختر مبارکی وروسته ارباب لاس وړاندې کړو تر څو مزمل ورکړم خو مزمل داسې په بې شرمې چيغی کړی چې ارباب يوازی پر سر ښکل کړو او زما له غېږی څخه يې وانخيست د ارباب وروسته د جهان د مور سره مې هم سترې مشې وکړل او همغه تکرارې خبری مې ورته وکړل خو کله چې نمبر د جهان سره د اختر مبارکې را ورسېد نو نه پوهېدم چې لاس يې ښکل کړم او کنه؟ ځکه ټولو له يوه سره خپل د خاوندانو لاسونه ښکل کړې وه نو زه زړه نا زړه وم، ځان سره مې ويل که ښکل نه کړم هسې نه راپسې خبری وکړی!

زه لا په همدی فکرونو کې وم چې ناساپه مزمل چې زما غېږ کې وو د جهان په لیدو په یو شوق او خوشحالۍ په کلک غږ "بابا" وویل چې زما سترګې له حیرت راووتل، مدثر او مزمل داوړو نیم کله خبری کولې شول خو داسې په چیغ او شوق باندی هیڅکله جهان ته نه وو غږ کړې د مزمل د بابا پر ویلو ټولو زموږ خواته وکتل او جهان په یو شوق باندی "جان بابا" وویل چې د مزمل د لفظ څخه په کمه نه وو رامخکې شو او مزمل یې زما له غیږې واخیست او څو ځله یې پر مخ او تندی ښکل کړو هغه هم ورته خندل د هغوی په لیدو د مدثر د بخیلې غږ هم پورته شو او د جنید د غیږې څخه یې ځان تر جهان راورسه وو جهان په خوشحالی دواړه غیږ کې نیولې وه او ورسره خندل یې او زه هم غرق وم د خدای په دی نعمت کې چی پر ما یې پیرزو کړی وو.

جهان چې ښه خپل دواړه زامن ښکل کړل د هغه وروسته یې زما خواته فکر شو او په خوشحالې راته وویل: اختر دی مبارک سه شایستې، مونځ، روژې، اطاعات او عبادات دی قبول څه خدای دې د زحمتونو اجر درکړې چې یوه میاشت دې پیشلمې او روژه مات تیار کی.

د جهان د هغه دومره خبرو په ځواب کې ما یوازی ستا اختر دې هم مبارک شې وویل او ژر د هغه له څمګ لرې شوم، ځکه ټولو دوه سترګې زموږ خواته نیولې وه نو ځکه نور هلته پاتې کیدل مناسب نه وه زما پر شاته تلو جمشید رامخکې شو او په خوشحالې مزمل د جهان له غیږې رواخیست او ورسره خبری پیل کړل، سرېان تر نیم ساعت دهلیز کې ناست وه او سبا ناری زموږ سره یوځای وکړو د هغه وروسته میلمه خانی ته لاړل او میلمانه راتلل هم شروع شول ټوله ورځ میلمه خانه بې میلمنو نشول یو به تلو بل به راتلو هر دقه به یا بشیر یا هم د جهان یو ورور به ولاړ وو چې ترموز چای راکړې یا هم ویل به یې نوی قاب شیرنی جوړه کړی، دې منځ کې یو څو سپین سرې ښځې هم راغلل خو ژر بیرته لاړل د ماښام اذان وخت کې تازه د میلمنو تګ راتګ کم شو.

د ماښام د ډوډۍ ورکول وروسته د ډېر ستړیا له لاسه یوه ښځه هم پر پښو بنده نه وه هر چا کوښښ کاوه ژر ځان تر خپلې کوټې ورسره وی ترڅو یو څه استراحت وکړی، زه هم درسته ورځ د دوي پشان ستړی شوی وم خو زما زیات ستړیا د مدثر او مزمل له لاسه وه چې تلل به میلمخانی ته او د هغه خوا څخه په بیرته راتلو به یا په حویلې کې غورځیدلی وه یا به هم د نورو ماشومانو سره کوڅې ته وتلې او زه د دی وېرې چې ورک یا هم خوږ نشی ۲۴ ساعت ورپسې په ځغاستو وم. نو ځکه همدا چې خپل کوټې ته ولاړم او ماشومان مې ویده کړل سر مې لا بالښت ته رسیدلې نه و چې ویده شوی وم.

***

سهار د مدثر او مزمل په غږونو راویښه شوم که څه هم زیات ویده شوی وم خو بیا هم داسې خسته، خسته وم. کله ناکله بیحد خوب کول هم انسان ستړی کوی، جهان کوټه کې نه وو خو لځایه معلومیدل چې ماښام راغلې وو، ماشومانو ته مې شیدې ورکړل د هغه وروسته مې خپل لاس او مخ پریمنځه او د لاندی منزل خوا ته روانه شوم کله چې د دهلیز دروازی ته ورسیدم نو پوهه شوم چې ټول راویښ شوی او یو زه ویده پاتې وم! کله چې دهلیز ته ورننوتم نو لومړۍ نظر مې په روقیه ولګیده چې خپل د مور څنګ ته ناسته وه او په مجلس لګیا وه.

زما په لیدو په خوشحالۍ خپل لځایه راپاسیده چې زه هم ورمخکې شوم ماشومان مې لاندې پرځمکه کیخودل او دهغې سره مې ستړی مشې او اختر مبارکې وکړل، روقیه بیحد ښه او خوش اخلاقه جنۍ وه، ما داسې احساس هېڅکله نه کاوه چې دا دې د جهان خور اوسیږی! مطلب ځینې ایندورګیانې وی چینجې او بد اخلاقې لکه "ګلناز" خو روقیه داسې وه لکه زما خور چې وی نه د جهان. زما سره د ستړی مشې وروسته روقیه په بیحد محبت او شوق باندی مدثر او مزمل دواړه یئ خپل خواته کش کړل او ښکل یې کړل، د جهان مور خپل و څنګ کې ما ته د ګښېناستلو لپاره ځاې راکړو کله چې کښېناستم نو کرار یې زما د غوږ څنګ ته وویل: غوشتل مې سبا ناری ته دې ولاړه کړم خو جهان ویل پریږده ستړی ده، ما هم ولاړه نه کړې.

د هغې په خبره د شرم څخه مې شونډه وچيچل او سر مې ښکته واچو، په کلې کې او بلخصوص بيا د جهان دوي په کور کې تر ډېره ويده کيدل شرم ګڼل کيدو دلته ښځې د مولا پر اذان پاسېږی او د ماسخوتن پر اذان ارام کوې.
د جهان مور- اوس هم ورځه جر خپل ډوډۍ موډۍ وخوره چې نن د ښځو د راتلو نمبر دې ولاکه بيا ډوډۍ خوړلو ته بيکاره شې.
په کراره غږ مې "سمده" وويل او لځايه پاسيدم زما د پاسيدو سره سم د جهان نظر هم زما خوا ته راوګرځيدو لکه غوښتل چې پوه شئ چې زه چيرته ځم؟ خو ما بغير د څه ويلو دهليز پريخود او د آشپزخانې خواته ورغلم، لاس اندازه مې ګرم ډوډۍ راوخيستل او په کتو شوم چې يو شئ ورسره پيدا کړم د خوړلو لپاره، خو کوم خاص شئ نه وه!

يعنې وه خو زما په زړه نه وه شيدی وه، چې ما نخوړل ځکه يو رقم بوی کاوه د بزې شيدی وه، او يو بل شې هم وه دوي ورته جرِ غوړی ويل هغه هم بد بوی
کاوه،خلاصه چې مجبوره شوم وچ ډوډۍ د چای بوری سره وخورم ناسته وم او په زوره، زوره مې ډوډۍ خوړل بيخې مې زړه نه غوښت چې د جهان غږ مې واوريده.

جهان- که شيدی او جرِ غوړې دې زړه نغواړی بيا لږ ملايم کيک ځانته راوخله ولې وچ ډوډۍ خوری؟

د جهان پر غږ مې وروکتل چې د آشپزخانی دروازی مخکې ولاړ وو او دوه سترګي و ماته نيولې وه داسې حال کې چې د چايو څخه مې غړپ کاوه ومې ويل: نه مې دې ليدلې چې کيک چيرته دی؟

جهان په حيرت راوکتل او ويې ويل: د اختر شيرنې دې نه ده ليدلې؟ تا مګر خپل د اختر شيرنې نه وه جوړ کړې؟
- اهوم ما جوړه کړې وه خو هغه وخت ستا مور راته ټول شيان راکړې وه خو اوس نه يم خبر چې چيرته دی؟ او هوو تا ته چا وويل چې ما د اختر شيرنې جوړه کړې وه؟

جهان بغیر د څه ویلو آشپزخانې ته رانںوت او د مخامخ الماری روک یې خلاصه کړو چې ما تازه نظر د اختر په شیرنې ولګیده، جهان یو جوړ کړې قاب چې کیک او نور شیرنې پکې وه مخامخ و ما ته په فرش کیخود او داسې حال کې چې نرۍ مسکا یې پر شونډو وه وویل: ځکه چې هغه رقم ډیزاین داره او منظم سرخان د بابا خبره د شهریانو څخه بغیر بل څوک نسې جوړه ولې.

زه لا د جهان په کار باندې حیرانه وم چې څنګه هغه ته معلوم وه چې د اختر شیرنې چیرته ده؟ چې په خبره یې د حیرت څخه مې لا سترګي خلاصي پاتې شول او ومې ویل: ارباب دا خبره وکړل؟
جهان- امهمم.
- بیا تا څه وویل؟
جهان په داسې حال کې چې خندل یې په شیطنت باندې چشمک و واهه او ویې ویل: ما هم وویل زما شزه خو همداسې تکړه ده.

د جهان په خبره د شرم څخه سره شوم چې هغه لځایه پاسېدو او داسې حال کې چې د شونډې لاندی کرار د ځان سره شکایت کاوه ویې ویل: باره ولاړسم دې کور کې دوه دقیقې څوک په بیغم خیال خپل د شزې سره یوازې نسې پاتې کیدل کنې یو نفر حتماً حاضر کېږی.

د جهان په ناراضه لهجه مې وخندل د هغه شپې وروسته چې د جهان مور داسې ناڅاپه زموږ کوټې ته راغلل او موږ یې هغه حال کې ولیدلو د هغه وروسته جهان د کوټې دروازه قفل کول او د باندی کور کې هم زیات زما خواته نږدی نه راتلو، زما په خندا هغه په کراره خو ګواښ کونکې لهجه باندې وویل: خانده، خانده شایستې دغه دې د مزو وختونه دې بیا خو موږ لخیره تنها کیږو هغه وخت بیا زه او ته سره پوهیږو.

د جهان په دې ګواښ باندی زما خندا لاپسې زیاته شوه چې جهان په تروش تندی په تلوار وویل: هیس ... په کراره دسې څوک نه خاندی!

د جهان په خبره ناساپه مې خندا پر شونډو وچ شول او په حیرت مې وویل: ولې؟
جهان په همغه تروش تندی وویل: نه ګوری چیری یو؟
په حیرت مې شاوخوا وکتل او ومې ویل چیرته یو؟ خو کور کې یو.
جهان- کور کې خو یې،خو کور کې تنها نه یې.
په ګنګس انداز مې وپوښتل: پوهه نشوم څه مطلب؟
جهان په ځیر نظر راوکتل د څو شېبو وروسته یې یو ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: نه مې خوشېږی د خندا ژغ دې زما بغیر بل څوک واوری.

جهان دا خبره وکړل او بغیر له دې چې زما حیرت زده نظر ته وګوری له آشپزخانې ووت. د هغه په خبره څو شېبې په حیرت کې ډوبه شوم خو د څو شېبو وروسته پر شونډو مې مسکا راغلل او زړه مې له خوشحالۍ پورته ښکته شو، کله چې یو سړی وایې ستا غږ یا ستا نظر مې لا خپل د ځان څخه پر بل چا نه دی پیرزو، مطلب دا د هغه سړی د محبت اخری حد دې چې ستا زړه، زړه خپل د ځان ګڼی او حتا حاضر نه دې ستا غږ لا د بل چا سره تقسیم کړې.

د ډوډۍ خوړلو وروسته همغسې مسکا پر شونډو د دهلیز خواته ورغلم سړیان دباندی تللې وه او ښځې لګیا وه دهلیز یې پاک کاوه ځکه میلمانې ښځې دلته کینول که څه هم د ښځو لپاره د ګل بې بې کوټه سمه وه خو د جهان مور ویل چې دا ځاې ښه غټ دې او د ښځو لپاره سم دې ځکه د هغوي سره ماشومان ډېر دې، مورِ هم څه ونه ویل او د دهلیز پر پاک کولو لګیا شو. د جهان د مور خبره یو دم صحیح وه هره ښځه چې راتلل ماشالله د هر دانې سره څلور پنځه داسې د بلا رقم شوخ ماشومان ضرور وه چې د کنټرول نه وه، او مزمل و مدثر یې بیخې پر کراره نه پریخود یو به د دې خوا کش کاوه بل د هغه خوا، سم لکه وحشیانو رقم، بیچاره زما ماشومان د زیات وېرې څخه زه کلکه نیولې وم او یو دقه یې نه خوشې کولم، د ماشومانو د حال په لیدو روقیه چې زما څنګ ته ناسته وه کرار یې د مزمل پر سر لاس کش کړو او ویې وویل:

روقیه: عمه مو درنه جارسې دا د وحشي قوم دې ورنژې  نسې چې خوری مو.
د هغې په خبره ما کرار وخندل چې روقیه هم پر خندا شول او همغه خندا حال کې زما د لاسونو خواته وکتل او ویې ویل: ورینداري تا ولې خپل د طلاو د بنګړو لځایه دا  شیشه یې بنګړی پر لاس کړې؟

د روقیه په خبره مې خپل لاسونو ته وکتل او پر مسکا مې وویل: زما بد راځې چې کوم شئ پر لاس کړم دا بنګړی هم ستا ورور راته په لاس کړل کنه ما نه په لاس کول.
روقیه په خندا او شیطنت وویل: دا چې دې زما د ورور په خاطر په لاس کړې هغه د طلاو بنګړی به دې هم زما د مور په خاطر پر لاس کړې وایې وګوره د ډیر غوسې له لاسه فشار یې 360 ته ورسید.

د روقیه په خبره په حیرت مې د جهان د مور خواته وکتل چې مورِ ته مخامخ د یوې ښځې څنګ ته ناسته وه او د رښتیا هم زما خالي لاس ته یې کتل او پر افسوس یې شونډه چیچل، واقعا د جهان د مور په دی کار مې هېڅ سر نه خلاصیدو اخر ولې دومر د طلاو سره حساسیت لری؟ زه لا همدی فکرونو کې وم چې روقیه راته کرار وویل: راځه بنګړی دی واچوه د دې څخه مخکې چې زما مور خدای مکړه سکته قلبې و نه نه کړی.

د ژبې لاندی مې کرار خدای دی نکوی وویل او د مجبورې څخه لځایه پاسیدم، روقیه مدثر او مزمل خپل مور ته ورکړل او زما سره رارو‌انه شول، دا هم ښه وو چې د راتګ وخت کې جهان راته ویلې وه چې طلا دې راوخله او واده کې واچوه، هغه ته هم لکه چې خپل د مور حساسیت معلوم وو! یا هم شاید مور یې ورته ویلې وه؟! په هر حال هغه بکس چې ما خپل د سینګار شیان او طلاوی مې کیخودلې وه راوخیستل شپږ دانې د طلاو بنګړی وه سره د یو دانه د طلاو طوق او څلور ګوتمې چې ټول یې راته جهان او د جهان کورنۍ راوړی وه، غوښتل مې بنګړی پر لاس کړم خو نه کیدل!

په حیرت مې خپل لاسونو ته کتل چې روقیه په خندا وویل: ماشالله اوس لژ چاغه سوی یې د وختي رقم ډنګره نه یې چې بنګړې دې پر لاسونو شوی(ښوی) ننوځې راځه خپل پر لاسونو لژ صابون و واهه.

بغیر د څه ویلو د روقیه سره د تشناب خواته ورغلم صابون مې خپل په لاس و واهه د هغه وروسته روقیه بنګړې راکړل او خبره یې صحیح وه دا ځل بنګړې مې پر لاسونو وشول، د بنګړې د پر لاس کولو وروسته مې ګوتمې هم پر ګوته کړل او د روقیه پر زیات ویلو مجبور د طلاو غاړګې مې هم پر غاړه کړل!

موږ لا د طلاو د اچولو په کش مکش وو چې ناڅاپه د مدثر او مزمل یو بیحد وحشتناکه چیغه مې تر غوږ شوه، د هغه چیغي په غږ پوهه نشوم چې په کوم تلوار د روقیه له څنګ څخه د کوټې د دروازی خواته په منډه شوم خپل شاته مې د روقیه قدمونه هم اوریدل خو زه د هغې څخه مخکې دهلیز ته ننوتلم زړه مې بې واره درزیده لکه لیونیانو پشان مې د ماشومانو پسې کتل کله چې دواړه مې روغ رمټ د جهان د مور څنګ ته ولېدل تازه ساهمې له سیني وختل، زموږ دواړو په ناڅاپه تلو ټول ښځو زموږ خواته راوکتل نه پوهیږم زما په څهرې کې د جهان مور څه ولیدل چې په تلوار یې وویل: شه دې دواړه یوازی لژ وبیریدل.

زما زړه لا همغسې درزیده او دومره وس راکې نه وو چې ځواب ورکړم، روقیه چې زما شاته ولاړ وو زه یې له اوږې ونیولم او خپل مور ته یې وویل: ناساپه د چیغي اواز یې واوریدی وبیریده، زه یو پیاله اوبه ورته راوړم.

روقیه د اوبو پسې د آشپزخانی خواته ولاړل او زه د مدثر او مزمل خواته ورغلم زما په لیدو دواړه په ژړا زما غیږ ته راغلل د زیات وېرې او وحشت څخه مې بې واره لاسونه رپیدل لکه لیونیانو پشان مې د جهان د مور څخه ماشومان راوخیستل او ورته په کتو شوم تر څو وګورم چې کوم ځای خو یې خوږ شوی نه وی! چې داسې ژاړې خو کوم خاص زخم یا هم نشانه مې د خوږ کیدو پیدا نکړل،په همغه وېره مې دواړه خپل په سینه کلک ونیول او څو ځله مې ښکل کړل د هغوي په ژړا زما ژړا هم

راغلې وه د جهان مور راته دلداري راکول او هر دقه یې ویل چې کوم څه نه دی شوی پر ماشومانو او یوازې ډاریدلې.

کله چې ورڅخه ومې پوښتل د څه څخه ډاریدلې؟ نو د جهان مور د چایو د ترموز خواته اشاره وکړل او ویې ویل: بس بی بی چای اچو د ترموز سر یې د لاس څخه ایله سو او چای چپه سول، دوي دواړه ورته نژدی وه نو موږ چغې کړل نو دوی زموږ پر ژغونو" غږونو" وبیردل کنې چای ورباندې نه دی چپه سوی.

د جهان د مور په دی خبره سترګې مې له وحشت څخه خلاصې پاتې شوی او یو ځل بیا لکه لیونیانو د هغوي دواړو په کتو شوم خو د سوځیدلو کوم نشان نه وه مدثر او مزمل همغسې بی واره ژړل دواړه مې غیږ کې کړل او د دهلیز او د هغه دومره خلکو د نظر څخه ووتم کوټې ته په رسیدو دواړه مې پر ځمکه کیخودل او یوځل بیا مې ژړا زیاته شوه په وار، وار مې د مدثر او مزمل مخ او تندی ښکل کاوه او جان وقربان مې ورته ویل، که خدای نکرده هغه ډک ترموز د چای پر دوي داوړ را توی شوی وای ما به څه کړې وایې؟ په دی فکر ژړا مې وار په وار زیاتیده چې د کوټې دروازه خلاصه شوه لومړی جهان او ورپسي روقیه د یو پیاله اوبو سره په تلوار راننوت.

د جهان په لیدو ژړا مې لاپسې زیاته شوه چې هغه هم ورختا زموږ خواته راغلو او زما پشان یې ماشومانو ته کتل پیل تر څو وګوری خوږ شوی یا سوځیدلې خو نه دی!؟ همغه حال کې ماته هم دلداری راکول.
جهان- ولې جاړې لیونې! وګوره دواړه جوړ تیار دی.
په همغه ژړا، ژړا کې مې په بند بند غږ وویل: نږدی وه چې دواړه وسوځیږی.
جهان داسې حال کې چې زه یې خپل خواته کش کولم او ماشومان یې هم زما غیږ ته راکول د روقیه څخه د اوبو ګیلاس واخیست او هغه یې رخصت کړه د هغې د تلو وروسته جهان داسې حال کې چې اوبه زما خولې ته نیولې وه تر څو وې څښم کرار یې وویل: اوس خو نه دې سوځیدلې نو مه جاړه، وګوره دا دوه دانې کوچنیان هم تاته ګوری او جاړی.

یو دوه غړپ اوبه مې په زور وخښل او مدثر و مزمل ته مې وکتل د هغوی د اوس ژړا د جهان خبره زما د حال په لیدو وه. دواړه مې غېږ کې کلک ونیول او کوښښ مې وکړو ځان کنترول کړم څکه ماشومان زما په ژړا ورختا شوی وه او نه کراریدل، زما په کراریدو هغه دواړه هم کرار شول، تازه ارامی شوی وه چې د جهان مور کوټې ته راننوتل د هغې په راتلو جهان په تلوار زما څخه لږ فاصله ونیول او مدثر یې خپل غیږ کې راوخیست د جهان مور زموږ د حالت په لیدو داسې حال کې چې خپل شونډه چیچل کوټې ته راننوتل.

د جهان مور- کوم ځای خو یې نه وو سوځیدلې؟

ما د جهان د مور پوښتني ته کوم ځواب ورنکړو خو جهان کرار وویل: یا شه دی یوازی لږ بېرېدلې وه.

د جهان مور د زه شکر چې نه دې سوځیدلې پر ویلو زما خواته یو شئ ونیو او ویې ویل: واخله دا ستا دی.

سر مې لږ راپورته کړو او نظر مې خپل د طلاو په ګوتمې ولګیده، په حیرت مې د جهان د مور خواته وکتل چې هغې کرار وویل: دونې په تلوار او ورختا دې کوچنیان غیچ(واخیستل) کړل چې د لاس ګوتمې دې و ولیدل خو ستا فکر نسو.

بغیر د څه ویلو مې د هغې د لاس خپل ګوتمی واخیسته یوازینی شئ چې اوس او دی وخت کې راته هېڅ ارزښت نه درلود همدا طلا وه، که خدای نکرده نن په مدثر او مزمل کوم شئ شوی وایی ما خپل د عمر تر اخره د طلاو څخه کرکه کول البته اوس هم چندان ښه مې ورڅخه نه راځي، نن د همدی منحوس طلاو له لاسه نږدی وو ماشومان مې وسوځیږی، د جهان مور څو شیبې ناسته وه او د هغه وروسته لاړل د هغې د تلو وروسته ما ماشومانو ته شیدی ورکړل او و مې څملول هغه دواړه هم لکه چې ستړی وه څکه بیر ژر ویده شول زه هم د هغوی څنګ ته څملیدم او دواړه مې غیږ کې ونیول.

تر اوسه مې زړه نا ارامه و په دی ټوله موده کې چې ما ماشومانو ته شیدی ورکول او ویده کول مې جهان بغیر د څه ویلو زما خواته راکتل کله چې څملیدم نو جهان کرار خپل د ځای راپاسیدو داسې حال کې چې خپل پټو یې پر موږ دری واړو اچوه زما مدثر او مزمل تندیان یې ښکل کړل او کرار یې وویل: ستړی سوی به یې د سهار څخه تر اوسه؟ یو ګړی ته هم د کوچنیانو سره خوب وکه زه ادی دوي ته وایم چې راویشه ( راویښه) دی نه کې، زه هم څم میلمه خانې ته بده ده ټول خپلوان راغلې.

د جهان خبره مې د سر په خوځولو تایید کړل د رښتیا هم نور مې پر بدن کې دومره وس نه وو چې لاړه شم او د هغه دومره ښځو منځ کې کینم، زما د تایید پر لیدو جهان یو ځل بیا سر راښکته کړو او دا ځل یې زه پر ویښتو ښکل کړم او بغیر له دی چې سر پورته کړی زما د غوږ څنګ ته یې وویل: یو مور باید ډېره قوی او دلاور اوسیږی! ځکه د پلار څخه لا ډیر یو اولاد مور ته ضرورت لری نو مور باید دهغوی پناه اوسیږی نه دا چې وژاړی او کوچنی نور هم وحشت کې واچوی، پوی سوی نازولې ته باید خپل اولادو ته د امن ځای اوسیږی.

په نیولې غږ مې وویل: زما څخه دا امید مه ساته که خدای نکرده کوم ورځ پر دوي یو شئ وسول نو پوهه شه د دوي څخه مخکې به زه مړه یم.

زما په ځواب جهان کرار د شونډی لاندی نچ نچ کړل او بغیر د څه ویلو لځایه پاسید او له کوټې ووت د هغه په تلو ما مدثر او مزمل کلک غیږ کې ونیول او نه پوهیږم څومره وخت به تیر شوی وو چې خوب وړی وم. د ماشومان په ژړا راویښه شوم ژر لځایه پاسیدم او را وامې خیستل هوا تیاره وه ښکاریدل چې قضا ماذدیګز به وی. ماشومانو ته مې شیدی ورکړل او د لاندی منزل خواته ورغلم کور کې یوه ښځه هم نه تر سترګو کیدل د لږ اخوا دیخوا کتو وروسته مې د جمشید ښځه ولیدل، هغې هم زه ولیدم او زما په لیدو لومړی پوښتنه چې هغي وکړل د ماشومانو پوښتنه وه چې څنګه دی؟

ما هم د شکر ښه دي پر ویل ورځخه د کور د نور کسانو په اړه وپوښتل چې چیرته دي؟ هغې ځواب راکړو چې ټول د جهانګیر سره بازار ته تللي او یوازې دا کور کې پاتې ځکه چې ماښام سرېان میلمانه لرو او د دیګ پخولو نمبر د دې دی.

د هغې په خبرو ما سر وخوځاوه او بغیر د نور څه ویلو ورځخه لرې شوم او د آشپزخانی خواته ورغلم په تلوار مې یو دوه ګولې ډوډۍ وخوړل او بیرته خپل کوټې ته ورغلم، ماښام ټوله شپه له کوټې څخه ونوتلم د جهان مور او روقیه راغلل ماشومان یې ولیدل او بغیر د څه ویلو ولاړل ټولو ځانته یوه، یوه جوړه کوچیانې کالې اخیستی وه د جهان مور یو جوړه ماته هم اخیستی وه ماښام میلمنو ته د ډوډۍ وروکولو وروسته ټول لګیا شول خپل د کالو پر ګنډلو زما کالې د جهان مور خیاطې ته ورکړی وه نو ځکه زه بیکاره وم او د زیات بیکاری څخه نه پوهیدم چې څه وکړم؟

د هغوي د ماشینو د ګر، ګر غږ زما پر عصابو تلې اخر لځایه پاسیدم او دروازه مې بنده کړه، جهان مې چې غرمه لیدلی وو بیا تر اوسه مې نه و لیدلی د جهان مور ویل چې دهغې ورور راغلې او یو څه نور شناخته میلمانه دی، نو ځکه جهان نشو راتلې او هلته ناست وو، خپل ځای کې څملیدم خو خوب نه راتلو مدثر او مزمل لا ویده شول نه پوهیږم دا ماشومان څنګه هر پنځه دقی وروسته ویده کیږی او خوب ورځی؟ زه هم د دوی سره ویده او راویښه شوی وم خو اوس خوب نه راتلو د بیکاری څخه نیم ساعت مې د کوټې د چت څخه نیولې غالې،فرش او الماری ته وکتل خو حوصله مې خلاصه شوه مجبور موبایل مې راوخیست هغه کې هم هیڅ مرګ نه وه اخر بې اختیاره مې ګوتې د جهان د نمبر خواته ورغلل او زنګ مې ورته و واهه.

یو زنګ یې لا خوړلې نه و چې جهان موبایل پورته کړو، د موبایل د شا څخه مې د هغه غږ واوریده چې یو چاته یې کرار وویل: یو دقه صبر زه اوس راځم.
او بیا د موبایل د کرش، کرش غږ او د هغه وروسته د جهان کرار او محبت ناکه غږ چې ښکاریدل د میلمخانې څخه راوتې ځکه کوم شور ماشور نور نه تر غوږ کیدی.

جهان- الو اوری؟ شه یې؟ خیرت خو دې؟ کوچنیان شه دې؟
- امممم شکر خیرو خیرت چیرته یې؟
جهان لږ په حیرت وویل: چیری یم؟ کور کې د میلمنو سره وم زنګ دې ووهې دباندی راووتم اوس حویلۍ کې یم کوم کار لری؟
نه پوهیدم څه ورته ووایم یوه شیبه پښیمانه شوم له دی چی ورته زنګ مې وهلې وو، شرم وو چې د میلمنو څخه یې را جلا کړم چې څه دی؟ زما حوصله تنګ شوی!
زه لا همدی فکرونو کې وم چې جهان بیا غږ کړو: اوری؟
- هو.
جهان- وایم کوم شې دی پکار و چې زنګ دې ووهې؟ ماشام ډوډۍ دی خوړلې.
- نه.
جهان- ولې؟

- ماذدیګر ناوخته مې وخوړل نو ځکه اوس مې زړه ته نه کیدل.
جهان- امممم کله ناکله دیته هم فکر کوه چې دوه دانې نور هم ستا ډوډۍ خوړلو ته ناست دې چې ته ورته ډوډۍ ورکی، نو لږ فکر پر ځان ساته.
د جهان دا خبره راباندی بده ولګیدل په تروش تندی او خفه انداز مې وویل: یعنی ستا پوښتنه کول یوازی د دې لپاره دی چې ماشومان دی وږی پاتی نشی؟ غم مه کوه هغوی وږی نه پاتې کیږی.

غوښتل مې موبایل بند کړم چې د هغه سنګین او ډډ غږ داسې حال کې چې خندل پورته شو او ویې ویل: یا زما مطلب هغه نه وو، غلط پوی سوی.
- هیڅ هم غلطه پوهه نشوم تا دغه وویل، په هر حال شه وخت خدای پامان.
د دې څخه مخکې چې موبایل بند کړم د هغه غږ راغلو: ای ..بند نکی (نه کړی) موبایل!

په خفه لهجه مې وویل: څه وایې؟
جهان- مطلب مې هغه نه وو، ما یوازی غوشتل درته لږ یاد آوری وکړم چې اوس ستا

مسؤلیت زیات سوی او باید خپل ساتنه وکړې.
- اهوم
زما د اهوم پر ویلو جهان کرار وخندل او ویې ویل: و وایه څه وکم چې خوشحاله سې؟ ها! نازولې؟
- نه پوهیږم.
جهان- نچ نو، ووایه که پر بخشنې غوشتلو خوشحالېږې زه به درنه بخشه وغواړم ها؟

د جهان په دې خبره خفګان مې لرې شو او په شیطنت مې وویل: یعنې که هر څه ووایم کوی؟
زما د شیطان لهجې په اوریدو جهان کرار وخندل او ویې ویل: خود یې منم، ته دې امر وکړی او زه دې ونه منم! دا خو امکان نلری وایه چشې غواړې؟
نه پوهیږم ولې خو د زیات بیکارې او بې حوصله ګې څخه مې وویل: غواړم ستاسو سرېانو مجلس واورم.
جهان لکه چې زما په خبره پوه نشو ځکه په ګنګس لهجه یې وویل: چشې؟ سر مې نسو خلاص.

- وایم غواړم ستاسو سرېانو مجلس واورم زه دلته بیکاره یم حوصله مې تنګه شوی، لاندی منزل کېهم  ټول لګیا دی کالې ګنډی زه دلته یوازی یم ته هم نشې راتلې، نو..
جهان په حیرت زده لهجه زما خبره پری کړل او ویې ویل: نو څه؟ تخو نغواړې چې دلته میلمه خانې ته راسی؟

د هغه په دی خبره مې په زوره وخندل او ومې ویل: نه زه هلته د دومره سرېانو منځ کې څه وکړم؟
زما په دی خبره جهان یو هوسا نفس واخیست او ویې ویل: نو څه مطلب چې وایې غواړم ستوی(ستاسو) مجلس واورم؟
په شیطنت مې وویل: مطلب دا چې ته دې موبایل همداسې روښانه ویسه او زنګ مه

بنده وه زه به د دې خوا څخه خپل مایک بند کړم نو په دی رقم تاسو چې میلمه خانه کې کوم مجلس او خبری کوی زه یې اوریدلی شم.
جهان په کلک وویل: نه.
د هغه د نه پر ویلو په ضد مې وویل: ولې نه؟ تا ویل ستا خبره منم.
جهان- ما ویل خبره منم خو دا...

خبره مې ورته پری کړل او ومې ویل: خو او مو نلرې تا خپل وویل ستا هر خبره منم نو زما همدا درخواست دی.
جهان په بی حوصله لهجې وویل: اخر دا نو غوشتنه سوه چې ته یې کوی؟
په زاریو مې وویل: زه غوارم ستاسو مجلس واورم د ښځو مجلس مې زیات اوریدلې تل مې ارمان درلود چې د سړیانو مجلس وارم چې څه وایې؟
جهان- زموژ مجلس هم ستوی( ستاسو) رقم دی چندان فرق نه کوی.

- جهان پعذابه ول مه کوه.
جهان- جان جهان! اخ د چشی پعذابه ول؟ هغه د سړیانو مجلس دې زر رقم خبرې پکشې(پکی) پورته شته کیژی، قربان دی سم یو بل شې وغواړه د دې خبری څخه تېره سه.
د جهان په دویم ځل منع کولو نور ما هم څه ونه ویل او خاموش شوم زما په خاموش کیدو جهان په کراره وویل: الو اوری؟
- اهوم.
جهان- ګوره ...
خاموش شو او د څو شیبو وروسته یې وویل: زه صحیح دی خو یوازی پنځه دقیقې.

د هغه پر تایید په خوشحالې مې وویل: ای جان نو ژر کوه ورځه هله هله.
زما د خوشحاله غږ په اوریدو جهان په کراره خو ناراضه لهجه وویل: ته وقران خلک خپل د میړه څخه طلا غواړې، کالې غواړی یو بل مرګ او درد غواړی خو دا زما څخه

... استغفرالله.
ما د دې خوا څخه کرار کرار خندل چې جهان په همغه کلک لهجه وویل: څه ووایم نو؟ بند که اواز دې یوازې پنځه دقې وخت لرې د هغه نه بعد زنګ بنده وم.

ما هم نور څه ونه ویل او مایک مې ژر بند کړو ترڅو پښیمانه نشې، د څو شیبو وروسته د کرش، کرش غږ شو او زه پوهه شوم چې جهان موبایل جیب ته کړو، په هیجان باندې په تمه وم چې واورم څه مجلس کوی سرپیان؟ شاید لیونتوب وو خو واقعا ما تل آرمان درلود چې واورم اخر دا سرپیان څه مجلس کوی؟ البته څه ناڅه پوهیدم چې شاید زیاتر بحث یې د سیاست او پیسو په اړه وی خو بیا هم شیطنت مې راغلې وو او غوښتل مې چې خپل پر غوږو یې واورم، خو د څو شیبو وروسته کله چې جهان میلمه خانې ته ننوت او د سرپیانو غږونه پورته شول زه خپل په کړې کار پښیمانه شوم.

ځکه ټول بحث یې د رښتیا هم د پیسو وو! یو ویل زه دومره پیسې او دومره جریب ځمکه لرم بل ویل زه دومره لرم خلاصه چې همغه دوه دقیقو کې خپل پکار پښیمانه وم او ځان سره مې ویل کاش یو بل شئ مې د جهان څخه غوښتلې وایې همدا چې اراده مې وکړل ترڅو موبایل بند کړم چې ناڅاپه د هغه سرپیانو د مجلس څخه یو نفر چې د غږ څخه بیخې ماته ناشنا ښکاریدو جهان یې خپل د خبرو مخاطب کړو او ویې ویل:

- شه نو جهان ستا نظر څنګه دې د هغه کار په باره کې؟
د هغه سړی په پوښتنه ما خپل غوږونه تېز کړل چې واورم کوم کار یاده وی؟ جهان خپل ستونې صاف کړو او کرار یې وویل: ولاې ماما زموږ څخه باره دا خبرې تېرې دی، زما خو ولاکه زړه غوارې دې کار ته دې لاس واچوم.

د هغه سړی غږ چې د جهان لخوا ورته ماما ویل شوی وو پورته شو چې په خندا یې وویل: زه پوهیدم چې ستا جواب یا "نه" دې خو هغه سړی ډېر شله وو نو ما ویل یو پوشتنه وکم چې شاید نظر دې بدل سوی وی!؟

جهان- د هغه مشوره بده نه ده بلکې ډېر هم ښه خبره ده او ډېر هم د فایدی خبره ده، خو زما زړه نغواړی او زما شخصی جواب نه دی، خو بیا هم د جهانګیر او جمشید څخه پوښتنه وکړه د کندهار نمایندګی د دوي په لاس کېده چې د دوي څه نظر دی؟
ماما- ستا نظر ولې نه دی؟ کله چې خپل هم وایې چې په دې کار کې فایده ده؟ بیا ولې یا وایې؟؟

د دوي دواړو د خبرو وخت کې یو دم خاموشي وه او بل چا خبری نه کول او ما د سړیانو د مجلس دا کار زیات خوښېده،هغوی یو بل ته د خبرو وخت ورکو داسې حال کې چې موږ ښځي هر یو ځانته مجلس دی، دوه نفر یو کونج کې ناست وی دوه نور بل کونج کې ناست وی او مجلس کوی خو د سړیانو مجلس کی ټولو د یو نفر خبرو ته غوږ نیوه، د څو شیبو وروسته جهان په همغه کرار او دروند غږ وویل: زه تاته یو کوچني مثال درکړم ماما! د نن څخه څو کاله مخکې زموږ نیکه ځمکه واخیستل په هغه یې کرونده شروع کړل او خپل ژوند یې ورباندی مخکې ویسې د هغه نه بعد وار زما پلار ته ورسیدی نو هغه لږ پیشرفت وکې د هغه ځمکې انار او نور میوي خرڅ کړل او خپل ژوند یې ورباندی تیر کې.

د هغه نه بعد وار زموږ راغې نو موږ هم لږ قدری ډیر پیشرفت وکې د دې لځایه چې خپل د ځمکې انار او نور میوی بل چا ته ورکړو تر څو خرڅ یې کړی خپل مو شرکت جوړ کې او خپل مو خرڅ کول شروع کړل او د خدای فضل بیحد هم فایده مو وکړل نو د اوس لپاره دغه زما د پاره بس دی! زه وایم هغه نور ادامه پیشرفت به یې خپل زامنو ته پریږدو هغوي ته دی بیا خدای وس ورکړی چې دغه میوی تر خارج ویسې زما خو ولاکه دونی کک زړه لا غواړی چې زه دې په دې عمر خارج ته سفرونه شروع کړم چې چشې دی تجارت کوم! خدای دی دونې ماته راکړي چې یو ګوله حلال رزق خپل په کور کې خپل د ښزی او کوچنیانو سره په یو سرخان وخورم زه نور ډېر نغواړم دغه زما د پاره ډیر شې دی چې سهار او ماشام خپل کور ته راتلې سم او خپل عال او عیال لیدلې سم بس.

د جهان د خبرو وروسته د هغه د ماما غږ پورته شو چې ویې ویل: اممم شه خبرې دي وکړل ستا څخه دغه امید مې وو انسان باید په لږ ګوزاره وکړي او شکر وباسې، زه هم همیشه وایم خدای دی یو ګوله ډوډۍ راکړي خپل په کور خپل په وطن کې په امن او امان کې.

د هغه خبره ټول مجلس تایید کړل او د "هو" شه خبره کوی" او سم وایې" غږونه پورته شول، د جهان خبرې پر ما بیحد ښه ولګیدل ځکه د هغه نظر یو دم زما د نظر مطابق وو، زه لا د جهان د خبرو په خوشحالې کې وم چې د جمشید غږ پورته شو چې په شیطنت یې وویل: ماما دا د تجارت خبرې ایله کوه تخو یو وار هغه خپل د زردالو کیسه دې وکه.

د جمشید په دې خبره یو دم د ټول سرپانو د خندا غږ پورته شو حتا د جهان د خندا غږ هم ما واوریده، د هغوي په خندا زه هم کنجکاو شوم چې واورم اخر دا د زردالو کیسه څه ده؟ د هغه سرې غږ بیا پورته شو کوم چې جهان او جمشید ورته ماما ویلې وه.
ماما- وه هلک ته ما په کراره نه پریږدی؟ هر وار چې راځم ته دغه کیسه راباندی کوی دا وار دې ګوره وهم.
جمشید په شیطنت او خندا وویل: اخ ماما ته نه پوهیږې هر وار چې ته دا کیسه کوی خپل په اندازه داسې خوند کوی لکه چې ته وا تاز اول وار دی چې اورم یې.
ماما- ایله زور مه وهه زه دا کیسه نور نه کوم عه زما دی باره توبه وی.

د هغه په دې خبره ټولو ورته زارۍ شروع کړل چې خیر دی یو ځل دا کیسه وکړه، حتا د جهان غږ لا راتلو چې ویل یې کیسه وکړه، زه حیرانه وم چې اخر دا څنګه کیسه ده چې ټول سرپان یې غوارۍ واورې؟ خو بلاخره د ټولو پر زیات ویلو ماما راضی شو ترڅو کیسه وکړي او خپل کیسه یې داسې پیل کړل.

ماما- د پخوا د سادګي وخت وو موږ هم تازه په ځوانې راغلې و هغه وخت دا موبایلونه او دا بلابتر نه و سهار څخه تر ماشام به د فیروز(د جهان د پلار نوم یا هم

همغه ارباب) سره به د کلي د دې سر څخه تر هغه سر ایله دغې ګرځیدلو که چا ویلې وایې ولې ګرځې؟ نو موږ به هم خپل ځانونه ورته ببر کړل چې ته خبر یې موږ څوک یو؟ (د هغه د خبری په دی ځای کې د ارباب خندا پورته شوه او زه تازه پوهه شوم چې هغه هم مجلس کې موجود دی، ما فکر کاوه هغه نشته! د ارباب په خندا د جهان ماما هم وخندل او ویې ویل: خلاصه چې لوفرې مو کول خو د لوفری څنګ کې د پلار خبره به مو دسی منل لکه د قران حکم چې وی!

خلاصه چې د ځوانې او سادګی وختونه وه تیرېدل تر دې چې زموږ کلې ته یو تعلیم یافته با سواده سړی راغې او ډیر ژر هم زموږ د کلې قاضی سو! هغه سړی خپل ټول عمر پاکستان کې په درس ویلو تیر کړی وه او نه یوازی خپل چې د ده شزه، لور، خور ټول باسواده ډاکترانې وه، دی خپل قاضې سو او خپل شزی ته یې خپل په کور کې یو کوچني د شزو د کتلو په اصطلاح شفخانه جوړه کړه د هغوی په راتلو ډیر فایده موږ ته ورسیده نور ضرورت نه وو چې په نیمه شپه خپل شزی د دنیا د دې سر څخه تر شهر د کوچنی راوړلو لپاره وځغلو اوس یو ډاکتره زموږ په کلې کی زموږ سره وه.

د هغوی شتون موږ ټولو ته فایده مند وو نو موږ یې هم خدمت کاوه خدای دی وبخشې مشر ارباب(د جهان نیکه) هغه قاضی ته یو کور په کلې کی ورکې او د شزی لپاره یې تنها شفخانه ورته جوړه کړه حتا زموږ د کلی انجونې به تلل او د قاضی د خور او لورګانو څخه یې درسونه زده کول خلاصه چې هر شئ ګل او بلبل وه تر دې چې د قاضی خور خلکو ولیدل.

د جهان د ماما خبره ارباب پرې کړل او په خندا یې وویل: خلکو نه! بلکې ووایه چې تا ولیدل.
د هغه په خبره یو ځل بیا ټول مجلس په خندا شو چې د جهان ماما هم په خندا وویل: باور پخدای د دې دونې کلونو بعد اوس هم د هغې رقم شایست ما چیری نه دې لیدلې هغه بل رقم شایسته وه د ظالم لور! لکه چې خدای پر قلم جوړه کړی وه.

د هغه په خبره ټولو خندا شروع کړل حتا ما ته لا خندا راغلې وه، باور مې نه راتلو دومره غټ مجلس کېدی یو نفر خپل د عشق او عاشقي کیسه وکړی! او د هغه څخه زیات حیرت مې د ارباب په خبرو وکړو یعنې دی هم ورسره وو؟

د څهرې څخه ارباب داسې ښکاریدو لکه چې خندا لا ولاکه په ښه خبره وکې، خو نن د هغه خندا څه چې د هغه دا رقم شیطانه خبری او مجلس لا ما واوریده! که نن مې خپل پر غوږونو د هغه دا شان خبری نه وایې اوریدلی، نو ولاکه مې باور کړی وایې چې ارباب دي خپل په هغومره هیبت او جلال دومره شوخ او شیطان اوسیږی! د رشتیا چې هم انسان څو رقم نقاب په څهرې لری.
جمشید په تلوار وویل: بیا څه وسو؟
د جهان د ماما او د ارباب د خندا غږ پورته شو او د څو شیبو وروسته ارباب غږ راغلو چې ویې ویل: بیا نو به څه سوی وی ستا په نظر؟ دې شاغلی وو او د قاضی د کور کوڅه وه.

د ارباب په دی خبره یو ځل بیا ټول مجلس پر خندا شو چې دا ځل د جهان د ماما غږ راغلو داسې حال کې چې ارباب یې یاده وه ویې ویل: دې تر اوسه پر ما خاندې خو باور وکه هغه د ځوانې وخت مینه بیخې بل کیفیت او انداز دروشتي(درلودی)اصلاً د انسان خپل په کنټرول کې نه وی پخدای کله ناکله بې اختیاره د هغوی د کوڅې خواته تلم، خلاصه چې څه سر مو په درد کړم ورځ تر بلې زما لیونتوب زیاتېده او نه پوهیدم چې اخر وکم څه؟

د ماما په خبرو کې جمشید ناساپه راوغورځید او ویې ویل: ولې مو مرکه ورته نه استول کله چې دونې ورباندی مئین واست؟
د جمشید خبره ټولو تایید کړل چې ارباب وویل: ما هم ورته اول خبره همدا وکړه چې مرکه ور واستوه، خو ده ویل اول باید وګورم چې انجلۍ نظر چشې دی؟ که هغې راته "هو" کړل بیا نو مرکه استوم.

د ارباب په خبره د څو نفرو د خندا غږ پورته شو چې ماما وویل: هغه انجلۍ دسی ساده انجلۍ نه وه چې زه دستي مرکه ور واستوم او هغوی هم ووایې چې راسه واخله دا یې ستا، ما باید اول د انجلۍ نظر معلوم کړی وایې، خو د پخوا وخت وو د اوس رقم نه وو چې موبایل نمبر یې پیدا کې او زنګ ور ووهی یا هم څه وایې فسبوک او دا نور بلا و بتر نه و چی مسج ورته وکې لاره کې دې هم مخامخ نسو درولې چی ورته ووایې: وه انجلۍ زه دربا‌ندی مئین یم ستا څه نظر دې؟ مرکه د وراستوم کنه؟

ټولو د ماما په خبرو خندل چې دا ځل جهان وویل: اخر ورته ومو ویل که یا؟
د جهان ځواب ارباب په خندا ورکې: اخر یوه ورځ موږ دواړه سره شیناستو(کښیناستو) او یو پلان مو سره جوړ کې، هغه وخت زموږ د کور څنګ کې د زردالو باغونه وه، اوس چې د امیر بای باغونه دی خو هغه وخت د یو بل چا وه او ټول هم د زردالو وه خو موږ ته یې راکول، نو موږ هم ولاړو یو پټو مو د زردالو څخه ډک کې او د ده شاغلې پر لاس مې ورکې، خبره دسې وه چې د قاضی خور هره ورځ د کور څخه خپل د کوچنې وریرې سره راوتل او خپل د وریندارۍ په اصطلاح هغه شفخانې ته تلل موږ هم دغه وخت وټاکې او ما د ده غوژونه ور خلاص کړل چې د زردالو ډک پټو واخله او همدا چې انجلۍ ته ورنژدی سوی پټو ایله که، او دسی وشه یه(وښایه) چې د لاس څخه دی ولیدلې، نو هغه به درسره کمک وکړی ترڅو ټول یې کړی او همدغه وخت کې ته ورته خپل د زړه خبره هم وکه.

د حیرت څخه مې خوله خلاصه پاتی وه، دا ارباب دی؟ عجب خطرناکې مشوری او پلانونه یې خلکو ته جوړول خپل ځوانې کی؟ بیحد کنجکاو وم چې واورم اخر څه شوی؟ مجلس کې موجود کسانو هم خندل چې دا ځل ماما وویل: ما هم همغه کار وکې همدا چې مخکې ورسیدم زردالو مې د هغې ومخ ته ختا کړل او جر شینستم(کښیناستم) چې وی خدای دی نکوی دا خو دغې(هسبخ زما د لاس ختا سول.

بیا د ټولو خندا پورته شوه چې بیا ارباب وویل: زه د کوځی سر کې ولاړ وم چې وګورم چشې کیږی؟ خو زردالو ولاړل ټول سول انجلۍ روانه سوه خو سړی تر اوسه هلته ناست دی او ځمکې ته ګوری؟ ورختا ورغلم د اوژی ( اوږی) څخه مې وخوځاوی او ومې ویل: څنګه څو؟ چشې درته ویل؟ زما پر ژغ دی تازه لکه چې دې دنیا ته راغې په ګنګس انداز یې راته وویل: ها؟؟ چشې؟
ده چې ها؟ کړل زه پوی سوی چې خانه دې خراب سې د ورته لفظ خبره لا نه ده کړې.

یو ځل بیا ټول مجلس د خندا شین شو چی جمشید بیا وپوښتل: ولې دی ورته چشې ونه ویل ماما؟
ماما- پر اوداسه ناست یم او باور به ونکې چې درته ووایم همدا چې راو یې کتل ژبه مې بنده سوه.

د ماما په دی خبره ما ته خندا راغلل سم د دې هندی فلمونو پشان، بیحد زړه مې غوښت دا ماما یو ځل د نژدې وګورم چی څنګه څهره لرې او څنګه سړی دی؟

ارباب په شیطنت وویل: خوله بنده ول دی جارسم تر دری ورځو یې خبری نسو کولې.
د ارباب په خبره ټولو وخندل چې دا ځل یو بل نفر چې د غړ څخه ما بیخې ونه پیژندو چې څوک دی خو ځوان معلومیدې وپوښتل: بیا څه وسو؟
ماما- بیا به نو څه سوی وایې؟ موژ یو متل لرو وایو: نادیده کمپل نه و لیدلې کله چې ولیدې تر غرمې پکشې(پکی) ویده وو. ما هم تازه د زردالو بهانه زده کړی وه هر غرمه به موژ وو او د زردالو ډک پټو به وو او هلته چپه کول به وه.

همغه هلک حیرت ناکه غږ پورته شو او ویې وویل: هره غرمه؟ مطلب څو ځله نور مو هم دسی کار وکړو؟

ارباب- ما خو حساب د لاس څخه وتې چې خدای خبر لس واره وه که یوولس واره؟!
خو هر وار به ما استوی دی به بیا تر دری ورځو ګونګی راتلې.

هلک- اخر څه وسو؟
ماما- اخر امممم یوه ورځ مې د تل په رقم د زردالو څخه پېټو ډک راخیستی وو تر
څو بیا د هغې په لیدو یې چپه کړم او شاید د خدای رضا وه او شاید یو دوه خبری
ورسره وکم خو همدا چې کوڅې ته ننوتلم د قاضی د خور لځایه مې مشر ارباب په
کوڅه کې ولید چې په تروش تندی راروان وو.

بې اختیاره مې د خولې څخه "وای" ووتل هغه دونې په هیجان کیسه تعریف کول
چې ما فکر کاوه اوس دی کوڅه کیدې او هغه خوا څخه د جهان نیکه وربادی راغلو
که څه هم د جهان نیکه مې لیدلی نه وو خو فکر مې کاوه ضرور زیات تریخ مزاج
انسان وو؟ ځکه خبرو وخت کې ماما ورڅخه یو رقم په ډار باندی یاد کاوه

ماما- په ارباب چې مې نظر ولګیدې ځان سره مې وویل بچې پشې سپکوه او تشته
خو همدا چې د تشتېدو لپاره مې مخ وګرځه وو ارباب راباندی غږ کړل او ویې ویل:
پخیر زردالو ماما چیرې په دی تلوار؟
د هغه په خبره ټولو وخندل چې دا ځل ارباب په خندا وویل: ما چې د بابا دا خبره
واوریدل هلته مې ځان سره وویل چې خدای دې خیر راپیش کړی بابا پر کیسه پوی
دی نو ما هم د احمد(د جهان ماما) اراده وکړه چې تشته خو لا قدم مې نه و اخیستې
چې دا وار بابا د کوڅې د هغه سر پر ما باندی ژغ وکړو"هلک پیروز دیخوا راسه"
داسی حال کې چې زه د دیوال شاته وم! خو هغه لکه چې خبر وو چې زه هلته یم! د
هغه په ژغ ساه می له بدن وخته.

ماما- خدای دی وبخښې مشر ارباب خو بیحد غوسه ناک او تند مزاج سړی وو، او که
خدای مکړه که خبره بیا د ناموس او عزت وایې بیا نو هی هی.
د هغه ناشنا هلک غږ بیا پورته شو چې ویې پوښتل: یعنې هغه خبر وو؟ چا ورته خبر
ورکړی وو؟

ماما په خندا وويل: که اوريدلې مو وي غزلونو کې دا سندرغاړی کله ناکله وايې" شکلې بې وفا دی" او شايسته و فادار نسته" يا شکلې مغروری دی" دا خبرې يو دم رشتيا ده.

هلک په حيرت وويل: مطلب د قاضی خور تاسو د ارباب په ګير ورکړی وی؟
ارباب په خندا وويل: ګير دې جارسم موژ يې لاس ترلې په ګير ورکړی وو.
ما ته هم خندا راغلې وه او هم مې حيرت کړې وو! يعنې هغه جنۍ څومره جرئت درلود چې ارباب ته يې دوي دواړه په ګير ورکړی وه!

هلک- بيا څه وشو؟
ماما- بيا نو هغه کار وسو چې خدای دې زموژ پر دشمن لا هغه ورځ نه وينې ارباب موژ دواړه مخکې کړو چې راروان سې! ما اول فکر وکې چې کور ته مو وړی او شنزل،وهل،خبری او نصيحت به کوی خو ارباب د کور لځايه موژ يې د باغ خواته ويوړو!
د ماما خبره ارباب پوره کړل او ويې ويل: هغه هم د کلي د ننه باغ نه! موژ هغه وخت د انارو يو دوه جريب باغ درلودی د کلې څخه يو څه لری و اصل کې ځمکه د بل چا وه خو پر بابا يې خرڅه کړی وه، کله ناکله بابا هلته تلې خو موژ دونی نه ورتلو ځکه لری وو، خو هغه ورځ بابا د هغه باغ لاره پر مخ ونيول نو ما تلو، تلو کې احمد ته وويل چې خپل فاتحه دی ووايه پخدای که د دې ځايه ژوندي راووځو.

د ارباب په خاموش کيدلو ماما کيسه راوخيستل او واقعا ماته جالب وه دوي دواړو يوه، يوه برخه خپل د کيسی کول! يوځل ده ويل يو ځل هغه، د هغوی داسې هماهنګ کار ته زه حيرانه وم.

ماما- خلاصه چې باغ ته ننوتلو ارباب مخکې موژ ورپسې باور پخدای وکې شايد اوس ستوی(ستاسو) لپاره دا کيسه د خندا معلوميژی خو زما لپاره د دونې وخت بعد

هم کله چې هغه ورځ مې یاد ته راځې نو د بدن ویشتیان مې نیغ دریږي، دسې یو خوفناک او وحشتناکه فضا وه، هغه د اوس وخت نه وو چې پلار خپل زوی د انجلۍ سره په رڼا ورځ ویني خو خبره لا ورته نه کوي هغه وخت کې مهم دا نه وه چې خبره انجلۍ کړې که هلک! که ګیر سوي وایې ولاکه یې بې مرګه ایله کړي وایې، خلاصه د خبرې ماما مو جارسې موږ دواړه د باغ مینځ کې د بیرې د لاسه لکه پاڼه رپیدلو خو ارباب په راحت خیال لګیا وو په باغ کې ګرځیدی.

د هغه دا وخت تیرول زموږ بیره لاپسې زیاته ول، هغه دقه که شنزل یا وهل یې کړي وایې دونې انسان نه ورختا کېږي خو دا چې هر دقه تیریدل هغونې زموږ بیره هم ډېرېدل، شاید نیم نیم ساعت زما په نظر بغیر د څه ویلو موږ دواړه وچ کلک هلته ولاړ وو چې د څو ثانیو لپاره ارباب د باغ هغه بلخوا ولاړی او بیا نا ببره( ناساپه) یو...

ماما په خندا شو چې ارباب د هغه خبره پوره کړل او په خندا یې وویل: زما هېڅ فکر نه وو چې یو دم د شا لخوا څخه ټک سو او د ټک سره یو درد مې پر ملا وپیچل سو چې اخ مې بې اختیاره د خولې ووت چې مخ مې شاته تاو کې بابا نرۍ لشکه پر لاس ولاړ وو!

ټول خاموش وه خو ارباب او د جهان ماما چې دا کیسه کول خندل یې! داسې لکه هغه ورځ خاطره که څه هم تریخه وه خو دوي ته جالب معلومیدل.
دا ځل ماما په خندا وویل: خدای دی دسې ورځ پر تاسو نه ګوری یو ټک پر فیرزو وو بل پر ما، البته د ارباب وهل هم داسې تخنیکې وهل وه پر سر او مخ یې وار نه کوی یوازی دا نرۍ لشته( لښته) یې زموږ پشو او ملا ته بنده کړې وه خلاصه چې تر شپږ اوه واره مو یوازی اخ، اخ کړل خو کله چې د ارباب غوسه لا په زیاتېدو شوه او د هر وار سره یې شنزل او خبرې شروع کړل باره موږ هم پر توبو سو.

دا ځل ټولو وخندل چې ارباب وویل: اول کې یو څه د ځوانۍ غیرت او جوش وو نو د وهلو سره مو شور نخوړی ځای پر ځای ورته ولاړ وو،خو کله چې د بابا وهل زیات

سول نو اول( ارباب خندا لا زياته شوه او ويې ويل: اول د عاشق صيب چغي پورته سوی چې ويل يې: بد مې کړی ايله مې که نور يې نکوم.

ارباب په يو شيطنت دا لفظ وويلو چې ټول مجلس پر خندا شو چې د ماما د اعتراض غږ پورته شو چې ويې ويل: باور وکه يا خو ارباب ته کرار وهلې يا هم پر تا وهلو تاثير نکوه، کنې باور پخدای ما احساس کوی د هر لشتی وهلو سره غوشه مې د بدن څخه شکېژي(جلا کېږي) خلاصه چې ارباب موژ دواړه تر هغه وخت ووهلو تر څو چې خپل ستړی شو کله چې هم ستړی شو نو يو دوه لغتې موږ دواړو ته راکړل او د باغ څخه ووت، البته وتل دی جارسم ظالم(کرار يې وخندل او لکه چې ارباب ته يې فکر شو ځکه کرار يې وويل: خدای دی پلار وبخشه خو باور وکه بيحد ظالم وو د دونی وهلو بعد يې د باغ دروازه پر موژ وتړل او کرار بيغم ولاړی.

جمشيد په حيرت وويل: ولاړی؟
ارباب- هو.
ماما- تقريبا يوه ورځ او يوه شپه يې موژ هغه باغ کې دغې پريژدلو د هغه نه بعد چې هم راغې د قاضی سره راغلې وو! موژ يې ورته وشولو(وښودلو)او بيا يې پر موژ د هغه په مخکې توبه وباسل چې نور به د هغې د خور مخه نه نيسو د هغه نه بعد يې هم لاس تړلې د نکاح کوټې ته ننباسلو.
د همغه هلک حيرت ناکه غږ بيا پورته شو: د نکاح کوټه؟ د چا سره؟
ماما په خندا وويل: ولای هندی فلم نه وو چې د دې دونی فدا کاری بعد د قاضی خور راکی.

د هغه په خبره ټول په خندا شول چې ارباب کرار وويل: همدا چې د باغ راغلو خبر سو چې بابا دواړو ته دسمال راوړی او پر هغه ماذديګر نکاح وتړل د ده خور يې ماته راکړل او زما د عمه لور يې و ده ته ورکړه.
ماما- ما ته د ارباب کار دونې زور رانکی څونی چې د قاضې د خور کار زور راکې، اخ د ظالم لوری ما خو تاته يوه خبره لا نه وکړی سربيره راتلم هر ماذديګر مې درته درې

ځلور تازه زردالو هم درکول نو دوني ظلم څوک کوی؟
د ماما په خبره ټولو وخندل چې ارباب په خندا وویل: خو زما په نظر کار يې يو دم صحيح وو، موږ ډېر ساده توب وکې ته فکر وکه که خدای نکرده هغه وخت د بابا په هغه کیسه یو بل کس خبر شوی وایې خپل فکر وکه څه قیامت به جوړ سوی وایې هم د جنۍ نوم مفت بدیدې او هم زموږ ده.

اوس چې سم فکر کوم کاش موږ هغه وخت د دې لځایه چې د قاضې خور ته ګپ ورکړو د هغه لځایه مو پخپل قاضی راضې کړی وایې شاید بغیر د کوم اخ او ډب قاضې خپل خور په کرار تاته درکړی وایې؟! قاضی ډېر شه انسان وو، البته که نه يې وایې درکړې بیا هم حدقل په احترام خو به يې منع کړې وایې؟!

د ارباب په خبره ماما په خندا او شیطنت وویل: تخو ګیله او شکایت مکوه منم چې یو دوه لرګې ډبه به دې خوړلې وې خو ګوره فایده دې د وهلو څخه زیات وکړل! نه لاس خوار نه پشه خوار مفته دی شزه نصیب سوه.

د ماما په خبره ټول مجلس د خندا څخه شین شو چې ارباب په کراره داسې حال کې چې غړ کې يې خندا څرګنده وه وویل: منم ستا خبره خو بیا هم زما په نظر زموږ کار غلط و، او ته هم باید دا ومنې چې کار دې غلط وو او نور ونه وایې چې جنۍ راسره بې وفای وکړل! تا خپل په غلطي هغه د لاس ورکړل که زما خبره دی هغه وخت منلې وایې او ډاریک دی مرکه وراستولې وایې شاید یو کار سوی وایې.

ماما- بس نو شاید قسمت نه وو، چې دسی عقل مې هغه وخت خاوری سو چې یوازی زردالو وړل مې زهن ته راتلل.

د ماما په خبره خندا مې راغلل د رښتیا هم همدا یو زردالو وړل او چپه کول يې زده کړی وه نور هېڅ کار او خبره يې هغه جنۍ ته ونکړل، نه پوهیږم د جنۍ کار ته صحیح و وایم که غلط؟ هغې خپل او خپل د کورنۍ د عزت لپاره هغوي په ګیر ورکړل ترڅو سبا ورځ د دی نوم په کلي کی بد نه شې نو د دې لحاظ د هغې کار یو

دم صحیح وو، خو د هغه خوا د ماما ساده مینه وه چې هغه لپاره مې هم زړه سوځیده، واقعا چې جالب کیسه وه زردالو!

***

نن سهار چې له خوب راپاسیدم نو د کور ماحول د دې څو ورځو پشان نه وو! چې د هر خوا څخه د کالو ګنډلو د ماشین ګر،ګر راشې! بلکې ټول لګیا وه د کور کارونه یې کول تر څو ژر بیکاره شې او سیل ونیسې! ما ته عجیب وه ځکه واده دوي ویل راروان جمعي ته کوی مطلب پنځه ورځې وروسته خو دوي د نن څخه ورته سیل او محفل نیوه او رقصونه یې کول! واقعاً چې قندهاریان بیحد شوقي خلک دي ګل بې بې سهار د ټولو غوړونه خلاص کړل چې زه د واده تر ورځې سیل نیسم او یو عجیب لفظ یې هم استعمال کړو ویې ویل زه پوشتې نیسم! زه د هغې د دې خبری په مطلب پوهه نشوم نو ځکه د جهان څخه مې پوښتنه وکړل او هغه راته په خندا وویل: کله چې یو نفر د یو چا واده ته زیات خوشحاله وی مثلاً د اول زوی واده یې وی یا هم د اخری زوی نو دوي وایې چې دا زموژ اول یا هم اخر واده دی نو خپل آرمان ورباندی باسو نو اوه شپې ورباندی سیل نیسې.

د جهان په خبرو د حیرت څخه مې خوله خلاصه پاتې شوه، عجیب وه راته اوه شپې د واده څخه مخکې سیل نیسې ځکه ارمانجن دی؟ البته ګل بې بې پنځه شپې ورباندی سیل نیو، ځکه د هغې هم د مشر زوی واده وو!

د غرمې ډوډۍ خوړلو وروسته د یو څو ساعتو ارام کولو لپاره هر یو خپل د کوټې خواته روان شول تر څو شپې لپاره انرژۍ ولرې زه هم د ماشومانو سره خپل کوټې خوا ته لاړم، یو څو میلمانه لا اوس هم میلمه خانه کې وه او جهان هملته وو ماشومان مې ویده کړه او زه یې هم څنګ ته څملیدم بیحد د ستړیا احساس مې کاوه! که څه هم د جهان وریندارګیانو دا څو ورځو کې هیڅ کار ته نه وم پریخودلې او هر دقه یې راته ویل: چې ته میلمه نه یې او سبا بل سبا ځې نو شه نه دي چې کار وکې!

خو بیا هم د ستړیا احساس مې کاوه سترګې مې پټې کړل تر څو ویده شم چې ناساپه رایاد شول جنید نن غرمه ډوډۍ نه ده خوړلې او د هلکانو سره چکر ته تللې ما ورته زیات وویل ډوډۍ وخوره او بیا لاړ شه. خو هغه ویل چې د هغه خوا چې راغلم بیا ډوډۍ خورم، خو نن غرمه میلمانه د غرمي وخت کې زیات شول نو ځکه شئ پاتی نشول که څه هم ستړې وم خو پاسیدم تر څو هغه ته یو شئ پوخ کړم.

آشپزخانې ته ولاړم او غوښتل مې یو دوه هګي د لږ چپس سره ورته پخه کړم او لږ هم سلات جوړ کړم، که څه هم جنید سلات نخوړو خو بیا هم شوق مې راغلې وو چې ورته جوړ کړم! تازه مې کار خلاص شوی و چې د جهان غږ مې خپل شاته واوریده.
جهان- تا غرمه ډوډۍ نه وه خوړلې؟

یو نیم نظر مې د هغه خواته واچوه چې د آشپزخانې دروازی مخکې ولاړ وو خو بغیر د څه ویلو بیرته وګرځیدم هګي او چپس مې د الماری پورته خانه کې کیخودل او هغه ته چې تر اوسه زما ځواب ته منتظر و ومې ویل: ما ډوډۍ خوړلې خو جنید بیرون تللې او کوم شئ هم ورته پاتې نشو اوس راځې نو ځکه ما ویل ورته هګي پخي کړم.
جهان- امهممم شه دې وکړل اوس بیکاره یې؟

- هو کوم کار دې درلود؟
جهان- امم کوم خاص کار خو مې نه دروشتي(درلودی) خو هغه ورځ تا ویل غواړم د مدثر او مزمل عکسونه د آس سره واخلې! نو ما ویل اوس څوک نسته که غواړې زه به آس راوباسم؟
د جهان په دی خبره په خوشحالې مې وویل: هو، هو راوباسه زه ماشومان راویښه وم.
زما په خوشحاله لهجه جهان کرار وخندل او ویې ویل: که کوچنیان بیده دې نو مه یې راویشه وه یو بل وخت به بیا واخلې عکسونه.

په تلوار مې وويل: نه بل وخت خدای خبر فرصت پیدا شي خوب خو هر وخت کولې شې آس کله ناکله وی.

زما په خبره جهان پخندا شو چې زه یې د څنګ په تلوار تیره شوم تر څو ماشومان راویښ کړم جهان هم زما پسې راروان وو په تلوار مې مزمل او مدثر راویښ کړل دواړه له خوب زنګیدل او سترګي پټې، پټې کیدل د دې لپاره چې خوب یې لاړ شې مخونه مې ورنه په یخو اوبو ومینځل چې د دواړو د اعتراض غږونه پورته شوه خو بغیر له دی چی کوم توجه ورته وکړم کالې مې هم ورباندی واچول چې زما په دی کار د جهان غږ هم پورته شو.

جهان- کالې نو ولې بدله وی؟
- کالې خیرن دی غواړم په نوی کالو کې عکسونه واخلم.
جهان- امهمم
همغه حال کې چې د ماشومانو د کالو پر اچولو لګیا وم جهان ته مې وويل: ته هم خپل هغه د اختر کالې واچوه.
زما په خبره جهان په حیرت وويل: زما د کالو سره څه کار لری؟
- غواړم ستاسو درې واړو عکسونه واخلم په یو رنګ کالو کې د اختر په ورځ خو دومره بیکاره نشوی چې یو عکس دی لا واخلم خپل خو ماشالله عکس اخیستل دی نه زده.

زما په دی خبره جهان کرار وخندل او ویې ویل: موږ ساده خلک یو په دی کارو مو سر نه خلاصیږی.
د جهان په دی خبره یو پوښتنه مې ذهن ته راغلل نو ورته ومې ویل: رښتیا ووایه تا کله هم خپل د موبایل د کمرې څخه کار اخیستې؟ مطلب کوم وخت دې ورباندې عکس اخیستې که هسې جیب کې ګرځوی؟
زما په خبره جهان بیا په خندا شو او ویې ویل: اممم کله ناکله اخلم.

- نه مطلب مې ستا د کار عکسونه نه دی کوم چې ته د ورقو څخه اخلې فلانکې ته دومره مال ورسید او بیستانکې ته دومره، مطلب مې ستا عکس وو!

زما په خبره جهان په لوړ غږ پخندا شو او ویې ویل: ولای رشتیا که ووایم بیخې مې خپل عکس نه دې اخیستې، زیاتر ستا خبره د کاروبار د ورقو د رسېد او مالونو عکس اخلم، عادت مې نه دې خپل عکس واخلم.

په مسکا مې د هغه خواته وکتل عجیب به وې که ووایم ما جهان همداسې خوښېده، ساده او د خلکو خبره خاکساره! جهان په همدی کارونو جهان و. دا چې عکس اخیستل یې زده نه وه دا چې هېڅکله مسج یې نه کاوه که مسج دې کړی وایې همغه دقه کې زنګ واهه یا هم وایس مسج یې کاوه هېڅکله عادت نه وو چې مسج وکړې، اول وختونو کې مې فکر کاوه چې شاید املاء نشې لیکلې خو حیرت مې هغه وخت وکړو چې یوه ورځ یې د جنید املاء غلطې ونیول او کله چې ورته اصلاح کول یې نو په یو ښایسته خط باندې ورته هغه لفظ ولیکو چې زه ځانته خجالت زده شوم ما دوولس کاله مکتب ویلې وو او دوه کاله هم پوهنتون خو داسې لیکنه مې نشوه کولې! جهان په همدی ساده توب کې ښکلې ښکاریدو.

زما په زیات ویلو جهان اخر د مجبوری څخه خپل کالې بدل کړل، او همغه حال کې په خندا او شیطنت وویل: اوس چې پر موژ دې کالې بدل کړل ته یې هم بدل کړه.
د هغه په خبره مې وخندل او ومې ویل: نچ زه خو عکس نه اخلم چې کالې بدل کړم.
لږ خاموش شوم بیا مې کرار وویل: ای کاش جنید هم راغلې وایې.
جهان- خدای دې خیر راپیش کړې دا هلک بیخې بل رقم چمونه کوی.
د جهان په دې خبره د مورتوب رګ مې راځرګند شو او ژر مې د جنید څخه د دفاع په خاطر وویل: څه یې کړې چې ته داسې وایې؟

جهان- څه یې کړی؟ درس خو یې ایله کړې چې چشې دی؟ غوارم ډاکتر سم(غوښتل مې جواب ورکړم چې جهان اجازه رانکړل او ویې ویل: ن. ن. زما خبرو ته غوژ څه

بیا ووایه چې چشې کړې؟(خاموش شوم چې جهان خپل خبرو ته دوام ورکړو او ویې ویل: اول خو یې خپل درس ایله کې چې تا وویل فرض نه دی ټول مولیان سې! ما هم ویل زه خیر ایله کوه ستا خبره مهم سړیتوب دی، خو د اختر په ورځ زما د منع کولو با وجود ولاړې هغه د لوفرانو کالې واغوستل بیا هم ما ویل زه خیر ایله کوه، خو نن زما د اجازې بغیر تللې چکر ته هغه هم د هغه ...

ژر مې د جهان خبره پرې کړل او ومې ویل: اجازه یې واخیستل خو ته نه وې.
زما په خبره جهان خپل سر د پوښتنې په انداز وخوځاوه او ویې ویل: زه نه وم؟
هغه وخت زه چیرې وم؟
کله چې جهان داسې سوال ځواب کاوه ما ته د ادی خبرې یاد ته راتلل، ما هیڅکله نه یادیږې چې بابا دې ماته په کوم کار خبرې کړې وی، خو ادی زما په کښیناستلو او پاسېدلو لا خبرې کول. او تل د جهان پشان یې ویل: سبا ورځ خلک ماته وایې چې مور یې داسې تربیه کړې. ما کرار کرار په دی فکر خندل چې جهان په لوړ غږ وویل: دا ټول ستا د لاسه دا رقم سوی.

- عه اوس بیچاره څه کړې چې ته ورپسې موښتې یې؟ یو چکر ته تللې هغه هم اجازه یې وغوښتل خو ته میلمه خانه کې وی ما ورته وویل لاړ شه بیا زه دی پلار ته وایم.
جهان- شه نو دا اجازه تا صادره کړې وه؟
د جهان په دی خبره مې خندا راغلل او په شیطنت مې وویل: هو دا اجازه ما صادره کړې وه کوم مشکل؟

جهان- دا هلک ستا نازو داسې خراب کړې، سبا ورځ چې یو بد یې وکړل هغه وخت به بیا پوی سې چې څه مشکل وو؟
د مدثر بوټ مې ورته په پښو کړو او د جهان خوا ته ورغلم چې په تروش تندی زما خواته کتل، مسکا پر شونډو د هغه لاس مې راپورته کړو او داسې حال کې چې د لستوڼې تڼې مې ورخڅه تړل کرار مې وویل: خیال دې راحت داسې کوم کار نه کوی

چې خدای نکرده سبا ورځ ستا نوم ورسره بد شي.
جهان داسې حال کې چې تندی همغسې تروش نيولې و وويل: هغه وخت ته د کم ځای څخه خبره يې چې داسې کم غلط کار نه کوی؟
د لستوڼې تڼي مې ورڅخه وتړل او د شاته تلو حال کې مې ورته سترګګ ووهل او په شيطنت مې وويل: څکه چې ستا زوی دی! او د چا چې پلار، نيکه او کاکاګان په غلط لاره نه وی تللي هغه هم نه ځي.

زما په خبره جهان خپل سر کرار وخوځاوه او داسې حال کې چې کوښښ يې کاوه خپل خندا پټه کړي ويې ويل: د رشتيا چې هم ژبه هم کلا ده هم بلا! شه پوهيږی چې څنګه په خبرو سرې چوپ کړی.
د جهان په خبره مې کرار وخندل چې هغه هم نور څه ونه ويل او مزمل و مدثر يې راوخيستل ما هم غوښتل چې ورپسې شم چې هغه زما خواته راوګرځيد او ويې ويل: يو شئ نه پر سر کوی؟
په حيرت مې خپل لاس د ټيکری خواته ويوړو فکر مې کاوه چې ټيکری مې د سر څخه لری شوی خو کله چې لاس مې خپل په تيکری ولګيده نو لا په حيرت مې د هغه خواته وکتل چې جهان کرار وويل: د کور شاته آس ورم که څه هم هغه خوا څوک نسته خو بيا هم يو غټ پوړنې(ټيکری) په سر کړه شه دی.

د جهان په خبره تازه مې سر خلاص شو ما فکر کاوه هغه غواړی حويلې کې اس راوړی او عکسونه واخلو خو کله چې هغه وويل د کور شاته نو ژر مې يو غټ تيکری پر سر کړو او د جهان پسی شوم هغه د طويلې خواته لاړو تر څو اس راوخلی ماشومان يې هم په غيږ کې وه زه هم ورپسی وم هيڅ څوک حويلې کې نه ښکاريده ټول لکه چې د غرمی خوبونه وهل جهان داسې حال کې چې مدثر او مزل پر اس کينولې وه د اس واګې نيولې زما خواته راغلو او ويې ويل: راځه د هغه دروازی څخه دباندی ځو څوک نسته هلته.

د جهان په خبره مې حیرت وکړو ځکه هغه لاس د کور هغه بلخوا نیولې وو داسې حال کې چې د کلا دروازه دې بلخوا وه! خو کله چې یو څه مخکې لاړو نو ما تازه د تناره څخه یو څه لرې د دیوال په اخر سر کې په یو وړوکې شنه دروازه نظر ولګیده! ما دا دومره وخت کې دا دروزاه نه وه ولیدلې او فکر مې نه کاوه چې د ارباب کور دې دوه دروازې ولرې جهان هغه دروازه خلاصه کړه او د آس سره ووت زه هم ورپسې کرار له کوره ووتم چې د مخامخ منظرې په لیدو مې خوله له حیرت خلاصه پاتې شوه. د کور شاته لوی باغ وو رنګارنګ ونې پکې وه خو باغ یې د هغه بل باغ پشان نه وو کوم چې یو ځل جهان سره تللې وم هغه باغ لکه د کور پشان څهار دیوالې درلودل خو دا باغ مخه خلاصه وه او د لرې څخه نور کورنه ښکاریدل خو بیا هم د باغ ښایست دومره وو چې زه د څو ثانیو لپاره په کتو کې ورته غرقه شوم. د جهان په غږ پر خود راغلم کله چې مې مخ وروګرځو نو هغه په خندا راته وویل: جر دې عکسونه واخله چې د ماذدیګر وخت دې کرار کرار ټول راولاړیږي.

د جهان په خبره مې سر وخوځاوه او داسې حال کې چې موبایل مې راخیسته کرار مې وویل: دا باغ ستاسو دی؟ ما دا دومره وخت کې بیخې نه وو لیدلی.
زما په خبره جهان کرار وخندل او ویې ویل: هو زموږ باغ دی اصل کې باغ ورته نه ویل کیږی ځکه کوم میوه یې موږ نه ټوله وو بلکې زیاتر کلیوال یې میوه ټوله وی یوازی زموږ د کور شاته او زموږ پر ځمکه کې موقعیت لری.

بغیر د نور څه ویلو لګیا شوم په عکس اخیستلو خو ماشومانو ځانونه پر اس نشو نیولې او جهان مجبور وو د لاندی څخه دواړه ونیسې تر څو را ونه غورځیږی دا حال چې مې ولیدې نو جهان ته مې وویل چې پر اس کینه او ماشومان ونیسه هغه هم زما په خبره وکړل او کله چې پر آس سپور شو او د اس واګې په لاسونو کې ونیول بی اختیاره د څو شیبو لپاره ورته ځیر شوم بیحد ښکلې ښکاریده ما هیڅکله جهان پر اس سپور نه و لیدلې زیاتر وخت د آس پر پاکولو او ګرځولو می لیدلی وو خو اوس چې پر اس سپور و سم د پخوا وخت د ادی د قیصو د شهزاده پشان راته ښکاریدو!

ادی به تل راته یوه کیسه کول ویل به یې په پخوا وخت کې یو شهزاده وو چې خپل پاچاهي نه درلود یوازې یو سپین آس او یوه توره یې درلود یوه ورځ یو ښار ته لاړو او هلته خبر شو چې د هغه ښار د پادشاه لور ښامار وړې تر څو ویخوری! نو شهزاده خپل پر سپین آس سپور شو او د پادشاه لور یې د ښامار د خولې څخه بچ کړل او پادشاه ته یې راوړل،پادشاه هم د هغه دلاورۍ خوښه شوه او خپل لور یې هغه ته ورکړل او هغه یې خپل د ځان وروسته پادشاه وټاکو. که څه هم دا کیسې افسانوی او د حقیقت څخه لری ښکارې خو نن جهان سم د هغه کیسو شهزاده ښکاریدو د جهان پر غږ پر خود راغلم چې هغه په شیطنت وویل: هر څه اماده دې هغه زما ټوپک هم راکه چې زه باره ځم جهاد ته.

او خپل د خبری سره پخندا شو خو زه دې خبری ته فکر ویوړم چې پخوا وخت کې دا ښځو څنګه زړه کاوه چې خپل ورونه، پلرونه خاوندان یا هم زامن یې جنګ ته استول؟ هغه هم داسې جنګ چې د مرګ خطر پکې سل سلنه دی؟! یا زه بېحد بې زړه یم یا هغوی زیات قوی زړه درلود، ځکه کله ناکله چې جهان د کار څخه کور ته راځې او لاره کې یو دوه دقې ناوخته کړې زما زاره چوي او یو زر زنګ خو ورپسې وهم چې چیرته یې؟ او ولې دی ناوخته کړه؟ داسې حال کې چی کوم خاص جنګ یا هم نا امنې نشته خو بیا هم زه ورختا کیږم، بیا څنګه پخوا وخت کې ښځو دومره صبر کولې شو؟ څنګه یې خپل خاوندان د مرګ غاړې ته استولې شول؟ دا دومره جرئت هغوی د کومه کاوه؟

د دې فکرونو څخه راووتلم او خپل عکسونه اخیستل مې پیل کړل او ښه وو جنید هم د عکس اخیستلو اخر وخت کې راغلو او د هغه یو څو عکس مې هم واخیسته د هغه وروسته د کور خواته لاړو او زموږ د تګ سره سم د جهان ورینداړګیانې هم راویښ شوی وه او د ماښام دیګ لپاره یې تیارې نیول ماښام همدا چې سرپانو ته یې بوډۍ ورکړل او چای واستول ټول دهلیز کې سره راټول شو او عجیب وه د دې لځایه چې مثلاً سندره یا هم کوم بل شئ روښانه کړې او ورته سیل ونیسې ګل بې

بې دایره راوخیستل او بدلې ویل یې پیل کړل او د زړم ځل لپاره زه د هغوی و دې هنر ته ګوته په غاښ پاتې شوم.

څنګه امکان لری یو انسان تر دې حده حافظه ولری؟! زه چې د رحمان بابا د شعرونو لیونۍ یم یوازی یو شعر مې ورځخه د حفظ څخه زده دې " زه رحمان د رب بنده یم دا مې حال دې، که بنده د بل بنده شي څه بې حال وی؟ " هغه وخت دوي دا دومره بدلې څنګه حفظ کړې؟ هغه هم داسې بدلې چې د بشیر نوم یې هم اخیسته د جهانګیر،جمشید،جهان، ارباب حتا د جنید نوم یې لا خپل په بدلو کې ځای کاوه او یو داسې انداز باندی اخیست چې زه ورته حیرانه وم! ما فکر کاوه شاید یو یا هم دوه ساعت سیل ونیسې خو کله چې خبره د دولس بجو دشپی واوړېدل او دوي لا هم لګیا وه ما دیته فکر کاوه چې ایا دا پاتي پنځه شپی به ټول همداسې سیل نیسې؟ او هو ګل بې بې پاتې پنځه شپي هره شپه او هره شپه همداسې سیل ونیو او دومره یې هغه بدلې وویل او وویل چې حتا زما لا لږ، لږ زده شول البته یوه بدله ورته ووایم که مصری هر څه چې وو خو یو دانه مې ښه زده شوه البته راباندی زده یې کړل ځکه ګل بې بې ویل چې دا زده کړه کله چې ناوی د پلار له کور راباسو نو دا وایو:

د زوم خویندې دایری وهې په زوره
د بشیر ناوکې وړې د پلار له کوره.

د دې پسې نوره غټه پړ،پړه بدله یې هم وویل چې ما یوازی همدا یوه مصری ورځخه زده کړل او بس! یو خوا ماشالله د دوي ژبه سخته وه او له بلخوا داسې الفاظ یې کارول چې زه مجبوره وم هره دقه وپوښتم دا څه معنا؟ او دا څه معنا؟ دومره ډېر مې وویل دا څه معنا؟ او دا څه معنا؟ چې نور شرمیدم چې پوښتنه وکړم د شپې تقریبا یوه بجې شاوخوا وه مدثر او مزمل زما غیږ کې ویده شوی وه خو لا هم دوي لګیا وه او بدلې ویل او ګل بې بې خو د بدلو سره بیخې اتڼ هم کاوه! زه دهغې دومره شوق او انرژی ته حیرانه وم ځان سره مې ویل یعنې د مدثر او مزمل واده ته

به زه دومره خوشحاله اوسیږم؟ همدې فکر کې وم چې د دهلیز دروازه چې موږ ترلې وه تر څو کوم کس رانشي کرار وټکیدل د هغه په ټک ټک دوي دایرې وهل بند کړل چې د هغه خوا څخه د جهان غږ راغلو چې ویې ویل: شپه تېره سوه بس نه دی؟

د هغه په دې خبره ټولو په شیطنت وخندل او ګل بي بې په همغه شیطنت وویل: که مطلب دی خپل شزی ته وی نو زړه دې بیغمه ونیسه لیور جان! نن شپه دې شزه زموږ سره امانت ده ته ورځه بیغم بیده سه.

د ګل بي بې په دی خبره ما د شرم څخه خپل شونډه وچیچل او د جهان غږ هم رانغلو لکه چې هغه هم د ګل بي بې په دی خبره شرمیدلې وو، زموږ په خاموش کیدو ګل بي بې بیا شیطنت پیل کړو او جهان ته یې همدا یوه خبره کول چې نن دې شزه نشته او لاړ شه یوازی ویده شه د هغې په دی خبرو زه ګز، ګز دځمکې لاندی کیدم خو دوي خندل چې ناساپه دا ځل د ارباب دروند غږ پورته شو د هغه په غږ یو دم خاموشي شوه خپره شوه او د ټولو د څهرو څخه ویره له ورایه ښکاریده د هغوی د دی حال په لیدو ماته خندا راغلل نه پوهیږم ولې خو د هغه زردالو د کیسی د اوریدلو وروسته د ارباب څخه مې ویره کمه شوی وه او د پخوا پشان ورڅخه نه ډاریدم د ارباب په بیا ځل غږ چې ویل یې نور یې بس کړی او ویده شې د جمشید ښځې په تلوار دروازه خلاصه کړه او لومړۍ هغه لاړه!

د هغی د تلو سره سم دا نور هم په ځغاستو شول او د سترګو په رپ کې دهلیز خالي شو او یوازی زه پاتې شوم! زما غیږ کې ماشومان ویده وه نو ځکه نشوم پاځیدلي اراده مې وه چې جهان ته غږ کړم چې راشی خو زما د غږ کولو مخکې هغه رانوت، کله چې ماشومان یې ویده زما غیږ کې ولیدل نو ښکته شو او دواړه یې زما د غیږی څخه واخیستل، تازه مې خپل پښې د څو ساعتو کښیناستلو وروسته خوځولې شول د زیات یو ځای کښیناستلو څخه په درد راغلې وه جهان چې د دهلیز څخه د وتلو حال کې وو زما په لیدو لږ تم شو او ویې ویل: شه یې؟ ولې دی کوچنیان پر ځمکه نه بیده کول چې اوس دې پښی درد کوی؟

- بالښت نه وو زړه مې نشو پر فرش يې ويده کړم.
زما په خبره جهان خپل سر وخوځاوه او ويې ويل: اوس راتلې سی؟
- هو هو ته ورځه زه درپسی يم.
زما په خبره جهان د پورته منزل خواته روان شو او زه هم ورپسی شوم که څه هم پښې مې ويده شوی وه او درد يې کاوه خو يو رقم مې ځان تر پورته منزل ورسه وو جهان ماشومان په غيږ کې د کوټی منځ کې ولاړ وو، د هغه په ليدو په تلوار لاړم او د ماشومانو لپاره مې ځای واچوه جهان چې ترڅو ماشومان ځای پر ځای کول ما هم د هغوی څنګ ته د ځان لپاره ځای واچو او څمليدم، بيحد ستړی وم او خوب مې هم بيحد زيات راتلو جهان ته چې د ماشومانو څنګ ته ناست وو او د هغوي په ويښتيانو کې لاس واهه ومې کتل او کرار مې وويل: ښه وو چې راغلې که يو دقه نور نه وايی راغلې زه خو هملته خوب وړم.

زما په خبره جهان د ماشومانو څخه نظر واخيست او داسې حال کې چې ماته يې کتل په خندا يې وويل: پوهيدم چې تا ته خوب درغلې ځکه درپسې درغلم.
- هوم مننه چې راغلې کنه هغوي تر سهار اراده وه ويښ کينې.
زما په خبره جهان په خندا شو بيا يې کرار د ماشومانو تندی ښکل کړو او راپاڅيد داسې حال کې چې خپل پټو او واسکټ يې د ځان څخه لرې کول کرار يې وويل: زموږ کور کې ژر، ژر کوزدې او ودونه نه کيږی بلکې په يو وار ته وا لکه فصل چې وی يو کال کې يو يا هم دوه کوزدی وسی بيا تر پنځه شپږ کالو کم واده ماده نسته، دې کال هم د جمشيد واده وسو او اوس بيا ورپسی د بشير! بيا خدای خبر شايد اته نهه کال بعد د جنيد پر کوزدی او واده دسې سيل او صحبت اوسيژی، نو ځکه دوي داسې ارمانجن دي ودونو ته.

داسې حال کې چې د زيات خوب راتلو څخه زنګيدم او سترګې مې پټې،پټې کيدل د جهان د خبرو ځواب کې مې د شونډو لاندی کرار اهوم وويل خو د دې فکر څخه چې جنيد ته به داسې واده نيسو او هغه به لخيره ځوان کيږی او واده به کوی نرۍ مسکا مې پر شونډو راغله جنيد ما ته داسی وو لکه مدثر او مزمل! بيخې مې فکر نه کاوه

چې هغه دې زما زوی نه وی، فکر مې کاوه هغه زما خپل اولاد دې نه د بل چا! جهان زما شاته په هواری کرېږ نالې څمليدو او داسې حال کې چې زه يې خپل غيږی کې نيولم کرار يې وويل: پلار دې زنګ وهلې وو سلامونه يې ويل، مور دې غوښتل درسره خبرې وکي خو ما ويل بيکاره نه يې او سبا به خبری وکی.

-اهوم عليک سلام ښه دې وکړل هغه حال کې خبری هم نه کيدل ښه وه؟
جهان- وه شکر شه وه يوازی ورخطا سوی وه ويل يې دا ولې خپل موبايل ته جواب نه ورکوی؟
داسې حال کې چې خپل مخ مې د جهان خواته ګرځوه او ځان مې لا زيات د هغه غيږ کې ځای کاوه کرار مې وويل: ستاسو کور يو کونج کې انتن کار کوې خو بل کې بيخې سيمکارټ بند کيږی نو ځکه زنګ نه دی راغلې.

د جهان سينه زما د سر لاندې کراره وخوځيده، چې زه پوهه شوم چې هغه وخندل بيا د هغه غږ چې کرار يې وويل: کلي دې نازولې څه شار خو نه دی چې هر چيرې دې موبايل کار وکې!
- اهوم دا هم ستاسو د کلې برکت.
زما په خبره جهان بيا کرار وخندل او ويې ويل: انسان د يو شې يوازی کم و کاستی او خراب شيانو ته نه ګوری، بلکې د هغه نور شه اړخونو ته هم ګوری.
پوهيدم چې جهان بيحد خپل په کلې او ځای حساس دی او که څه هم بيحد خوب مې راتلو خو بيا هم په شيطنت مې وويل: هغه وخت کوم اړخ د کلې ښه دی؟ چې ما فکر نه دې شوي ورته؟

جهان- امممم مثلاً دا چې هوا يې پاکه او تازه ده او د شار رقم درې منه د دود مرداره هوا نسته، بل دا چې د شار رقم شور ما شور او بد حال نسته کراری ده، او هو د ټولو څخه مهم دا چې کورونه يې غټ، غټ او د يو بل څخه په فاصله کې دی د شار کورنه دی ورک سې سړی خپل د کور حويلۍ کې بيغم نسې ګرځيدلې شاوخوا کورنه دی او هر کور د بل کور خوا ته کړکۍ خلاصه کړی او دونې شعور لا پکې نسته چې

شاید مقابل کور کې یو سیاسره کالې پریوی یا کم بل کار به کوی او نه باید د بام په سر پورته سو. د شار خلک په دی خبرو بیخې سر نه خلاصیژی.

د جهان په دی خبره نور مې موضوع کش نکړل او خاموش شوم، د هغه د خبرو اخری اشاره چې ویې ویل"دونې شعور لا پکې نسته چې شاید مقابل کور کې یو سیاسره کالې پریوی یا کم بل کار به کوی او نه باید د بام په سر پورته سو. د شار خلک په دی خبرو بیخې سر نه خلاصیژی" د هغه اشاره زمونږ همسایه ته و، په ښار کې زمونږ د کور څنګ ته یو بل کور دې د فارسیبانانو او هغوی یو زوی لرې که څه هم زما له نظر ماشوم معلومیده ځکه د ۱۶/۱۵ کالو شاید وی. خو د جهان له نظر ماشوم نه وو، هغه هلک به تل د بام پر سر په ناقه بهانه پورته کیدلو او زمونږ د کور خواته یې کتل!

زیاتر هم هغه وخت پورته کیدو چې ما به کالې مینځل یا هم کوم بل کار به مې کاوه، یوه ورځ د جهان فکر ورته وشو او سم یې سپک کړو، البته د جهان خبری زیات د ګواښ وه نه د کنځلو خو دومره ګټه یې وکړل چې د هغه ورځې وروسته ما هلک نور د بام پر سر ونه لیدو!

***

د سهار اوه بجو شاوخوا وه خو کور کې یو بد حال او شور ماشور و چې حد یې نه درلود، په ټولو کې هم د ګل بې بې اواز او شور ما شور زیات وو، چې یو ځل به یې د دابرې خواته منډه وهل او بیا به یې د ناوی طلا راخیست، او څو ثاني به لا نه وه تیرې شوی چې یو بل شې به یې پیاد شو او د هغه پسې به په منډه شوه، ما د هغې دی کارونو ته په حیرت کتل او بیا به مې د ځان سره ویل یعنې زه به هم خپل د زامنو واده کې داسې ورخطا اوسیږم؟ او د هر کار پسی به لاس اچوم؟ سرېان خو سهار وختي تللې وه تر څو د ناوی په کور کې د واده لپاره تیاری ونیسې، دوي رسم

درلود چې واده به یې د جنۍ په کور نیو او هملته به یې ټولو ته ډوډۍ ورکول او د هغه وروسته به یې ناوې راوستل.

د جهان نور ویندارګیانې خو یو ساعت مخکې د جمشید سره تللې وه کور کې اوس یوازې زه،ګل بې بې او د جهان مور پاتې وو! پر ما خو څکه ناوخته شول څکه چې د دې څو شپو بې خوبې هلاکه کړې وم او ویده پاتې شوی وم! اوس هم د بې خوبې له لاسه څنګیدم، او ګل بې بې خو تکلیف یې معلوم وو د لیونیانو پشان به د کور تر دروازې تلل خو موټر ته د پورته کیدلو مخکې به یو شئ په یاد شو او بیا به ژر راښکته شول، د جهان بیچاره مور هم زموږ دوارو له لاسه پاتې وه، تقریبا نیم ساعت تېر شوی وو چې جهان زنګ وواهه او ویې ویل: ژر راشې زه د دروازې مخکې ولاړ یم.

د جهان په زنګ ګل بې بې ته مې وویل ژر کاوه چې موټر ولاړ دې، او بیا بغیر له دې چې د هغې ځواب ته په تمه اوسیږم د حویلې د دروازې خواته روانه شوم، یو خوا زما خپله خوب راتلو او حوصله مې خرابه وه له بلخوا ماشومان هم دا څو شپې نارمه وه او ژړل یې بیخې نو حالت مې خراب وو، د کور څخه چې ووتلم نظر مې د جهان په موټر ولګیده او د هغه سره سم په ارباب چې د جهان څنګ ته په موټر کې ناست وو! هغه سهار وخت تللې وو نه پوهیږم بیا د څه لپاره راغلې و چې اوس د جهان موټر کې وو؟ په هر حال زیات مې دې موضوع ته توجه ونکړل د واده ورځ ده د انسان زر کار یاد ته راځې بغیر د څه ویلو د موټر شاته سیټ کې کښیناستلم او ماشومان مې هم خپل غیږ کې کینول.

څکه د جهان مور او ګل بې بې هم راتلل نو ماشومانو ته یوازې سیټ نه رسیدو څکه دومره ځای نه و، زما په کښیناستلو د ارباب غږ پورته شو چې ویې ویل: دا نور نو چیری دی؟
د هغه مطلب د جهان مور او ګل بې بې ته و نو څکه کرار مې وویل: اوس به راشې ګل بې بې د ناوې طلاوې لیاده وتې وو هغه یې راخیست.

زما په خبرې ارباب کرار خپل سر وخوځاوه او ویې ویل: توبه دې وی ستوی شزو د کارونو څخه، اوس خو څه فرض نه وه چې حتماً باید طلاوی راوخلې، ناوی خو څه نه تشتېدل خو اخر دغه کور ته راتلل بیا به یې همدلته ورکړی وایې.

غوښتل مې ورته و وایم چې د طلاو پیری ستا ښځه لرې او هغه هر دقه طلا،طلا وایې خو البته دومره جرئت مې نه درلود چې دا خبری وکړم نو خاموش کښېناستم او ماشومان مې غیږ کې ونیول یو خوا د ګل بې بې له لاسه مې هغه درنه بخمل کوچیانۍ کالي اچولې وه له بلخوا ګرمې وه او د هغه څخه لا بتر دا چې موټر کې ناسته وم فکر مې کاوه نفس نشم اخیستې، چې همغه شیبه کې زما د خوا د موټر ښیښه ښکته شوه د هغه په ښکته کیدو ژر مې نظر د جهان خواته لاړو چې د هغه نظر مې هنداره کې پر ځان ولید خو ډېر ژر یې بیرته نظر واخیست د هغه د داسې توجه څخه نرۍ مسکا مې پر شونډو خپره شوه، څومره ښه احساس لرې دا چې د یو چا فکر درته وې او بغیر د څه ویلو ستا احساس درک کړې شې.

څو شیبې وروسته د جهان مور او ګل بې بې د کور راووت او په موټر کې کښېناستل خو د دې څخه مخکې چې جهان موټر روښانه کړې ګل بې بې په تلوار وویل: وې لیاده مې ووتل چې د ناوی شال رواخلم!

او خپل د خبری سره سم د موټر څخه ښکته شوه او د کور خواته په منډه شوه، د هغې په تلو د ارباب غوسه ناک غږ د اعتراض پورته شو خو د جهان مور په یو خاص انداز چې لومړۍ ځل وو ما ورڅخه لیدو ارباب یې کرار کړو! واقعا چې با سیاست ښځه وه داسې په نرمه لهجه یې د ارباب سره خبری وکړل چې زه لا ورته تسلیمه شوم ارباب خو لرې! زما په خلاصه خوله د حیرت څخه د جهان نظر مې د موټر هینداره کې ولید چې خندل یې، زه لا همغه حیرت کې وم چې ګل بې بې بیرته راغله او همدا چې هغه کښېناسته جهان موټر ته حرکت ورکړو شاید هغه هم پوهیده که یو بل دقه حرکت ونکړی د وریندارۍ یو بل شئ هم پیاد کیږی او بیا ځې. موټر چې

حرکت وکړو یو څه یخ شمال زما پر مخ ولګیدو او د هغه خوب او نفس تنګ حالت څخه راوتم.

ښکلې باغونه او شنه فضا د موټر د مخ څخه یو د بل پسې تیریدل او کله ناکله هم د میږو رمه چې چوپان به پر مخه کړې وه تر سترګو کیدل موټر د همداسی یو رمې د مخ څخه تیر شو چې د میږو په لیدو مزمل او مدثر په خوشحالې ځان د موټر د ښیښی خواته کش کړو، ما هم اجازه ورکړل چې د بیرون فضا وګوری خو عین حال کې کلک مې هم نیولې وه چې خدای نکرده کوم موټر زموږ د څنګ څخه تیر نشې یا هم ماشومان د هینداری څخه ځان لاندی ختا نکړی مزمل داسې حال کې چې بیرون د میږو د رمې پسی سترګي اړول په خوشحالې ماته غږ کړل: امې
د مزمل په هغه خوږه لهجه چې ویې ویل امې بې اختیاره مې ورته وویل: جانې امې!

هغوي کوم خاص ټکې زما د غږ کولو لپاره نه درلود کله یې امې ویل کله یې مامې ویل او کله ناکله یې ماما ویل خو خلاصه حتما یو د "م" لفظ یې پکې استعمال کاوه تر څو زه پوهه شم ماته غږ کوې. مزمل د میږو رمې ته چې زموږ څخه شاته پاتې شوه لاس ونیو او خپل په هغه خوږه او ماشومانه لهجه یې وویل: تو تو.

دا څو وختو کې دومره پوهه شوی وم چې د دوي دواړو پر لهجه" تو تو" مطلب غوا،میږه، بزه، کفتره او حتا ماهې! د دوي له نظره دا ټول "تو تو"وه ما هم د هغه پشان په خوشحاله لهجه ورته وویل: هو تو تو دی لاړل چې ممم وخوری.(دوي بوډۍ ته مم ویل نو ما هم کوښښ وکړو د دوي پر ژبه ورسره خبری وکړم، زما په خبره مزمل په همغه خوږ انداز خپل لاس خولې ته ویوړ او ویې ویل: مم اپ اپ. (مطلب بوډۍ داسې خوری؟ د هغه حرکات دومره خواږه وه چې بې اختیاره مې پر تندی ښکل کړو او ورته مې وویل: هو لاړل چې مم اپ کړې تر څو غټ سې او بو دوي ونخوړلې سې

( دا "بو" جونید و دوي ته زده کړې وو، کله ناکله چې شیطنت به یې کاوه یا به یعذاب کول به یې کول نو جونید به د دوي د وېرولو لپاره ویل چې ویده شې کنه "بو" راځې مطلب بلا راځې ما هم غوښتل دوي پوهه کړم چې باید ډوډۍ وخوری او قوی شې کنه "بو" یې خوری! شاید عجیب وه خو هغوي دوارو زما مطلب واخیست او ناڅاپه مدثر زما د خبری په جواب کې په همغه ماشومانه لهجه وویل: نې بابا بو نې بابا..

د هغه اشاری او د خبری و مطلب ته زما خوله د حیرت خلاصه پاتې شوه! هغه ما ته په اشاره ویل چې نه بلا مورِ نخوری بابا زمورِ سره دی! زه لا د مدثر د خبری او کار په حیرت کې وم چې مزمل وویل: بابا بو دوب دوب..( بابا بلا ډب ډب وهې) د مزمل په دی خبره او د هغه په کار چې خپل کوچنې لاسونه یې د بوکس پشان پورته ښکته کول! زما خو خوله د حیرت څخه ورته خلاصه پاتې وه، باور مې نه راتلو چې دوي دواړه دې تر دې حد خپل پر پلار سر خلاص شې! او پوهیدل خو لری چې حتا هغه ته د امن او یو حمایت کونکي په نظر وګوری او پوهه شې چې هغه نه پریږدی دوي ته کوم ضرر ورسیږی!

یعنې باور مې بیخې نه راتلو چې دا دومره واړه ماشومان دې تر دی حده فکر او ذکاوت ولری خو کوښښ مې وکړو تر څو ځان راجمع کړم او ومې ویل: اهوم بابا نه پریږدی بو تاسو وخوری.

او د دې خبری سره سم مې نظر د موټر د مخکې هینداری خواته واړو او نظر مې د جهان پر سترګو ولیدو چې له خوشحالې څخه ځلیده او پر شونډو یې مسکا خپره وه، دا دومره وخت کې چې ما د ماشومانو سره خبری کول بیخې مې فکر نه وو چې موټر کې ټول خاموش دی او زمورِ خبرو ته یې غورِ نیولې، زما او د ماشومانو پر خاموش کیدو ارباب کرار وویل: ناوی!(ارباب د دومره وخت وروسته هم ماته ناوی ویل، یا هم کله ناکله یې لوری ویل دهغه پر غږ ما وروکتل چې هغه هم خپل تکیه لږ د څوکۍ څخه واخیست او داسې حال کې چې لږ د شاته خواته یې کتل ویې ویل:

په واده کې دا رقم غوږ مجلس خپل د کوچنیانو سره راونخلې! د خلکو سترګي وژی دې نظر کوې مو.

د هغه په خبره ما خپل شونډه د شرم څخه وچیچل چې ارباب دا ځل د جهان مور ته وویل: ته ورباندی پکر نیسه هر چاته کوچنیان مه ورکوه او دونې هم پورته شته کوی مه چې د ټولو نظر د دوي خواته سې.

د ارباب خبره د جهان مور د سر په خوځولو تایید کړل چې دا ځل ارباب کامل نظر زما او د ماشومانو خواته کړو او بیا په تروش تندی او نارضه لهجه یې وویل: یو بل شئ به دې وربانډې اغوستې وایې دواړو ته دې یو رقم کالې اغوندلې سړی ورڅخه نظر نسې اخیستې، خدای دی دا واده پخیر تیر کې.

د ارباب دا رقم نارضه لهجې او تشویش ته مې خندا راتلل، د هغه خبرو ما ته د ادی خبری رایادول هغې هم کله ناکله داسې خبری کول او تل به یې راته ویل چې پر دواړو یو رنګ جامې مه اچوه خو زما خوښیدل چې دواړو ته یو رقم جوړه کالې واچوم، واده ته تر رسیدلو نور کومه خبره مو ونکړل او په کرار فضا کې ورسیدو که څه هم واده ته روان وو خو جهان نه کوم ساز موټر کې روښانه کړې وو او نه هم کوم بل شې! او ما هم ورته څه نشو ویلې ځکه ارباب موټر کې ناست و، د نیم ساعت وروسته د جهان د کاکا د کور مخکې موټر و دریډ او بیحد شور ما شور او بد حال وو جهان په تلوار زموږ خواته مخ کړو او ویې ویل: خپل حجاب سم کړې په هغه دروازی ډاریک د شزو مجلس ته ننوځې.

موږ هم د هغه په خبره وکړل او خپل ټیکری او حجابونه مو لږ پر ځانو سم کړل د موټر په دریدو ارباب د سړیانو خواته لاړو او د جهان مور و ګل بې بې هم بغیر له دې چې یو دقه ما ته صبر وکړې د هغه دروازی خواته چې جهان ښودلې وه لاړل! زه یوازی موټر کې پاتې شوم چې جهان راښکته شو او زما د خوا د موټر دروازه یې خلاصه کړه ماشومان یې زما د غیږ څخه واخیست او تر هغه دروازې چې ده ویلې وه د ښځو مجلس دی زما سره راغې، د دروازی مخکې ودریدم تر څو د جهان د

غیږی ځخه ماشومان واخلم همغه حال کې مې خپل ټیکری هم کلک نیولې وو ځکه کوځه د سړیانو ځخه ډکه وه جهان کامل زما و مخ ته ودرید تر ځو د سړیانو نظر پر ما ونه لګیږی

او بیا داسې حال کې چې مدثر او مزمل یې زما غیږ ته راکول په شیطانه لهجه یې کرار وویل: بابا خپل د ملسیانو غم اخیستې چې څوک یې نظر نه کې! خو دا نه وایې چې مژور یې خدای مکره څوک نظر نه کې.

د جهان په دی خبره د شرم ځخه تکه سره شوم چې هغه مردانه وخندل او بغیر له دې چې نور کوم شیطنت وکړی ماشومان یې زما غیږ ته راکړل او د تلو اشاره یې راته وکړل ما هم په تلوار ماشومان واخیستل او کور ته ننوتلم زړه مې بې واره درزیدو لا مخ مې د جهان د خبرو لا امله سور و او ساه مې بنده بنده اخیستل چې د ګلناز د غږ په اوریدو په تلوار مې د هغې خواته وکتل! ګلناز داسې حال کې چې د خوشحالې او خندا ځخه یې خوله خلاصه نیولې وه زما خواته راغلل او دا لومړی ځل وو چې ما هغه داسې مهربانې او خوشحاله ولیده، ما ته په نږدی راتلو زه یې غیږ کې ونیولم او مخ یې راځخه ښکل کړو.

زما ځخه وروسته مزمل او مدثر مخونه یې هم ښکل کړل او مدثر یې راځخه واخیست داسې حال کې چې د مدثر پر سر یې لاس تیره وو زه یې د حویلې له مینځ ځخه چې د ښځو ځخه ډک و د کوټو خواته رهنمایی کړم او همغه حال کې زما د کورنۍ او نور عادی پوښتنې هم وکړل چې ما هم ورته کرار کرار ځوابونه ورکول، کوټې هم د ښځو ځخه ډک ښکاریدل ګلناز زه د یوې کوټې خواته ویوړم کوم کې چې د جهان مور او وریندارګیانې وه البته یو څه نور بیګانه ښځې هم وه خو همدا چې د جهان مور او وریندارګیانې هلته وه ما د امنیت احساس کاوه ژر مې ځان تر هغوې ورسره وو او دجهان د مور څنګ ته کښیناستلم هغې هم ناځوانې ونکړل او زما د کښیناستلو سره سم داسې حال کې چې مزمل او مدثر یې زما د غیږی ځخه اخیست زه یې مجبوره کړم تر ځو په کوټه کې د موجود ټولو ښځو سره روغبړ وکړم!

او بدتر لا دا چې ټول ښځې سپین سری وه او زه مجبوره شوم یو شل لاس خو ښکل کړم! او هغوی هم زما مخ دومره ښکل کړو چې فکر مې کاوه اریش مې خانه خراب شو! د روغبړ وروسته غوښتل مې بیرته خپل ځای کې کښینم او یو هوسا ساه واخلم خو ګلناز راته ولاړه وه تر څو حجاب مې وباسم ما هم ژر حجاب وباسو تر څو لږ خو نفس مې خلاص شي خو لا مې یو راحت ساه نه وه اخیستې چې د جهان د کاکا مشره ښځه مې ولیدل! دا ما څو کاله مخکې کله چې د لومړۍ ځل لپاره یې موږ ته میلمستیا کړې وه د دوي پر قول د پښې خلاصول هلته مې لیدلې وه! بیحد بل بډول ښځه وه! نه وایم چې بده ښځه وه خو بل بډول وه داسې چې انسان ورڅخه ډاریده.

د مجبوری څخه بیا لځایه پاسیدم او د هغې سره مې هم سترې مشی وکړه او د هغه وروسته کښیناستم مدثر او مزمل مې دواړه غیږ کې ونیول او تازه هلته د ارباب د خبری پر مطلب پوهه شوم! په کوټه کې موجود ټولو ښځو دوه سترګي زما او د ماشومانو خواته نیولې وه! حتا د کوټې څخه دباندی لا یو څو ښځو د کړکۍ څخه زموږ خواته راکتل او د هغوي کرار غږ مې اوریده چې یو د بل غوږونو کې په پسپسک ویل"دا د جهان خان شزه ده!" هغه یې دوه دانې جملې زامن دی" او دې منځ کې نور عجیب غریب خبری مې هم اوریدل چې ویل یې" خرابکه سونې شایسته ده په دغه شایست یې جهان خان لیونې کړی وو" عجب بخت لرې ته یې و طلاو ته وګوره" خود نو د کم چا شزه خو نه ده دا طلا وانچوی نو څوک به یې واچوی؟" ته یې زامنو ته وګوره څونی چاغ چاغ دی"

د هغوي د خبرو د اوریدلو څخه زما خوله خلاصه پاتې وه نه پوهیدم څه ووایم؟ یا څه وکړم؟ د جهان د مشر کاکا د ښځې پر غږ نظر مې د هغې خواته واړو.

د جهان د کاکا ښځه- ته راکه دا پهلوانان ماته.

د هغې اشاره زما غیږ کې مدثر او مزمل ته وو! هیڅ مې زړه نه غوښت ماشومان دې هغې ته ورکړم، شاید زما فکر غلط وو خو د هغې نظر یو رقم حسرتمند او ارمانجن وو! شاید فکر یې کاوه ما د هغې د لور ځای نیولې؟ او زما لځایه دا ماشومان او دا

ژوند باید د دې د لور وایې! (دا د جهان د لومړۍ ښځې مور وه) او دې فکرونو زړه ناکراره کاوه د ماشومانو په ورکولو کې زړه نا زړه وم چې د جهان مور راته کرار وویل:ماشومان ورکړه!

د هغې په خبره شاوخوا مې وکتل او فکر مې شو چې ټولو زموږ خواته توجه ده نو د مجبورۍ څخه مې مزمل او مدثر د هغې خواته ټیله کړل هغوي هم لکه چې زما احساس درک کړې وو څکه نه تلل او ماته یې راکتل خو ډېر ژر لا پر لاس شول او د جهان د کاکا تر ښځې ورسیدل البته دې منځ کې تر څو چې د جهان د کاکا ښځې ته رسیدل دا نور ښځو هم ښکل کړل او غومبرې ورڅخه کش کړل چې ما په مشکل ځان کنټرول کړو چې ماشومان ورڅخه راکش نکړم، شاید د هغوي نیت ښه وو خو ماته داسې ښکاریدل چې د ټولو نظر عجیب دی او نغواړی دا ژوند او ماشومان دې زما اوسیږی!

د جهان د کاکا ښځې په همغه عجیب انداز ماشومانو ته وکتل بیا یې ښکل کړل د هغې په ښکل کولو دواړه په ژړا شول چې ما خپل کنترول له لاسه ورکړو او په یو جست لځایه پاسیدم او دواړه مې غیږ کې راوخیستل داسې حال کې چې د هغوې د کرارولو کوښښ می کاوه یو دروغجن مسکا مې وکړه او د هغه ټول نظرونو په وړاندې چې په حیرت یې زما خوا ته راکتل ومې ویل: نن سم نه دی ویده شوی څکه لږ بد خلق دی.

زما د خبرې ادامه ژر د جهان مور ونیول او ګلناز ته یې وویل: لورې خپل ورینداره یو بلې کوټې ته ویسه تر څو هم کوچنیانو ته شیدی ورکړی او هم یې بیده کړی.

د هغې په خبره ګلناز سر د سمده په توګه وخوځاوه او روانه شوه زه هم ژر دهغې پسې شوم تر څو د دی دومره خلکو د نظرونو څخه پناه شم، زموږ د وتلو سره سم د ګل بې بې غږ مې واوریده چې ویې ویل: وا توی(تاسو) ولې دغی ناست یاست؟ راکې هغه زما دایره.

او د هغې د دې خبرې سره سم د دایرې غږ او د انجونو د چک چکو غږونه یوځای پورته شول، د ګلناز پسې یوې کوټې ته ننوتلم داسې ښکاریدل لکه چې د دې خپل کوټه اوسیږي! ګلناز غوښتل زانګو راوخلې خو ما ورته وویل چې ماشومان د زانګو سره عادت نه دي او همداسې زما غیږه کې ویده کیږي هغې هم نور څه ونه ویل او له کوټې ووت د هغې په تلو ماشومانو ته مې شیدې ورکړل او همغه حال کې د شاوخوا په کتو شوم ښه پراخه کوټه وه په سور زنګ قالین او توشکو پوښل شوې وه دا څو وختو کې دومره پوهه شوی وم چې د دوي سور رنګ قالین او سور رنګ نالې او داسې زینتې شیان خوښیږي.

د دوي په نظر سور رنګ بیحد ښکلې دی! زما د کوټې شیان هم چې جهان دوي اخیستې وه سره وه. سره قالین سره توشکي او حتا سرې پردې! په همدې فکرونو کې وم چې د کوټې دروازه خلاصه شوه او روقیه د تل پشان مسکا پر خوله په ورین تندی رانوتل زما په لیدو یې خپل وریځه په شیطنت پورته واچول او ویې ویل: اوه اوه دا کالې څونی شه خوند کوی درسره.

خپل کالو ته مې وکتل او کرار مې وویل: د ګل بې بې فرمایش و نو ځکه مجبور وامې چول.
روقیه: ډیر شایسته معلومیژی، اله جر کوه کوچنیانو ته شیدې ورکه یو خو مو ناوخته کړل او اوس چې بیا راغلې یاست کرار پراته یاست شابه جر کوه کوچنیان بیده کړه چې غواړو اتڼ وکړو.
د روقیه په خبره مې کرار سر وخوځاوه او په تشویش مې وویل: ما ستاسو پشان اتڼ او رقص نه زده هسې نه ستاسو رقص خراب کړم؟!
زما په خبره روقیه په خندا شول او ویې ویل: کله ناکله شک کوم چې ته مو د کابل څخه راو داه کړې اوسیژی؟ پکر کوم ته مو د کوم کلې څخه راواده کړې یې؟!

د روقیه په خبره مې سر خلاص نشو نو ځکه مې په ګنګس انداز وپوښتل: څه؟ پوهه نشوم؟

روقیه: ښنګه ووایم اممم ګوره موږ ټل اوریدلي چې د ښار انجونۍ داسې دی او هغسې دی خو ته بیخې زیاته ساده یې، تا کابل کې وخت نه دی تیر کړی؟
په همغه ګنګس انداز مې وویل: زه هملته پیدا شوی یم او هملته لویه شوی یم.
روقیه- نو بیا ولې داسې یې؟
- ښنګه یم؟
روقیه- داسې ساده! نه په رقص پوهیږې نه دی ارایش سم زده او نه هم نور شیان تا ښار کې دا شیان نه دی لیدلی یا زده کړی؟

د هغوي دی ډول فکر ته حیرانه وم،نه پوهیږم دا کابل دوي ته کوم خارج ښکاریده که ښنګه چې هر چا همدا یوه خبره کول" وی دا ښهری جنۍ ده؟" ډېر مې زړه غوښته پوهه شم دا کابل دوی ته دقیقا ښنګه ښکاری؟ او د دوي له نظر دا ښهر ښنګه وو؟
داسې حال کې چې مزمل مې خپل سینې ته نږدې کاوه په کراره مې وویل: ما د دې شیانو سره کوم علاقه نه وه ټل مې سر په کتابونو کې وو، د کور څخه پوهنتون او د پوهنتون څخه کور، هلته دومره خپلوان هم نلرو چې لاړه شم او دا شیان ورڅخه زده کړم یو د خاله کور مې دی چې کال تر بله کار اختر کې دهغوي کور ته ځم او بس.

روقیه په خلاصه خوله زما خبرو ته غوږ نیولې وو کله چې زما خبری خلاصي شوی هغې غوښتل کوم څه ووایې خو د هغې د څه ویلو مخکې غوښتل د کوټې دروازه خلاصه شوه او ګلناز راننوت زما په لیدو یې په کراره وویل: دلته څوک نسته چې ناوی سینګار کړې ما ویل که ته یې لږ جوړه کړې نو ښه به وې.
زما د څه ویلو مخکې روقیه په خندا وویل: کیسه خلاصه سوه او ته اوس وایې چې ملانصرالدین نر وو که ښزه؟(دا یو رقم کنایه یا هم تکیه کلام دې او هغه وخت کارول کیږی چې یو نفر یو داسې پوښتنه وکړی چې ځواب یې د وخت معلوم ویې)
د روقیه په خیره ګلناز په حیرت او ګنګس انداز وویل: ته چښې وایې؟
روقیه- زه دا وایم چې دې(روقیه خپل په دواړو لاسونو ماته اشاره وکړل) خپل ځانته لا ارایش نه دی کړی او نه یې زده هغه وخت ته وایې راسه ناوی ارایش که؟

د روقيه په خبره ګلناز زما خواته په ځير نظر وکتل او ويې ويل: وګوره ځانته يې سونی شايسته آرايش کړی همدغه رقم دې ناوی ته هم وکړې.

د ګلناز په خبره ما په حيرت د روقيه خواته وکتل، ما آرايش دومره نه وو کړی يوازې لږ سفيده مې وهلې وه او يو صاف ګلابي رنګ لب سيرين او لږ مې هم رانجه وهلې وه او بس! غوښتل مې انکار وکړم خو زما د څه ويلو مخکې ګل بې بې کوټې ت راغلل او هغې هم د ګلناز خبره تکرار کړل، که څه هم ما دومره ماهرانه ارايش کول نه وه زده خو بد راته ښکاريدل چې وغواړم د دوي دواړو درخواست رد کړم ځان سره مې ويل که "نه" ووايم دوي به غلط ګمان وکړی نو ځکه له مجبوری څخه مې ورته "هو" کړل.

همدا چې ماشومان ته مې شيدې ورکړل نو ويده شول، ما هم روقيه د هغوي څنګ ته کينول او خپل د ګل بی بی او ګلناز سره د هغه کوټې خوا ته روانه شوم کوم کې چې ناوی وه! کوټې ته چې ننوتلم نو کوټه ډکه وه د انجونو څخه ټول هم د ناوی د عمه، خاله، ماما او ځو دانې خورګانۍ وه يوه شيبه مې ارمان وکړو چې ای کاش ما هم داسې خپلوان درلود! خو ډېر ژر مې خپل د خاله لورګانې د سترګو وړاندې راغلل او خپل خبره مې بيرته واخيسته. ما د خپلوانو څخه چندان ښه شانس نه درلود يوه خاله مې درلود چې لورګانې د زردانو دښمنانو څخه لا بتره وه، ګل بې بې ته مې کرار وويل چې کوټه لږ خالې کړی.

بيحد بد حال او شورما شور وو زما په خبره ګل بی بی په يوه دقه کې کوټه خالې کړه او يوازی د ناوی يوه خور، ګل بی بی،ګلناز او زه کوټه کې پاتی شو، د هغه انجونو د وتلو وروسته تازه مې ناوی وليدل چې د کوټې کونج کې کراره ناسته وه او بايد ووايم چې خوشحاله وه! يعنی زما پشان نه وه چې د واده په ورځ مې زړه نه غوښت ارايش وکړم او هی هی مې ژړل د دې خوله له خندا نه بنديده! د زړه له خلاصه مې ورته دعا وکړل چې خدای دی تل همداسی خوشحاله لری،د يو جنۍ لپاره يوازی همدا خاوند دی که د هغه سره خوشحاله وی خو ژوند به يې يوڅه ښه وی او

که د هغه سره یې زړه نه وی نو بیا ټول ژوند یی خراب دی، نه یې بیا پلار په کوم درد راځې نه مور، نه ورور او نه هم کوم بل څوک.

که څه هم زما له نظر بیحد کوچني ښکاریده خو دوي ویل دا د شل کالو ده! خو له قواری د شپاړلس یا هم زیات د اتلس کالو ښکاریده ناوی ما دوه ځل لیدلی وه هغه هم سم صحیح نه یو ځل د روقیه په واده کی او یو ځل هم کوم وخت چې مورِ ته یې میلمستیا کړی وه دا هم دریم ځل وو چې ما لیدل او د هغه خندان څهری څخه راته خوش اخلاق ښکاریده. سترې مشی مې ورسره وکړل او مخامخ ورته کښیناستم تر څو ارایش یې کړم، ګلناز راته د ارایش وسایل راوړل او ما خپل ټول فکر راجمع کړو تر څو د نیلوفر هغه کله ناکله د ارایش کولو خبری رایاد کړم چې ماته یې کول، هغه په ارایش کولو کې بیحد تکړه وه او هر کله چې زمورِ کور ته راتلل نو ضرور به یې یو ځل زه ارایش کولم ما هم کوښښ وکړو د هغې پشان ارایش وکړم.

ناوی خپل هم ښکلې وه خو لږ د رنګ غنم رنګه وه او دومره وخت کې پوهه شوی وم چې د کلی خلکو سپینه جنۍ خوښیده نو ما هم کوښښ وکړو د هغوی د فکر په انداز یې سینګار کړم، لومړی مې لنده سفیده ورته ووهل یوازی پر مخ نه بلکې پر غاړهاو  لاسونو مې هم ووهل بیا مې وچ سفیده ورته ښه ډېره ووهل کله چې مخ یې سفیده ښه سم صحیح جذب کړل بیا مې ارایش راوخیست خو د دې څخه مخکې چې د سترګو شاته یې سایه ووهم ورڅخه مې وپوښتل: د کالو رنګ دې څنګه دی؟

د هغې د څه ویلو مخکې ګل بی بی چې زما و سر ته لکه انکیر منیکر ولاړه وه ځواب راکړو: وی دیاده دی ووتل تاته خو مې شولې وه(ښودلې وه) هغه زرغونه(قندهاریان شین رنګ ته زرغون وایې، د شین څخه مطلب اسمانی شین نه دی بلکې د افغانستان بیرق کې چی کوم شین دی هغه مراد دی) کالې دی.

د هغې په خبره مې سر وخوځاوه او شین رنګ مې د ارایش له رنګونو څخه انتخاب کړو صاف خو عین حال کې ښایسته شین رنګ سایه مې د سترګو شاته ورته ووهل د

هغه وروسته مې بابه ورته ریمل کړل او د ټولو څخه چې مشکل وو هغه د سترګو خط وو ما هیڅکله د سترګو خط صحیح نشو وهلې یعنې که یو مې ورڅخه صحیح وهلې وایې دویم یې ضرور کوږ راتلو نو ځکه ما هیڅکله ځانته نه وهو خو دلته مجبوره وم ځکه دا ناوی وه او بغیر د خط چشم څخه ارایش یې نیمګړی ښکاریده. څو ځله مې د سترګو خط راوخیست خو جرئت مې نشو کولې چې ویې وهم ځکه پوهیدم چې خراب کیږی او د هغه په خرابیدو ټول ارایش هم خرابیدو زما په لاس لاس کولو ګلناز وویل: کوم شې دی پکار دی؟

د هغې په خبره یو فکر مې ذهن ته راغلو او ژر مې وویل: هو.
ګلناز- چشی غواړی؟
- پلستر.
زما په خبره ګلناز په حیرت وویل: پلستر؟
- هو.
یوه ورځ ما نیلوفر ته وویل چې خط چشم نشم ویستلې نو هغې راته دا طریقه وښودل چې پلستر(لبرټیپ) راوخله د خط په اندازه یې خپل د سترګو شاوخوا ولګوه د هغه وروسته ورباندی خط چشم کش کړه که قلم درڅخه کوږ هم لاړ شی مشکل نشته ځکه پلستر نه پریږدی چې ارایش خراب شی. ګلناز څو شیبی په حیرت راوکتل د هغه وروسته له کوټې ووته او بیا پلستر په لاس کوټې ته رانتوتل.

پلستر مې ورڅخه واخیست او د فاطمی(ناوی نوم فاطمه ده) د سترګو په شاوخوا مې وواهه په کوټه کې موجود ټولو کسانو په حیرت زما خواته راکتل داسې لکه زه چې کوم اټوم جوړه وم! خپل د فکر څخه مې خندا راغله کله چې خط چشم مې وواهه او پلستر مې لرې کړو واقعا خپل کار ته حیرانه شوم!

زه دومره تکړه وم او خبره نه وم؟ بیحد ښکلې آرایش مې ورته کړی وو، د ټولو څخه لومړۍ ګل بې بې بح بح او ماشالله، ماشالله ویل پیل کړل او د هغه وروسته په کوټه کې موجود نور کسانو ما هم په یو مغرورانه مسکا لکه چې "هو" زه خو همداسې

تکره یم د ټولو څخه مننه کول. ګل بې بې د دې څخه وروسته چې خپل د اینګور مخ یې ښکل کړو زما خواته راغلل او ما ته یې دوه زره روپۍ ونیول! ما په حیرت د هغې دی کار ته کتل چې ګلناز په خندا وویل: دا زموږ رواج دې چې هغه چا ته چې ناوي جوړه وی روپۍ ورکو.

زړه مې نغوښت چې پیسي ورڅخه واخلم ځکه ما ارایش د پیسو لپاره نه وو کړی خو کله چې دوي وويل زموږ رواج دی نو له مجبوری څخه مې واخیستل، همغه شیبه د ناوی مور یعنی د جهان دویم د کاکا ښځه راغله او خپل لور ته یې سپانده دود کړل ما غوښتل چې په همدی کش مکش کې ځان وباسم او د ماشومانو خوا ته لاړه شم خو ګل بې بې زما لاس کش کړو او کرار یې وويل: دا سور دسمال ته واخله د کالو په رنګ د دې.

په ګنګس انداز مې د هغې په لاس کې رنګارنګ دسمالونو ته وکتل او د دې څخه مخکې چې وپوښتم د څه لپاره؟ چې همدی وخت کې د جمشید ښځه کوټې ته رانوتل او ویې ویل: توی(تاسو) نو کله سیل نیسی؟ خو هغه دی د ډوډۍ وخت سو، د ډوډۍ نه بعد خو سیل نه کیشې.
ګل بې بې- بس دغه دې درغلو.
ګل بې بې د دې خبری وروسته د ګلناز خواته وکتل او ویې ویل: زموږ د تلو نیم ساعت بعد ناوی راوباسه او هو موږ حویلۍ کې سیل نیسو کوټه دوني کک ده بیخی اتڼ نه کیږی پکشې(پکې) ناوی ته هم هلته ځای جوړ کې.

ګل بې بې د دې خبرو سره سم زما لاس کش کړو او زه یې د ځان پسې حویلۍ خواته ویوړم.

ماشالله بیحد ښځې راغلې وه، یعنې دومره زیات وه چې حویلې څخه نیولې د کور ټول کوټې او حتا د کور شاته چې کوم میلمه خانه وه هغه یې هم د ښځو لپاره خوشي کړی وه خو بیا هم دومره ځای نه وو چې موږ پکې اتڼ وکړو! د هغه دومره جمعیت په لیدو تازه پوهه شوم چې د کلي ارباب اوسیدل څه معنا؟ ټول کلي راغلې

وو یوازی په دی نوم چې د ارباب د لمسې واده دې! ما تل فکر کاوه چې زما واده کې جمعیت بیحد زیاد وو؟ ځکه ما زیاتر ښځې نه پیژندل او نه پوهیدم چې څوک دی؟ خو جهان راته ویل مورې کابل ته دومره خپلوان نه وه راوستي! اوس تازه د هغه د خبری په مطلب پوهیږم.

ګل بې بې په چیغو،چیغو دومره ځای خالي کړو تر څو مورې پکې اتڼ وکړو کله چې حلقه جوړه شوه او ګل بې بې د دایری د وهلو سره د اتڼ کولو لپاره لاس پورته کړو زما زړه بې واره درزیدو فکر مې کاوه ټول سترګي زما خوا ته دی، زړه مې ویل د هغوی اتڼ به خراب کړم، خو په نهایت حیرت کې بیحد اسانه رقص وو! یوازی څرخیدل او دسمال یې خوځاوه بس! ګل بې بې زمورې منځ کې ولاړه وه او په کلک کلک یې دایره وهل اول سر کې وېرېدم خو کله چې د دوي خبره پکې ګرمه راغلم نو واقعا هغه اتڼ خوند راکو! او په خوشحالې د دوي سره مې دسمال خوځاوه او څرخیدم تقریبا لس پنځلس دقیقې همغسي څرحیدو زما خو پښې په درد شول، خو دوي بغیر د کوم ستونزی همغسې په شوق رقصیدل!

څمکه خامه وه او زما څپلې هم لړ پورته وه نو ځکه سم نشوم ګرځیدلې نو ځکه شاته شوم او خپل ځای مې روقیه ته چې تازه راغلې وه ورکړو.روقیه چې زما په ځای کې ودریده او اتڼ یې همغسي ګرم وساتو نو زه د هغه کوټې خواته لاړم کوم کې چې ماشومان وه کله چې کوټې ته لاړم نو د جهان مور هلته وه زما په لیدو هغې کرار وویل: ته ورځه د انجونو سره زه کوچنیانو ته ناسته یم.

د هغې په خبره زړه مې د ماشومانو لخوا ډاډمن شو نو بیرته د حویلې خواته لاړم هلته په تلو اتڼ هغه شان نه وو کوم چې ما پریخودی وو؟! د جهان ټول وریندارګیانو، ګلناز او روقیه دایری راخیستې وه؟ او څنګ په څنګ داسې حال کې چې دایرې پورته نیولې وه او وهل یې بدلې ویل،بیحد ښکلې انداز کې دایر وهل او څرخیدل او بدلې خو ماشالله دوي پکې وړې وه، خو حیرت مې هغه وخت زیات شو چې هغه ټپي( بدلې) بل ډول شول؟ یعنې یو کې تعریف کاوه بل کې توهین! زه

خلاصه خوله د دوې دې کار ته ولاړه وم ګل بې بې به اصل ټپه ویل او دا نورو به یو بیت یا هم همغه مصرۍ ورسره په زوره تکرار کول د هغې دې بدلې ته زه بیحد حیرانه شوم.

وی ناویه سور چکان دی مبارک سه ناویه سور چکان دی مبارک سه
ورځه د جانان کور درته جنت سه ورځه د جانان کور درته جنت سه

وی د کور او کلې چا کړلې ملک وی د کور او کلې چا کړلې ملک وی
وی ټیکری پوری دی راوړلې چابکې ټیکری پوری دی راوړلې چابکې

وی د پلار په کور دی نه وه یو دره یه د پلار په کور دی نه وه یو دره یه
وی ولور باندی مو واخیستې غالیه ولور باندی مو واخیستې غالیه

وی ناویه د زړه لرې کړه غمونه ناویه د زړه لرې کړه غمونه
وی لری سومره شایسته شایسته لیورنه لری سومره شایسته شایسته لیورنه

موږ داسې ناوی راوړه لکه ګله موږ داسې ناوی راوړه لکه ګله
بوټان ته یې د سرو زرو چارګل بوټان ته یې د سرو زرو چارګل

چا نکړلې په پلار باندی ناوکې چا نکړلې په پلار باندی ناوکې.
اخیر په نصیبکې د لالک وی اخیر په نصیبکې د لالک وی

زموږ ناوی د رشتیا د چنار ونه زموږ ناوی د رشتیا د چنار ونه
وی دا ټوله دنیاګې ده پری مینه دا ټول دنیا ګې ده پری مینه

وی زموږ ناوکې ونغره کارونه زموږ ناوکې ونغره کارونه
راوړی به دی سبا شایسته لیورنه راوړی به دی سبا شایسته لیورنه

وی ناوی تر غرمې مه کوه خوبونه ناوی تر غرمي مه کوه خوبونه
وی در پاته دی د کور کلې کارونه در پاتی دی د کور کلې کارونه

ورا راغله په اوشانو کجاوی دی ورا راغله په اوشانو کجا وی دی
درزې دی د ټوپکو خولې کژی دی درزی دی د ټوپکو خولې کژی دی

د غره تر بیخ ولاړه ده کژدیه د غره تر بیخ ولاړه ده کیژدیه
کژه وژه روانه شین خالیه کژه وژه روانه شین خالیه.

په لنډه زنه کشیژده شنه خالونه په لنډه زنه کیږده شنه خالونه
راوړی مې لالې دی ولورونه راوړی مې لالې دی ولورونه

نصیب کې د هر چا دی قلمونه نصیب کی د هر چا دی قلمونه
سوک شه دی سوک کوی پکی ویرونه سوک شه دی سوک کوی پکې ویرونه

زموژ ناوی ګل هم بلبله ده زموژ ناوکې ګل هم بلبله ده
برات کې واده وو بیا روژه ګله ده برات کی واده و بیا روژه ګله ده

ناویه په پلو دی پیله بو ده ناوی په پلو دی پیله بو ده
ناویه ورا دی ټوله ده لیورو ده ناوی ورا دی ټوله د لیورو ده

ناوی مه شکاره وی شونډی غټی دی ناوی مه شکاره وی شونډی غټی دی
بی شرمه ده یو نیم ګزی چوټې دی بی شرمه ده یو نیم ګزی چوټې دی

زموژ د ناوی دوه ولیشتې لاسونه دی زموژ د ناوی دوه ولیشتې لاسونه دی
آرمان می د بشیر کلا ویزونه دی آرمان مې د بشیر کلا ویزونه دی

وی له پاسه اوشان راغله جګې غاړی له پاسه اوشان راغله جګې غاړی
را وباسې ناوی راغله ورا بانې را وباسې ناوی راغله ورا بانې

وی ناوی مو خوشه نده کم کلي ده ناوی مو خوشه نده کم کلي ده
وی د کور او کاره نده لیونې ده د کور او کاره نده لیونې ده

وی زموژ ناوکې ولې بده ستا یې زموژ ناوکې ولې بده ستا یې
وی اصیله ده اصیله ده لجایه اصیله ده اصیله ده لجایه

وی ناسیالې خیشې مه وهه رمبارې ناسیالې خیشې مه وهه رمبارې
وی خورلې دی شپږ نیم لکه کلداری خورلې دی شپږ نیم لکه کلداری

وی چې موژه ور شکاره کړلې روپیه چې موژه ور شکاره کړلې روپیه
وی ناڅکه لور یې راکړه په زاریه ناڅکه لور یې راکړه په زاریه

د ګل بې بې دا دومره لوې بدلې ته زه ګوته په غاښ ولاړه وم، ما اوریدلې وه چې اطرافو کې د واده یا هم کوژدی ورځ کې خیښان یو بل ته په بدلو کې خبری کوی خو تر دې حد مې نو نه وه اوریدلې، هغې یوه ټپه کې تعریف کاوه خو بله کې سم صحیح د کنځلو څخه لا بتره خبري کول! د هغوي بدله تازه خلاصه شوي وه چې نظر مې په جنید ولګید.

جنید بغیر له دې چې اخوا دیخوا وګوری مخامخ د ګل بې بې خواته لاړو او یو څه یې هغې ته وویل، د هغه په لیدو زه هم د هغوي خواته لاړم چې د جنید غږ مې واوریده چې ګل بې بې ته یې ویل: کاکا غواړې بودې. راوړې وایې ته یو وار د دروازی مخې ته راسه.

د جنید په خبره ګل بې بې هم ژر،ژر سر وخوځاوه او داسې حال کې چې د جنید سره د دروازی خواته تلل موږ ته یې وویل چې مرستي ته یې ورشو، ما فکر وکړو شاید زه یې لیدلې ونه اوسیږم او مطلب یې دا نور انجونو ته وی؟ خو ګل بې بې د دې څخه مخکې چې لاړه شې ماته هم اشاره وکړه او مجبور زه هم ورپسې شوم د دروازی مخې ته لاړم او نه پوهیدم چې دقیقاً څه مرسته باید وکړم؟ د جهان مشر ورور په راتلو ما خپل تیکری لږ په سر سم کړو خو هغه بغیر له دی چې زموږ خوا ته

وګورى د ګل بې بې لاس ته يې يو بار مصرف پلاستکي سرخانونه ورکړل او ويې وويل: ټول شزى او کوچنيان منظم شينوى(کينوى) او وګورى چې سونې(څومره) مجمي وريجي پکار دي؟

ګل بې بې ژر مخ د روقيه او د جمشيد ښځي خواته کړو او داسې حال کې چې هغه يو بار مصرف سرخانونه يې د هغوي لاس ته ورکړل ويې ويل: توي(تاسو) دواړه ولاړسې اول د کوټو څخه شروع وکي د شزو لاسونه پريوى او سرخانونه هوار کې، اول بوډۍ هغوى ته ورکي بيا پسته (وروسته) د کلا او ميلمه خانې شزو ته بوډۍ ويسي.

د هغې په خبره هغه دواړه په تلوار د کوټو خواته روان شول د جهان مشر ورور هم بيرته له کور ووت ما غوښتل چې لاړه شم او د روقيه دوي سره مرسته وکړم خو ګل بې بې اجازه رانکړل او ويې ويل: ته مجمي زما سره ويسه ته بيا لژ شه يې دا نور د يو مجمي د پورته کولو نه دې.

د ګل بې بې په خبره مې حيرت وکړو، هغې لکه چې زما وزن ته کتلې وه او فکر يې کاوه چې شايد کيلو، کيلو وزن هم پورته کولې شم؟ زما په نظر چاغوالې د ځواک او زور سره هيڅ تړاو نلرې بلکې برعکس چاغ انسانان کله ناکله د ډنګر کسانو څخه ډير ضعيف وى! په هر حال څه مې ونه ويل او په تمه شوم تر څو د ګل بې بې سره مجمي ويسم څو شيبې وروسته دروازه بيا خلاصه شوه او دا ځل نه يوازى د جهان مشر ورور بلکې جمشيد هم راغلې وو، د جهان مشر ورور ګل بې بې ته وويل: شه څو مجمي پکار دي حساب دي کړل؟

د ګل بې بې د څه ويلو مخکې ما بې اختياره وويل: د مجمو څخه حساب وتلې ښځې بيحد زيات دى.
د دې خبرى وروسته مې ژر خپل شونډه وچيچل، چې جمشيد په خندا وويل: که داسې خبره وي ورينداري مجبور ديګونه ټول دلته راوړو.

د جمشید په شیطانه لهجه خپل په خبره لا پسې شرمنده شوم، اصلاً پر ما یې څه چې ښځې زیات دی که کم؟
د جهان مشر ورور- اوس توي حساب وکي کنه؟ موږ څو مجمي راوړو؟
د دې څخه مخکې چې ګل بې بې څه ووایې د جمشید د شا څخه مې د جهان غږ واوریده داسې حال کې چې زمونږ خواته رانږدی کیدو کرار یې وویل: څه حساب کتاب مو راخیستې؟ بسم الله کې شروع وکي خدای مهربان دې ټولو ته به بوډۍ ورسېږی ډېره ده، که ونه رسیدل یو دوه نور دیګ به باندی کو یا کنې د هوټل به یې راوغواړو.

د جهان په خبره ټولو سر وخوځاوه او روان شول تر څو بوډۍ راوړل پیل کړې، خو جهان زما خواته اشاره وکړل د هغه په اشاره د ګل بې بې څخه لری شوم او لږ د کلا د دروازی خواته نږدی شوم چې جهان کرار وویل: ته دلته څه کوی؟
- ګل بې بې وویل کمک ورسره وکړم.
زما په خبره د جهان تندی تروش شو او کرار یې وویل: ورځه یو بل ځای کمک وکه ته د بوډۍ د پتنوس د پورته کولو نه یې، ملا دې په درد کیږی.
- بده ده ګل بې بې به څه ووایې؟

زما په خبره جهان خپل ګیره کې لاس تیر کړو او په همغه لهجه چې کوښښ یې کاوه غږ یې زیات پورته نشې ویې ویل: اخ ته خپل کالو ته وګوره بیا دې چپلکو ته دې وګوره ته په دی حالت یو مجمه نه پورته کولې سې، هغه وخت د دروازی خوله کې ولاړه یې چې د سرېانو د لاس څخه هغه درانه پتنوسونه واخلې؟

غوښتل مې ورته ووایم چې زما هم چندان شوق نشته دا کار وکړم خو ستا وریندارې مجبوره کړې یم خو زما د څه ویلو مخکې جمشید یاالله وویل او د جهان د شا څخه د یو ډک پتنوس چې دوه مجمي وریجي، دوه د غوای د غوښو قرمه، یو چرګ او دوه غاب سلاد وه زما مخي ته ودرید او داسې حال کې چې پتونس یې ماته راکو ویې ویل: وریندارې! خپل د خیره هغه نورو وریندارګیانو ته هم ووایه چې د

دروازی مخکې ته راسې بده ده موږ زنانه مجلس ته درننوځو، موږ ډوډۍ راوړو توی(تاسو) خپل هلته ویسې.

داسې حال کې چې خپل ټیکری مې پر سر کلک کاوه د هغه له لاسه مې پتونس واخیست او تازه هغه وخت د جهان د خبري په مطلب پوهه شوم! همدا چې جمشید خپل لاس لری کړو نږدی وو چې پتنوس راڅخه وغورځیږی خو جهان په تلوار په یو لاس د پتنوس څنډه ونیول او هغه یې زما د لاس څخه واخیست، د هغه په دې کار په حیرت مې وروکتل ما هغه پتنوس په دوه لاسونو ونه نیولې شو خو جهان هغه په یو لاس داسې نیولې وو لکه چې هیڅ هم نه وې؟

جهان په غوسه د جمشید خواته مخ کړو او ویې ویل: دا دوني عقل تا د کم ځای کې؟ شزی دا پتنوس پورته کولې سې چې ته وایې زه یې درکوم توي(تاسو) یې ویسې دننه؟
د جهان په خبره جمشید په حیرت وویل: زه نو څه خبر وم چې دوي د یو پتنوس د پورته کولو نه دی! (د هغه په خبره ما د شرم خپل شونډه وچیچل چې جهان په غوسه د هغه خواته وکتل او ویې ویل: اوس خو پوی سوی؟
جمشید په شیطنت وویل: وه پوی سوم څنګه زړه د دې زنانه مجلس ته موږ ننوځو؟

جهان په تروش تندی وروکتل چې جمشید په خندا وویل: دسې مه راګوره خو ته وایې شزی پتنوس نسې وړلې نو څه وکم زه ورننوځم زنانه مجلس ته؟ البته زه مشکل نلرم بلکې خوشحالیږم هم.

د جمشید په شیطنت ما ته خندا راغله، جمشید د جهان په کورنۍ کې یوازیني ټوکي او شوخ کس و، هغه هم داسې شوخ چې هم د ارباب مخکې خپل شیطنت کاوه هم د جهان او خلاصه د ټولو مخکې خپل خبره کول. د جمشید په خبره جهان بد، بد ورته وکتل او ویې ویل: ما ونه ویل چې ته زنانه مجلس ته ننوځه زه وام د دې لځایه چې دا دوني شئ پتنوس ورته پر لاس ورکې یو، یو مجمه ورکوه.

جمشید- که یو، یو مجمه ورکو پر لاس مجبور شل ساعت ودریږو.
جهان- و دریږه نو ته څه کار لرې؟

د دې څخه مخکې چې جمشید کوم څه ووایې جهانګیر راورسید او په تروش تندی وپوښتل: څه خبره ده؟
جهان- هیڅ خبره نسته توی(تاسو) بوډۍ راوړل شروع کې.
جهان جمشید د نور پتنوسونو د راوړلو پسی واستوه بیا داسې حال کې چې په همغه تروش تندی زما خواته کتل کرار یې وویل: دلته زما اندې ته ودریږه.

بغیر د څه ویلو د جهان څنګ ته ودریدم چې هغه خپل د لاس د پتنوس څخه یو مجمه وریجي او قورمه زما لاس ته راکړل او ما ته یې اشاره وکړل تر څو هغه ګل بې بې ته چې زموږ څخه یو څه لرې ولاړه وه او تر اوسه د دې ټول حالت څارونکې وه ورکړم، زه هم کرار د هغې خواته ورغلم او د وریږو مجمه د قورمې د قاب سره مې هغې ته ورکړل او هغې بیا زرلشتې ته ورکړل او خلاصه چې نظم جوړ شو او ډېر ژر بوډۍ لاس پر لاس شول، جهان به د هلکانو له لاسه پتنوس اخیست او د هغه څخه به یې دوه قاب زما لاس ته راکول او ما به تر نورو ښځو رسول، همدی منځ کې په حویلې کې د موجود ښځو دروند نظر کې پر ځان او جهان باندی احساس کاوه، او له دې چې جهان ته یې داسې په ځیر،ځیر کتل زړه مې غوښت ورسره جنګ وکړم!

د جهان په غږ او اشاره چې خپل لاس ته یې وکړل نظر مې د هغه ښځو څخه واخیست او په همغه غوسه د هغه د لاس څخه مې د وریږو مجمه کش کړل او بد،بد مې ورته وکتل چې جهان په حیرت خپل وریځې پورته واچول او زما خواته یې راوکتل، خو ما ورته همغسې بد، بد وکتل او مجمه مې د ګل بې بې لاس ته ورکړل زور مې پر هغه ښځو نه رسیدو خو جهان! زړه مې غوښت پر هغه خپل غوسه یو څه خالې کړم او د دې ځاې څخه یې واستوم د ګل بې بې د څنګ چې بیرته د جهان خواته را روانه شوم په همغه لس قدم لاره کې داسې خبرې مې واوریدل چې خوله مې له حیرت ورته خلاصه پاتې شوه!

غړونه ګېوډ راتلل او نه پوهیدم چې کومې ښځې وویل: ما درته وویل د زامنو شایست یې پلار ته تللې نه مور ته، وګوره جهان خان سونې شایسته دې!"انجلۍ هم د جهان خان دغه شایست ته کتلې وه چې ورباندی مینه سوی وه" وې چا ویل چې انجلۍ ورباندی مینه سوی؟ ما خو اوریدلې وه چې جهان خان ورپسې وو؟" ته لیونې یې خوری! جهان خان د ګلدستې(د جهان لومړۍ ښځه) خدای بخشلې څخه بعد واده نه کوی حتا دغه ناوی چې اوس یې بشیر خان ته ورکړل اول کې د ده پر نوم وه خو ده ویل چې زه واده نکوم، خو هغه وار چې خپل د ماما سره ولاړی کابل ته ټول خلک خبر دې چې د دې انجلۍ پر کور میلمه وو او خدای خبر دې انجلې به وربانډی څه تعویذونه او دمونه کړې وه چې جهان خان یې د ځان پسې لیونې کې، کنې جهان خان چیری او دا چیری؟"

وې! رشتیا وایې خوری ما هم دسې خبری اوریدلې وه چې دا انجلۍ پر جهان خان ناره کړې وه، خو ما پکر وکې دغې خبره به وی."یا خوری ولې دغې خبره؟ د شهریانو څخه توبه باسه پتیره(بلخصوص) بیا د پوهنتونیانو څخه" یعنې دا ناوی د جهان خان پر نوم وه بیا وریکړه بشیر خان ته؟" هو نو ولې تا وا نه وریدل چې د کاکا زامن یو د بل سره پر جنګ ولېدلې وه؟ هغوې ویل زموږ خور ستا پر نوم ده او واده ورسره وکه خو جهان خان نه منل" وې ولې نه منل؟ " خو وایم درته پر جهان خان یې دسی تعویذونه کړې وه چې خپل د واک یې اچولې وو، کنې پر پشتنو کې پر نوم کړې شزه چا پریژدلې؟" الله توبه،توبه، یعنې د کاکا رسوای وراره پر غاړه واخیسته؟"

هو نو یو خوا دوې وشرمیدل چې د دوې پر نوم کړې شزه بل یو وکی او بلخوا چا نکول" الله توبه یعنې دا اوس دونې بده شئ ده؟ د قواری څخه خو ډېر عاجزه معلومیژی" پر قواره یې مه خطا وځه خوری! دا چې سونې پر ځمکه ده هغونې د ځمکې لاندی ده."

د دې دومره خبرو د اوریدلو وروسته مغزه مې یو دم جام شول! زه د خبرو طاقت نلرم زما بدترینه خاصیت همدا دې زه د هر چا خبرو ته اهمیت ورکوم او داسې وخت لا راځي چې پر یوه خبره ټوله شپه ژاړم! پوهیږم چې بد عادت دې خو زه داسې عادت لرم او اوس چې دا دومره نا حق خبری هغه هم پر یو ځای او پر یو ځل مې واوریدل نو فکر مې کاوه د پښو څخه مې نفس وځي، غوږونو کې مې د بنګ، بنګ غږونه اوریدل او زړه مې غوښت یوځای ځملم! د بدن انرژئ مې ناڅاپه صفر شول، په ظاهره د جهان خواته روانه وم تر څو د هغه د لاس څخه قابونه واخلم، خو اصل کې په هېڅ نه پوهیدم! د هیچا غږ مې نه اوریدو یو دم لکه د اوریدلو قدرت مې چې له لاسه ورکړې وی.

خپل د اوږي په کلک خوځیدلو او د جهان په اندیښمن غږ تازه مې فکر شو چې د هغه مخ ته ولاړه یم او هغه په ورخطای زما اوږه ښوره وي.

جهان- بسم الله، شه یې؟ څه در وسول؟
په ګنګس انداز مې وویل: ها؟
زما د ګنګس انداز په لیدو د جهان په څهره کې اندیښنه لاپسې زیاته شوه، نه پوهیږم زما په څهره کې هغه څه ولیدل چې په تلوار یې ګلناز ته غږ کړل او یوڅه یې ورته وویل نه پوهیږم چې څه یې ورته وویل؟ خو د هغه وروسته یې زما لاس ونیو او د ځان پسې د کلا اخر خوا ته ویوړم، زه هم د یو جسد پشان ورپسې کشیدم نه پوهیږم ولې خو دا خبرو بیخي حالت راخراب کړې وو، د جهان په دریدو زه هم ودریدم چې هغه مخ را وګرځه وو او داسې حال کې چې زما مخ ته یې په ځیر، ځیر راکتل په اندیښنه یې وپوښتل: څه در وسول؟ شه یې؟

د جهان په خبره یوازی مې وروکتل چې هغه په اندیښنه خپل لاس زما پر مخ کیخودو او داسې حال کې چې زما لړزانه لاس یې خپل په ګرم او مظبوط منګولو کې نیوه په همغه اندیښنه یې وویل: جان.. جان چشې سوی؟ ولې نا ببره دا رقم سوی؟

کوښښ مې وکړو چې ورته ووایم خو ژبه مې د خبرو یارې راسره نه کول، او د خبرو لځایه مې بې اختیاره اوښکې پر مخ وبهیدې، زما د اوښکو پر لیدو جهان نور هم ناکراره شو او داسې حال کې چې په اندیښنه یې کوښښ کاوه خپل پر لاس زما د مخ اوښکې پاکې کړې په تلوار یې خبرې کول.
جهان- چشی سوی نازولې؟ ولې دا رقم جاړې؟ ها قربان دی سم ما ته ووایه چا درته شئ وویل؟ کوم ځای دی درد کوی؟ ولې دسې ریږدی؟ (لړزیږی) ها؟

هغه خبرې شاید د ځینو له نظر عادی وه خو نه پوهیږم زما زړه کې داسې ننوتې وه چې زړه مې غوښتل په زار، زار وژاړم، شاید د جهان خبره زه د رښتیا هم نازولې وم؟ خو بیحد حالت مې ناځاپه پر هغه خبرو خراب شوی وو جهان چې ولیدل زه نه کراریږم نو بغیر له دې چې شاوخوا د خلکو تګ راتګ ته پام وکړی، یا هم فکر وکړې چې واده کې یو او امکان لری د هر کونج یو نفر راووځې زه یې غیږ کې وونیولم او زما د کراریدو کوښښ یې وکړو، د هغه د غیږ په نیولو ژړا مې بنده شوه خو زړه مې عجیب ناکراره وو، داسې لکه یو بده پیښه چې کیدونکې وی او د هغه څخه مخکې ستا زړه د هغه پیښې ګواهې ورکوی!

په دی فکر په تلوار د جهان له غیږ څخه جلا شوم چې هغه په حیرت راوکتل، خو ما داسې حال کې چې کوښښ کاوه خپل اوښکې د مخ څخه پاکې کړم په نیولې غږ مې وویل: ماشومان یوازی دې زه باید لاړه شم.
او د دې خبرې سره سم غوښتل مې روانه شم چې جهان اجازه رانکړل او په تروش تندی وپوښتل: کوچنیانو سره ادی سته، ته دا ووایه چې ولې دا رقم سوی؟
- هیڅ خبره نشته.

جهان- هیڅ خبره نسته او دونې دې وژړل؟
نه مې غوښتل چې ورته ووایم څه مې اوریدلې، نه مې غوښتل د هغه فکر خراب کړم. نن د هغه د وراره واده وو او هغه ورته خوشحاله و ما حق نه درلود چې د هغه

خوشحالۍ کې ورته غم جوړ کړم نو څکه خپل پوزه مې کش کړل او کرار مې وویل: هېڅ خبره نشته هسې زړه مې خپل د مور پسې تنګ شو.

زما په دی خبره د جهان وریځې د حیرت څخه پورته شول او بیا بغیر له دې چې څه ووایې زه یې د ځان پسې د کلا څنګ ته چیرته چې د اوبو نل و ویوړم د ابو لاندی مې لاسو ونیو او خپل پر مخ مې څو لپې اوبه واچول او واقعا فایده یې وکړل یخو اوبو زړه راته خلاص کړو او هغه خبری لیاده وویستې، د مخ مینځلو وروسته غوښتل مې خپل مخ وچ کړم خو زما ټیکرې ګاج وو او پر هغه مخ سم نه وچ کیدو چې نا ساپه جهان خپل پټو زما خواته ونیو ما هم بغیر د څه ویلو د هغه پر پټو خپل مخ پاک کاوه چې هغه کرار وویل: ما ته هېڅ وخت درواغ مه وایه هوسۍ!

د جهان په دی خبره مې وروکتل چې نظر مې د هغه په قهرجنو سترګو او تروش تندی ولګید، جهان چې کوم وخت جدی وایې یا هم غوسه نو زما نوم یې اخیست د هغه په خبره مې سترګې ښکته کړل نه مې غوښتل سترګو په سترګو شم ورسره څکه پوهیدم چې ورته حال وایم او طبعیت یې خراب کوم هغه هم لکه چې پوهه شو څکه بغیر د څه ویلو څنک ته شو خو د دې څخه مخکې چې لاړ شې ویې ویل: ورځه د ادی څنګ ته که کوم شئ دې پکار و ماته زنګ ووهه، که ژوند و یو وخت چې تنها سو بیا به د دې موضوع په باره کې خبری وکو.

او د جهان دا خبره مطلب دا موضوع مې خوشې کړې نه ده، جهان له حویلۍ ووت او ما تر هغه وخت چې زما د سترګو څخه پناه کیدو ورپسی کتل کله چې کامل له کوره ووت او دروازه بنده شوه څو ژوره ساګانې مې واخیسته او د کور خواته روان شوم بغیر له دې چې د ښځو هغه عجیب غریب کتلو ته کوم پام وکړم د هغه کوټې خواته لاړم کوم کې چې ماشومان وه، کرکه مې راتلل د داسې خلکو څخه چې بغیر له دې چې پر موضوع پوهه شې بیځایه قضاوت او خبری د خلکو پسی کوی، غیبت هم یو حد لری دا نو غیبت کې نه راتلل بلکې مخامخ یې ماته توهین کاوه یوازی دومره

پوهیدم چې هغه ښځو چې زما پسي خبرې کول د جهان د مشر کاکا ښځې خپلوان دي!

یوه یې ورینداره وه او دا نور یې خورزې ګانې او وریرې ګانې وه، اوس یو دم ډاډمن یم چې لومړۍ فکر مې چې د جهان د کاکا ښځې په اره کړې و غلط نه و هغه د رښتیا هم له دې چې ما د جهان سره واده کړی خفه وه او بخیلي کول، او باید ووایم چې د هغې دا کار ډېر بیعقلې وه که د رښتیا هم هغه پر دې موضوع زما سره کینه او حسد ولرې! ځکه ما د دې خدای بخښلې لور لیدلې لا نه ده او که خدای نکرده مثلا د دې لور ژوندۍ وایې او جهان زما پسې مرکه راستولې وایې د بابا د کوم څه ویلو مخکې ما ورته نه ویل، خدای دې ما ته دا واک نه راکوی چې د یو ښځې د ژوند پر بنیاد خپل د ژوند دیوالونه اباد کړم.

زما په نظر د هغې چینجنې زما سره بیعقلې ده ځکه زه د هغې د لور بنه نه یم، بلکې د هغې د لور د اولاد ساتونکې هم یم باید دا زما څخه منندوی اوسیږي چې د دې د لور زوی خپل د اولاد پشان ساتم او حتا بهتر خپل د اولاد څخه. زه د هغې د لور د مرګ ۹/۱۰ کال وروسته راغلم نو دا حق نلرې چې زما سره دې کوم کینه ولري ځکه زه هغه وخت د جهان ژوند ته داخل شوم کوم وخت کې چې د دې د لور یوازیني نښه جنید د جهان ژوند کې پاتې و او بس. دا فکرونه مې د ذهن څخه لرې کړل او د جهان مور مې له کوټې واستول تر څو ډوډۍ وخورې او خپل د ماشومانو څنګ ته کښېناستم.

تر اوسه هغه خبرې مې زړه کې سنګینې کول زړه مې غوښتل یو چاته ووایم او هغه زما خوا ونیسي او راته ووایې چې هغه ښځې پر غلط دي او زه صحیح یم زړه مې غوښتل یو څوک راته ووایې چې ما د چا ځای نه دې نیولې او دا ژوند زما قسمت او زما حق دی. د ډوډۍ تر خلاصیدو او بیا د زوم تر راوړلو او د سرپیانو د راتګ او خلاصه د واده تر اخر نور د کوټې څخه ونوتلم او ماشومان مې بهانه کړل روقیه راته کوټه کې ډوډۍ راوړل او زما سره کښیناستل د خبرو څخه یې ښکاریدل چې جهان

راستولې هغې هم لږ اخوا دیخوا پوښتني کول او زما په نظر هغې فکر کړې وو ما د جهان سره جنګ کړې چې داسې تندی مې تروش نیولې!

ما هم ورته څه ونه ویل او د خلکو خبره همغه خماری کې مې پریخودل، ځکه مط روقیه ته ونه ویل ځکه د دې خوابښې وه او د کاکا ښځه یې هم وه نو فکر مې کاوه شاید په نظر یې زما خبری غلط راشې او فکر به وکړې چې دا یوه ورځ زموږ کور ته راغله او اوس د ټولو پسې خبري کوی. نو ځکه هېڅ مې ورته ونه ویل نه پوهیږم څو ساعت به هغه کوټه کې ناسته وم چې موبایل ته مې زنګ راغلو او پوهه شوم چې د تلو وخت دې. ګلناز پسې له کوټې ووتم تر څو هغه پیدا کړم او خپل حجاب ورځخه واخلم خو داسې بد حال و چې حد یې نه درلود.

هر یو خپل پر مخ روان و هرڅومره چې وګرځیدم ګلناز مې پیدا نکړه اخر د جهان د مور پسی لاړم خو هغه مې هم پیدا نکړه، د یوه جنۍ څخه مې پوښتنه وکړه د زوم خپلوان چیرته دی؟ غوښتل مې د جهان د کورنۍ یو غړې پیدا کړم خو هغې داسې حال کې چې په پوسخند زما خواته کتل په طعنه یې وویل: هغه ټول د زوم سره ولاړل.

د هغه جنۍ په داسې خبره او داسې لهجه د حجاب له فکر ووتلم خپل ټیکرې مې پر سر کش کړو او د ماشومانو خواته لاړم، حیرانه وم له دې چې د جهان کورنۍ بغیر له دې چې پر ما غږ وکړې څنګه ټول تللې؟ که جهان زنګ نه وایې وهلې زه تر ماښام دی کوټه پاتې کیدلم، په دی فکر مې د بدن ټول ویښتیان د وېرې له لاسه سیخ ودرېدل په تلوار خپل د څپلو پسې په ګرځیدو شوم دوه ساعت مخکې چې کوټې ته راغلم هغه مې د پښو څخه ویستلې وه ځکه پښې مې درد کول، او د کوټې د دروازی څنګ ته مې کیخودلې وه تر څو ورکې نشې خو اوس هلته نه وه! همدا څو شیبې مخکې لا همدلته وه کله چې د ګلناز پسې تلم تر څو زما حجاب راکړی همدلته وه ما خپل ولیدل خو اوس نه وه!

په حیرت خپل د څپلو پسې په ګرځیدو شوم خو نه وه، له یو دوه ښځو څخه چې د کوټې له څنګ تېرېدل خپل د څپلو پوښتنه مې وکړل خو هغوي بغیر د کوم ځواب داسې راوکتل چې خپل د پوښتنې څخه پښیمانه شوم، له یوخوا څپلې مې نه پیدا کیدل له بلخوا کور مخ پر خالې کیدو و او له بلخوا جهان پر لیسي زنګونه بند کړې وه او موبایل هر ثانیه وروسته ټنګ،ټنګ کاوه او زما وېره او وحشت یې لاپسې زیات کاوه کله چې ماشومانو هم په دی وحشت بازار کې ژړا پیل کړل نو ټول شیان مې هیرل او لوڅې پښې ماشومان مې په غیږ کې کړل او له کوره ووتم کوڅه کې د جهان د موټر سره دوه نور موټر پاتې وه او نور څوک نه وه ټول تللې وه زما پر لیدو جهان په تلوار خپل د موټر له څنک زما خواته راغلو او ددې څخه مخکې چې ووایې حجاب دې چیرته دې؟

نظر یې زما پر پښو ولګیدو او بیا په حیرت یې زما د اوښکو څخه ډک سترګو ته وکتل بغیر د څه ویلو په تلوار یې ماشومان راڅخه واخیستل او خپل پټو یې زما پر اوږه واچو او بیا په همغه تلوار د موټر خواته روان شو او ما ته یې هم اشاره وکړل زه هم په همغه ماتم زده حالت کې ورپسې شوم عمر کې مې تر دې حد رسواې او خوارې نه ولیدلې زما د کښېناستلو سره سم جهان په تلوار موټر روښانه کړو تر څو په کوڅه کې د موجود څو سړیانو له نظر لرې شو، د جهان موټر کې یوازې ارباب و او نور ټول له وخت تللې وه، ارباب زما خواته مخ راوګرځو شاید اراده یې وه تر څو ومې رټې له دې چې درې ساعت مې منتظر پریخودلې وه خو کله چې زما پر اوږو د حجاب لځایه د جهان پټو، لوڅې پښې او د ژړا څخه ډک سترګو ته چې مازې یو بهانې ته په تمه وه تر څو ژړا ته شروع ورکړې

نرۍ مسکا یې پر شونډو راغله او داسې حال کې چې خپل ځای کې سم کیدو او نظر یې زما څخه اخیست کرار یې وویل: حجاب او چپلې خیر دی شکر باسه چې خپل نه یې ورکه سوی.

د ارباب خبره زیات د طنز او شوخي انداز درلود خو زما همغه کوچني بهانه پر ځای شول او ژړا مې پیل کړل زما د ژړا سره سم ماشومان هم په ژړا شول چې د ارباب د خندا غږ پورته شو خو جهان په تروش تندی وویل: دا روقیه به زما په ګیر رانسي، دیته ما وویل چې خپل د وریندارۍ سره راسه خو دا بیا وختې د جهانګیر موټر کې تللې.

ارباب په همغه لهجه چې خندا ورڅخه څرګنده وه وویل: د واده په ورځ د شزو څخه لاس پریوه چې ستا پر خوله به وکې، دغه ستا مور ته ما وویل چې دې کوچنیانو باندی پکر وساته او یوازی بې مه پریږده خو ته وګوره اول موټر کې هغه تللې.

هغوي خبری کول خو ما خپل مخ د ښیښې خواته اړولې وو او کرار، کرار مې ژړل نن ورځ زما د عمر بدترینه ورځ وه، خپل په ژوند کې مې لومړۍ ځل دومره د یوازیتوب احساس کاوه، زړه مې غوښتل کاش ادی دلته وایې ترڅو د هغې غیږ کې مې ښه د زړه له خلاصه ژړلې وایې، یا کاش بابا وایې تر څو ورته ویلې مې وایې نن زما حق کې څومره ظلم شوی او هغه راته دلدارۍ راکړې وایې،څو شیبې موټر کې خاموشې خپره شول او یوازی زما او کله ناکله د ماشومانو د ژړا غږ د موټر فضا کې پیچل کیدو او ما جهان لیدو چې په ناکراره نظر یې د موټر له ښېښې څخه بار،بار زما خواته راکتل او ځان یې په زوره کنټرول کړې وو تر څو د ارباب په مخ کې ماته جان و قربان ونه وایې او زما د کراریدو کوښښ ونکړی.

په دې فضا او ماحول کې ارباب خپل مخ د موټر د هینداري خواته اړولې و او کرار یئ خندل!

د ارباب دا خندا زما پر عصابو تلل او زړه مې غوښت ورسره جنګ وکړم خو د هغه هیبت او مقام دا اجازه نه راکول چې کوم خبره ورته وکړم او یوازی غوسه مې خوړل، کله چې ومې لیدل زما ژړا هغه نور هم خنده وی نو کراره شوم! د جهان مور څنګه د ده سره ژوند تیره وی؟ جهان که داسې کار وکړې په قران د نیلوفر خبره دو پاره اش کنم، زه ژاړم او دې خاندی؟ تر کوره هېڅ خبره نه ما وکړل نه هم هغوي کله

چې کور ته ورسیدو که څه هم بد حال وو او ټول د ناوی د راوړلو په خوشحالۍ کې وه خو زه د ټولو څخه خفه وم زه یې هغه کور کې یوازی پریخودلې وم حتا یو غږ یې لا نه وکړې راباندی چې راځه!

نور خبری خو لری بغیر له دې چې د ښځو رقصو ته وګورم یا هم د سپاندی هغه بد حال ته چې ټول کور یې پر دود اخیستې و ماشومان په غیږ خپل د کوټې خواته لاړم د ماښام تر اذانه د دایری او د ښځو د چک چکو او شور ماشور غږ راتلې خو د ماښام اذان وروسته کور کې لږ کراری شوه، ماشومانو ته مې موبایل ورکړو که څه هم چندان نه پوهیدل ورباندی خو د آس د عکس په لیدو خوشحاله وه او آت آت یې چیغی وهل(آس یې نشو ویلې نو ځکه آت یې ویل) کله چې هغوي مې کرار ولیدل زه هم تشناب خواته لاړم خپل کالې مې د یو جوړه ساده د کور کالو سره بدل کړل خپل لاس او مخ مې پریمنځه او بیرته د ماشومانو څنګ ته راغلم.

هغوی تر اوسه د هغه آس عکس ته خوشحاله وه کوم کې چې دوي هم وه او جهان هم عکس کې و خو دوي یوازی آس لیدو نور نه خپل ځان ته یې کتل نه جهان ته! البته مدثر دې منځ کې یو ځل عکس کې د جهان پر عکس لاس کیخود او بابا یې وویل خو بېر ژر بیرته د آس په خوشحالۍ کې ورڅخه ورک شو. د هغوي دې کار ته مې خندا راتلل دومره د آس په خوشحالۍ کې ورک وه چې د عکس د نورو شیانو څخه غافل وه سم زموږ انسانانو پشان خپل په خوشحالۍ کې دومره ورک شو چې هر څه مو لیاده ووځې او فکر کوو دا ژوند خو تل همداسې وو خو نن د هغه ښځو خبرو ما ته زما اوقات راوښود د هغوي په نظر زه یو شهرۍ نازولې او حتا بې لارې انجلۍ وم چې د دوي د ارباب زوي باندی مې خدای خبر څه کارونه کړې وه چې د لارې څخه مې اړولې وو!

هغه هم داسې اړول چې خپل په نامه ښځه یې لا زما لپاره خوشې کړی وه. هر څومره چې کوښښ مې کاوه دې خبرو ته فکر ونکړم خو ذهن مې راته بار بار ویل چې ایا دا فکر یوازی د هغه ښځو وو یا که ټول کلې زما په اړه داسې فکر کوی؟ د

جهان کورنۍ څنګه؟ هغوی زما په اړه څه فکر کوي؟ زړه مې غوښت د هغوی نظر خپل د ځان په اړه واورم یو رقم وسواسي مرض مې د هغه خبرو وروسته پيدا کړی و، په دی فکرونو کې دومره غرق وم چې د جهان راتګ ته مې هیڅ پام نشو کله چې راباندی غږ کړل نو د وېرې څخه مې اوږی وپریدل او هغه ته چې په حیرت زما و سر ته ولاړ وو وکتل.

- ته کله راغلې؟
جهان په حیرت او تروش تندی راوکتل او ويې ویل: دا درې ساعت کیږی راغلې یم او تاته ناری وهم، فکر دې چیری دی؟
د هغه تروش تندی او منتظر نظر ته مې وکتل او پوهیدم که یو دقه نور د هغه د داسې نظر لاندی پاتې شم نو ټول موضوع به ورته ووایم، او ما نغوښتل د هغه طبعیت خراب کړم نو ځکه په تلوار لځایه پاسېدم داسې حال کې چې د کوټې د دروازی خواته تلم ومې ویل: زه ښه و چې راغلې ماشومانو باندی خیال ساته زه یوځل بهر لاړه شم د واده څخه چې راغلې یم تر اوسه نه یم تللې هسې نه دوي بد فکر وکړې.

او خپل د دې خبری سره سم بغیر له دې چې جهان ته د کوم څه ویلو فرصت ورکړم له کوټې ووتم. د دې څخه مخکې چې دروازه بنده کړم د جهان غږ مې واوریده چې راپسې غږ کړل خو ما ځان داسې ونیو لکه ما چې د هغه غږ نه يې اوریدلې او د زینو پخوا روانه شوم تر څو لاندی منزل ته لاړه شم، که څه هم زړه مې نغوښت خو زما په نظر داسې کوټه کې کښېناستل او ځان قهر نیول د ماشومانو کار و، لا دوه زینې نه وم ښکته شوی چې د دهلیز څخه مې د ارباب قهرجن آواز تر غوږ شو چې ویل يې: انسان یو وار ګوري چې د کور نفران مې راغلې او کنه؟ توي(تاسو) ټول جر،جر ځانونه په موټر کې ځای کړل او یو وار مو و لا نکتل چې دا انجلۍ چیری ده چیری نه ده؟ هغه دوه کوچنیانو سره څه کوی څه نکوی؟

د ارباب د خبرو په اورید همالته پښه نیولې و درېدم، داسې معلومېدل چې د کور ټول ښځې دهلیز کې وه او ارباب هم د نن پکار باندې مواخذه کول چې زه یې یوازې پرېخودلې وم. که ووایم زړه مې خوشحاله شو بده ده؟ ولې بده وی؟ حق یې دی سم خبرې وخورې زه دا نه وایم چې دوي باید څلرویشت ساعت پر ما خیال وایې او ماته یې جان و قربان ویلې وایې خو دومره زما حق وو چې دوي راباندې د تلو وخت کې یو غږ کړې وایې، ما هغه واده کې یوازې دوي پېژندل او د جهان د کاکا ټول کورنۍ راته بېګانه وه، داسې حال کې چې د دوی د کاکا، ماما، خاله یا هم عمه کور راتلو خو زما لپاره هغه کور د اوه نسل څخه بېګانه و ما هلته یوازې همدوي پېژندل او دوي هم داسې کار زما حق کې وکړو او زه یې یوازې هلته پرېخودم.

د ګلناز غږ مې واورېده چې په نیش او کنایه یې وویل: وې بابا موږ خو څه په قصده نه وه پرېښودلې د واده ورځ وه بد حال وو فکر مو نسو ورته اوس خو څه قیامت نه دی راغلې.

د ګلناز په دی خبره مې خپل غاښونه سره وچیچل ما بد وکړل چې ومې ویل دا سمه شوی، نه دا تر اوسه همغه د لستوڼې مار ده، زړه مې غوښت ورننوځم او ورته ووایم چې لږ انسانیت هم ښه وی زه ستا کور کې مېلمنه وم او تا داسې زما مېزبانې وکړل چې لوڅې پښې بغیر د حجاب دې له کور بهر کړم خو د دې څخه مخکې چې د دهلیز خوا ته قدم واخلم او دا خبرې وکړم د ارباب غوسه ناک غږ مې واورېده چې ویې ویل: دا لا ستا په نظر قیامت نه دې؟ د فیروز خان ارباب مڅور د جهان خان شزه په ټکنده غرمه کې د هغه دونې سرېانو په مخکې لوڅې پشې او بی حجاب راووتل؟

د ارباب په دی خبره زما سترګې له حیرت خلاصه پاتې شوی او د ښځو د حیرت څخه ډک د "وی" غږ مې هم واورېده خو ارباب بغیر له دې چې چا ته د خبرو اجازه ورکړې په همغه غوسه وویل: سر له سبا هر چیرې ولاړسې دغه یوه خبره به د ټول کورو مجلس وی چې د ارباب مڅور لڅ سر او بې چپلکو د فیاض خان له کوره یې راشړلې وه. (فیاض خان د ارباب ورور د جهان خان کاکا او د بشیر خان خسر)

د ګلناز ورخطا او باید ووایم ډارېدلې غږ مې واورېده چې ويې ویل: چا راشړلې بابا؟ حجاب يې په هغه شور ما شور د واده کې ورک ســ...
ارباب پرينخود ګلناز خپل خبره پوره کړي او په همغه غوسه ناک لهجه چې هره شیبه لاپسې قهرجن کیدل تقریبا پر ګلناز چيغ کړل او ويې ویل: زه تاته بیعقل معلومیژم ها؟ ورينداره به دې ساده وي او فکر به کوي چې حجاب او چپلکې ورک سوي دي! خو ما ته خو چل نسې راکولې، هغه کور کې ستا خواشې نه وه؟ هغه بله خواشې دی نه وه؟ ایندورګیان او د لیوره شزی دی نه وه؟ یو بل انسان هلته نه وو چې د دې سره کمک وکې او دی ته یو حجاب یا یو جوړه چپلکې ورکی؟

دا دې بیخی د دې چپلې او حجاب د رشتیا ورک سوي وی، هیچا دا نه پیژندل چې دا د زوم خپل ده؟ ها؟ دا چې انګشت نما په ټول مجلس کې معلوم وه چې د جهان شزه ده او د شهر څخه راغلې هغه وخت یو نفر نه و چې ورسره کمک وکي؟ (ارباب څو شیبې خاموش شو او بیا داسې حال کې چې د خبرو مخاطب يې دا ځل د جهان مور وه وویل: ما تاته ونه ویل دا انجلۍ او کوچنیان يې تنها مه پریژده؟ ها؟

د جهان مور ډاریدلې غږ مې واوریده چې ویې ویل: ه.. هغه زما پکر نس...
ارباب د خبرې اجازه ورنکړل او د ګلناز پشان د دې په سر یې هم چیغه کړل او ویې ویل: ستا خو باید دې خبرو ته فکر وایې ...
ستا خو نه باید دیاده وتلې وایې چې دې کورنۍ زموږ سره تر کم حد بغض او کینه ده، یا که په دی دوه شزو کولو او ورکولو ستا هم لیاده وتلې چې هغوي زموږ د وینو تږې دی.

د ارباب په خبرو مې سر نه خلاصیدو نه پوهیدم د هغه د دې خبرو مطلب څه دی؟ د څه وینو تږې؟ یا د څه قصد؟ خو مغز مې یوه خبره راته واضح کول او هغه دا چې زما د نن فکرونه یوازې فکر نه و؟ هغه یو حقیقت وو ما چې کوم فکر د جهان د کاکا د ښځې په اړه کړی و هغه یو دم صحیح و. خو ولې؟ ولې باید دا کار زما سره وکړی؟ ایا د هغه لور لپاره چې زما د راتګ لس کاله مخکې وفات شوی وه؟ یا د دې لپاره چې فاطمه جهان ونکړل او، رد یې کړل؟ په همدی فکرونو کې وم چې د جونید پر غږ په خود راغلم.

جونید- ادی شه یی؟
- هو ... هو .. ته چیرته وی؟
جونید په مشکوک نظر زما خواته وکتل او بیا داسې حال کې چې خپل لاسونه یې راپورته کول او د خرید پلاستیکان یې ماته خودل کرار یې وویل: تللې وم دوکان ته د ماښام لپاره مې سودا راوړل.

په ګنګس انداز مې"اها" وویل او خپل د کوټې خواته روانه شوم، نه مې غوښتل د دې خبرو د اوریدلو وروسته د هغوی مجلس کې ګډون وکړم، اوس موټر کې د ارباب د خندا پر مطلب پوهیدم هغه پر ما د ریشخند یا هم د ټوکو نه خندل! هغه د غوسې خندل نه پوهیدم چې د دوي منځ کې اخر مشکل څه دی چې د دې دومره خپلوی وروسته تر اوسه یو بل ته په زړه کې دومره کینه او بغض لری؟ یوازی دا دلیل نشې

کیدلې چې ما د هغوی د مړی لور ځای نیولې! ضرور یو بل دلیل د دې ټول خبرو شاته موجود دی خو څه؟

ما تل فکر کاوه یوازې زما خپلوان داسې دی چې زما پر مرګ راضی دی او زما دلیدلو سترګي نلری! خو اوس چې دقیق ګورم زما د خاله لورګاني تر دی حد هم ظالمانې او کینه توزه نه دی منم چې تند لهجه لری او بیحد طعنې واره وې خو داسې نه دی! البته تر اوسه ما هغوی ته دومره حق هم نه دی ورکړی چې تر دې حد ماته بې احترامې وکړی. په نیولې او خفه انداز کوټې ته ننوتلم چې جهان مې د ماشومانو څنګ ته داسې حال کې چې تروش تندی نیولې و ولید زما په راتګ هېڅ پوی نشو همغسې سر یې ښکته و او د عادت مطابق کله چې ډېر فکرمند و نو د غالې له سر هر شې راټولول اوس هم لګیا و د غالې تارونه یې اخوا دیخوا کول کله چې څنګ ته یې کښېناستلم نو تازه یې زما خواته فکر شو.

بغیر د څه ویلو یې دوه سترګی ماته ونیول او په ځیر،ځیر یې راکتل د هغه د داسې نظر پر مطلب پوهیدم جهان چې کله بغیر د څه ویلو داسې کتل مطلب "د انسان پشان اعتراف وکړه د هر هغه خبری او کار په اړه چې زما څخه دې پټ کړی" د هغه د داسې نظر په لیدو مې لومړۍ غوښتل ځان ناګاره واچوم او د ماشومانو سره پر لوبه کولو ځان بوخت کړم خو جهان اجازه رانکړل زما د لاس بند یې کلک ونیو او مجبوره یې کړم تر  څو د هغه سترګو ته وګورم، کله چې ډاډمن شو هوش او فکر مې د هغه خواته دې کرار یې وویل: څه خبره وه؟

پوهیدم چې مطلب یې واده کې زما د هغه ناڅاپه حالت څخه و خو ما ځان ناګاره واچو او مې ویل: څه؟
زما په دی خبره جهان زما لاس ته زور ورکړو او په کلک لهجه داسې حال کې چې تندی تروش نیولې و وویل: زما سره ساتیری مکوه هوسۍ! سم واضح ووایه څه چل و غرمه؟ ستا طبعیت ولې یو وار خراب سو؟ چا درته څه وویل؟

ده جهان دی خبری مشکوکه کړم، ولې جهان هره شیبه پوښتنه کول چا درته څه وویل؟ مطلب د ده فکر هم د ارباب پشان دی؟ او فکر کوی چې د کاکا کورنۍ ضرور زما سره بد رفتار کړی؟ ولې دوی دومره خپل د کاکا په کورنۍ باندی بد گمان دی؟ همدا پوښتنه مې ورڅخه وکړل او ومې ویل: تاسو ولې خپل د کاکا په کورنۍ تر دی حد بدگمان یاست؟
زما په دی ناساپه پوښتنه د جهان وریخې له حیرت پورته شوی خو د څو شیبو وروسته یې کرار وویل: زه پر هغوی بدگمان نه یم خو...
- خو څه؟

جهان- خو چندان د اعتماد قابل هم نه دی(جهان د دې خبری وروسته خاموش شو او د غالي گلانو ته پر کتو شو، د ښه شیبه سکوت وروسته یې ناڅاپه بحث بدل کړو او ویې ویل: زه دا خبری پریږده هر چا چې هر شې ویلې بد یې کړی(بیا یې په خندا او شیطنت وویل: ماته یو خبر راغلې.
که څه هم زړه مې غوښت پوهه شم چې ولې دوي خپل د کاکا پر کورنۍ تر دې حد مشکوک او بد گمان دې خو کله چې جهان بحث بدل کړو نو ما هم نور خبره یو پر دوه نکړل او ومې ویل: څه خبر درغلې؟

زما په دی خبره جهان په شیطنت زما د لاس بند خپل لاس کې پورته او ښکته کړو او داسې حال کې چې زما د لاس بنکړې خپل پر گوتو اخوا دیخوا کول ویې ویل: خبر راغلې چې یو چا نن په واده کې اور لگولې وو؟!

په حیرت مې وویل: واده کې اور لگولې و؟ چا اور لگولې و؟ کوم ځای اور اخیستې و؟
زما په خبره جهان په کټ،کټ په خندا شو او ویې ویل: یا مطلب مې هغه اور نه و، مطلب مې خپل په رقص باندی اور لگولې وو!

تازه د جهان د خبری پر مطلب پوهه شوم هغه اشاره زما اتڼ ته وه چې واده کې مې کړې وو، د شرم څخه مې شونډه وچیچل خو یو خبره مې ذهن ته راغلل او د شرم

ځای حیرت ونیو او ومې پوښتل: ته څنګه خبر شوی؟ (په مشکوک نظر مې ورته کتل باور مې نه راتلو چې جهان دی د ښځو مجلس ته راننوتې وی! او زما اتڼ دی لیدلې وی! زما په نظر جهان زما په فکر پوه شو ځکه په خندا یې وویل: جونید راته وویل هغه لکه چې ته لیدلې وی بیا ماته یې وویل، او لکه چې ستا اتڼ یې هم سخت خوش سوی وو ځکه هره دقه یې ویل ادی دسی شایسته رقص کوی!

د جهان په دی خبره مې وخندل او ومې ویل: جونید لیونې دی چې زما رقص یې خوښ شوی، د هغه ډلې بدترینه کس چې ټول د اتڼ حلقه یې خرابول زه وم.
جهان- نچ ته دې ورقصیژی او بیا خراب؟ دا خو امکان نلرې.

جهان د ماښام د ډوډۍ تر تیار کولو کوټه کې ناست او عجیب به وی خو ما ورته هغه خبری کوم چې ویل مې نه یې کوم ورته ټول مې ورته وکړل، هغه هم په عادی رقم نه، سم په غیبت او شیطنت مې ورته وویل چې هغوي څه خبری کول او زما سره یې څنګه رفتار کاوه که څه هم زما د خبرو په لومړۍ کې د جهان تندی تروش شو او د څهرې څخه یې غوسه معلومیدل خو دا چې ما ورته د غیبت او ګیلې پر انداز هغه خبری کول نو زما خبرو ته یې خندل، کله چې ښه مې خپل زړه تش کړو او خاموش شوم نو جهان په خندا او شیطنت وویل: شه نو شه نازولې! تا ولې پر ما ناره کول؟

د هغه په دی خبره چې اشاره یې د هغه ښځو خبرو ته وه بد، بد مې وروکتل او ومې ویل: هو نو تخو یوزارسیف د زمانې وی چې ما پر تا ناره کول.
زما په دی خبره جهان کرار وخندل او ویې ویل: شک مکوه زه دغسې شایسته یم، خو و دې نه ویل دا تعویذ دې نو په کوم مولوې کړی و چې زه دی دسې خپل لیونې کړم ها؟
- د خدای شکر دې چې عمر کې مې یوازینې کس چې لیدلې نه دې همدا تعویذ لیکونکي او مولوې دی.
جهان په شیطنت وویل: نو دا تعویذ راوړی چا وو درته؟

د جهان دې خندانه او شيطان لهجې ته مې چې وکتل نو ما هم په شيطنت وويل: پيريانو.

زما په خبره د جهان د خندا غږ بيا پورته شو او ويې ويل: بووووو خطرناک نو پيريان هم لرې نازولې؟
- هو هغه هم يو دانه نه دې يو لشکر دی.

زما په دی خبره جهان بيا په لوړ غږ پخندا شو چې ما د ماشومانو خواته وکتل ترڅو وګورم چې څه کوی؟ زموږ د خبرو وخت کې ماشومان د کوټې د دې سره تر هغه سر تلل کله ناکله هم راتلل د جهان پر اوږو او ملا ختل يا هم زما په غيږ کې کښيناستل خو عجيب وه نه يې ژړل! کنه کور کې کله چې زه ورسره يم يوزای نه ټينګ کيږی او چغې بوغې شروع کوی خو دا چې نن جهان کوټه کې و دوي دواړ هم نور د چا بهانه نکول او زموږ دواړو شاوخوا ګرځيدل راګرځيدل، د ماښام ډوډۍ وخت کې که څه هم زړه مې نغوښت لاندی لاړه شم خو کوټه کې پاتې کيدل هم ښه نه وه، هغوي که څه هم ملامت وه خو بيا هم د ګلناز خبره له قصد دوي کوم کار نه و کړې که کوم قصد او کينه وه هغه هم د جهان د کاکا کورنۍ کې وه نه د جهان کورنۍ کې.

په همدی خاطر لاندی لاړم او هلته په تلو د لومړۍ ځل لپاره خپل پر پريکړی مې افتخار وکړو! ځکه ټولو له يو سره زما څخه بخښنه وغوښتل، بلخصوص د جهان مور او د دوي دا بخښه او دا دلداری او دلجوی کول مطلب هغه قصد او کينه کې دوي نه وه شامل. او دی خبری واقعاً زه خوشحاله کړم ځکه دوي زما کورنۍ په حساب راتلل او هېڅ مې زړه نغوښت د دوي سره دې زه کوم کينه او بغض وساتم.

کله چې هغوي خپل په هغه کار پښيماني ښودل او زما څخه يې معزرت غوښت نو ما هم په ريلکس او په مسکا باندی ټولو ته ويل" کومه خبره نشته، خير دی دا خبری خو ودونو کې راځې او تير شو هير شو" او د داسې فلسفې جملو پر ويلو هغوي ته مې وويل چې ستاسو څخه خفه نه يم خو د ګلناز سره مې چندان خبری ونکړل زما په نظر ګلناز که څه هم د جهان خور وه خو زياتر خوی او خاصيت يې د کاکا د

کورنۍ خواته تللې و او د هغوي طرف يې خپل د ورونو او پلار څخه زيات نياوه او يو رقم دا هم راته په هغه کارونو کې چې نن د دې خسر خيلو زما سره کړی و ملامته ښکاريده، البته هغې هم چندان ماته توجه ونکړه، حتا يوځل يې لا د نن پکار د افسوس اظهار ونکړو، او دا کار يې زه نوره هم بداېمن کړم چې دا خپل د خسرو خيلو پخوا ده.

د بوډۍ خوړلو وروسته هر يو خپل د کوټې پرخوا روان شو او ځوک دهليز کې د چای څښلو لپاره پاتې نشول ځکه ټول د واده د کارونو څخه ستړی وه. زه هم د کوټې خواته روانه شوم خو ياد ته مې راغلل چې جهان بغير د چای څښلو څخه نه ويده کيږی نو مجبور لاره مې بدله کړه او د آشپزخانې خواته لاړم يو دوه پيالې چای مې پر ګاز کيخودل او په تمه شوم تر څو جوش راشې، همغه حال کې مې د ناوی د کوټې خواته فکر شو زما په نظر د کور بدترينه کوټه يې بشير ته ورکړی وه، دې کوټه کې ما يو څو مياشتې تير کړی وه او زما په نظر بيحد عصاب خراب کوونکي ماحول کې شتون درلود.

يعنې يوخوا د ارباب د کوټې څنګ په څنګ وه د بلخوا د کور منځ و، يعنې همدا چې دروازه خلاصه شوی وايې ټول کور ته ښکاريدل چې کوټه کې څه خبره ده؟ البته دوي زما په نظر د دروازی خوا ته پرده لګولې وه خو د غږ سره به يې څه کار کاوه؟ زه دې کوټه کې خپل د حمل اخری څو مياشتو کې کله چې ډاکټرې راته وويل چې نور به په زينو زيات نه پورته کيږی دلته اوسيدم او هې چې څومره پعذابه وم، د حمل اخر څو مياشتو کې زما بدن د نرمال حالت څخه وتلې وو او بيحد پړسيدلې وم نو د شپې لخوا به زياتر وخت لاسونه او پښې مې درد کول يوه شپه د درد با وجود زړه مې هم تنګ و نو نيمه شپه له کوټې ووتم بغير له دی چې جهان راويښ کړم، همدا چې ما دروازه خلاصه کړه د هغه خوا ارباب هم خپل د کوټې څخه راووت لکه چې د دروازی د خلاصيدو غږ يې اوريدلې وو!

او زه څومره شرمنده شوم کله چې هغه پوښتنې کول پیل کړل چې درد لري؟ چیرته روانه یې؟ کوم مشکل لری؟ او خلاصه چې ګز،ګز د ځمکې ووتم، په هر حال زما په نظر د بشیر حق کې ظلم دی چې دا کوټه یې ورکړې، بیچارګان د واده اول شپه یې شور لا نشي خوړلې. په دی فکر مې خندا راغله استغفرالله اصلاً پر ما یې څه چې شور خوری او کنه؟ نور مې د دې موضوع په اړه فکر ونکړو او د چای د دم کولو وروسته خپل د کوټې خواته روانه شوم. جهان د کوټې کونج کې خپل پټو هوار کړې و او پر لمانځه ولاړ و، عجیب وه جهان تل خپل پر پټو لمونځ کوه بغیر د دانه،مانه وختونو څخه چې پټو به یې نه و نو پر جای نماز به یې لمونځ کاوه!

ماشومان خواته مې وکتل چې د جونید څنګ ته ناست وه او هغه زما موبایل کې ورته یو شئ ښودو او د هغه ځای څخه چې ماشومانو د خوشحالۍ څخه لاسونه خوځولو پوهه شوم بیا د آس عکسونه ګوری، دا آس د دوي بیحد خوښ شوی و او هر دقه یې چغي وهل آت، آت د چای ترموز او پیاله مې پر فرش کیخودل او د هغوي خواته ورغلم زما پر نږدی ورتلو جونید زما خواته وکتل او داسې حال کې چې موبایل یې د ماشومانو لاس ته ورکو یو نظر یې د جهان خواته چې پر لمانځه ولاړ وو وکړو او بیا زما خواته یې وکتل د هغه په داسې کتو راکتو پوهه شوم چې غواړې یوه خبره وکړې خو د جهان شتون کې ویلې نشې، نو ځکه په کراره مې وویل: څه خبره ده جونید؟

زما په خبره جونید یو ځل بیا د جهان خواته چې پر لمانځه بوخت و وکتل او زما پشان کرار یې وویل: ادې هغه ... کله ځو کور ته؟
د هغه په دی خبره نرۍ مسکا مې پرشونډو راغله د جهان پر خلاف چې د شهر څخه یې هره ورځ شکایت کاوه جونید د کابل سره عادت کړی و او اوس هغه هم زما پشان په دی ماحول کې زړه تنګ شوی و.
په نرمه لهجه مې ورته کرار وویل: یو، دوه، ورځې نور هم شاید پاتې شو د هغه وروسته ځو لخیره.

جونید- هغه .. ادی کله چې کابل ته ولاړسو نو ... نو ته بابا ته وایې چې ماته اجازه راکې زه د *** مکتب کې داخله وکم؟

د جونید په دی خبره مې په حیرت وروکتل کوم مکتب چې هغه یاد کړو هغه مکتب نه وو، بلکې بهتره به وی چې ووایم لنډغر خانه وه! د کابل په سطح یو د بدترینه مکتبونو څخه و چې د درس لځایه چرس، لوچکې، او لنډغری پکې زده کیدل البته استادانو نه زده کول بلکې د هغه ماحول شاګردان همداسې وه د هغوي ورونه، پلرونه او کورنۍ ټول لنډغر وه او اولادونو یې هم د درس پر نوم هغه مکتب خپل د لوچکي اډه جوړه کړی وه، په ورخطای مې ورته وویل: ولې غواړې هلته لاړ شې؟ ستا خپل مکتب خو ډېر سم دی.
جونید- هغه ... ادی زما ملګری هلته تللې او هغوي ویل هغه ځای ډیر سم دی ته هم راسه، خو زه پوهیژم چې بابا ماته اجازه نه راکوی خو که ته ورته ووایې...

خبری ته مې پرینخود او داسې حال کې چی کوښښ مې کاوه غږ مې کرار اوسیږی ومې ویل: ستا لکه چې زړه دې ما خپل پر پلار خوشې کړی؟
جونید- نه ... ادی ... هغه ..
بیا مې خبری ته پرینخود او ومې ویل: هغه مکتب نه دی جونید! هغه یو لنډغر خانه ده ما خپل ټول عمر هلته تیر کړی هوښیار انسان د هغه مکتب په زر متری کې نه خپل ځې او نه هم خپل ماشومان پریږدی او ته غواړی هلته لاړشې؟

زما په خبره جونید په حیرت راوکتل او ویې ویل: خو زما ملګری هلته تللې او هغوی ویل ډېر سم مکتب دی؟
- خپل ملګرو ته ووایه چې تاسو هم که درس ویل غواړی نو بیرته راشې،ځکه هوښیار انسان داسې خراب ځاینو ته نه ځې، او تا زما سره وعده کړی وه چې ډاکټر کیږی! نو د دې لځایه چې خپل د ملګرو پسې شې خپل درس ووایه او هو دا تل په خیال کې ساته که خدای نکرده کوم ورځ تا کوم غلط کار وکړو نو ستا څخه مخکې ستا پلار ما مړه کوی، تخو نغواړی ما دې ټول خلکو ته شرمنده کړی؟

زما په دی خبره جونید سر ښکته واچو او کرار یې وویل: یا هېڅکله هم نه.
د هغه د دې معصوم څهرې په لیدو زړه مې طاقت ونکړو نږدی شوم او سر مې ورڅخه ښکل کړو ما نغوښتل ورسره تنده لهجه وکړم خو د هغه دا خبری زه وېرولې وم هغه مکتب ډېر غلط ځای و او ما هېڅ زړه نغوښت جونید دې د هغه په اړه فکر لا وکړی تلل خو لری زه لا د جونید څخه کامل لری شوی نه وم چې د جهان دروند غږ مې خپل د شا څخه واورید.

جهان- خیرت خو دې؟ ستوی(ستاسو) دواړو څه بنګ، بنګ دی؟ ما ته هم ووایست.
جونید په ورخطا او وېرېدلې نظر زما خواته راوکتل که څه هم ما هېڅکله جهان نه ولېدلې چې په جونید دې لاس پورته کړې او هغه ووهې خو بیا هم جونید ورڅخه ډاریدو او دا ماته عجیب وه!
- هېڅ خبره نسته خیرو خیرت دی، موږ مور او زوی یو دقه مجلس کاوه.
زما په دی خبره جهان داسې حال کې چې پر نالې کښېناست او ترموز یې د ځان خواته کش کاوه په مشکوک لهجه وویل: امهممم دا مجلس یو څه په زوره وکې چې زه یې هم واورم، ولې داسې په پټه یې کوی؟

نه مې غوښتل جهان په دی خبره پوهه شې، ځکه سل پر سلو کې زه یې ملامته کولم او ویل یې دا ستا د لاسه داسې شوی او ستا نازونو داسې کړی، نو ځکه جونید ته مې کرار اشاره وکړل چې د کوټې څخه ووځې او هغه هم د خدای غوښتې په یو جست له کوټې ووت د هغه په تلو جهان په تروش تندی زما خواته وکتل او ویې ویل: چشې درته ویل چې تا دسې جر خبره پټه کړل او هغه دې د کوټې وباسې؟
د هغه د تروش تندی په لیدو کرار لځایه پاسیدم او د هغه خنګ ته لاړم دا دومره وخت کې د جهان پر دی یو خاصیت ډېره ښه پوهه شوی وم او هغه دا چې جهان هر کله خفه، قهر، غوسه یا هم پریشانه وایې نو باید خنګ ته یې او نږدی ورغلې وایې!

ځکه په دې وخت کې هر څومره چې هغه ته نږدی شوی وایې هغومره د هغه غوسه ژر سړه کیدل خو که مخ مې ورڅخه اړولې وایې یا جواب مې نه وایې ورکړی نو

هغومره يې د غوسې اور زيات کېده په همدی خاطر نږدی څنګ ته يې کښيناستلم او داسې حال کې چې د هغه د لاس مې د چاى ترموز اخيست او ورته چاى مې اچول په خندانه لهجه مې وويل: کومه غټه خبره نه وه ويل يې کله څو کابل ته؟ لکه چې د هغه مکتوبه شروع شوی؟

زما په دی خبره د جهان تندی لاپسې تروش شو او ويې ويل: نو ولې ماته ونه ويل؟ دا درې ساعت دلته زما سره ناست وو.
په همغه خندا او شيطنت مې وويل: تا دسې تندی تروش نيولې څوک جرئت کولې شې چې کوم څه ووايې؟
زما په دې خبره جهان بد، بد راوکتل چې زما خندا لاپسې زياته شوه.
جهان- څوک جرئت کولې سې او کنه ته يې شه کولې سې.
د هغه په دی خبره په شيطنت مې ورته سترګک ووهل او ومې ويل: زه خو همداسې شجاع او دلاوره يم شک مکوه جناب.
زما په شيطنت او خندا بلاخره د جهان د تندی ګونځې خلاصې شوی او په ستړې لهجه يې وويل: جر ځايونه واچوه چې د ستړيا څخه دسې مړ، مړ يم.

د هغه په دی خبره په غمژن نظر مې وروکتل نن د رښتيا هم چې د ستړيا ورځ وه ټول يې د لاس او پښو واچول بلخصوص سړيان او بيا بيچاره جهان! هغه يو ځل سړيانو ته په بوډۍ ورکولو کې ستړی شو، بل ځل بيا زما له لاسه ښځو ته په بوډۍ راوړلو کې نو ځکه په زړه سوانده لهجه مې وويل: کوم ځاى دې درد کوى؟ غواړې درته چاپی کړم؟ (ماساژ)
زما په دې خبره د جهان پر شونډو نرۍ مسکا راغله او ويې ويل: لکه چې ساتيری، ساتير کې بوډا سوم نازولې؟! ځکه چې ملا مې درد کوی.
د هغه په دی خبره مې خندا راغلل او ومې ويل: بوډا خو د اول وې جناب يوازی اوس دې بوډاتوب خپل نښانې ښکاره کوی.

زما په خبره جهان هم پخندا شو او داسې حال کې چې خپل د پیاله چاې څخه یې غړپ کاوه زما او د ماشومانو خواته یې اشاره وکړل او ویې ویل: څه وکم توي(تاسو) درې سرو بوډا کړم.

غوښتل مې ورته ووایم چې د اول بوډا وی او پر موږ باندې خپل بوډاتوب مه اچوه، خو پوهیدم که جهان ته زیات بوډا،بوډا ووایم هغه غلط فکر کوی او شاید جنګ وکړی، او دا راته څو ځله ثابته شوی وه جهان څو ځله په دی لفظ زما سره جنګ کړی و نو ځکه بحث مې بدل کړو او ومې ویل:

- اوس غواړی چې ملا دې درته چاپې کړم کنه؟
زما په دی خبره جهان په خندا وویل: غوشتل څه کوی چې زه خو ورته مړ پروت یم، خو اجازه راکه چې دا پیاله چاى وچشیم بیا د هغه نه بعد.

بغیر د څه ویلو پاسېدم تر څو وګورم ایا شړشم یا ویکس شته چې ورباندی د جهان ملا غوړه کړم او چاپی کړم کنه؟ ادی تل د بابا ملا یا زنګون چې درد کاوه نو په شړشمو یا هم ویکسو یې غوړ کاوه او ویل به یې چې شړشم او ویکس درد کم کوی، نحو ځکه زه هم د هغه پسې په ګرځیدو شوم خو متاسفانه زه هیڅکله خپل د مور پشان سامان کاره نه وم چې دا رقم شیان دی زما وسایلو کې موجود اوسیږی، جهان چې زه د ګرځیدلو حال کې ولیدم نو ویې ویل: د چشې پسې ګرځې؟

- ګورم شړشم یا ویکس سته چې ستا ملا وربانډی غوړه کړم کنه؟
جهان- ایله کوه راسه دغسې چاپی که ضرورت نسته.
- نچ ملا دی غوړه شي لږ نرم کیږی او چاپقط هم سم کیږی.
جهان- امهمم.

جهان نور څه ونه ویل چې زه بیا لګیا شوم خو نه ویکس وه نه هم شړشم! اخر د مجبوری څخه مې واسلین راوخیست او په ناراضه انداز مې د جهان خواته ونیول چې هغه په خندا وویل: زه راځه دا واسلین هم غنیمت دی.

د مجبورۍ څخه مې همغه راواخيستل او د جهان خواته ورغلم ترموز او د چای پياله مې د هغه له څنګ له لرې کړل او ورته مې وويل: خپل کميس لرې کړه.
زما په دې خبره جهان په شيطنت وويل: په سترګو، بل امر؟

بد، بد مې وروکتل او تر څو چې جهان خپل د کميس پر ويستلو لګيا و ما د کوټې دروازه بنده کړه! د جهان کورنۍ په سور نه وه برابره هسې د هغه بل ځل کار به شوی وی او د نيلوفر خبره آش نخورده او دهن سوخته به اوسيږو! (دا يو فارسی متل دې چې مطلب يې يو کار يې کړی نه وی او د هغه سزا ورکړی شې.) د دروازی بندولو وروسته د جهان خواته وګرځيدم او کله چې بغير د کميس مې وليدی نو د شرم څخه مې خپل شونډه وچيچل زما په نظر زه د نړۍ يو د ليونې ترينه انجونو څخه يم!؟ او هغه ځکه چې داسې عجيب غريب شيان مې خوښيږی که يو چاته ووايم نو ضرور د ليونې لقب راکوی.

مثال زما د جهان د ږيرې سپين ويښته تر دې حد خوښيږی چې هره شپه يې د خوب څخه مخکې شمارم! داسې حال کې چې شايد د نورو انجونو نه خوښيږی د خاوند ويښتيان يې سپين اوسيږی خو زه ليونې مينه يم په هغه تار د سپينو ويښتيانو، بل دا چې ما د جهان د سينې ويښتيان بيحد خوښيږی! البته د دې لپاره يو اسلامې دليل هم لرم زموږ د دنيات استادې ويل د کوم سړی د سينې ويښتيان چې زيات وی هغه دلاوره او شجاع دی او ويل يې د پيغمبر"ص" د سينې ويښتيان زيات وه! داسې حال کې چې د اوس وخت زياتر هلکان زه وينم چې خپل د سينې ويښتيان اخلې او سومره بد مې راځې د داسې کسانو څخه.

دا ټولو شيان شايد ځينې انجونو خوښ وی خو تر ټولو عجيب خاصيت چې لرم چې پر ويلو يې شايد بيخې د ليونيانو لقب وګټم هغه دا دې چې جهان يو عادت لری کله چې غواړې خپل غوسه کنټرول کړې يا هم زيات فکرمند وی نو خپل د ږيرې څو تاره ويښتيان پر لاس باندی تر غاښ لاندی کوی! او دا کار يې ما ليونې کوی يعنې دومره

دې حالت کې زما په نظر ښايسته معلوميږی چې حد نلری! خپل په ليونې فکرونو کې ورکه وم چې د جهان په شيطان غږ پر خود شوم.

جهان- نه وم خبر چې زما لوڅ بدن دې دسې خوشيږی چې دا درې ساعت په کتو نه مړيږی! باره هره شپه کميس باسم څنګه خوشه دې ده؟
د جهان په دی خبره د شرم څخه تر ځمکې ووتم او د دې لپاره چې خپل ځان د هغه حالت بچ کړم ومې ويل: نه .. نه زما فکر بل ځای و اصلاً تا ته مې نه کتل.
جهان داسې حال کې چې هغه شوخ او شيطان نظر راته نيولې و او د شيطنت څخه يې هغه تور سترګو عجيب برق واهه ويې ويل: کوم کارونو کې دی فکر وو؟ ما ته هم ووايه شايد کمک وکولې سم؟

پوهېدم که هرڅومره د شرم څخه سره او سپين شم هغومره جهان خپل شيطنت ته دوام ورکوي نو ځکه شرم مې پريخود او داسې حال کې چې د هغه خواته ورتلم ومې ويل: خپل ګمان پر ما مکوه جناب هغه ته يې چې تل غلط،غلط فکرونه کوې ما يوازی ديته فکر کاوه چې ... چې .( نه پوهيدم ادامه کې څه ووايم؟) چې جهان په شيطنت او خندا وويل: چې چشې نازولې؟ ها؟ لکه چې دروا‌غ دې نه سره برابر کيږی؟ ضرورت نسته درواغ ووايې يو خبره وکه ځان خلاص که، ومنه زما بدن ته دی کتل او شيطانې فکرونه دې کول څه بيګانه خو نه يم، ميړه دې يم په دی خبره لا خوشحاليږم.

د جهان په دی خبره د شرم څخه تکه سره شوم او تقريبا په چيغه مې ورته غږ کړل: جهـــــان.
زما په داسې لهجه د جهان خندا لاپسې زياته شوه او زما پشان په کلک يې وويل: جـــــان جهـــان چشې دې نازولې؟
- يوځل بيا داسې خبرې وکړی اصلاً ملا دې نه چاپې کوم.
جهان داسې حال کې چې کوښښ کاوه ونه خاندی ويې ويل: اوس ما چشې ويلې چې ته دسې وايې؟

ما بغیر د څه ویلو مې وروکتل چې جهان کرار وخندل او داسې حال کې چې پر نالې پړمخې څملیده ویې ویل: ځه شه دی نور شې نه وایم راسه.

یو څو ژوره نفسونه مې واخیستل او څنګ ته یې نږدې شوم لومړی مې واسلین خپل پر لاسونو ښه ډېر ووهل کله چې لاسونه مې ښه غوړ شول نو د جهان پر ملا مې ووهل، کله چې لاس مې د هغه پر ملا ولګید حیرت مې وکړو د جهان بدن بلخصوص ملا یې بیحد ګرم وه لکه چې تبه یې وی؟ فکر مې وکړو شاید د ربښتیا تبه یې وی نو ځکه لاس مې د هغه پر نیم تندی چې د بالښت څخه ښکاریده کیخود خو مخ یې دومره نه و ګرم! زما په دی کار جهان په خندا وویل: ملا مې درد کوی شایستې نه تندی.
- غوښتل مې وګورم چې تبه خو نلری؟
جهان- یا تبه نلرم.

- نو ملا دې ولې ...( ناځاپه مې یو خبری ته فکر شو، د انسان د بدن کوم ځای چې ډېر درد ولرې نو هغه ځای ګرم کېږي او داسې وی لکه تبه چې لری،کله ناکله هغه درد پر ضعیف کسانو کامل تبه هم راوړی خو پر جهان پوره تبه نه وراغلې یوازی ملا یې داسې تکه سره وه لکه اور چې وربانديې بل وې! باور مې نه راتلو د دومره درد باوجود ناست و او پر ما یې ټوکې کول؟)

- ستا ملا ډیره درد کوی؟
جهان همغه حال کې چې نیم مخ یې پر بالښت و د شونډو لاندی کرار وویل: نڅ دونې درد نکوی لژ رګونه یې شخ سوی.
- خو زه فکر کوم چې زیات درد کوی؟
زما په دی خبره جهان کرار وخندل او ویې ویل: ته یې لژ چاپی که زیات او کم پسی ایله کوه.
د جهان په دی خبره نور مې څه ونه ویل او کرار، کرار مې ملا ورځخه چاپی کول

شروع کړل څو شیبې چې تیری شوی جهان کرار وویل: اخ دغه ځای یو څه کلک چاپې که ټول درد د دغه ځای دی.

د جهان په دی خبره لاسونه مې بیرته د هغه ځای پخوا روان شول کوم چې جهان د چاپې کولو غوښتنه کړی وه، په همدی وخت کې د ماشومانو فکر هم زمونږ خواته شو او دواړه زما څنګ ته راغلل مدثر غوښتل د جهان پر ملا پورته شې خو ما پرینخود او ومې ویل: نې بابا بو بې دې( دوي خورې ته "بو بې" ویل نو ما هم کوښښ وکړو د هغوي پر لهجه پوه یې کړم، کله چې ومې ویل بابا "بو بې"دې نو دواړو په حیرت د جهان خواته وکتل چې جهان په خندا وویل: دونې هم نه یم بوډا شایستې چې د دوه کوچنیانو د وزن طاقت ونلرم، ستا چاپې کول باره بس دې یو ګړی ایله کړه دا پهلونان مې چاپی کړی.

غوښتل مې منع یې کړم ځکه زما په نظر د ملا درد یې زیات و خو جهان اجازه رانکړل او ماشومان ته یې وویل چې پر ملا یې پورته شې هغوي هم کله چې خپل د پلار خبره واوریدل نو زما خبرو ته یې زره اندازه لا اهمیت ورنکړو او د جهان پر ملا پورته شکته کیدل یې پیل کړل چې جهان په خندا وویل: ستا لاسونه دې درد نکوی نازولې خو پر خوا دې بده ونه لګیژی ستا د چاپی کولو څخه د دې کوچنیانو ختل ډیر فایده وکړل فکر کوم ملا مې تازه یوڅه سره نرمه سوه تا دسې کرار، کرار زما پر ملا لاس وهې چې د چاپې د ځای مې فکر کوی چې تخنوی مې.

د جهان په دی خبره که څه هم خندا راغلې وه خو د دروغو مې تروش تندی کړو او ومې ویل: ما فکر کاوه چې ملا دې ډېره درد کوی نو ځکه کرار مې چاپی کوی.
جهان په خندا وویل: تا فکر وکی چې سړی ولاړی بوډا سو کلک یې مه چاپی کوه چې هسی نه هډوکان یې مات سې؟

د جهان په دی خبره نور مې خپل خندا کنټرول نشو کړی او په خندا شوم چې هغه هم زما په خندا وخندل، ماشومانو څو شیبې د جهان په سر او ملا وختل او کله چې ستړی شول نو ژړا یې پیل کړل زه هم پاسېدم ځایونه مې ورته واچول او څملول

مې تر څو ویده شې هغوي هم خوب راغلې و نو ډېر ژر ویده شول.کله چې د ماشومانو څخه فارغه شوم او د جهان خواته وګرځیدم نو هغه مې همغه حال کې پرې مخې ویده ولید نیم مخ یې راته ښکاریدو چې په تندی باندی نرۍ کرښه وه او دا کرښه ما ته د درد ښکاریدل! ځکه جهان خوب وخت کې تندی نه تروش کاوه خو اوس چې تندی تروش نیولې مطلب درد لری!

شاید دومره درد یې نه درلود خو زما زړه ورته ناکراره وو، پاسیدم د کوټې د پکې درجه مې ښکته کړل دومره ګرمې نه وه یخه هوا د ملا لپاره یې شه نه وه بلخصوص اوس چې لوڅ پورت و ملا یې نور هم په درد کیږي که څه هم د پکې درجې په ښکته کولو کوټه یو څه ګرمه شوه خو بیا هم یو نرۍ کمپل مې پر جهان واچو او څنګ ته یې څملیدم غوښتل مې د تل پشان د هغه مردانه لاسونو منځ کې په غیږ کې ویده شم خو، جهان پړمخې څملیدلې و او ملا یې هم درد کول نو نه کیدل چې غیږ ته یې ورشم،بد عادت کړې وم ژمې کې بهانه مې جوړه وه ویل مې هوا یخه ده ستا غیږ ګرم دې خو اوس په دی ګرمې کې بهانه هم نه جوړیدل نو ځکه همغسې څنګ ته یې څملیدم او د هغه نیم مخ د ډیری یوخوا سپین ویښتو ته په کتو خوب ویوړم، نه پوهیږم څومره به ویده شوی وم خو دومره پوهیدم چې لا سهار نه دی شوی چې د کوټې دروازه وټکیدل.

د خوب څخه ډکې سترګې مې په زوره خلاصې کړی جهان په درون خوب ویده و او د دروازی غږ یې بیخې اوریدلې نه و لومړۍ مې غوښتل هغه راویښ کړم چې وګوری څوک دی چې دروازه ټکوی؟ خو د هغه خوبولې څهری ته په کتلو زړه مې ونشو او خپل لځایه پاسېدم داسې حال کې چې ټکرې مې پر سر سم کاوه او د دروازی خواته تلم غږ مې وکړو: څوک یې؟

د هغه خوا څخه کوم ځواب رانغې که څه هم لږ ډاریدلې وم خو د دې فکر پر کولو چې د ارباب کور کې یو او ټول د جهان کورنۍ ده او کوم بیګانه کس نشته لږ مې زړه جمع شو او دروازه مې خلاصه کړه، د کوټې د ګروپ رڼا دباندی لګیده او په همغه

پیکه رڼا کې ما د بشیر قد او قامت وپیژنده د هغه په لیدو مې حیرت وکړو د دې څخه مخکې چې زه کوم څه ووایم هغه په نیولې غږ وویل: کاکا بیده دی؟
په دی نیمه شپه د بشیر په لیدو مې بیحد حیرت کړې و خو کله چې سترګي مې لږ د تیاری سره عادت شول او د هغه بد حالت او سري سترګي مې ولیدی نو حیرت مې په وحشت بدل شو.

د هغه ګډوډ ویښتیان چې ښکاریدل بار،بار یې لاس پکې کش کړی د کمیس تڼی چې خلاصوی او اخر کې سری سترکي لکه د وینو یو پردی باندی چې پوښل شوی وی و ډاره کړم په تلوار مې وپوښتل: خیرت خو دی؟ څه شوی؟
بشیر لکه چې زما غږ بیخې نه اوریدو او یو بل نړۍ کی و یوازی په بې کرار حالت وویل: خپل د خیره کاکا یو وار راویش که لژ کار لرم ورسره.

د هغه داسې بی تاب حال په لیدو بې اختیاره څو قدم شاته شوم او د جهان خواته ورغلم، د بشیر حالت ما ته هېڅ عادی نه ښکاریدو په همغه لړزانه لاسونو مې جهان وخوځاوه او ورباندی غږ مې کړل: ج... جهان.
زما په غږ او خوځولو جهان خپل سترګې نیم کښې خلاصې کړی او کرار یې وویل: هوممم!؟
کوښښ مې وکړو چې غږ مې ونه لړزیږی تر څو جهان ورخطا نشې په بیحد کرار غږ مې وویل: بشیر راغلې لکه چې ستا سره کار لری؟
د بشیر د نوم پر اوریدو د جهان سترګي پوره خلاصې شوی او خپل ځای کې کښیناست همغه حال کې نظر د کوټې په خلاصه دروازه ولګید داسې حال کې چی خپل د کمیس پسی ګرځیدو کرار یې وویل: خدای دی کی څه خبره ده په دی نیمه شپه؟

د جهان کمیس لومړۍ ما پیدا کړو د هغه څنګ کی و داسی حال کې چی کمیس مې د هغه لاس ته ورکو د هغه پشان په کراره می وویل: حالت یې ماته ښه نښکاری.
زما په دی خبره جهان په تلوار خپل کمیس واچوه او بغیر له دی چی تڼی وتړی د

کوټې ووت زه هم څو ګامه ورپسی شوم او د جهان غږ مې واوریده چې بشیر ته یې وویل: خیرت خو دی؟ بابا شه دی؟

د جهان په خبره تازه مې دی موضوع ته فکر شو! بشیر په دی خراب حالت په دی نیمه شپه کی راغلې و د جهان پسی د کورنۍ کوم کس خو ایا مریض نه وو؟ او زما ذهن کی هم یوازی ارباب راتلو منم چی د کورنۍ د هر غړی په مرضتیا انسان ورخطا کیږی خو ارباب د کورنۍ یوازینی کس وو چی د ټولو نفس وربراندی بند و، د بشیر غږ مې وا نه وریدو په تلوار د کوټې ووتم غوښتل مې پوهه شم چې څه شوی؟ او څه خبره ده؟ زما د وتلو سره سم د بشیر نیولې غږ پورته شو چې ویې ویل: یا کاکا ټول شه دی ما ستا سره لژ کار وو.

د بشیر دی ګنګس انداز خبرو کولو ته زه حیرانه وم جهان یوه ژوره ساه واخیسته او داسې حال کې چی د بشیر پر اوږه یې لاس کیخودو کرار یې ورته وویل: څه خبره ده بشیر؟ په تا څه سوی؟
بشیر سر راپورته کړو او زما خواته یې وکتل د هغه د نظر په تعقیب جهان هم زما خواته وکتل او داسی حال کې چی د لاس په اشاره یې بشیر د لاندی منزل خواته هدایت کاوه ما ته یې وویل: ننوځه کوټې ته.

او د دی خبری سره سم خپل هم د بشیر پسې لاندی منزل ته ښکته شو، زه لا همغلته ولاړه وم چې د د هلیز د دروازی غږ مې هم واوریده او پوهه شوم چې دواړه دباندی حویلۍ ته ووت! حیرانه وم نه پوهیدم چې څه خبره ده؟ او په بشیر څه شوی؟ ولی دا رقم حالت یې خراب و؟ په همدی فکرونو کې وم چې د ماشومانو د ژړا غږ پورته شو او مجبور کوټې ته ننوتم که څه هم بیحد مې زړه غوښت د هغوی پسی ورشم او وګورم چې څه چل دی؟ خو نه کیدل نو مجبور په تمه شوم تر څو جهان راشې او د هغه څخه وپوښتم چې څه خبره وه؟ خو یو ساعت شو دوه او دوه شول دری د سهار اذانونه یې وکړل ما لمونځ وکړو خو بیا هم جهان رانغلو، کرار، کرار مې وېره ډېریده زړه مې بده ګواهې ورکول د لمر ختو پوری کوټه کې ناسته وم خو کله چې

بیا هم نه د جهان څخه کوم خبر شو او نه د بشیر څخه نو د لاندی منزل پر خوا روانه شوم تر څو وګورم څه خبره ده؟

کله چې لاړم د کور ماحول د نور وروځو پشان عادی وو! تازه د جهان وریندارګیانې راویښې شوی وه ځینو یې جارو کاوه ګل بې بې هم د تل پشان تنور ته تللې وه او خلاصه چی په ظاهر خیرو خیرت و. او دې سکوت زه هم خاموشی ته مجبوره کولم که څه هم زړه مې غوښت د یو چا څخه پوښتنه وکړم چې ایا دوي په څه خبر دی او کنه؟ خو له ظاهره داسې ښکاریدل چې دوي هم زما پشان ناخبره دی دهلیز کې سرخان هوار شو د جهان او بشیر بغیر نور ټول په سرخانه راټول شول ګل بې بې خپل تازه ناوی ته د هغې کوټه کې ډوډۍ ویوړل ویل شرمیږی نشې راتلې خو کله چې بیرته له هغه خوا راغله نو لږ فکرمنده غوندې وه، شاید د بشیر په نه لیدو فکرمنده وه؟

زه ناکراره وم نه پوهیدم چې څه روان دی خو ماشومانو د ډوډۍ په لیدو د سرخان خواته ځانونه کش کول ارباب چې هغوی ولیدل نو ما ته یې وویل چې هملته کینم او ماشومانو ته ډوډۍ ورکړم.زه هم د مجبوری څخه په دهلیز کې کښیناستم او په شیدو کې مې هغوی دوارو ته ډوډۍ میده کول چې د جهان مشر ورور وویل: جهان چیری دی وریندارۍ؟ تر اوسه بیده دی؟
زما د څه ویلو مخکې جمشید وویل: پرون ډېر ستړی سو شاید په هغه خاطر تر اوسه بیده وی کنې لالا او تر دی وخت بیده کیدل امکان نلری.

د هغوي په دی خبرو پوهه شوم چې دوي هم د موضوع څخه نه دی خبر نو ما هم ونه ویل چې بشیر نیمه شپه د جهان پسی راغلو او هغه یې لځان سره ویوړ،که څه هم زړه مې ناکراره و خو خاموش شوم مدثر ته مې په قاشق باندی په شیدو کې لانده شوی ډوډۍ ورکول چې هغه ناساپه په خوشحالې چیغه کړه: بابا!

د هغه په غږ په تلوار مې د دهلیز دروازی خواته وکتل چې جهان په تروش تندی داسې حال کې چې د کمیس تڼې تر اوسه خلاصې وه او د سر ویښتیان یې لږ ببر وه

او سترګې سرې وه رانښوت، نه پوهیدم چې د جهان د سترګو سور والې د سترېیا څخه دی؟ بې خوبې؟ غوسه یا کوم بل څه څخه؟ خو هر څه چې و همدا چې ومې لیدو نو یو هوسا نفس مې واخیست غوښتل مې ورځخه وپوښتم چې چیرته تللې وو؟ او څه خبره وه؟ خو بدبختانه چې شل غبرګ سترګو مورِ ننداره کولو نو مجبور خاموش شوم تر څو په یو سم فرصت کې سوال ځواب یې کړم، د جهان په کښیناستلو مور یې ورته یو پیاله د شیدو ډکه کړل او مخکې کیخودل خو جهان د شیدو لځایه د چای غوښتنه وکړل چې دا ځل ما ورته په تلوار یو پیاله چای ډک کړل.

ارباب چې خپل د چای د پیالې څخه غړپ کاوه د جهان د داسې خراب حالت په لیدو کرار وویل: شه یې؟
د ارباب په غږِ جهان بغیر له دې چې ورته وګوری کرار وویل: هو.
د جهان په یو لفظ جواب ورکولو جمشید په ټوکو او خندا وویل: د دې جواب دې معلومیږی چې چندانې عصاب نلری، لکه چې پرون ډېر سترې سوی لالا که څنګه؟
د جمشید په دی خبره جهان لږ سر ور پورته کړو او بیا داسې حال کې چې خپل پیاله چای راخیستل کرار یې وویل: په سترېیا دونې پوی نسوم خو ماشام مې ملا یو څه درد کول.

د جهان په دی خبره ټولو د هغه د حال پوښتنه کول پیل کړل د جهان مور په اندیښنی وویل: ولې دې ما ته سر ماشام ونه ویل ما درته ټاکور کوی هغه دې د ملا درد کموې.( ټاکور څخه مطلب مالګه ګرم کول دی چې اوس وخت هم زیاتر کسان دا کار کوی او کوم ځای چی در کوی په هغه ځای باندی مالګه ګرمه وی بیا یې په یو ټوټه کې ترې او په هغه ځای چې درد کوی ایږدی او زیاتر وخت هم کار کوی او درد لمینځه وړی)جهان خپل د مور په ځواب کې کرار داسې حال کې چې زما خواته یې اشاره کول ویې ویل: یا اوس دونې درد نکوی ستا مژور ماشام راته غوړه کړل اوس شه ده.

د جهان خبری ما ته عجیب ښکاریدل هغه خپل د ملا موضوع بیان کړل تر څو خپل دا بد حالت په هغه وتړی؟ خو نه پوهیدم چې ولې هغه داسی وکړل؟ ولې ونه ویل چې نیمه شپه د بشیر سره د کور وتلې و او خوب یې نه و کړی؟ ولې ونه ویل چې چیرته تللې وو؟ او څه خبره وه؟ جهان تقریباً نیم ساعت هلته ناست و او د هغه وروسته پاسېد همدا چې د دهلیز ووت څو شیبې وروسته زه هم ووتم او ورپسې کوټې ته ورغلم کله چې کوټې ته ننوتلم جهان مې پر نالې داسې حال کې چې خپل یو لاس یې پرسترګو کیخودلې و څملیدلې ولید کرار یې څنګ ته ورغلم او ورباندی غږ مې کړل: جهان! چیرته تللې وی څه خبره وه؟

زما په غږ جهان خپل لاس د سترګو څخه لری کړو او داسې حال کې چې په تروش تندی او ځیر نظر یې ماته کتل ویې ویل: کم خاص خبره نه وه.
د هغه په دی خبره وحشت او اضطراب مې لا پسې زیات شو او تقریبا د ژړا په حال مې وویل: چیرته تللې وی؟ زما دې زاره راوچول او ته وایې کوم خاص خبره نه وه؟ زما د حال په لیدو جهان خپل ځای کې کښیناست او داسې حال کې چی کوښښ یې کاوه وخاندی ویې ویل: کم خاص خبره نه وه لیونې زما اس لژ مریض سوی و بشیر ورخطا سوی و نو ناری وهل چی راسه ته یې یو وار وګوره.

نه پوهیږم ولې خو د جهان خبری ماته رښتیا نه ښکاریدل! یعنې په هغه نیمه شپه د بشیر هغه بد حالت یوازی د یو آس لپاره داسې خراب و؟ که خبره د آس وه نو ولې کله چې ما ورڅخه وپوښتل څه خبره ده؟ را ته یې ونه ویل؟ که څه هم باور مې نه وکړی خو ومې ویل: څه وربାندی شوی وه؟ اوس ښه دی؟
جهان - امهمم اوس شه دی لکه چې پرون یو کور خراب ورته وریژی ورکړی وه هغه مریض کړی وو.
په دی خبره یې لږ مې شک کم شو او ومې ویل: چیر ته دې ویسې؟ ولې دی ارباب دوي ته ونه ویل؟
جهان داسې حال کې چی بیرته خپل ځای کې څملیده کرار وویل: خپل ملګری ته مې بیرته ویسې هغه ورباندی شه فکر ساتلې سې هسې هم سبا بل سبا موږ روان یو ځو.

دا چې جهان زما د پوښتنې ځوابونه اخوا دیخوا کول زه یې مشکوک کولم خو کله چې ویې ویل خوب مې راځې او غواړم ویده شم، ما هم نور بحث کش نکړو او اجازه مې ورکړل چې ویده شي.جهان په راسته څنګ څملید او ماته یې شا کړل ما هم نور څه ونه ویل او کرار له کوټې ووتم، سل سلنه ډاډمن وم چې یوه خبره شوی. او خبره هم بد خبره شوی، ځکه د جهان او د بشیر له څهرو څخه ښکاریدل خو جهان نه غوښتل چې ما ته ووایې چې څه خبره وه؟ بدتر د هغه دا چې د جهان له خولی خبره هم نه وتل چې زه وغواړم پوهه شم.

تر غرمه لاندی منزل کې لګیا وم د ناوي د تخت ټولو لپاره مې د جهان د وریندارګیانو سره مرسته کول او شیرنی شیان مې تیار کول د غرمې وروسته د ناوی کورنۍ او خپلوان راغلل د ناوي تخت یې د جمشید پر ښځې یعنې د ناوی پر خور واچو د تخت لاندی هم د ناوی کورنۍ یو جوړه کالې کیخودل که هر چا تخت ټول کړو هغه یې واخلې کله چې ناوی کښېناستل نو دوي رسم درلود د ناوی غیږ کې ماشوم ورکو تر څو د دوي پر ګمان ناوی خوشبخت شي او خدای همداسی اولاد ورکړی ګل بې بې هم  پخندا زما له غیږ څخه مدثر او مزمل واخیست او خپل د اینګور پهغیږ کې ورکړو او ورته ویې ویل: خدای دي دسې شایسته دوه دانې جملیان زامن درکې چې د هوسۍ رقم تر څلور کالو د کوچنیانو راوړلو څخه بیغمه سې.

د هغې په دې خبره ټولو وخندل خو د خندا وروسته یو د بل غوږونو کې خبری کول پیل کړل او ما کرکه درلود د دوې د دې کار څخه غوښتل مې د هغه ځای پاڅیږم چې د جهان د مشر کاکا ښځې راته وویل: کم شي مې دې درک کړې نه دی؟
د هغې د خبری پر مطلب هېڅ پوهه نشوم او په ګنګس انداز مې د جهان د مور خواته وکتل ترڅو راته واضح کړې چې هغې څه وویل؟ د جهان مور چې زما ګنګس انداز ولید نو پخندا یې وویل: وایې کوم بل کوچنې، موچنې نلری؟

په حیرت مې ورته وکتل زما په نظر دا موضوع پر دوی هېڅ اړه نه درلود خو پوهیدم چې د کلې خلک حتا د دې پوښتنې پرکولو چې ماښام د خاوند سره دې

ځمليدی او کنه؟ حيا او شرم نکوی يعنې هغوی ته دا يو زنانه مجلس او خبری ښکاری او بايد وويل شې، د جهان د وريندارګيانو هم دا خاصيت و اول وختونو کې چې زه تازه راواده شوی وم او کله ناکله به چې د دوي په مجلس کې کښيناستم نو ټول بحث به همدا و يعنې هېڅ شرم يا حيا يې نکول يو يې به ويل" ستا ليور ماښام دسی راته وويل"بلې به ويل وې خرابه نسې ته ستا ميړه لا شه دې زما ميړه دسې راته وويل" او خلاصه چې د دوي خوږ ترينه بحث همدا د ميړه بحث و.

بغير له دې چې د جهان د کاکا ښځې ته کوم ځواب ورکړم ماشومان مې غيږ کې راوخيستل او له دهليز ووتم، زما دې کار ته چې هر فکر کوی و دې کړی خو نور مې پخدای حوصله خلاصه شوه، خپل د کوټې خواته لاړم جهان کوټه کې نه و جومات ته تللې و ماشومان مې څملول او زه يې هم څنګ ته څمليدم ما هم ماښام ټوله شپه د جهان د تلو وروسته په ويښه تېره کړې وه نو ځکه ډېر ژر خوب راغلو او ويده شوم.

***

د فاطمي د تخت ټولو درې ورځې وروسته کابل ته راغلو او په همغه لومړۍ شپه ادي دوي خپل کور ته دعوت کړو، بابا او ادی په همدې لنډه موده کې بيحد زموږ پسې زړه تنګ شوی و،البته که رښتيا و وايم نو اصل زړه يې د مدثر او مزمل پسې تنګ شوی و! ځکه همدا چې ورغلو بابا او ادی هغوی دواړو ته په ناز ورکولو لګيا شول او يو ځل يې لا زما خواته يې ونکتل چې لوری ته څنګه يې؟

د هغوي دواړو په دې بې توجهې زيات مې ځان کنټرول نشو کړې او د شکايت غږ مې پورته شو.
- لکه چې يوازی زړه مو د ماشومانو پسې تنګ شوې و؟ که زه مزاحمه يم لاړه به شم.
زما په دې خبره ادی خو د تل پشان يو"وې" کړل او کرار يې وويل خدای دې نکوې دا څه خبره ده چې ته يې کوی؟ خو بابا کرار وخندل او ويې ويل: کله چې راغلې اول ما ستا د حال پوښتنه وکړه او کنه؟ چې اوس زما د لمسيانو سره بخيلې کوی؟

په همغه تروش تندی مې وویل: پر ما مو د دروغو یو د حال پوښتنه وکړه خو دا درې ساعت کېږي خپل لمسیانو ته جان قربان وایست.
زما په دې خبره د بابا خندا لاپسې زیاته شوه او داسې حال کې چې ماشومانو ته یې اشاره کول ویې ویل: دوي ته چې جان او قربان وایم مطلب تاته یې وایم، دا کوچنیان ستا د سترګو ما ته ګران دي البته(بابا د جهان خواته اشاره وکړل او په همغه خندا یې وویل: په جهان زوی باندی دی بده نه لګیږی.

جهان چې زموږ د خبرو په موده کې خاموش و او په مسکا باندی زما خواته راکتل د بابا د دې خبری په ځواب کې وویل: نه خداې دی نکوې معلم صیب، بې له شک ستاسو خبره صحیح ده او زه یې منم ستاسو مینه د مدثر او مزمل سره اصل کې د هوسۍ سره د مینې په سبب ده البته(جهان په شیطنت زما خواته راوکتل او ویې ویل: د دې سر نه خلاصیږی تر اوسه په دی خبرو.

دا چې جهان هم د هغوي خوا ونیول نو زور یې راکړو په همدې خاطر خپل لځایه پاسیدم مدثر او مزمل مې د بابا له غیږی واخیستل او جهان ته چې په حیرت یې زما خواته راکتل ورکړل او بیرته د بابا څنګ ته ورغلم او داسې حال کې چې د بابا پر اوږی مې سر کیخودو او په شیطنت مې جهان ته چې په حیرت یئ زما خوا ته راکتل ومې ویل: ستا په خبره زما په دې خبرو سر نه خلاصیږی خپل ماشومانو دې درکنټرول کوه دا زما پلار دی.

زما په دی کار او خبرو ناساپه کوټه کې د بابا او د جهان د خندا غږ پورته شو او ادی که څه هم په ظاهر ماته ویل: بده ده دا څه کار وو چې تا وکړو؟ خو هغې هم کرار خندل، بابا همغه خندا حال کې زما پر سر لاس تیر کړو چې ناساپه د مدثر او مزمل چغي پوررته شوی او په همغه چغو زموږ خواته راغلل او نه پوهیږم ولې خو لکه چې هغوی هم بخیلي کړی وه ځکه چې زه یې د لاس کش کولم او غوښتل یې د بابا څخه مې لری کړی چې ما ورته په شیطنت وویل: دا زما بابا.
زما په دی خبره دواړو نې، نې ویل پیل کړل چې د ټولو په خوله یې مسکا راوسته.

داسې حال کې چې د بابا خواته نور هم نږدې کیدلم هغه دوارو ته مې وویل: هو. هو دا زما بابا.(او بیا داسې حال کې چې د جهان خوا ته مې اشاره کول ومې ویل: ستاسو بابا هغه دی، ورځې خپل پلار ته هله شابه.

هرځومره چې ما بابا بابا ویل هغومره د دوي دوارو چغې وهل او نې نې ویل زیات کیدل اخر په ژړا شول د هغوي په ژړا مې زړه وسوځید او داسې حال کې چې د بابا له څنګ پاسیدم هغوی ته مې وویل: ښه.. ښه مه ژاړی دا زموږ د ټولو بابا صحیح دی؟

زما په دې خبرو یو ځل بیا ټولو وخندل چې د بابا له څنګ پاسیدم او بغیر له دې چې د جهان ځیر نظر ته کومه توجه وکړم د اشپزخانې خواته لاړم تر څو د ډوډۍ تیارولو کې یوه مرسته وکړم، ډېر ژر ډوډۍ مو تیاره کړل او سرخان مو هوار کړو ادی او بابا لکه چې د هغه بل ځل د جلیل په بد رفتار او خبرو پوهه شوی وه چې هغه زما او د جهان سره بیحد چینجې لری نو ځکه دا ځل یی آسما دوي نه وه راغوښتلې، که څه هم زړه مې د آسما پسې تنګ و خو دا چې ماحول کامل صمیمانه او ګرم و او جهان خوشحاله ښکاریدو او د بابا سره یې مجلس کاوه او خندل یې د دې سبب کیدو چې د اسما راتک لږ کمرنګه راته ښکاره شئ، ادی ماشومانو ته ډوډۍ په خوله ورکول او همغه حال کې هر دقه ما ته هم ویل: ډوډۍ دې سم پوره خوره چې ماشومان اوس هم ستا شیدو ته اړتیا لری.

دې منځ کې د جهان فکر هم زما خوا ته و او همغه حال کې چې د بابا سره یې خبری کول خپل برخه غوښه یا هم دشلمبو څخه راته پیاله ډکول د جهان دا ګاه اوبیګاه توجه بې اختیاره زما پر شونډو مسکا راوسته زموږ په جمع کې یوازینې کس چې شاید سمه توجه ورته نه وه شوی هغه جونید وو! د هغه عمر نه دومره و چې خپل د پلار مجلس کې شرکت وکړي او نه هم دومره ماشوم و چې د مدثر او مزمل سره اوسیږی په دی منځ کې یوازی او خاموش ناست و، که څه هم ادی او بابا ورسره ښه اخلاق او رفتار کاوه خو بیا هم زما په نظر هغه بیحد یوازی و. نو ځکه ما ورته بېحد

توجه کول تر څو د یوازیتوب احساس ونکړی او عجیب وه هغه هم په دی دومره کسانو کې ما ته دوه سترګې نیولې وه او زما څخه یې د توجه غوښتنه درلود؟!

د ډوډۍ خوړولو وروسته د ادی او جونید په مرسته مو سرخان ټول کړو او که څه هم ادی ویل لوښې مه مینځه خو ما پریمنځل او چای مې هم دم کړو د هغه بل ځل پر خلاف چې د جلیل له لاسه مې ځان آشپزخانه کې بندې کړی و دا ځل په راحت خیال د هغوی مجلس کې مې ګډون وکړو تقریبا یو که دوه ساعت هلته ناست و او جهان و بابا مجلس کاوه زه هم د ادی سره کونج کې ناسته وم او ادی راته د آسما بد حالت خبری کول چې د خاله کورنۍ ورباندی ظلم روان کړی ځکه چې د هلال د پیدا کیدو دری کال وشول خو تر اوسه لا د آسما بل ماشوم نه دی په نس شوی، او د خاله کورنۍ یوځل بیا جلیل ته د دویم ښځې کولو خبری راپورته کړی.

د ادی په دی خبرو بیحد مې طبعیت خراب شو ادی خو په دی منځ کې یو دوه اوښکې هم توی کړل چې ژر یې خپل اوښکې پاک کړل تر څو جهان او بابا ورته فکر نشي. که څو کاله مخکې وایې او زه همغه هوسۍ وایې نو ادی ته مې ښه سم خبری کول او ټول ملامتیا مې پر ادی اړول ځکه هغه وه چې خپل خور او خوریان یې ټینګ نیولې وه او فکر یې کاوه مورږ ته به نور خاوندان د دې د خوریانو بغیر پیدا نشي، او کوښښ یې کاوه چې مورږ ژر هغوی ته ورکړی تر څو زمورږ له لاسه بیغم شې خو اوس چې خپل مور شوی یم نو احساسات مې د پخوا پشان نه وه اوس مې ادی درک کولې شول پوهیدم چې د هغې اراده زمورږ د خوشبخت کولو وه خو بدبختانه چې نرۍ تل زمورږ د فکرونو پر اثاث نه څرخي.

د شپی لس بجو خوا ته جهان د سترګو په اشاره ویل چې تیاره شه چې ځو، خو ما غوښتل نن شپه د بابا کور کې پاتې شم او سهار هم د ادی څخه غوښتنه وکړم تر څو آسما دلته راوغواړی،غوښتل مې د هغې سره خبری وکړم اسما که څه هم د عمر له لحاظ زما څخه مشره وه خو بیحد کم جرئت او د خلکو خبره مرہ شې وه خاله او د خاله لورګانو که پوست هم ورڅخه ویستلې وایې دی چونګ نشو وهلې ما باید

ورسره خبرې کړې وايې داسې خو نه کيدل چې ټک په ټوک نه وايې شوې د خاله کورنۍ لستوڼې بډ وهلې چې مونږ خپل زوی ته بله ښځه کو، که ښځه کول دومره اسانه خبره وايې اوس به هر چا څلور،څلور کړې وايې.

ما باید خپل د آسما سره خبرې کړې وايې او غوږونه مې ورته خلاص کړې وايې د ادی څخه هېڅ اوبه نه ګرمیدل که اسما ورته فریاد او شکایت هم کړې وايې ادی یوازې ورته د صبر کولو ویل یا هم خپله یې ژړل بله خبره یې نه درلود، نو مجبوره وم خپل د آسما سره خبرې وکړم. د جهان اشارو ته مې سر د "نه" په توګه وخوځاوه او پوی مې کړو چې زه غوارم نن شپه همدلته پاتې شم، جهان چې کله زما مخالفت ولید نو تندی تروش کړو خو څه یې ونه ویل. ساعت چې یوولس نیمې بجې خوا ته شو ادې او بابا هم پوی شول چې مونږ غوارو پاتې شو نو ځکه ادی پاسېدل او زما کوټه کې ماشومانو ته ځایونه واچول ما هم ماشومان چې زما غیږ کې ویده شوی وه خپل د کوټې خوا ته ویوړل او د ادی په هوار کړې ځایونو مې څملول او د هغه وروسته راغلم تر څو جهان او جونید ته میلمه خانه کې ځای واچوم خو جهان په نهایت بې شرمې کې وویل چې زه ستا کوټه کې ویده کیږم!؟

د هغه په دې خبره چې د ادی او بابا مخ کې وکړل د شرم څخه مې شونډه وچیچل او بد، بد مې وروکتل چې هغه هم په شیطنت سترګک ووهل او په راحت خیال لګیا شو خپل د چای په څښلو، زه هم د شرم ژر لاړم او جونید ته مې میلمه خانه کې ځای واچو خو د تلو مخکې مې بار، بار ورڅخه وپوښتل چې ډارېږې خو نه؟ او که وېرېږې نو پلار ته دې ووایم چې دلته راشي؟ خو هغه په خندا وویل: یا ادی نه بیریږم زه همیشه تنها بیده کیږم.

د هغه په دی خبره نه پوهیږم ولې خو زړه مې وسوځید ښکته شوم او تندی مې ورڅخه ښکل کړو او ورته ومې ویل: ځکه چې ته یو دلاور هلک یې ډارن کسان یوازې نشې ویده کیدلې(او په شیطنت داسې حال کې چې سترګک مې ورته وهل ومې ویل: لکه ستا پلار چې له وېرې څخه دلته نه ویده کیږي.

زما په دی خبره جونید پخندا شو چې ما هم وخندل او له څنګ څخه یې پاسیدم د کوټې پکه مې ورته روښانه کړل او بیا له میلمه خانې ووتم خو د وتلو مخکې د میمله خانې هغه دروازه چې د کور د ننه په دهلیز کې خلاصیده خلاصه پریخوده تر څو ونه ډار شي کله چې فکر مې د جونید لخوا کامل راحت شو بیا خپل د کوټې پخوا روانه شوم.

د کوټې دروازه چې مې خلاصه کړه نو جهان مې خپل د کتابونو د الماری څنګ ته ولید چې زما یو کتاب یې په لاس کې و او ویل یې، د دروازې په خرپ یې زما خواته راوکتل خو زه بغیر د کوم توجه د ماشومانو خواته ولاړم او د هغوي څنګ ته مې ځانته نالې هواره کړل د ډېر مودې وروسته دي کوټې ته راغلې وم د ورځې خو مې لیدلې وه خو تقریبا څه کم درې کاله کیدل چې دې کوټه کې نه وم ویده شوی د دې کوټې هر کونج او هر ځای ماته یو خاطره وه، ما خپل د عمر یویشت کال دلته تیر کړی وه، زه خپل د کوټې په کتو وم او جهان زما د کتابونو! ښه شیبه جهان زما کتابونه اخوا دیخوا کړل او بیا یې وویل: تا ولې خپل کتابونه ټول دلته پریښودلې پکار دې نه دې که څنګه؟

د هغه په خبره مې وروکتل او ومې ویل: ولې پکار مې دې ته پوهېږی دا څومره ما ته ګران دی؟
زما په دی خبره جهان په حیرت خپل یو وریځ پورته کړل او ویې ویل: چې دونې درته ګران دي بیا ولې زموږ خپل کور ته دې د ځان سره نه دې راوړې او خپل د پلار په کور کېدی پریښودلې؟
- ځکه چې خوند یې په همدی ځای کیدی!
جهان زما په دی خبره نور هم حیرت وکړو او داسې حال کې چې زما خواته راتلو کرار یې وویل: سر مې نسو خلاص څه مطلب چې خوند یې په دې ځای کیدی؟
- مطلب دا چې دا کوټه دا کتابونه او دا ځاې ماته زما د عمر تېر کړې خاطرې رایاده وی نو زه نغواړم دا ماحول د دې کتابونو په وړلو خراب کړم، زما د تلو دومره کلونه

وروسته تر اوسه څوک حق نلری زما کوټې ته راشي یا هم زما کتابونو یا نور شیانو ته لاس ووهي ځکه دا زما ځاې او زما شیان دي.

زما په دی خبره جهان داسې حال کې چې زما وخنګ ته کښیناست په تروش تندی وویل: خو زه ستا د دې فکر سره موافق نه یم، زما په نظر انجلۍ چې کله واده سول نو د هغې کور او د هغې شیان باید د میړه په کور کې اوسیږی، او هو ستا د دې "زما" له لفظ څخه مې هېڅ شه نه راځې پر ما باندی هم ډېر داسې شیان وه چې بیحد ګران وه البته اوس هم دې خو ما هغه ستا سره شریک کړل ځکه د شزی او ویړه منیځ کې زما او ستا نسته خو ته اوس هم دې (جهان زما کوټه او زما شیانو ته اشاره وکړل او ویې ویل: دا ځای او دا شیان یوازې خپل ګڼې د دې سره زه کوم مشکل نلرم خو دا چې دلته دې ساتلې دا مې نه خوشیږی ستا باندی چې هر شې مربوط وی هغه پر ما هم مربوط دی او غوارم ستا ټول شیان زموږ په کور کې وی نه دلته.

د جهان په دی خبرو ما هم تندی تروش کړو او ومې ویل: خو زه نغوارم دا شیان د دې ځای څخه ویسم، نغوارم خپل د کوټې شیان خراب کرم.
جهان په تروش تندی وویل: خپل د کوټې؟
په معصومانه انداز مې وویل: هو.
زما په دی خبره د جهان تندی لاپسې تروش شو او ویې ویل: ستا کوټه دا نه ده نازولې! ستا ځای هم دا نه دې.
- ولې دا زما ځای دی زما کوټه ده.
جهان بغیر د څه ویلو څو شیبې په ځېر راوکتل او بیا بحث یې بدل کړو او ویې ویل: امهمم اوس چې شه فکر کوم نو زما په نظر ستا خبره صحیح ده دا کوټه همداسې خوند کوی.
په مشکوک نظر مې وروکتل چې څنګه ناساپه عقیده یې بدل شوه؟ چې جهان په شیطنت وویل: هر کله چې راځم ستا خبره د پخوا خاطرې مې پکشې تازه کیږی، عجب شه وختونه وه.

د جهان په دی خبره د شرم څخه تکه سره شوم خپل د سر بالښت مې پورته کړو او هغه مې دوه درې ځله ورباندی وواهه چې هغه په خندا زما د لاس بالښت کش کړو.
- ډېر بې شرمه، بېحیا او بې ادب یې.
زما په دی خبرو د جهان خندا لاپسې زیاته شوه او داسې حال کې چې په تفریح یې زما خواته راکتل ویې ویل: پوهیژی د ټولو څخه زیات تعجب او البته خوشحاله په کم خبره سوم؟
بغیر د څه ویلو مې وروکتل چې جهان په شیطنت سترګک ووهل او ویې ویل: کله چې زموږ نکاح وتړل سوه نو معلم صیب په همغه شپه اجازه راکړل ستا کوټې ته درسم! یعنې زما هېڅ باور نه کیدی.
د جهان په دی خبره مې په حیرت وویل: خو ستا وریندارګیانو او روقیه ویل چې ستاسو رواج دی!

زما په دی خبره د جهان خندا لاپسې زیاته شول او ویې ویل: هو زموږ رواج دی خو د نکاح پر اول شپه نه، مطلب د کوژدی یو څو میاشتي وروسته کله چې واده ته یوه یا هم دوه میاشتې پاتې وی هغه وخت هلک ته د بازو اجازه ورکو البته موږ دا رواج اوس بیخې ورک کړی او هلک یوازی د واده په شپه حق لری د خسر کور ته راسې او بس.

په ناباوره انداز مې وویل: نه.
زما په حیرت زده لهجه جهان په خندا وویل: هو! نازولې خو واقعاً د معلم صیب لاس باید مچ کړم چې ماته یې همغه اول شپه اجازه راکړه.
نه پوهیږم ولې خو د جهان دی خبرو سخت زور راکړی و، داسې حال کې چې بد، مې ورته کتل خپل بالښت مې د هغه له څنګ کش کړو او په غوسه ناک لهجه مې وویل: توره دې وکړل چې اول شپه راغلې، چې اوس ورباندې افتخار کوی.
خپل شا مې جهان ته واړول او کمپل مې په سر کش کړو چې هغه په کرار غږ وویل: ته ولې خپه سوی؟
- نه یم خفه.

جهان- نو ولې دې ماته شا واړول؟
- خوب مې راځي.

جهان- عجب! لکه چې د پخوا خبرې او خاطرې دې چندان په مزاج شه ونه لګیدل؟
د جهان په دی خبره چې لحن کې شک او تردید پروت و مجبوره شوم ترڅو مخ ور واړوم داسې حال کې چې د هغه تروش تندی ته مې کتل و مې ویل: نچ یوازی په دی خپه یم چې تاسو موږ ته چل راکړو.
جهان په همغه تروش تندی وویل: د چشی چل؟
- همدا ستا خبره د اول شپې د نکاح تړلو وروسته زما کوټې ته د راتلو، ستا خور او وریندارګیانو وویل زموږ رواج دی او ادی و بابا هم ستاسو په رواج اجازه درکړل کنه آسما مو چې جلیل ته ورکړل نو د کوژدی وخت کې یو دبل سره چکر ته تلل خو د واده تر شپی زموږ کور ته رانغې خو ته همغه اول شپه نه سلام نه کلام زما کوټه کې ناست وی.

زما په دی خبره د جهان د تندی ګونځې لږ لږ شول خپل لځایه پاسید او زما څنګ ته پر نالې څملید د دې لپاره چې پر نالې ځاې شې زه مجبور شوم یو څه د ماشومانو خواته شاته لاړه شم جهان داسې حال کې چې ځان یې سم زما پر نالې ځای پر ځای کاوه زه یې د لاس څخه ونیولم او خپل خواته یې کش کړم او ویې ویل: یعنې ته هغه وخت زما پر راتلو خفه کیدلې؟
مجبور شوم په هغه دومره لږ فاصله کې چې د جهان نفس لا زما پر مخ لګیدو د هغه سترګو ته وګورم او ومې ویل: ته جنۍ نه یې چې ما درک کړې.
جهان- امهممم خو ته ووایه شاید درک دې کړم؟

- فکر وکړه په یوه ورځ تا د یو چا په نوم کړې او په همغه شپه هغه نفر ستا کوټه کې ستا د خاوند په لقب هلته موجود وی داسې حال کې چې عمر کېدی نه لیدلې وی،نه یې پیژنې نه دې عمر کې ورڅخه نوم لا اوریدلې وی هېڅ هېڅ یوازی یو نکاح ویل شوی وی، ته ما ته ووایه دا کار که ستا سره شوی وایې تا څه کول؟ البته اول دا فکر

وکړه که ته جنۍ وایې او داسې کار درسره شوی وایې تا څه کول؟
زما په دې خبرو جهان خپل سر د فکر کولو په انداز وخوځاوه خو د څو شیبو وروسته په شیطنت یې وویل: بل هر کار مې که کړی او کنه خو یو کار مې هېڅکله نه کوی.
په مشکوک نظر مې وروکتل تر څو پوه شوم کوم کار یې نکوه چې جهان په شیطنت رانږدی شو او داسې حال کې چې خپل پوزه یې زما پر پوزی وهل کرار یې وویل: تر نیمه شپه آشپزخانې کې یواز د شیشکانو رقم نه شینستم( کښېناستم)

د جهان په دی خبره زه د شرم څخه تکه سره شوم چې هغه په لوړ غږ پخندا شو د هغه خندا باندی په غوسه مې یو دوه سوک په سینه وواهه او ومې ویل: ومې ویل کنه ته زما لځایه نه یې چې ما درک کړی.

جهان- امهممم خو ما ته درک کړې نازولې! هغه شپه ما ستا خوا ته ولا نکتل نور کار خو لرې تر څو ته بد احساس ونکې.
د جهان په دی خبره ذهن مې د هغه شپې خواته لاړو، جهان هغه شپه د رښتیا هم داسې کوم کار یا خبره ونکړل چې زه کوم بد احساس پیدا کړم، او شاید دا همغه دلیل و چې پر ما د هغه شخصیت او اخلاق ګران شول، زما په خاموش کیدو هغه په شیطنت وویل: خو یوه خبره باید ومنې شایستې توې(تاسې) انجونې یو عادت لرې او زما په نظر ډېر عجیب خو عین حال کې شایسته عادت دې، مثال د خبری تخو اوس ما سم صحیح په رسمیاتو پیژنې زما پر عادتونو او خاصیتونو هم خبره یې دغه اوس ته فکر وکه په دې دونې شناخت چې ته زما څخه لرې زموږ د نکاح تړلو اول شپه اوسیژی! په قسم سره زه درته ویلې سم چې ته هغه کار کوی کم چې څو کاله مخکې دې کړی و، ځې یوځاې پټه کیژی زما څخه.

د جهان په دی خبره پخندا شوم چې هغه هم پخندا وویل: باور وکه دا ستوی عادت دې مهم نه ده چې ته ما وپیژنی که ونه پیژنې؟ خو نوم چې د میړه ولګېژی یو څو وخته ټول انجونې دغه رقم وې شرمیژې حیا کوی او نسې کولې د هغه سړی مخکې

راسې، دلته بیا نو د سړی شخصیت او انسانیت معلومیژی چې څنګه هغه انجلۍ د ځان سره عادت کوی. د پخوا خلکو یو تکیه کلام دی او الحق چې شه خبره یې کول ویل یې: شزه ناز ده او سړی نیاز! ستاسو ذات د ناز او نخرو څخه جوړ دې او د سړی ذات د ناز او نخرو وړلو لپاره.

***

زما په نظر د څو کالو وروسته لومړۍ سهار و چې جهان سبا ناری په کور کې کاوه! یعنې د کوم وخت څخه چې مور کابل ته راغلې و هغه به سهار بغیر له دې چط ما راویښه کړې کار ته تلو او هملته یې ډوډۍ خوړل او زه به هم د نهه لس بجوا خوا ته راویښه کیدلم له خوب زما په دې عادت ماشومانو لا عادت کړې و هغوی هم د اته، نهه بجو مخکې نه راپاسېدل خو نن د ادی پر زیات ویلو راپاسېدم او د جهان سره یوځای مې سبا ناری وکړو، د ډوډۍ خوړلو وروسته جهان خپل د کار پخوا روان شو البته جونید یې هم د ځان سره ویوړو تر څو په لاره کې هغه هم تر مکتب ورسوې د جهان، جونید او بابا د تلو وروسته ما ادی ته وویل چې آسما ته زنګ وواهه ترڅو دلته راشې ادی هم همدا کار وکړو او د لس بجو شاوخوا وه چې اسما داسې حال کې .چې د هلال لاس یې نیولې و راغله

د آسما په لیدو تازه پوهه شوم چې څومره ورپسې زړه مې تنګ شوی و، کلکه مې غیږ کې ونیول او ستړې مشې مې ورسره وکړل د یوه میاشت څخه لا کم وخت کیدو چې نه ومې لیدلې خو بیحد مې زړه ورپسې تنګ و، مور دواړه همدا دوه خویندې و او کوم بل ورور او خور مو نه درلود نو ځکه ډېر یو پر بل ګران و او د زړه راز مو سره کاوه د آسما طبعیت او احوال هېڅ ښه نه ښکاریدې په څهری د پخوا پشان خوشحالې نه وه د سترګو ځلا یې لمینځه تللې وه په یو کلام کې که د هغې حالت تعریف کړم نو یو ژوندې خو عین حال کې مړ انسان راته ښکاریده. د هغې دې حالت په لیدو پوهه شوم چې خبره د خبرې څخه ډېره تېره ده هلال مې د هغې له غیږ څخه واخیست او داسې حال کې چې هغه مې ښکل کاوه آسما ته مې وویل: خیرت خو دې خوری؟ ښه یې؟

زما دغه خبره کافیه وه چې ناساپه د آسما ژړا پیل شې داسې د زړه له تل یې په ساندو،ساندو ژړل چې زما ژړا هم بې اختیاره راغله هلال مې پرځمکه کیخود او بیا د هغې خواته ورغلم داسې حال کې چې غیږ کې مې نیول په ژړا مې وپوښتل: څه شوی آسما؟ خیرت دی؟ ته ولې داسې ژاړې؟

خو آسما بغیر د کوم خبرو زه کلکه غیږ کې نیولې وم او ژړل یې، د هغې ژړا خاموشې ته دعوت کړم او اجازه مې ورکړل خپل زړه سم تش کړې او وژاړې ادی مې لیده چې مدثر او مزمل یې غیږ کې نیولې وه او د آسما په هر سلګې ژاړل، آسما ښه شیبه زما غیږ کې وژړل کله چې ژړا یې لږ کراره شول نو ورڅخه جلا شوم یو پیاله اوبه مې ورته راوړل او داسې حال کې چې لاس مې ورڅخه پخپل لاس کې نیو کرار مې وپوښتل: خبري وکړه آسما زما خو دې زاره راوچول څه شوی؟

آسما څو ځله خپل پوزه کش کړل او په نیولې غږ یې وویل: هېڅ نشته خوری بس زړه مې درپسې تنګ شوی و.
د هغې په دې خبره مې لومړۍ حیرت وکړو، خو وروسته پوهه شوم چې ولې داسې وویل نو په غوسه مې ورته وویل: ستا په نظر زه بیعقل راځم چې ته داسې ما ته چل راکوی؟ ووایه خاله څه درته ویلې؟
آسما- خدای دې نکوی خوری، هېڅ نشته خاله هېڅ نه دې راته ویلې ومې ویل کنه زړه مې در...
خبره مې ورڅخه پری کړل او ومې ویل: ستا په نظر زه او ادی ستا دښمنان یو؟
آسما- نه خدای دی نکوی دا څنګه خبره ده؟
- نو بیا ولې زموږ څخه خبره پټوی؟ ولې موږ ته نه وایې چې هغه کور کې پر تا څه تیریږی؟ هلته څه خبره ده؟آسما؟ها

زما په دی خبره ناساپه د آسما ژړا بیا شروع شوه او همغه ژړا حال کې وویل: څه ووایم هوسۍ؟ خپل د کوم بدبختې څخه درته ووایم؟ (د آسما په دی خبره زه خاموش شوم ځکه چې وپوهیدم چې هغه غواړې خبری وکړې نو زه خاموش شوم تر

ځو هغه خپل کیسه وکړې او دا انتظار مې زیات دوام ونکړو ځکه چې آسما خبرو ته شروع ورکړل او په همغه ژړا یې وویل: په لوږه، تنده کې مې ورسره تېره کړل، په خوارۍ او زحمت کې مې ورسره تیره کړل، د مور، پلار، ورونو، خویندو خبرې مې ورځخه ویوړل، د ټول کور خدمت مې د وینزې او نوکرې پشان وکړو او غږ مې پورته نکړو، سهار وختې د مولا په آذان د یو نوکرې پشان ولاړیږم د کور ټول کارونه کوم یوه شیبه په کراره نه کینم، خواښې مې چې الف ووایې خبره تر ب نه پرېږدم او هغه دقه کې امر پر ځای کوم.

دا ټول کارونه یوازې او یوازې د ده په خاطر کوم چې سبا ورځ مور یا خور یې ورته ونه وایې چې ښځه دې کار نکوی، او بیغم ناسته ده، زما ایندروګیانې تا لیدلې چې څنګه د مار ژبه لرې خو تر نن ما هغوي ته کومه بده خبره نه ده کړې یوازې په دې خاطر چې د ده خویندې دې د ده د مور، پلار ورونو، وریندارګیانو او ټول قوم او قبیلې خبرې مې پر ځان ویوړل یوازې او یوازې په دې امید چې یوه ورځ به زما دا زحمتونو ته وګورې او زما قدر به وکړې خو ورځ تر بلې بدتر شو(د آسما خبرو وقت کې مې سترګو کې اوښکې راټول شوې، باور مې نه کیدو،یعنې تل مې ګمان کاوه چې د خاله کورنې پر آسما ظلم کوی خو تر دی حده نه، زما د اوښکو څخه ډک سترګو په لیدو یې وویل: نور په قران طاقت نلرم.

دومره په عاجزۍ دا خبره وکړل چې بې اختیاره مې غیږ کې ونیول او په ژړا شوم زموږ دواړو په ژړا د ادی ژړا هم پورته شوه او د هغه سره سم ماشومانو چې هم وضعیت بدل ولید نو وډار شول او ژړا یې شروع کړل، نه پوهیدم په کوم لفظ آسما ته دلدارۍ ورکړم! آسما ما ښه پیژندل هغه د اوس وخت د انجونو پشان نه وه اصلاً باید ووایم چې هغه زما پشان نه وه چې چا به راته تندی تروش کړې نه وې او ما به ورځخه ګیلې شروع کړې وی او ټول نړۍ به مې خبره کړې وې چې هله دغه کس زما حق کې ظلم کړې، آسما د ادی پشان وه، هغومره صبرناکه، هغومره حوصلمنده خو اوس چې هغې داسې فریاد کاوه مطلب اخرې مرحلې خپل د صبر ته رسیدلې او نور د صبر کاسه یې ډکه شوې، نه پوهیدم څه ورته ووایم یا څنګه دلدارۍ ورکړم؟

چې آسما په همغه ژړا وويل: پوهيږې هوسۍ زړه مې درد کوې کله چې خپل ځانته ګورم چې د ده لپاره حاضره يم مړه شم خو دې دومره نشې کولې چې زما په ملاتړ کې خپل مور او خويندو ته يوازې ووايې: چې آسما خو څه شنډه نه ده او د بل ښځې کولو لځايه خپل ښځه ډاکټر ته ورم! هوسۍ زه کوم خاص مرض نلرم باور وکه هغه بل ځل دوه نسخې دوا مې وکړل هلال مې په نس شو، ډاکټرې راته ويل لږ ميکروپ لرې، ويل يې شپږ مياشتې مداوم ډاکټرې وکړه د تل لپاره ښه کيږې خوګ همدا چې هلال مې پر نس شو دوې راته اجازه رانکړل نور دوا وکړم، پخدای زه کوم غټ مشکل نلرم باور وکه قسم اخلم.

آسما خپل د دې خبرو وروسته لکه ليونيانو پشان د ځان سره کراره لګيا شوه او ويل يې: اصلاً خپله ځم ډاکټر ته لږ پيسې مې ساتلې هغه راخلم او د ادی سره ډاکټر ته ځم،زه پوهيږم چې خدای به راته ماشوم راکړې.

په حيرت خو عين حال کې په افسوس مې ورته کتل يعنې تر کوم حده يې د آسما سره بد چلند کړې چې هغې ته خپل ځان تر دې حد کم ښکاريده؟ د دې لځايه چې د هغوی د ظلم څخه وژاړې دا وايې ما ډاکټر ته ويسه ماشوم راوړم! د آسما په دې خبرو مې صبر خلاص شو او تقريبا په چيغه باندی مې ورته وويل: همدغه کارونه او خبرې کوې چې دا دې حال دې.

زما په چيغ آسما په وحشت راوکتل چې ما يې اوږه وخوځول او ومې ويل: په تا څه شوې آسما؟ ته د هغوي د کور نوکره يا د زوی وينزه نه يې، ته د هغه کور ناوی او د زوی ښځه يې، دا څه لګيا يې؟ ته کوم مال يا شئ نه يې که د کار و ولېدې نو دوی دې لرې ختا کړې، دا ستا حق دې چې خاوند دې ډاکټر ته ويسې او علاج دې وکړې زه پوهيږم چې ته کوم خاص مشکل نلرې، ته ولې ځان دومره تحقير کوې؟ تا هغه کور کې يو عمر تېر کړې تا هلته خپل ځان خاورې کړې هېڅوک حق نلرې تاته بې احترامې وکړې.

زما د خبرو ځواب کې آسما یوازی په ژړا او جنون آمیز توګه وویل: زه ماشوم نشم راوړلې او هغوي ماشوم غواړې، زه یو بدبخته ښځه یم چې خپل خاوند ته اولاد لا نشم راوړلې د خاله خبره موږ بدبخت او کور خراب کوونکي یو.

د آسما په دې لیونې، لیونې خبرو پوهه شوم چې بیخې د جنون اخری حد ته رسیدلې او یو بل خبری ته مې چې فکر شو هغه دا و چې آسما خپل د خبرو منځ کې ویل به یې "ستا" یا موږ؟" او بیا به خاموش شوه او خپل د بدحالت څخه به یې ژړل، د هغې په دی رفتار زه مشکوک شوم او ځان سره مې وویل چې ضرور یو بل خبره هم شته نو د دې لپاره چې د ادی طبعیت نور د آسما په خبرو خراب نشې او هم په دې خبره پوهه شم چې آسما څه ویل غواړی چې د ویلو جرئت یې نشې کولې؟ هغه مې له لاسه ونیول او خپل کوټې ته مې ویوړل، ادی مې دهلیز کې د ماشومانو سره پریخود البته پوهیدم چې هملته هم د آسما پر حال ژاړی خو دا چې زموږ خبری نور نه اوریدل دا هم غنیمت وو.

دروازه مې بنده کړه او د آسما څنګ ته ورغلم هغې بغیر د کوم وقفې همغسې ژړل نه مې غوښتل دې حالت کې ورسره کوم بد چلند وکړم خو مجبوره وم باید پوهه کړې مې وایې چې د هغې اوقات او ځای هغه کور کې څه دی؟ نو ځکه په کلک غږ مې ورته وویل: ګوره څه درته وایم دا هر څه چې دربانذی راځې خپل له لاسه دې کیږی(آسما په ژړا راوکتل چې ما په همغه لهجه ورته وویل: همغه وخت کې چې د خاله کورنۍ پر تا مرکه وکړل ما درته وویل "نه "ورته ووایه ما د هغه وخت دوي پیژندل چې څنګه کورنۍ ده؟! خو تا او ادی په زر دلیل راوړلو زما خوله خو مو بنده کړل د بابا رضا ته مو لا ونکتل او "هو" مو ورته وویل ستا اول غلطي هملته وه خو د هغه خبرو سره زه اوس کوم کار نلرم تیر شول هیر شول.خو اوس دا چې هغوي تر دې حده ستا سره بد چلند کوی د دې دلیل یوازی او یوازی په دی خاطر دی چې تا ورته ځان مړه نیولې.

آسما- نو څه وکړم؟ د خواښې خسر سره ژبه ووهم؟
- زه درته نه وایم چې بد اخلاقي وکړه یا هم خدای نکرده مشر او کشر احترام ته مګوره او جنګ وکړه، زه درته وایم خپل ځانته احترام وساته تر څو نور کسان هم درته احترام وساتې، همدا لنډ مثال یې ستا د نن خبره چې و دې ویل پیسي مې ساتلې او پر هغه باندی ځم خپل علاج کوم تر څو ورته ماشوم راوړم! آسما، خورى، قربان دې شم ته خدای نکرده کوم حیوانه نه یې که مریضه شوی یا کوم مشکل دې پیدا کړو باید ستا صاحب تا یا حلال کړی یا دی هم خرڅه کړې! ته د هغه ښځه یې پوهیږی څه درته وایم ته د هغه ناموس یې د هغه ټول کور پر تا ولاړ دې، اسلام حکم کوی چې خاوند دې ستا د صحت، خوراک، او پوښاک چاره وکړې ولې ته باید دا ذهنیت ولرې چې زه مریض یم باید خپل علاج خپله وکړم کنه هغه ځې بل واده کوی؟

اصلاً ته ما ته دا ووایه چې تاسو تر همدې پرون د غریبې او نادارې څخه نه ژړل؟ چې جلیل کار نلری او په کور ناست دې؟ نو نن بیا دا خزانه جلیل د کوم خوا کړل چې ځې بله ښځه کوی؟ کوم د قارون خزانه یې پیدا کړی چې غواړی اولاده ولری تر څو په هغه یې تقسیم کړې؟

زما په خبرو آسما د څو شیبو لپاره خاموش شوه او د هغه وروسته هغه خبره یې وکړل کوم چې د هغې د راتګ سره زما زړه کې ګرځیدل! خو بار،بار مې ځان سره ویل چې نه دا خبره امکان نلرې او نشې کیدلې، خو هو همغه خبره وه او زه یو ځل بیا پوهه شوم چې شپږم حس مې د ریښتیا هم ښه کار کوی، او که کوم بد فکر یا خبره مې ذهن کې تیره شې نو د ریښتیا هم همغسې کیږی.

آسما راته وویل چې د خاله کورنۍ او حتا جلیل هم ورته زما طعنه ورکوی؟ هغوي فکر کاوه چې ما د جهان پیسو ته وکتل او د دوي زوی مې رد کړو داسې حال کې چې حقیقت کې هېڅ داسې نه وه، د جهان د راتلو څخه مخکې ما بار،بار خاله ته "نه" ویلې وه نه پوهیدم بیا ولې دوي دا خبره نیولې وه؟ بیحد حیرانه خو عین حال کې

غوسه وم زړه مې غوښتل خوله خلاصه کړم او د خاله کورنۍ ته ښه د زړه د خلاص خبرې وکړم خو نه مې غوښتل د آسما طبعیت خراب کړم نو خوله مې بنده کړه نیم ساعت نور هم هملته کښیناستو او ما آسما ته دلداری ورکړه غرمې ته یو ساعت پاتې وو چې جلیل راغلو او بغیر له دې چې د ادی خبرو ته غوږ شې چې ویل یې " که نور نه وې غرمې ته یې خو پریږده چې زموږ سره تیره کړی" آسما یې لځان سره ویوړل.

او ما ورته یوه خبره لا ونکړل هېڅ مې ونه ویل نه مې غوښتل د جلیل سره خوله ووهم او ورسره بحث وکړم د آسما د خبرو وروسته د خاله د کورنۍ او بلخصوص د جلیل شخصیت راته په یو روپۍ لا نه ارزیدو، کوم کس چې خپل ناموس ته په درنه سترګه نګوری نو هغه به ما ته احترام راکړی؟ نو ځکه هېڅ مې ورته ونه ویل پوهیدم د جلیل داسې ناساپه راتګ او آسما له ځان سره وړل په څه دلیل وه، هغه وېرېده چې آسما د ده او د ده د کورنۍ ظلمونه موږ ته ونه وایې د غرمې ډوډۍ وخت کې بابا او جونید دواړه کور ته راغلل سر خان مو هوار کړو او په کامل خاموش فضا کې مو ډوډۍ وخوړل د ډوډۍ خوړولو وروسته ماشومان مې د جونید په غیږ کې ورکړل او خپل د کوټې خواته مې واستول، چای مې دم کړل او د ادی او بابا څنګ ته دهلیز ته لاړم.

غوښتل مې د بابا سره خبری وکړم که څه هم پوهیدم ادی د دې خبرو سره نه ده موافق او نغواړی بابا په دی خبرو خبر شې خو زما په نظر زموږ یوازینې د حل لاره بابا وو او بس! موږ کوم ورور نه درلود چې ورته وژاړو او خپل مشکلات ورته ووایو او هغه زموږ دفاع وکړی زموږ یوازینی تکیه ګاه او امن ځای بابا و او بس. او دا مشکل هم نه زما په خبرو حل کیدو نه هم د ادی او آسما په ژړا، اسلامې خبره ده البته علمې خبره هم ده کله چې د ښځې او خاوند مینځ کې مشکلات بیحد زیات شې او هغوی حل نشې کړې نو باید د دواړو خوا کورنۍ خبره شې ترڅو مشران یو فیصله وکړی، بابا ته مې د چای پیاله ډکه کړل او مخکې مې کیخودل بابا داسې حال کې چې خپل د چاي پیاله اخیسته په مسکا یې وویل: خیر ویسي بچې.

څه مې ونه ویل او یو پیاله چای مې ادی ته هم ډک کړل چې بابا وویل: ماشومان دې ولې کوټې ته واستول؟ خوشی کړې به دې وایې دلته یې لوبې کول.

د چای ترموز مې په فرش کېخود او داسې حال کې چې بابا ته مخاخ کښیناستم و مې ویل: غوښتل مې ستاسو سره خبرې وکړم ماشومان شیطنت کوی خبرو ته څوک نه پرېږدي.

د ادی بې کراره خوځیدل او اشاره مې ولیدل پوهیدم چې د هغې له نظر زما دا کار غلط دې او که بابا خبر شې یا د خاله کورنۍ نو شاید خبره لا پسې غټه شې، زما مور ډېر ساده وه هغې تر اوسه فکر کاوه د جلیل او د خاله د کورنۍ خبرې هسې خبرې دی او عمل نه ورباندی کوی او زه هم څه ناڅه ډاډمن وم چې جلیل د رښتیا بله ښځه نکوی، خو ادی و دې خبری ته فکر نه کوه چې دهغوی دا خبری او دا تحقیر کول د بل ښځې د کولو څخه زر چند بتره دی ادی په اصل موضوع هم نه وه خبره. بابا خپل د چایو پیاله کیخودل او داسې حال کې چې یو نظر یې د ادی خواته او بیا زما خواته کاوه کرار وویل: خیرت خو دی؟ د څه په اړه غواړې خبری وکړې؟

بغیر له دې چې د ادی خواته وګورم ومې ویل: بابا! ایا تاسو د خاله د کورنۍ سره کوم وعده کړې وه؟
زما په دی خبره بابا په حیرت خپل وریځې پورته کړل خو څو شیبې وروسته داسې حال کې چې په تندی باندی ګونځې راټولیدلې په ګنګس انداز وویل: څنګه وعده؟
- زما د ورکولو جمیل ته! ایا تاسو د هغوی سره سر خوځولوی و؟ یا"هو" مو ورته ویلې وه؟

زما په دی خبره بابا خو لړی چې د ادی سترګې له حیرت څخه خلاصه پاتې شوی، ادی فکر کاوه چې شاید زه د جلیل موضوع رامخکې کړم او بابا ته ووایم چې هغه پر آسما بله ښځه کوی، خو ما د هغه بحث لځایه اصلې خبره او د دې ټول فساد اصلې مرکزی ریښه راخیستې وه، ادی په حیرت وویل: دا ته څه وایې هوسۍ؟
خو ما د ادی خواته ونه کتل او په همغه جدیت مې بابا ته چې په حیرت یې زما

خواته راکتل وویل: یو ځواب راکړې "هو" که "نه"؟
زما په کلک لهجه باندی بابا په غوسه وویل: استغفرالله لکه چې لیونۍ شوی یې که څنګه؟ که ما هغوی ته سر خوځولې وایې نو ته اوس باید خپل د خاله کور کې وایې نه د جهان!

د بابا په دی کلک ځواب دا ځل مې د ادی خوا ته وکتل او ومې ویل: تاسو څنګه ادی؟ تاسو خو خاله ته کوم د "هو" ځواب یا کوم وعده نه وه ورکړی چې هوسۍ ستا زوی ته درکوم؟
ادی په وحشت خپل لاسونه په مخ ووهل او ویې ویل: خدای دی مرګ راکړې دا نو څنګه خبره ده مګر ته خدای نکرده یتیمه یا بې پلاره یې چې زه دې خپل په سر یو چاته ورکړم یا د خلکو سره ستا د ورکولو قولونه وکړم، اصلاً دا نو څنګه خبره ده چې ته یې کوی؟

کله چې هغوی دوارو داسې په کلک انکار وکړو نو په کراره مې لومړۍ د بابا خوا ته چې په تروش تندی زما خواته راکتل نظر واچو او بیا مې ادی ته وویل: که تاسو هغوي ته "هو" نه ده ویلې که تاسو هغوی سره کوم وعده نه ده کړې او سر مو نه دې خوځولې نو بیا ولې خاله او جلیل داسې وایې؟
د ادی د څه ویلو مخکې بابا تقریبا په چیغه وپوښتل: څه وایې؟

د بابا د غوسې څخه ډک نظر په لیدو نور مې طاقت ونشو او ټوله کیسه مې ورته وکړل،د آسما د بد حالت څخه نیولې د جلیل د خبرو او کارونو د خاله او د هغه د لورګانو د طعنو یو پر یو الف پر الف مې ورته ټول خبری وکړل غوښتل مې بابا پوهه شې چې څه خبره ده؟ د خاله کورنۍ پر آسما په بیغم خیال هر کار کاوه ځکه چې هغوي پوهیدل چې آسما چا ته د زړه راز نه وایې او د هغوی خبری زموږ تر غوږ نه راوړی هغوی فکر کاوه آسما شاته کوم څوک نشته نو داسې ظلمونه یې ورباندی کول، زما د خبرو وخت کې د بابا څهره وار تر واره د غوسې څخه سره کیدل او ادی په زار،زار ژړل خو کله چې ومې ویل د خاله کورنۍ آسما ته په دی خاطر عذاب ورکوی

چې ما د هغوی زوی ته "نه" وویل نو ادی د څو شیبو لپاره په خلاصه خوله د حیرت راوکتل شاید باور یې نه کیدو چې خور یې تر دې حد ظالم او بی انصافه اوسیږی.

- بابا تاسو باید د خاله د کورنۍ سره خبری وکړی او دا موضوع حل کړې زه د جمیل نه کوم کوژدنه وم او نه یې هم په نوم وم،نو هغوی حق نلری په دی خبرو آسما ته طعنې ورکړی یا هم جلیل جهان ته د دښمن په سترګو وګوری او ورته بې احترامې وکړی، د خاله کورنۍ داسې خبری کوی لکه زه چې هلک وم او د هغوی لور مې په نوم کړی وه او اوس مې خوشې کړل! جلیل خو څه جنۍ نه ده چې وغواړی بدنام شې یا څوک ورته ښځه ورنکړی هغوی خپل د زوی معتاد کیدل او دا چې څوک ورته ښځه نه ورکوی پر ما راړوی او کله چې زور یې پر ما نه رسیږی نو آسما داسې پعذابه وی تاسو آسما لیدلی دا یوه میاشت کې چې څومره خرابه شوی؟ د مرګ پر حال ده هغه کور کې زره، زره مره کیږي...

زما خبری له نه وه خلاص شوی چې بابا خپل د لاس پیاله پر فرش خوشی کړل او د کوره ووت، پوهیدم چې چیرته ځې ادی ژړل زما هم ژړا راغلې وه هغه مې غیږ کې ونیول او ورته دلداری مې ورکړل زړه مې ډاډمن و چې هرڅه ښه کیږی، ما د خاله کورنۍ پیژندل هغوی د خبرو خلک وه نه د عمل، هغوی یوازی لافې ویشتل او د ښځو پعذاب کولو کې نران وه،که پوهه شوی وایې چې خبره به غټ شې او امکان لری کوم رسوای جوړه شې نو ډیر ژر پر توبو راتلل او همداسی هم وشول د بابا د تلو دوه ساعت وروسته خاله په ژړا او ساندو زموږ کور ته راغلل او د ادی په غاړه کې لاسونه واچول او په ژړا، ژړا یې بخښنه وغوښتل!

لکه د هندې فلمو بازریکری پشان خپل ویښتیان یې وشکول او خپل مخ یې په سپیړو وواهه او جلیل ته یې ښیراوی وکړل او داسې وښودل لکه دا چې بیخې خبره نه وی د اسما د حال څخه! ویل یې خپل شیدی جلیل ته نبخښم که وغواړی بله ښځه وکړی؟ او د آسما جان او قربان ویل یې پیل کړل او ادی ته یې قران او قسمونه واخیستل چې اسما به خپل ډاکټر ته وړی او جلیل به هم انسان کوی. د هغې د دې

هندی ډیالوګونو د ویلو وخت کې زه یو کونج کې ناسته وم او ورته کتل مې بغیر د څه ویلو، یو ساعت وروسته بابا هم راغلو البته د آسما سره، موضوع زما په نظر حل شوی وه بابا نه پوهیږم جلیل او د هغه کورنۍ ته څه ویلې وه خو معلومیدل چې هغوی پښیمانه شوی وه خپل په هغه مردار رفتار کوم چې د آسما سره یې کړی و.

کله چې خاله په ساندو او ژړا زموږ کور ته راغلل نو هملته ما د ځان سره وویل چې رښتیا هم پلار، پلار وی او د هغه نوم بسنه کوې چې ډیر شغالان لری درڅخه وګرځي، یوه ورځ زموږ د پوهنتون استاد چې ډیر هم بوډا سړی و یوه خبره موږ ته وکړل چې اوس ورباندی ښه پوهیږم او درک کوم یې چې څومره حق خبره وه هغه ویل: خدای مو لومړۍ مه بې پلار کوه ځکه پلار هغه مظبوط او قوی تکیه ګاه ده چې هرکله ورته پناه راوړی نو درته پناه درکوی، او که خدای نکرده تاسو کې کوم کس پلار نلری نو خدای دې هغه نه بې وروره کوی، ځکهورور د پلار وروسته د خور غټ ترینه ملاتړ کونکې او د عزت ساتونکې دی.

او که ورور مو هم نه درلود نو خدای مو یو ښه خاوند نصیب کړه، یو داسې خاوند چې د پلار پشان درته امنیت درکړې او د ورور پشان مو ملاتړ وکړی او د یو نر پشان مو تل څنګ کې اوسیږی او ساتنه مو وکړی. او نن د استاد دا خبره ما په ثبوت سره ومنل پلار د رښتیا هم تکیه ګاه، د امن غیږه او د سر سایه وه داسې د سر سایه چې د هغه په درلودو ډیر کسانو خپل ژبه کنټرول کول او خپل خبرو او کارونو ته یې پام کاوه. زما په نظر زموږ پښتنو جامعه کې چې څومره پر جنۍ باندی د خسر کورنۍ ظلم کوی د هغه 99%99 سلنه ملامت د جنۍ کورنۍ ده!

شاید دا خبره ریشخند معلوم شې خو دا یو تریخ حقیقت دی زموږ پښتانه چې کله لور واده کوي نو پلار او مور خپل لور ته دا نه وایې: چې بچې که درباندی سخته راغله، که زغم او صبر دې خلاص شو، که درباندی ظلم وشو، که حق کېدی بې انصافې وشو نو تل یاد کې ساته چې زه ستا سره یم او هر حال کې ستا ملاتړ کوم او هر کله چې راشې زما د کور دروازه تاته خلاصه ده. بلکې مور او پلار خپل لور ته

وايې: که خواښې درسره بد چلند وکړو، که خاوند ووهلې، که خسر، ليورونو، ايندروګيانو، د ليوره ښځو او خلاصه چې که د خاوند کورنۍ دی په ژوندينې پوست هم درڅخه وباسې نو ته به خوله بنده نيسې. شايد دا خبری د دوي په نظر نصيحت وی خو دا نصيحت نه بلکې خپل لور او اولاد ته د دې خبری يادونه ده چې ما ته خرڅه کړې او ته نور د هغوي د کور نوکره يې.

او دا خبری د جنۍ خاوند او د هغه کورنۍ ته دا زړه ورکوی تر څو پر هغه جنۍ ظلم وکړې. نو ملامت د جنۍ کورنۍ ده چې خپل لور يې داسې دوه لاسه د مرګ خولې ته اچولې. زما په نظر زموږ ټولو د جاهليت اصلې دليل دا دې چې موږ په اسلام نه يو خبر که په اسلام خبر شوی وايې نو هيڅکله به خاوند پر ښځې يا خواښې پر اينګور ظلم نه وايې کړې. پيغمبر"ص" حديث شريف دې فرمايي: کله چې الله"ج" خپل يو بنده ته اولاد ورکړې او هغه اولاد نر وې نو هغه اولاد ته وايې: ورشه خپل د پلار اوږه شه! مطلب د هغه کمک کوونکي شه خو کله چې خپل کوم بنده ته لور ورکړې نو هغه بنده ته فرمايي: اې بنده زه ستا اوږه او کمک کوونکي يم. او څوک بهتره د خدای څخه کمک کوونکي اوسيدلې شي؟! کاش زموږ خلکو لورګانو ته د مصيبت لځايه د رحمت په نظر کتل.خو افسوس چې ډير کم خلک زموږ په جامعه کې شتون لرې چې خپل لورګانو ته د خدای د رحمت په نظر ګوری، زياتر ورته د مصيبت په نظر ګوری.

د ماذديګر وخت و چې جهان راغلو او که څه هم زړه مې نغوښت آسما يوازی پريږدم خو پوهيدم چې جهان اصلاً زړه نغواړې چې زه دې يو بله شپه هم د بابا کور کې پاتې شم نو په همدی خاطر بغير د څه ويلو د جهان پسې روانه شوم کله چې موټر کې کښيناستلو او ماشومان مې غيږ کې راوخيستل نو تازه د جهان ځير نظر ته مې فکر شو چې په تروش تندی زما خوا ته راکتل په حيرت مې ورته سر "د څه خبره ده؟" پشان وښوروه چې جهان په همغه تروش تندی وويل: جړلې د دې؟
د هغه په دې خبره خپل شونډه مې وچيچل زه چې هر کله وژاړم نو سترګي مې سری کيدل او هر چا چې ليدلې وايې نو پوهيدل چې ژړلې مې دی، زما د ځواب په

نه ورکول جهان لږ زما د سیټ خواته ځان راکش کړو او ویې ویل: خیرت خو دی؟ ولې دی جړلې؟

- هېڅ خبره نشته.
جهان- هېڅ خبره نسته؟ هېڅ خبره نسته او تا جړلې؟

پوهیدم جهان تر څو چې زما د ژړا په دلیل نه وایې خبر شوی نه یې پریخودلم او ما نه غوښتل ورته د جلیل، آسما یا هم د خاله د کورنۍ د بیځایه خبرو او کارونو په اړه څه ووایم په همدی خاطر موضوع مې نیمه بیان کړل! یعنې یوازی دومره مې ورته وویل چې د آسما لپاره خفه یم ځکه چې لږ مشکل لری او ماشوم یې نه کیږی
زما د دې خبری د اوریدلو وروسته جهان خپل د ځای خواته لاړو او داسې حال کې چې موټر یې روښانه کاوه کرار وویل: دونې تشویش مه ورته کوه خدای مهربان دې، که قسمت کې خدای کوچنی لیکلې وی نو حتما به یې ورکی او زما د نظر خو شاید دونی غټ مشکل ونلری! ځکه یو کوچنی لری نو خدای مهربان دې چې بل هم ورکې.

د جهان په خبرو مې سر وخوځاوه او د انشالله پر ویلو خبره مې هملته خلاصه کړه نه مې غوښتل نور څه ووایم پوهیدم که جهان یو دوه نور پوښتنې راڅخه وکړی نو طاقت مې خلاصیږی او ټول کیسه ورته کوم خو ښه ورزما په خاموش کیدو جهان هم نور څه ونه ویل او په خاموشی کې موټر د کور خواته روان کړو.

***

یوه هفته د هغه جنجال او د آسما د راتګ څخه تیریدل او نن د یوې هفتې وروسته ادی ما ته زنګ و واهه او خبر یې راکړو چې جلیل د آسما پسی راغلې او د دې څخه وروسته چې یو ساعت یې په میلمه خانه کې د بابا سره یوازی ځان کښېناستلې او خبری کړې بابا اجازه ورکړی تر څو آسما لځان سره بوځې! او د ادی د لهجې څخه ښکاریدل چې جلیل ضرور بخښنه غوښتې او خپل په کارونو پښیمانه شوی، ځکه

چې ادی خوشحاله وه! د نیم ساعت خبرو کولو وروسته موبایل مې بند کړو او زما پر شونډو هم مسکا راغله خوشحاله وم چې آسما د هغه حالت څخه خلاصه شوه او د خاله کورنۍ یو څه خپل پر حد پوه شول.

د غرمې وخت رانږدې و غوښتل مې د جونید د راتلو مخکې ورته یو شې پوخ کړم خو همدا چې د سره کړو غوړو بوی مې پر پوزه ولګیدو نو احساس مې وکړو چې معده او کولمې مې تر خولې راغله په تلوار د تشناب خواته په منډه شوم او څه مې چې خوړلې وه ټول مې قې کړل، نه پوهېږم څه مرګ راباندی شوی وو خو دا څو ورځې کیدل چې هېڅ سم خوراک مې نشو کولې او که کړی مې هم وایې نو داسې په هسې بهانه به قې کاوه مې، لاس او مخ مې ومینځه او له تشناب څخه راووتلم د زیات کمزورتیا څخه مې لاسونه او پښې ریږدېدل فکر مې کاوه فشار مې ښکته شوی په زر ستونزو پاسیدم او لږ بوره مې په اوبو کې ګډه کړل او ومې څښل که څه هم زړه مې تر خولې راتلو او معده مې اجازه نه راکول چې ویې څښم خو پوهېدم که و یې نځښم ضرور بې هوښه کیږم.

د بورې د خوړلو وروسته څو شیبې دهلیز کې کښیناستم تر څو لږ دمه مې جوړه شې او د بورې خوړ والې مې لږ فشار برابر کړی د څو شیبو وروسته چې لږ مې په بدن کې حرکت پیدا شو نو لځایه پاسیدم کوټه کې ماشومانو ته مې وکتل او کله چې وبده مې ولیدل نو خپل ټیکرې مې پر سر سم کړو او د کور حویلې خواته لاړم د جونید تر راتلو ډیر وخت پاتې وو کوڅه کې مې د همسایه کوچنې باندی غږ وکړو او پیسی مې ورکړل تر څو جونید ته لږ چپس راوړی او یو مې هم بی بی چک راوغوښت! تقریبا نهه، لس ورځې زما د میاشتنې مریضی څخه تیر شوی وه خو زه تراوسه نه وم مریضه شوی او له بلخوا دا د هر څه سره حساسیت کول او بوږی نخوړل شکی کړی وم چې هسی نه ماشوم ولرم؟

تر څو چې د همسایه زوی راتلو د زیات استرس له لاسه کور کې ګرځیدم راګرځیدم زړه کې دعاګانی کول چې خدای دی وکړی دا خبری هسې زما وهم او خیال اوسیږی

او ماشوم ونلرم! ځکه چې زما شرایط د بل ماشوم د راوړلو لپاره برابر نه و له یو خوا مدثر او مزمل لا دومره نه وه غټان شوی له بلخوا زما جسمې حالت هم چندان نرمال نه وو خو د دې ټولو خبرو باوجود کله چې د جهان هغه شوق ته مې فکر کاوه چې دا څو میاشتي پرلپسې ویل ماشوم، ماشوم نو زړه نا زړه کیدم او ویل مې چې کاش د رښتیا ماشوم ولرم! په همدی کش مکش کې وم چې د همسایه زوی زما غوښتل شوی شیان راوړل په لړزانه او د استرس څخه په یخ وهلو لاسو مې بی بی چک راوخیست.

د بی بی چک دوه سري کرخو ته چې زما حامله ګی مثبت خودل په حیرانه نظر ځیر وم دواړه کرخی سری وه او مطلب زما شک صحیح وو! باور مې نه راتلو نه پوهیدم خوشحاله اوسیږم که خفه؟ عقل مې ویل اوس یې وخت نه و، خو زړه مې د جهان شوق او ذوق رایاده وه او بې اختیاره یې هڅولم چې خوشحاله اوسیږم، د آسما حالت مې رایاد شو چې د ماشوم د نه راوړلو لپاره پعذاب وه او اوس چې خدای ماته ماشوم راکړی او پر ما یې دا احسان کړې نو دا به ناشکری وی چې زه په هسی بهانو پر ځان غم ونیسم. د جهان خبره که خدای ماشوم درکړو نو رزق او روزی به هم هغه ورکړی او ساتنه یې به هم خدای پخپله وکړی، په دی فکرونو مې ځانته دلداری ورکړل او لځایه پاسیدم زړه مې غوښته چې جهان ته زنګ ووهم او خبر ورکړم خو له بلخوا نه مې غوښت د موبایل له لاری دا خبر جهان ته ورکړم.

زړه مې غوښت کله چې راغلو نو مخامخ دا خبر ورکړم غوښتو مې د هغه څهره د نږدی وګورم چې څه عکس العمل ښایی په دی خبری؟ د موبایل خواته روانه شوم غوښتل مې لاړه شم او جهان ته زنګ ووهم تر څو نن لږ ژر کور ته راشې خو لا مې موبایل نه و راخیستې چې د جهان د موټر غږ مې واوریده؟! حیرانه خپل ځای کې ودریدم جهان هیڅکله کله غرمه په دی وخت کور ته نه راتلو! ځان سره مې وویل شاید ضرور د کوم همسایه موټر به وی، خو کله چې د حویلې د دروازی غږ مې واوریده نو ډاډمنه شوم چې پخپل جهان دی! څو شیبی لا نه وه تیر شوی چې جهان

په ورين تندى او د مسكا څخه په ډكه خوله په داسى حال كې چې د شيرينې دوه قوطيان يې په لاس كې نيولې وه كور ته راننوت.

د هغه د دى حالت په ليدو هک حيرانه شوم او لځان سره مې وويل: جهان خو كوم پيرى،ميرى نلرى؟ اخر د كوم خوا خبر شوى چې زه ماشوم لرم؟ زه لا همدى فكرونو كې وم چې جهان زما په ليدو په خوشحالې وويل: مباركى نه راكوى شايستې؟
په مشكوک انداز مې وپوښتل: د څشې مباركې؟
جهان پخندا زما خوا ته راغلو او داسې حال كې چې د شيرنې له پاكټ څخه يې ماته يو كولچه نيولې وه په شيطنت وويل: كه ووايم باور به ونكې!
بى بى چک مې خپل شاته پټ كړو داسې حال كې چې بيحد حيرت مې كړى و كرار مې وويل: ته و وايه شايد وكړم باور!؟

زما په دى خبره جهان پخندا وويل: نن راته جمشيد زنګ ووهې ويل مبارک دې سه چې بيا كاكا كيږى؟ لا مې د هغه لپاره خوشحالې نه وكړى چې ويې ويل او هو بل مباركې دى هم وى چې ماما كيږى هم لخيره!

د جهان په دى خبره تازه پوهه شوم چې هغه شيرنې او د جهان خوشحالې د څه لپاره وه؟ خو سر مې صحيح خلاص نشو يعنې څوک ماشوم لرى چې جهان كاكا او ماما كيږى؟ ايا ګلناز ماشوم لرى او كه روقيه؟ جهان لكه چې زما په ذهنى كش مكش پوهه شو ځكه په خوشحالې وويل: د جمشيد شزه كوچنې لرى او روقيه!

د هغه په دى خبره بى اختياره مې مسكا پر شونډو راغله د روقيه لپاره خوشحاله شوم البته د جمشيد لپاره هم خوشحاله شوم د جمشيد ښځه بيحد خوش اخلاق او مهربانه جنۍ وه، زه ښه شو د جهان د مور انديښنې خلاصې شوى، د جهان په دى خبرو دومره حيرانه او خوشحاله شوى وم چې د څو شيبو لپاره مې خپل حالت لياده ووت د جهان په غږ تازه مې خپل حالت ته فكر شو.

جهان- خیرت خو دی؟ ستا رنګ ولې دسې پریدلې؟
د جهان په دی خبره لږ ورخطا شوم نه پوهیدم څنګه ورته ووایم! زما په نظر دا به بیحد بیحیایې وی که مستقیماً بغیر د کوم سلام او کلام څخه ورته ووایم "مبارک دی شه زه هم ماشوم لرم!" په دی فکر کولو یې لا د شرم څخه مې مخ سور شو او شونډه مې وچیچل چې جهان په مشکوک نظر راوکتل او کرار یې خپل پوښتنه یو ځل بیا تکرار کړل: خیرت خو دی؟ څه خبره ده؟ جونید نه دی راغلې د مکتب څخه؟ داسې حال کې چې بی بی چک مې تر اوسه خپل شاته نیولې و او کلک مې په لاس کې تاو راتاو کاوه ومې ویل: نه .. تر اوسه نه دی راغلې.
جهان زما حرکاتو ته په ځیر راکتل او بیایې په پلټونکي انداز وپوښتل: کوچنیان چیری دی؟
- ویده دی.

جهان سر د پوهیدلو په انداز وخوځاوه او ناساپه یې وویل: شاته لاس کیدی چشی نیولې چی زما څخه یې پټه وی؟

د جهان په دی خبره ورخطا شوم او د زړه درزا مې پورته شوه، بیحد شرمیدم له دی چې دا خبر ورکړم خو جهان زما دا ورخطای او شرمیدلو باندی کوم بل ګمان وکړو ځکه ناساپه یې د مخ رنګ بدل شو او تقریبا په ښکاره مشکوک لهجه یې وویل: تا ته وایم هوسۍ! لاس کیدی چشی دی چی ماته یې نه شی؟(ښایې)

د جهان د داسې لهجی په اوریدو بی اختیاره مې لاس وړاندی راوست او بی بی چک مې د هغه خوا ته ونیو، او د شرم څخه مې سر ښکته واچو جهان نظر زما څخه واخیست او زما د لاس خواته یې وکتل د څو شیبو وروسته یې بی بی چک راڅخه واخیست، هره شیبه مې انتظار باسو چې د هغه هیجان زده غږ واورم خو هغه په ګنګس انداز وپوښتل: دا نو چشی دی؟ مریضه سوی یې؟ تبه لری؟

د جهان په دی خبره په تلوار مې سر پورته کړو او د جهان خواته چې یو نظر یې زما خواته کاوه او یو نظر د بی بی چک خواته واچو! یعنی پوهه نشو چې دا څه دی؟

جهان په اندیښنه زما په تندی لاس کیخودو او ویې ویل: تبه خو هم نلری بیا نو دا دې ولې راخیستی؟

د جهان په دی خبره خوله مې د حیرت خلاصه پاتی شوه هغه فکر کاوه دا د تبې معلوم کولو آله ده! ناساپه مې پخندا پیل ورکړو چې جهان په ګنګس انداز راوکتل ښه شیبه مې د هغه په دی ساده توب وخندل زما په خندا جهان هم پخندا شو او ویې ویل: مه خانده ووایه دا چشی دی؟ زما سر ستوی(ستاسو) شهریانو په دی شیانو نه خلاصیژی دا اوس څه بلا دی؟

د ډیر خندا له لاسه دریدلې نشوم نو لاس مې د جهان پر اوږه کیخودو تر څو ونه غورځیږم او ښه می وخندل د جهان دی خبرو زما شرم یو دم لیاده وویست په شیطنت باندی داسی حال کې چې بی بی چک مې د هغه له لاس اخیست په یو نفس په تلوار مې وویل: زه ماشوم لرم.

او د دې خبری سره سم بغیر له دی چې د جهان راوتلې سترګو له حیرت ته وګورم د کوټې خواته روانه شوم، د الماری خواته لاړم او هسی د الماری په شیانو لګیا شوم خو هره شیبه په تمه وم چې جهان راشی له یوه خوا مې خپل په کار خندا راتلل داسی چلند می کاوه لکه اول واری ماشوم مې چی وی او مورږ دی تازه واده کړی وی خو له بلخوا نه پوهیږم ولی خو شرمیدم او مخامخ می خبری نشو ورسره کولی انتظار می زیات دوام ونه کړو ځکه جهان په تلوار کوټې ته راننوت او شاوخوا په کوټه کې زما پسی نظر وګرځو کله چې د الماری څنګ ته یې ولیدم نو په کلک قدمونو زما خواته راغلو او په همغه حیرت ناکه انداز یې وپوښتل: تا چشی وویل یو ګړی(څوشیبی) مخکې؟

په شرم مې شونډه وچیچل او کرار مې وویل: څه چې دی وارویدل همغه مې وویل.
جهان- ما ... ما خو یو بل شې واوریدی چې شاید صحیح نه وی او ما دغی اوریدلی وی ته یو وار بیا ووایه چشی دی وویل؟ هغه چشی وو ستا لاس کی ته ما ته راکه.

د جهان د دی حالت په لیدو خندا می راغله هغه زما څخه زیات استرس نیولی وو، کله چې هغه مې دی حالت کی ولید نو بیا می مضریت په ښور شو داسی حال کې چی په شیطنت می ورته کتل ومی ویل: که همغه خبره وی کوم چی تا اوریدلی نو ځه به راکوی په شیرنی کی؟
زما په دی خبره د جهان پر شونډو مسکا راغلل او ویې ویل: که هغه خبره وی نازولې کوم چې ما وارویدل نو ته یوازی امر کوه چی چشی غواړی؟

د جهان په دی خبره پخندا شوم او ومې ویل: اهوم صحیح دی اوریدلې زه کوچنی لرم..

لا خبره مې پوره شوی نه وه چې جهان په کلک په غیږ کې ونیولم دومره کلک یې نیولې وم چی فکر مې کاوه اوس به می هډوکې مات شې.
- ای هډوکی دی رامات کړل جهان! په کراره.
زما په دی خبره جهان په تلوار خوشی کړم او داسی حال کې چی د خوشحالی څخه یې سترګی ځلیدل خو ځله یی زما تندی ښکل کړو او همغه حال کې بار بار پوښتنه کول: رشتیا وایې ته کوچنی لری؟ غلط سوی خو نه یې؟
- نچ نه یم غلطه شوی ډاډمنه یم چی ماشوم لرم وګوره چک مې کړو.
او بی بی چک مې د هغه خواته ونیو جهان دا ځل په بیحد شوق بی بی چک زما د لاس څخه واخیست او د هغه خوا ته په کتو شو پوهیدم چې نه پوهیږی ورباندی نوځکه مې ورته توضیح ورکړل او ومې ویل: دا چې کله دوه سری کرښی وښایی نو مطلب ماشوم لری.

زما په دی خبره جهان په خوشحالی هغه دوه کرښو ته اشاره وکړل او ویې ویل: دا خو دوه دانی پوره سری دی.
- اهوم په همدی خاطر خو وایم، او د دې څخه بغیر یو څه نور علایم هم لرم او کامل ډاډمنه یم چې ماشوم لرم.

زما په دی خبره جهان په خوشحالۍ یو ځل بیا غیږ کې ونیولم خو دا ځل په کراره، او همغه حال کې وویل: لکه څنګه علایم؟ بوډۍ دی زړه نغواړی؟ یا کم خاص شئ ته دی زړه کیږی؟ بیا خو د هغه بل وار رقم هر دقه خو ژړا ته دی زړه نه کیږی؟ قې څنګه؟ قې خو نه وهې؟ درد خو نلری؟

خلاصه چې جهان ټول ورځ راځخه زر رقم پوښتنې وکړل او دومره خوشحاله وو چې همغه ساعت کې جمشبد ته زنګ و واهه او ټول کور او کلې خبر کړو چې زه ماشوم لرم! د جهان مور چی خبره شوه نو زما سره یی په موبایل کې خبری وکړل او د همغه لری ځخه یی راته دعاګانی وکړل، واقعاً چی هم د جهان مور بیحده ښه ښځه وه ما داسی کسان ډیر کم خپل په شاوخوا کې لیدلی وه. د هغې سره د خبرو کولو وروسته جهان غوښتل د احتیاط او د دی لپاره چی کامل ډاډمن شی ډاکټر ته لاړ شو خو ما ونه منل او دا خبره مې تر سبا پریخودل په هغه شپه جهان دومره خوشحاله و چې د دباندی ځخه یې بوډۍ راوغوښتل او ما ته یې اجازه رانکړل چې دیګ پوخ کړم.

عجیب وه داسی حال کې چی ماشوم شاید په زوره د یو میاشت لا نه کیدو خو بیحد زما هورمونونه یئ سره ګډوډ کړی وه هیڅ خوراک ته مې اشتها نه راتلل داسی حال کې چی په مدثر او مزمل د بوډي خوړلو ځخه نه مړیدم خو اوس مې هیڅ بوډۍ زړه نغوښت خو بیا هم د جهان په ډیر ویلو یو دوه ګولی بوډۍ می په زوره وخوړل، د ماښام د بوډۍ خوړلو وروسته کله چې د خوب لپاره کوټې ته ولاړو نو جهان راته وویل: شه نو نازولې و دې نه ویل شیرنې کې چشی غواړی؟
د هغه په دی خبره پخندا مې ورته وکتل او ومې ویل: اوممم یعنې هر څه وغواړم شیرنې که راته اخلې؟

جهان داسې حال کې چې په خندا او خوشحالې راکتل سر د هو په بڼه وخوځاوه او ویې ویل: هر شئ چې غواړی.
د جهان په دی خبره په شیطنت مې وروکتل او په فکر کولو لګیا شوم چې څه

وغوارم د جهان څخه؟ زر رقم شیان مې له ذهن څخه تیر شول خو یو هم په غوښتلو نه ارزیدو، یعنې اول مې فکر وکړو چې ورته ووایم ماته نوی موبایل واخلې، خو که جهان ته هسې هم ووایم نو راته اخلې نو نه ارزی چی د شیرنی په نوم ورڅخه موبایل واخلم، شیرنی باید داسې شې وی چې جهان په عادی حالت کې هغه نه کوی! په دی فکر په شیطنت مې سترګې پرق وهل او د جهان خواته په کتو شوم چې جهان پخندا وویل: خدای دی خیر راپیش کړی ستا دا دونې فکر کول او بیا دسی د شیطنت څخه سترګي پرقیدل مطلب زه باید خپل فاتحه ووایم.

د جهان په دی خبره په لوړ غږ پخندا شوم او ومې ویل: و دې ویل هـــــرڅــــه چې وغواړی کنه؟

زما په شیطان لهجه جهان پخندا سر وخوځاوه او ویې ویل: یا ما دسی خبره نه ده کړی.
- جهـــان!
جهان- جـــان.
- خپل د خبری څخه مه پرشا کیږه.
جهان- خپل د خبری څخه خو منکر نه یم خو ستا اراده ما ته شه نه معلومیژی.
په شیطنت می ورته وویل: زما د ارادی سره ته څه کار لری؟ تا خپل وویل هر څه چی غواړی وغواړه.
جهان پخندا وویل: امهمم هغه وخت په هیجان کې وم یو شې می وویل ته یې په زړه مه نیسه.
دا ځل په غوسه مې ورته ناری کړل: جهـــان.
زما په داسې لهجه جهان په لوړ غږ پخندا شو او ویې ویل: جان جهان! داسې چې ته ناری وهې که زما سر هم وغواړی ستا څخه یې قربانه وم امر کوه چشی غواړی؟

د جهان په دی خبره د شرم څخه تکه سره شوم چې هغه په مینه ناک لهجه وویل: قربان دې د دې شرم او حیا څخه سم،چشې غواړی زما نازولې؟

د جهان په دی خبرو مخ مې د شرم څخه لاپسی سور شو او کرار مې وویل: داسې خبری مکوه.
جهان- نو څنگه خبری وکم؟ تاته جان او قربان ونه وایم نو چا ته یې ووایم؟ هوم شایستې؟!
د ډیر شرم څخه مې ژبه بنده راغلې وه چې جهان زما د حال په لیدو په خندا وویل: زه جان او قربان نه وایم ووایه چشی دی غوشتل؟
لاړ مې سر راپورته کړو او د سترگو له کونج د هغه د مسکا څخه ډک څهری ته مې وکتل او کرار مې وویل: گوره بهانه به بیا نه راوړی سمده؟
زما په خبره جهان لاړ خپل ځای کی وخوځیدو او پخندا یې وویل: اممم هر سونی چې فکر کوم بیا هم زما په نظر ته دونې خطرناک شئ نسې غوشتلې نو خیال دې راحت بهانه نه راوړم ووایه چشی غواړی؟

- اممم یو دانه شعر راته ووایه.
زما په دی خبره جهان څو شیبې په حیرت راوکتل او بیا یې وویل: بس دغه؟
- اهوم.
جهان- عجب! ما فکر کوی ته به څه خراباتې شیان وغواړې چې دا درې ساعت ورته پلان جوړوی.
- اوس خو پوی شوی چې څه غواړم نو شابه و وایه.
جهان کرار وخندل او ویې ویل: شعرونه مې لیاده نه زده.
- نچ ومې ویل کنه بهانه نه منم هله نو ویې وایه جهان، هله ...
زما په ډېر ټینگار جهان خپل سر وخوځاوه او داسې حال کې چې خپل د چای تش پیالې ته یې اشاره کول ویې ویل: ته ماته یو پیاله چای واچوه شایستې شاید یو شعر مې پیاد راسې.

د دې لپاره چې د جهان بهانی راوړلو ته د پای ټکې کیږدم په تلوار پاسیدم او د هغه د چایو بیاله مې ډک کړل غوښتل مې بیرته خپل ځای ته راشم خو جهان ناساپه د لاس څخه ونیولم او خپل خواته یې کش کړم د هغه په دی کار په ویریدلی انداز مې "وی"

کړل چې جهان وویل: په کراره.
په غوسه مې وویل: دا خبره باید زه تاته وکړم ځکه تا زه کش کړم.
جهان داسی حال کې چې زه یې غیږ کې نیولم په شیطنت یې وویل: خو تا ویل شعر راته ووایه نو د شعر ویلو خوند خو هغه وخت وی چې د شعر ویلو دلیل دی غیږ کې وی.

د جهان په دی خبره د شرم څخه مې سر ښکته واچو چې هغه په شیطان خو عین حال کې بیحد ښکلی لهجه باندی شعر ویل پیل کړل:

نه زور ،منی نه عذر نه زاری بلا وهلي.
نو چاته دې ساتلی ده خولگی بلا وهلي.
ته دا د غلا مزل گوره او دا سپینی جامی.
دا څومره ژر را وختې سپوږمی بلا وهلی.
ډېر وخت و شو چی نه ښکاري، بیخي ده نادرکه.
بیخي ده رانه ورکه مکتبی بلا وهلي.

ښایسته نازکی گوتی دی قلم سره جوړېږي.
اوښان دی درنه پاتې شي کوچی بلا وهلې.
کتاب می د لیلا او د مجنون ورته تمام کړ.
خو بیا هم پوهه نشوه په یاری بلا وهلی.
جانانه چی یا موږ پوری دا نوم د ملا نه وای.
یا دا د خلقي لور نه وای خلقی بلا وهلي.

د جهان د شعر د خلاصیدو وروسته په گنگس انداز می ورته وویل: دا شعر کې اوس تعریف و که تحقیر؟
زما په خبره جهان په لوړ غږ پخندا شو چې ما وویل: زه دا نه منم اصلاً زما شرط دا و چې شعر د رحمان بابا ووایې نه د کوم بل چا دا نه دی حساب.

جهان- ما خو خپل غاړه خلاصه کړه منې نه منې هغه ستا کار دی ما خو شعر ووايې.
غوښتل مې مخالفت وکړم او و وايم چې زه دا نه منم خو جهان اجازه رانکړل او په شیطنت یې وویل: تا خو خپل شیرنې په یو شعر وبایلود خو خیر د هغه ځای چې زه ډېر شه سړی یم، نو یو شانس درکوم.
په مشکوک انداز مې وپوښتل: د څشې شانس؟
جهان په خوشحالې غبږ کې ونیولم او ویې ویل: که دې راته یو شایسته ګک، نازولې،شیرینکه لور راوړل نو درته د طلاو غاړګې درته اخلم.
- او که هلک و بیا؟
جهان- امممم بیا هم درته غاړګې اخلم خو د سپین زرو نه طلا.
په حیرت مې وویل: زما په نظر غلط شوی؟
جهان- څنګه غلط سوم؟

- دا چې و دې ویل که جنۍ وه د طلاو غاړګې او که هلک و نو د سپین زرو غاړګې زما په نظر ستا مطلب که هلک و نو د طلاو غاړګې او که جنې وه د سپین زرو!
جهان- یا، ما صحیح وویل زه لور غواړم.
- او که زوی وو؟
جهان- اوممم د خدای په نعمتو کې ناشکری شه نه ده، اول خو په هلک او انجلۍ دواړو خوشحاله یم تنها جوړ او تیار اوسیږی، خو که انجلۍ وی بیا نوو بیخې خوند کوی.

عجیب وه راته نه پوهیدم ولې جهان دومره انجلې خوښیږی؟ داسې حال کې چې د جهان کورنۍ ټول د هلکانو پسی سترګي وتلې!

سهار وخت زما د څه ویلو مخکې جهان بابا ته خبر ورکړی و او ادی د دې خبر د اوریدلو سره سم سهار وختې زموږ کور ته راغلل! دهغې په لیدو دومره وشرمیدم چې حد نه درلود خو جهان بغیر له دی چی اصلاً دې خبرو ته پام وکړی ماشومان یی ادی ته ورکړل او زه یی لځان سره ډاکټر ته ویوړم هر څومره چی ورته ومې ویل ته

لاړ شه کار ته او زه د ادی سره ځم ډاکټر ته زما خبره یی ونه منل ما هم نور څه ونه ویل او اجازه مې ورکړل خپل د زړه ارمان پوره کړی او تر ډاکټر راشی او دا خبره خپل د ډاکټر له خولی واوری.

هلته په تلو ډاکټری یو سونګرافی چک ولیکو او همغه کی معلوم شو چې زه د درې هفتو ماشوم لرم! ماشوم د یو میاشتې لا نه و خو جهان ډاکټرې ته لګیا و چی جنسیت یی څه دی؟ د جهان د شکل او قواری په لیدو ډاکټری فکر وکړو چی جهان د هغه سړیانو له ډلې څخه دی چی د هلکانو پسی سترګی وتلی او د انجونو څخه یی بد راځې نو ځکه په تنده لهجه یی جهان ته وویل: تر اوسه دومره نه دی چې جنسیت یی معلوم شی، او هو که هر څه هم اوسیږی تاسو باید شکر وباسې جنۍ او هلک خو فرق نه کوی.

د ډاکټری په هغه تنده لهجه د جهان مزاج یو څه خراب شو او خاموش شو د هغه په داسی خاموش لیدو د ډاکټری خوا ته مې مخ کړو او په شیطنت می وویل: پوهیږم چې د څلور میاشتو مخکې د ماشوم جنسیت نه معلومیږی خو موږ الحمدالله دوه جملې زامن لرو او زما د خاوند ارمان دی چی دا ماشوم جنۍ اوسیږی.
زما په دی خبره ډاکټرې په حیرت وویل: جنۍ اوسیږی؟
- هو، حتا زما سره یی قول کړی که ماشوم جنۍ اوسیږی نو راته د طلاو یو غاړګی واخلې نو ځکه داسې ورته تلوار لرو چې پوهه شو.

زما په دی خبرو ډاکټری په حیرت زموږ خواته راوکتل خو جهان په خوشحالې ما ته وویل: که انجلۍ وه د غاړګی سره درته لشتی(غوږوالې) هم اخلم.

د جهان داسی هیجان زده لهجی ته زما خندا راغلل او ډاکټره هم لکه چی تازه سر خلاص شو چی جهان د هغه جاهل خلکو له ډلې څخه نه دی چی هلک غواړی خو د انجلۍ د نوم په اوریدلو لغتې غورځوی.
ډاکټره- لومړۍ ځل دی ګورم یو سړی خپل د ښځې څخه جنۍ اولاد غواړی! زما څومره مراجعین چی راغلې ټول راته په زاری، زاری وایی: ډاکتر صیبی خیر دی د

هلک زیری وکړه خو تاسو لومړی کسان یاست چی د انجلۍ زیری غواړی(بیایی د جهان خواته مخ کړو او ویی ویل: خدای دی ستاسو پشان کسان زموږ جامعه کې زیات کړی.

ډاکټره چې د جهان په مزاج لږ پوهه شوه نو بیحد خوش اخلاق شوه او ښه چلند یې زموږ سره وکړو دوا یی رانکړل خو د تلو مخکی وویل چې ماشومانو ته که شیدی ورکوی نو نور یی مه ورکوه ځکه اوس ستا د نس ماشوم تغذی ته اړتیا لری او بهتره ده چی ماشومان له شیدو جلا کړې، جهان هم همغه دقې کی دهغې خبره ومنل خو زما فکر د مدثر او مزمل لپاره خراب شو هغوی هم ماشومان وه او اړتیا یې درلود کله چی ډاکټری ته می وویل نو هغی مدثر او مزمل ته وچې شیدی ولیکل او بیا یی تاکید وکړو چي سر له همدا نن به ماشومانو ته خپل شیدی نه ورکوی.

د ډاکټری له کوټې راووتو جهان دوه قوطی وچ شیدی او دوه دانې توشک مدثر او مزمل ته واخیستل او ماته یې هم نصیحتونه پیل کړل چی باید ډاکټری په خبرو عمل وکړو او څه چی وایی هغه وکړو خو زما زړه نه راتلو ماشومان دی داسی ناساپه د شیدو څخه منع کړم هغوی که څه هم څه کم د دوه کالو وه او ادی د دی خبرو څخه څو وخت مخکې ما ته ویلی وه چی ماشومان دی نور د شیدو څخه جلا کړه خو زما زړه نه و شوی او اوس خو بیخې نو راته مشکل ښکاریده پوهیدم چې دا کار به هم ماشومان سخت پعذاب کړی هم ما!

او همداسی هم وشول کله چی کور ته ورسیدو نو هغوی دواړه زما خواته په ځغاستو راغلل ځکه چی له سهار څخه می ورته شیدی نه وه ورکړی خو د دی څخه مخکی چی زما غیږی ته راسی جهان دواړه خپل خواته کش کړل او ما ته یې د وچو شیدو ډبې او توشک راکړو تر څو لاړ شم او هغوې ته وچی شیدی جوړی کړم خو ادی زما څخه مخکی په مطلب پوهه شو او داسی حال کی چی جوشی اوبه یی راخیستل او توشک کی اچول ماته یی وویل: ما درته څو میاشتې مخکې وویل چې ماشومان د

شیدو څخه جلا کړه خو تا زما خبره ونه منل، اوس په دې حالت کې دې باید د دوي بد اخلاقې هم وزغمې.

هیڅ می ونه ویل او په ناراضه توګه کښنیاستم فکر می کاوه زما حق کی هم بې انصافې راونه ده ادی ماشومانو ته وچې شیدی ورکړل او هغوی هم وخوړل خو بیا څو دقی وروسته زما خواته راغلل،هغوی عادت کړی و که څه هم زما شیدی دومره نه وه خو بیا هم ورځ کی دوه دری ځله ضرور زما خواته راتلل یو دوه ځل می په وچو شیدو ختا باسل خو دریم ځل لکه چی هغوي هم پوهه شول چې خبره خرابه ده نو ژړا ته یې ملا وتړل تر څو شاید په دی ډول شیدی ورکړم او واقعا زما زړه ورته وسوځید او غوښتل می شیدی ورکړم خو جهان چی پر لمانځه ولاړ و لکه چی زما په فکر پوهه شو ځکه په لوړ غږ یی الله اکبر کړل او رکوع ته لاړو هغه په دی رقم زه منع کولم خو د ماشومانو ژړا دومره جګرسوزه وه چی بغیر له دی چی د جهان مخالفت ته وګورم شیدی می ورکړل.

او هغوی هم لکه چی همدی ته په تمه وه ځکه همدا چی شیدی وخوړل نو ویده شول همدی وخت کی جهان هم خپل مونځ خلاص کړو او په تروش تندی زما خواته راوکتل او ویې ویل: که د دوي په هر جړا ستا زړه وسوځیږی او شیدی ورکی نو خدای خبر چی تا به دا بار تر منزل رسولې وی.

-نو څه وکړم ژاړی.

جهان خپل پټو راټول کړ او داسی حال کې چی زما څنګ ته راتلو ویې ویل: کوشش وکه په بل رقم یی کرار کی دوی دواړو خپل حق برخه خوړلی یو کوچنی ته باید تر دوه کالو شیدی ورکی او هغه دې سبا بل سبا د دوی دوه کاله پوره کیږی د دوی بدن اوس ستا شیدو ته دونی ضرورت نلری خو (جهان زما د نس خواته اشاره وکړل او ویې ویل: خو هغه ورته ضرورت لری.

***

مزمل چې د ژړا څخه شین اوښتې و غیږ کې مې نیولې و او مدثر ته مې د وچو شیدو توشک خوله کې ورکړو تر څو هغه هم په ژړا نشې،خو د مزمل په داسې جګر سوزه ژړا مدثر هم په ژړا شو د هغوی د دې حالت په لیدو ما ته هم ژړا راغله یو خوا مې معده سره پیچل کیدل او ګوله بووېږ. مې نشو خوړلې له بلخوا په هسې بهانه مې قې راتلو او اوس هم د دوي دوارو دا حال زړه مې غوښت په زار،زار وژاړم ادی نن د آسما سره ډاکټر ته تللې وه او نه وه راغلې کنه دا یوه میاشت کیدل چې بیچارګې به سهار د مولا د آذان سره زموږ کور ته راتلل او د ماذدیګر ماښام آذانو وخت کې کله چې جهان به کور ته راغې ادی به تلل خو نن نه ادی وه، نه جهان و، او نه هم جونید چې ماشومان د څو شیبو لپاره کرار کړی د هغوی ژړا چې زیاته شوه مجبوره شوم چې پاسیږم دا هم د مورتوب یو بل فضیلت چې ژړا لا په کراره نشې کولې.

دواړه مې غیږ کې راوخیستل او دهلیز کې په ګرځیدو راګرځیدو شوم چې شاید معجزه وشی او کرار شې خو دواړه دا یوه میاشت چې د شیدو څخه مې جلا کړی وه دومره بد اخلاق او بهانه نیونکې شوی وه چې حد نه درلود دومره مې وګرځول راوګرځول چې ملا مې په درد شول،کله چې لږ کرار شول نو غوښتل مې پر ځمکه یې کیږدم خو لا پښې ځمکې ته نه ورسیدلې چې بیایې ژړا او چغو ته ملا وتړل. زړه مې غوښت ویې وهم! په قران ریشخند یې جوړ کړې و اراده مې د وهلو دواړو ته نیولې وه خو داسې په مظلومیت او معصومیت یې زما خوا ته راکتل او اوښکې توی ول چې د وهلو لځایه څنګ ته یې کښیناستم او دا ځل دری سرو ژړا ته شروع ورکړل.

پخدای نور مې جسم د دومره کارونو انرژی نه درلود او نه هم روح مې، خپل وضعیت مې د دوي څخه زیات خراب و ناست و کرار مو ژړل چې د کور دروازه وټکیدل د دې فکر پر کولو چې ادی راغله د ژړا منځ کې مې لکه لیونیانو پشان وخندل په تلوار لځایه پاسیدم لا د دهلیز دروازی ته نه وم تللې چې مدثر او مزمل زما په تلو یو داسې چغی وهل پیل کړل چې مجبوره شوم بیرته راوګرځم او هغوی

دواړه هم غيږ کی راوخلم او د دروازی خلاصولو لپاره لاړه شم دروازی ته لا نږدی شوی نه وم او د حويلۍ څخه مې فريادونه او ګيلې ادی ته شروع کړل.

- ادی ته چیرته تللې وې؟ راشه چې دا لمسيانو دی زه مړه کړم، په قران که نه د شپې د دوي له لاسه خوب لرم نه د ورځې کرار، څلرويشت ساعت يې ونګ،ونګ ژړا شروع ده، د لاس او پښو يې واچولم، په قران مړه يې کړم، اصلاً ما بد کړی چې غوارم بل ماشوم راوړم، اصلاً که زه خبر وای چې دا به مې حال شي ما به ....

همداسې لګيا وم ګيلې او شکايتونه مې ادی ته کول او همغه حال کې ځان سره پلان مې جوړوی چې همدا چې دروازه مې خلاص کړه نو ماشومان ادی ته ورکوم او ځم يو ساعت خوب کوم، ماښام درسته شپه نه وم ويده شوی، خو دروازه چې مې خلاصه کړه نو د ادی لځايه په دوه خندانو څهرو مې نظر ولګيد! لومړی د جهان په خندانه څهره چې سترګي زما په ليدو داسې د خوشحالۍ څخه پړق وهل ته وا خپل د ژوند بهترينه صحنه يې ليدلې او دويم ... دويم د جهان څنګ ته د ارباب په څهری چې کوښښ يې کاوه خپل خندا کنټرول کړی.

د هغوی په ليدو هک حيرانه شوم د ماشومانو په چيغو چې بابا،بابا يې ويل لږ پر خود راغلم جهان زما د غيږ څخه ماشومان واخيستل او ماته يې په اشاره وويل چې د دروازی له مخې لری شم، د هغه په اشاره تازه پرخود راغلم د دروازی له مخې لری شوم او داسی حال کې چې ارباب او جهان ته د کور راننوتلو لپاره مې لاره ورکول خپل ټيکری مې پر سر سم کړو او کرار مې سلام وويل ارباب په همغه خندانه څهره د يو عليک پر ويلو کور ته راننوت او د دهليز خوا ته راون شو د هغه پسې جهان هم راننوت، او زما د حال په ليدو يې پخندا وويل: څنګه يې نازولې؟(خو ناساپه يې زما سترکو ته فکر شو او لږ په انديښنې وويل: څه سوی؟ خيرت خو دی ولې دی ژړلې؟

د جهان په دی خبره خپل د څو شيبو مخکې بد حال مې پياد راغلو نو ځکه په غوسه مې وروکتل او ومې ويل: يعنې تاته مهم ده چې ما ژړلې او کنه؟
زما په دی لهجه او خبری جهان خپل وريځه له حيرت پورته کړل خو بغير د څه ويلو

د کور دروازه یې بنده کړل او داسې حال کې چې زه یې د کور خواته روانولم په داسې لهجه چې کوښښ یې کاوه خپل خندا پټه کړې ویې ویل: بابا چې ولاړی بیا جنګ وکه اوس بده ده د دونې وخت بعد بابا زموږ کور ته راغلې او موږ دواړه د دې د ځایه چې د هغه میزبانې وکو یو د بل سره جنګ شروع کو.

د جهان په دی خبره غوسه مې لاپسې زیاته شوه او په قهر مې وویل: دومره هم ماشوم نه یم چې وغواړم د بل چا مخکې جنګ شروع کړم، اصلاً چا ویلې چې زه غواړم جنګ وکړم؟

جهان زما په دی خبره کرار وخندل او ویې ویل: د هغه ګیلو او خبرو څخه دی معلومه ده، زه نه وایم چې جنګ مکوه! وکه جنګ، زه دې ستا د جنګونو څخه لا قربان سم خو اوس یې مکوه نازولې، یو څو ساعت نور هم صبر وکه بابا تر شپي لا نه پاتې کیږی کله چې ولاړی هغه وخت زما غاړه ستا چاړه صحیح دی شایستې؟!
د جهان په دی خبره غوسه مې لمینځه ولاړه خو په نارضه لهجه مې وویل: یعنې ستا په نظر زه دومره جاهل او بیعقل یم چې د ارباب مخکې ستا سره بی شرمې او جنګ شروع کړم؟

جهان- خدای دی نکوی زما مطلب دا نه و، زه پوهیژم چې کوچنیانو پعذابه کړې یې او خپل حالت دې هم شه نه دی،پوهیژم چې زړه دې غواړی خپل زړه زما سره په جنګ کولو خالې کړی، او حق هم لری خو اوس نه، یو څه نور هم صبر وکه کله چې بابا ولاړی بیا هغه وخت زه دې دربست په خدمت کې یم چې وهې مې ټکوی مې هر کار چې کوی.

د جهان په دی خبره پخندا شوم او ومې ویل: ما ته کله وهلې یې چې ته وایې وهې مې ټکوی مې؟!
زما پخندا جهان هم پخندا شو او ویې ویل: تر نن خو دی وار نه دی کړی خو فکر کوم راروان ورځو کې باید د وهلو تمه هم ولرم.
د جهان په دی خبرو خپل غوسه او قهر مې لیاده ووت او پخندا مې د هغه خواته

کتل د دې فکر پر کولو لا چې زه دی جهان ووهم خندا مې راتلل څه ورسیږی چې د رښتیا دې وغواړم داسې کوم کار وکړم، یعنې جهان په دومره قد او قواری زما د لاس وهل وخوری؟!

جهان بغیر د نور څه ویلو کور ته ننوت او زه هم وریسې شوم د جهان همدا څو لفظ خبرو زما ټول غوسه لمینځه وړی وه، او اوس یوازی د دې غم راسره و چې د ارباب مخې ته څنګه لاړه شم؟ یعنې هغه به زما خبری اوریدلې وی؟ خپل د خبری ځواب مې خپل ورکو،خود یې اوریدلې کله چې جهان اوریدلې نو هغه هم اوریدلې ای ګونګه دی شم دا نو څنګه خبری وه چې ما وکړل؟ د شرم له لاسه مې جرئت نه کوو کور ته ننوځم خو چاره نه وه ننوتلم او په نهایت بېخیالې کې داسی چلند مې وکړو لکه ما چې هیڅ ویلې نه وی البته ارباب هم خپل په مخ رانوسته زما خبری او ډېر عادی توګه یې راسره سترې مشی وکړل ما ورځخه د جهان د مور پوښتنه وکړل چې ولې مو هغه لځان سره نه ده راوستې چی ارباب پخندا وویل: دا کال لکه چې د کوچنیانو کال دې؟! ستا خواشې ګل بې بې او د بشیر د شزی سره تللې وه ډاکټر ته لکه چې هغوی دواړو هم کوچنې درلوشتې؟(درولودی)

د ارباب په دی خبری لومړۍ مې حیرت وکړو او بیا خوشحاله شوم او بیا مې خندا راغلل! یعنې دومره مختلف احساسات مې یو دم په وجود کې فعال شول حیرت مې په دی وکړو چې د ارباب خبره لکه چې دا کال د کوچنیانو کال و د جمشید ښځه، روقیه،زه او اوس هم ګل بی بی او د بشیر ښځه ټولو ماشومان درلودل او خوشحاله د ګل بی بی لپاره وم ضرور هغه به اوس د ډیر خوشحالې څخه په جامو کې نه ځایږی؟ کال تیر شوی نه دی او هغه ده انا کیږی،خو د دی فکر پر کولو چې ګل بی بی دی هم ماشومان راوړی او د بشیر ښځه هم نو خندا راتلل خوابنی هم ماشومان راوړی اینګور هم! البته زما په نظر لږ شرم ناک کار هم وو خو ګل بی بی ځوانه وه او که ماشوم یی راوړی وایی کومه خبره نه وه یعنی کاکا او وراره به په یو عمر یا هم که جنۍ شول نو عمه او وراره یا هم وریره به په یو عمر وی څومره جالب ده کنه؟!

څو شیبې وروسته د کور دروازه وټکیدل او دا ځل ادی وه چې کور ته راغلل، څهره یې د خوشحالۍ څخه پرق وهل په مشکوک انداز مې ورڅخه وپوښتل: خیرت خو دی؟ زما د دې پوښتنې په ځواب کې ادی راته داسې خبره وکړه چې زما خوله له حیرت خلاصه پاتې شوه! لکه چې د رښتیا هم دا کال د ارباب خبره د ماشومانو د راوړلو کال دی!؟ ادی ویل آسما څه کم او زیاد د دوه هفتو ماشوم لری! د ادی په دې خبره بیحد خوشحاله شوم او د زړه له خلاصه مې د خدای شکر ادا کړو، شاید د دی ماشوم د راتلو په برکت نور د خاله کورنۍ خپل د دې بیځایه کارونو او بهانو څخه لاس واخلې او آسما پریږدی چې خپل ژوند وکړی.

د غرمې خو اته جهان بابا ته زنګ وواهه او ورته ویی ویل چی ارباب راغلی او که بیکاره وی نو زموږ کور ته دی راشې، بابا هم د غرمې وخت خوا ته زموږ کور ته راغې او موږ ټولو په ګډه ډوډۍ وخوړل د ډوډۍ خوړلو وروسته سړیان مجلس ته کښیناستل ادی هم لګیا وه مزمل او مدثر ته یې وچې شیدی جوړول ما چې هم ماحول کرار او ارام ولید نو د فرصت څخه مې ګټه واخیسته او یو څو ساعت مې سترګي پټې کړل او ویده شوم.

***

کور کې یو بد حال و شاوخوا د غوړو او د غوښې د سره کیدلو بویونه او دودونه وه چې پیچل شوی و، جهان او بابا د کور حویلې کې لګیا وه د اختری غوښه یې ټوټه کول جونید او ماشومان هم د هغوی شاوخوا راټول وه، ادی هم آشپزخانه کې لګیا وه او ژر،ژر یې د غواې جګر سور کاوه او کله یې ماته راوړو او کله هم جهان او بابا ته، خو زه د حویلې کونج کې ناسته وم او په بی حال نظر مې د دوی خواته کتل د سهار څخه چې د غواې قربانې کول او د غوښې او جګر پخولو پروسه شروع شوی وه ما هر پنځه دقیقی وروسته قې وهو، یعنې زما د ژوند یو د بترینه اخترونو څخه همدا اختر وو چې نه مې کالې اچولې وه نه مې نکریزی وهلې وه او نه حتا یو ټوټه غوښه مې خوړلې شوه.

په یو کونج کې لکه مجرم پشان ناسته وم او یوازې د دوي کارونو ته مې کتل، جهان د قرباني لپاره یو غوای اخیستې و البته بابا هم ورسره شریک شوی و غواې همدلته حلال کړو او اوس لګیا وه پوست کو او ټوټه کوو یې نیم غواې ټوټه کړې و خو نیم نور یې پاتې و چې جهان سر راپورته کړو او بابا ته یې وویل: معلم صیب ګرمې زیاته ده دا نور به په کور کې ټوټه کو.

د جهان په دی خبره ما چې تر اوسه نظر د هغه بیچاره غواې په پری شوی سر او ښنو کې و د جهان خواته واړو او د هغه په لیدو مې بیحال مسکا پر شونډو راغله، زه د ماشومتوب د قصابانو څخه وېرېدم ځکه زما په نظر هغوی د هغه لوی،لوی چاقوګانو او په وینو لړلی کالو سره بیحد وحشیان او خطرناک کسان وه خو اوس چې جهان مې دی حال کی لیدو نو فکر مې کاوه چې شاید قصابان هم  دومره خطرناک کسان نه وی؟ جهان خپل یو جوړه پخوانې تور کالې اچولې وه ترڅو د قربانې کولو وروسته یې لرې ختا کړې یو سپین خال خالې دسمال یې هم په سر تړلې و او خپل د کمیس لستوڼې هم تر څنګلو پورته کړې وه او یو لوی چاقو یې هم لاس کې وو البته لاسونه یې دواړه پر وینو سره وه.

یعنې هر چا که جهان په دې حال لیدی وایې نو ورڅخه وحشت یې کاوه خو ما ته دومره ښایسته معلومیدو چې نظر مې ورڅخه نشو اخیستی، کله ناکله خپل داسی احساساتو ته مې خندا راتلل جهان دومره هم ملکوتي ښایست نه درلود خو نه پوهیږم ولې پر ما دومره ګران وو؟ او دا څو میاشتي نه پوهیږم دا اندازه د ګرانښت یې د حد څخه اوښتی وه! یعنې زړه مې غوښت څلرویشت ساعت زما و مخ ته اوسیږی او زه یې ووینم خبری وکړم او بوی احساس کړم! عجیب ده خو زه د جهان د بوی پسی مړه مړه وم، دا خبره ما په زر خجالت او شرم باندی نیلوفر ته وکړل ځکه زما په نظر زما علاقه د جهان سره د معمولې حد اوښتی وه کله چې هغې ته مې دا خبره وکړل نو هغې خپل سر وټکو او ویې ویل: خاک تو سرت هوسی، تو ویار شوهرت را داری.!

د نيلوفر په خبره زما هيڅ باور نه راتلو خو لکه چې همغه چل راباندی شوی وو؟!
ځينې ښځې چې ماشوم په نس لری نو هغه دوران کې دوي د يو خاص شې سره شوق پيدا کيږی چې عام اصطلاح کې ورته "اجای" يا هم "ويار"ويل کيږی معمولاً دې وخت کې د ښځو يو شې سره علاقه پيدا کيږی او زياتره وخت هغه اجای په کوم خوراکې شيانو وی مثلاً ځينو مالټه بيحد په دی وخت کې خوښيږی او خوری، ځينو سيب، کيله، الوچه خلاصه چې کله ناکله ځينو ښځو تروش شيان خوښيږی او ځينو بيا خوره خو زما اجای د خوراکې شيانو څخه پخپله په جهان او د هغه پر بوی وليدلی وه!

او شايد د باور ور نه وی خو دا رقم اجای په علمي توګه ثابت شوی ده، دا اجای ډير کمياب ده يعنې نرۍ کی څو سلنه ښځې داسی کيږی چې د حمل دوران کې اجای خپل د خاوند په بوی راشې او زره يې غواړی هغه يې څنګ کې اوسيږی، دا اجای په يو بل ډول هم ده او هغه دا چې ځينې ښځې وی چی په دی وخت کې د خاوند د بوی سره حساسيت کوی او د هغه څخه يی بد راځی، خو زما اجای په لومړۍ دسته کې شامل کيدل ځکه چې پر ما جهان بيحد ښه لګيدی.

ادی دهليز کی سرخان هوار کړو ترڅو جهان او بابا پاتی غوښه هلته ټوټه کړی زه يوازی حويلې کی پاتې شوم نو مجبور د هغوی پسی کور ته لاړم خو د دی لپاره چی د سره کړو غوړو بوی احساس نکړم خپل پوزه مې وپيچل او د دهليز يو کونج کې کښيناستم زما په داسی ليدو جهان پخندا راوکتل او ويې ويل: لکه چې چرس مرس دی ورک سوی که څنګه؟

د جهان په دی خبره چې ما ته يی وکړل لومړی می سر خلاص نشو خو کله چې خپل حالت ته مې پام شو چې د معتادنو پشان د د هليز يو کونج کی ناسته يم او پوزه می تړلی نو غوسه راغلل او په قهر می وويل: خپل به معتاد او چرسی يی.
زما په دی خبره جهان او بابا په لوړ غږ پخندا شول او بابا جهان ته کرار وويل: مککوه هلک زما لور مه پعذابه وه.

د بابا په خبره جهان په همغه خندا سر وخوځاوه او بغیر له دې چی نور څه ووایې د غوښو په ټوټه کولو لګیا شو لا څو شیبې نه وه تیر شوی چې د جهان موبایل ته پرلپسی څو زنګ راغلل داسی چی هغه مجبور شو خپل د وینو ککړ لاسونه په یو ټوکر پاک کړی اوموبایل ته ځواب ورکړی.
جهان- الو سلام علیکم ...

د هغه خوا څخه زما په نظر کوم خواب رانغلو ځکه چې جهان موبایل راښکته کړو او د نوم په کتلو یې بیا موبایل غوږ ته ونیو او ویې ویل: الو جمشید زما ژغ درځې؟ الو ...

ما په کنجکاو نظر د جهان خوا ته کتل بابا لا لګیا و کوم غوښه چی ټوټه کړی وه هغه یې پلاسیتکونو کې اچول او برخی برخې کول ترڅو په همسایه ګانو او غریبانانو یې وویشی، جهان لځایه پاسید او بیا یې وویل: الو جمشید ژغ مې درځی؟ اوری؟
(څوشیبی خاموش شو او بیا یې په مشکوک لهجه وویل: دا ژغونه د چشی دی؟ خیرت خو دی؟ الو ولی جواب نه راکوی؟

د جهان لهجه چې لږ پورته شوه بابا د برخی جوړلو څخه لاس واخیست او د هغه خواته په کتو شو ادی هم سر د اشپژخانې څخه راوویست او زه ... زه نه پوهیږم ولې خو زړه مې بی کرار شو په وېرې او اندیښنې باندی غوږ وم چې واورم څه خبره ده چې جهان په اندیښنی څو ځله بیا الو الو کړل او بیا د لومړی ځل لپاره ما د جهان د خولې څخه کنځل وارویدل چې د ډېر اندیښنی څخه یې جمشید ته وویل: تاته وایم د سپی اولاد ولی خبری نکوی؟ چیری یی؟ دا ژغونه د چشی دی؟ څه سوی؟

د هغه خوا څخه لکه چې جمشید ځواب ورکړو چې جهان لا په اندیښنی وویل: څه سوی؟ ته ولی جاړی؟

او دغه لفظ د ژړا کافی وو چې زما ټول بدن په رپیدو شې جهان د اندیښنی له لاسه نفس نفس وهه کله چې د جمشید ځواب یې وانه وریدو نو په داسی غږ چې د

لومړۍ ځل لپاره د وېرې څخه لړزيدو کرار يې وويل: الو جمشيد څه سوی؟ تاته وايم بابا شه دی؟ خيرت دی؟

نه پوهيږم جمشيد څه جهان ته وويل خو ما د جهان بی ساه کيدل وليدل ومې ليدل چې ساه يې سينه کې بنده سوه او د مخ رنګ يې وپريد داسی لکه روح چې يې د بدن څخه وتلې وی څو ځله يې خوله خلاصه او بنده کړه تر څو خبره وکړی خو لکه نفس چې بند وی د هغه د داسی حال په ليدو زه په تلوار لځايه پاسيدم غوښتل مې د هغه څنګ ته لاړه شم جهان د دی لپاره چی ساه واخلې خپل ګريوان ته حمله کړه او خپل د يخن څو تڼی وشکول لاس .. لاس يې لړزيده ټول وجود يې داسی وو لکه چې د دريدلو توان نلری بابا چې جهان څنګ ته زما څخه نږدی و په تلوار د جهان اوږه ونيول او هغه يې د غورځيدلو څخه بچ کړو او په ورخطا يې ورته غږ کړل.
بابا- څه وسو زوی ښه يی؟

د بابا د غږ په اوريدو لکه چې جهان تازه پر خود شوی وی ځکه په يو جست لځايه پاسيدو او د کور د دروازی خواته يې منډه کړل زه لکه ليونيانو پشان ورپسی په ځغاستو شوم او غږ مې ورباندی وکړو خو جهان بغير له دی چې راوګرځې لکه ليونيانو رقم له کور ووت حتا څپلې لا پر پښو نکړل او لوڅی پښی لاړو.
موږ ټول د جهان داسی تلو ته هک حيرانه ولاړ و، لومړی کس چې لږ پر خود راغې هغه بابا وو چې د جهان پشان په تلوار له کور ووت او لکه چې د جهان پسی لاړو ادی په انديښنی زما خواته راغلل او زه يی له اوږی ونيولم.

ادی- بسم الله، بسم الله کوم خبره نشته مه ورخطا کيږه.
ادی زه کينولم او په تلوار د اشپزخانی خواته لاړه او يو پياله اوبو سره راغلل خو زه دومره د جهان د هغه حال په ليدو وېرېدلی وم چې لاس او پښو مې کار پريخودلې وو زړه مې بده ګواهې ورکول د جهان هغه خراب حال مې هره شيبه د سترګو وړندای ښکته پورته کيدو د هغه اخری لفظ مې ذهن کی بار،بار تکرار کيدو هغه وويل بابا! يعنې په ارباب کوم څه شوی؟ د دی فکر پر کولو می ټول بدن په لړزی شو خدای

دی نکوی نه ارباب همدا یوه هفته مخکې دلته و او جوړ تیار و. جونید داسې حال کې چې زموږ د حال په لیدو وېرېدلی و خو بیا هم کوښښ یی کاوه تر څو ماشومان کرار کړي.

ادی په زوره څو غړپ اوبه راکړل او زه تازه پر خود شوم په تلوار خپل د موبایل خواته ولاړم او جهان ته می زنګ وهل شروع کړل، د شلو څخه مې زیات زنګونه ورته ووهل خو د لومړۍ ځل لپاره جهان زما د هیڅ زنګ ځواب رانکړو، سترګو کې می اوښکی را ټولې شوی جهان هیڅکله زما زنګ بې ځوابه نه پریښودو تل په هر حال او هر شرایطو کې زما ځواب راکو خو اوس؟! د زیات وېرې له لاسه مې بدن لړزیده نه پوهیدم چی اخر څه شوی و څه خبره ده؟ خو دومره پوهیدم چې هر خبره چی ده د خیر خبره نه ده.

د جهان د جواب ورکولو څخه چې نامیده شوم نو روقیه ته مې زنګ و واهه کله چې هغې هم ځواب رانکړو نو خپل موبایل کې موجود د جهان د کورنۍ ټولو نمبرو ته مې زنګونه ووهل خو یو نفر لا ځواب رانکړو، د ډېر وېرې او استرس له لاسه معده او کولمې مې سره پیچل کیدل زړه مې د ډېر وحشت څخه ثانیه کې زر ځله درزیدو ادی چې هرڅومره کوښښ کاوه تر څو ما کراره کړي خو زه نه کرار ه کیدم هره شیبه په تمه وم چې یو نفر راشي او هغه بد خبر راوړی کوم چې پیښ شوی، د ډېر استرس څخه او له دې چې د سهار راهیسې می هیڅ نه وه خوړلې فشار مې په صفر و نور په پښو نشوم دریدلې او کښیناستم چې نظر مې د غوښی څخه په ډک دسترخان ولګیده او د هغه څنګ ته د جهان په چاقو چې غوښه یې وربانديې ټوټه کول.

باور مې نه راتلو همدا څو شیبې مخکې ټول دلته ناست وو او خندل مو خو یوه شیبه کې هغه خندانه ماحول څنګه داسی شو؟ د جهان د پټو په لیدو بې اختیاره څو څاڅکې اوښکې مې له سترګو راتوی شول چې ادی په اندیښنې او څه ناڅه غوسه وویل:

ادی- ته ولې داسې لیونتوب کوې؟ خو ځان دی مړه کړل.
په ژړا مې وویل: ادی یوه خبره سوی د جهان کورنۍ کې حتماً یو څو..
ادی پرینخودم ترڅو خبره پوره کړم او په غوسه یې وویل: داسې بیځایه خبری مکوه انشاءالله چې خیر به وی.
غوښتل مې ووایم د کوم خوا خیر؟ د جهان کوم حرکت د خیر وو؟ د هغه داسې لیونې کیدل او تلل کوم د خیر علامه درلود؟ خو خاموش شوم زړه مې غوښتل د ادی خبری باندی باور وکړم باور نه باید ووایم زړه مې غوښتل د ادی په خبرو خپل ځانته چل ورکړو او فکر وکړم چې د رښتیا هم کوم بده پیښه نه ده واقع شوی.

خو نړۍ هیڅکله زموږ د خوښې او رضایت مطابق نه وی بابا راغې، داسې راتګ چې بغیر د څه ویلو څرګنده وه چې د خیر خبر نلری، د څهری رنګ یې پریدلې و تندی تروش و او له سترګو څخه یې ښکاریدل چې خفه دې! د هغه په راتګ زه یې و خواته په منډه شوم او په تلوار مې ورڅخه وپوښتل: بابا څه خبره ده؟ جهان چیرته لاړو؟ څه شوی؟ یو څه ووایست.
بابا یوه غټه ساه واخیسته شاید د هغه لفظ د ادا کولو لپاره یې ډېر انرژی ته ضررت درلود؟! او د څوشیبو خاموشې وروسته یې په افسوس ناکه او غمژن لهجه وویل: د جهان وراره مړ سوی.

د بابا په دی خبره د ادی د "وی خدایه راورسیږی" غږ پورته شو خو زه بغیر د څه ویلو ولاړه وم او بابا ته مې کتل ما تر اوسه د بابا خبره هضم کړې نه وه او نه پوهیدم چې څه یې وویل؟ چې ادی په تلوار وپوښتل: کوم وراره یې؟
بابا د زړه له تل اه وکښل او ویې ویل: همدا چې تازه واده یې کړی وو.

ما تازه د بابا خبری تحلیل کول او لځان سره مې تکرار کول بابا وویل د جهان وراره مړ دی! هغه چې نوی واده یې کړی و د جهان وراره چې نوی واده کړی وو؟څو شیبې وروسته مې مغزو کې یو نوم راوګرځید او ساه مې بنده شوه "بشیر" ذهن مې یوه جمله راته تکرار کول "بشیر مړی دی "بشیر مړی دی" سر مې راباندې وګرځیده او

ځای پرځای کښیناستم. د ادی ژړا مې اوریدل د بابا خبری مې اوریدل د جونید او ماشومانو ژړا مې اوریدل خو دومره توان راکې نه و چې سترګې خلاصې کړم پر مخ باندې مې د یخو اوبو د څاڅکو پر شیندلو په تلوار مې سترګې خلاصی کړی د ادی په غیږ کې وم بابا داسی حال کې چې ماشومان یې غیږ کې نیولې وه ما ته مخامخ ولاړ و او په اندیښنی راکتل.

لږ چې پر خود راغلم ادی راسره مرسته وکړل ترڅو کینم سر مې ګنګس و نه پوهیدم څه شوی؟ خو د ادی ژړا او د بابا خفه څهری ټول شیان رایاد کړل بې اختیاره مې اوښکې پر مخ راغلل زما په ژړا ادی هم په ژړا شوه، باور مې نه راتلو بشیر مړ وو، د جهان هغه بد حال مې پیاد شو او لکه لیونیانو پشان مې د بابا څخه وپوښتل: جهان څه شو؟ په هغه حالت تاسو ولې هغه یوازی پریخودو؟ ولې مو لځان سره را نه ویستو؟

دومره جهان ته ورخطاوم چې خپل کارونه او خبری مې په کنټرول کې نه وه،لځایه پاسیدم د بابا لاس مې ونیو او ومې ویل: زه باید هلته لاړه شم، زه باید کندهار ته لاړه شم، جهان یوازی دی ..
بابا داسی حال کې چی کوښښ یې کوه ما د اوږی څخه ونیسی په کراره وویل:
جهان زوی ویل هوسۍ مه راوړه.
- نه ... نه زه باید لاړه شم هغوی اوس زما کورنۍ په حساب راځې او هغوی په مشکل کیدی نه باید د غم وخت کې یوازی پریږدم، نه باید جهان هلته یوازی پریږدم.
ما چی هر څه ویل بابا زما خبره نه منل خو ناساپه ادی وویل: هوسۍ ربښتیا وایې دا د هغې کورنۍ ده که نن د غم وخت کې دا هلته ونه اوسیږی سبا ورځ خلک زر رقم خبری ورپسی کوی.

بابا- ستا خبره صحیح ده خو د دی حالت ښه نه دی هلته تګ ورته په توان کې دی، جهان زوی هم د دې پخاطر ویل چې مه یې راوړه.
خوله مې خلاصه کړه ترڅو د بابا خبری رد کړم او د تګ لپاره ضد وکړم خو زما د څه

ویلو مخکې ادی وویل: موږ به هم ورسره لاړ شو یو دوه ورځې به تیری کړو که ماحول ډیر خراب و نو هوسۍ به لځان سره بیرته راوړو، خو بده ده که بیخی لاړ نشو سبا ورځ زر خبری د هوسۍ پسی کوی د هغوی ځوان زوی مړ شوی او دا غم دومره کم نه دی.

د ادی په خبره یوځل بیا مې د بشیر څهره ذهن ته راغلل او ژړا مې زیاته شوه، باور مې نه راتلو هغه دی مړ شوی اوسیږی؟ دومره د دی خبری په حیرت او غم کې وم چی اصلاً دا خبره مې ذهن ته رانغلل چې د بابا څخه وپوښتم چې څنگه مړ شوی؟ په تلوار مې خپل حجاب واچو او بغیر له دی چې کوم نور اضافه شې راوخلم د بابا پسی شوم زما څخه ادی لږ ښه وه د ماشومانو وچی شیدی راوخیستل د اختر لومړۍ ورځ وه یو موټر نه پیدا کیدو چې د کندهار خواته دی لاړ شې، د نیم ساعت گرځیدلو وروسته یو شخصی موټر پیدا شو لکه چې د هغه سرې کور هملته و او غوښتل اختر اول ورځ خپل کور ته لاړ شې کله چې موږ یې پریشانه ولیدو نو بابا ته یې وویل: که غواړې زه مو رسوم.

موږ هم بیځایه ستونه ونکړل او موټر ته پورته شو تقریبا ځوان هلک وو د بابا سره یې خبری کول پیل کړل زموږ د دی تلوار پوښتنه یې کول چی چیرته دقیقاً روان یو؟ خو زما جسم هغه موټر کې و خو روح مې بیخې لکه چې هغه موټر کې شتون نه درلود ټول فکر مطبڅ جهان او د هغه د کورنۍ خواته وه یو ځل به مې گل بې بې مخې ته راتلل بیا به مې د جهان مشر ورور، یعنې د هغوی حال به څنگه وی؟ همدا دوه میاشت مخکې په زر هوس او شوق خپل زوی ته واده وکړو او نن یې جنازه ده! بیا به مې فکر د فاطمی خوا ته تلو د هغې به څه حال وی؟ د واده دویم میاشت کونډه سوه هغه هم داسی حال کې چی د یو میاشت ماشوم یې په نس دی؟

په دی فکرونو مې اوښکې بی اختیاره تویدل،ټول لاره مې وژړل د گل بی بی لپاره مې وژړل چې ځوان زوی د واده په دویم میاشت مړ شو، د فاطمی لپاره می وژړل چې د واده په دویم میاشت کونډه شوه د ارباب، د جهان مور او د جهان لپاره مې

وژړل چې د دی خبری په اوریدو ساه یې وختل زما په ډیر ژړا بابا مخ زما خواته راوړو او په تروش تندی وویل: که غواړی داسی وژاړی او خپل ځان تر مرګه ورسوی نو د همدی ځای څخه موټر بیرته شاته ګرځوم ضرورت نشته تر کندهار ولاړسو.
د بابا په دی ګواښ کوښښ می وکړو خپل ژړا کنټرول کړم خو نه کیدل هره شیبه به چې د بشیر هغه خوانې هغه اخلاق مې یاد ته راتلل اوښکې می بی اختیاره تویدل د ډیر ژړا څخه مې انرژی صفر شوی وه او خوب وړی وم چې د ادی په غږ سترګي مې خلاصي کړل.

ادی- هوسی ... هوسی .. راویښه شه راورسیدو.
سر مې راپورته کړو او د موټر د ښیښی څخه مې د کوڅې خواته وکتل هوا تیاره شوی وه خو دومره نه چې څوک معلوم نشې د ارباب د کور مخکې سم د محشر میدان جوړ و دومره خلک راغلې وه چې ټول کوڅه یې نیولې وه موږ د کوڅې سر کې ولاړ و هغه موټروان چې موږ یې رارسولې و د ارباب د کور په لیدو بابا ته په حیرت وویل: خدای دی خیر کړی د ارباب د کور مخکې څنګه بد حال دی، تاسو د ارباب د خپلوانو څخه یاست؟

دومره زموږ ټولو وضعیت خراب و چې هیچا د هغه پوښتنې ته ځواب ورنکړو او بابا یوازی د سر په خوځولو دومره پوه کړو چې موږ د ارباب خپلوان یو، د موټر څخه ښکته شوم بابا مدثر او مزمل غیږ کې راوخیستل ادی زه له اوږی څخه ونیولم پښو مې حرکت نه درلود هره شیبه د دې فکر پر یاد راوړلو چې بشیر مړ دی او دا جماعت ټول د غم لپاره راټول شوی سترګي می د اوښکو ډکیدل ما د ارباب کور د اخترونو ورځ کی لیدلی وه یوه شیبه یې میلمه خانه د خلکو څخه نه خالې کیدل د سړیانو د خندا غږونه به زموږ تر غوږونو راتلل خو نن ... نن د ارباب کور سم د کربلا میدان و.

بابا په ډیر ستونزه ما او ادی ته لاره خلاصه کړل تر څو کور ته ننوځو هلته په ننوتلو تازه پوهه شوم چې څومره لوی مصیبت راغلې، کور د ژړا،ساندو او چغو له غږونو څخه ډک و او ما د همدی ځای څخه د دی ټول ژړاګانو منځ کی د ګل بی بی ژړا

پیژندل، د هغې ژړا بل ډول وه یو ډول خاص درد یې درلود داسی ژړل  چی د هغې د غږ په اوریدو د انسان زړه درد کاوه او بی اختیاره اوښکې راتلل دننه حویلې کې د جهان ورونه او شناخته خپلوان سرېیان ولاړ وه، د هغوی منځ کې د جهان پسی په کتو شوم، خو ومې نه لیدو لومړۍ کس چې د جهان کورنۍ کې زموږ راتګ ته فکر شو هغه جهانګیر و زموږ خوا ته راغلو سترګې تکې سری وه شونډان یې داسی وچ وه لکه کلونه، کلونه چې خبری نه وی کړی په زحمت باندی د بابا سره یو سلام علیک وکړو او موږ ته یی اشاره وکړل تر څو کور ته ننوځو او بابا یې لځان سره د میلمه خانې خواته ویوړو.

هر څومره چې د دهلیز خواته نږدی کیدلم هغومره د پښو څخه مې ساه ختل رښتیا که ووایم پښیمانه وم، پښیمانه وم له دی چی راغلې وم، کاش د جهان خبره مې منلې وایې ما د دی حالت د لیدو توان نه درلود، ما د ماشومتوب څخه د وینو او د مړی څخه وحشت درلود، هغه هم داسی نږدی مړی، داسی کس چې مالیدلې و او پیژندی مې، ادی چې زما حال ولید نو مجبوره شوه د اوږی څخه می تقریبا کش کړی ترڅو دهلیز ته ننوځم، دهلیز ته په ننوتلو لومړۍ نظر مې په ګل بی بی ولګید چې تقریبا د بی هوښې حالت کې د روقیه غیږه کې وه او روقیه داسی حال کې چی خپله په زار،زار ژړل د هغې په مخ یې اوبه شیندل، ښځې بیحد زیات راغلې وه دهلیز ورڅخه ډک و خو زما نظر یوازی په ګل بی بی و.

نه پوهیږم ولې خو بیحد مې زړه ورباندې سوځیده، ما د هغې حالت یو دم درک کولې شو د دې فکر پر کولو لا چې یوه ورځ دی په مدثر،مزمل یا جونید کوم څه وشې زما زاره چودل خو دیته یې د اختر په ورځ د ځوان زوی مړی راوړی و، کله چې څنګ ته یې ورغلم نو تازه د روقیه،زرلښتی او ګل بې بې راپام شو زما په لیدو ګل بی بی لاسونه زما غاړی ته واچول او یو ځل بیا لکه چې داغ یې تازه شوی له سر په چغو،چغو په ژړا شوه د هغې په داسی زړه سوی فریادونو دهلیز کې د موجود ټول ښځو ژړا هم پورته شوه، ګل بی بی داسی حال کې چی خپل ځان زما غیږ کې اچولې و په ژړا،ژړا یې راته ویل: بدبخته سوم خوری.

ګل بی بی یوازی همدا لفظ تکرار کاوه "بدبخت شوم"بدخت شوم" غوښتل مې ورته دلداری ورکړم غوښتل مې ورته ووایم صبر وکړه او ناشکری مکوه،غوښتل مې ورته ووایم د خدای کارونه دی او مونږ باید د هغه په فیصلو راضي اوسیږو خو کله چې ګل بی بی په ژړا،ژړا کې د بشیر د مرګ کیسه وکړل نو روح مې له بدن والوته

ګل بي بي همغه د ژړا حال کې وویل: د اختر د مونځ څخه چې راغې ما ته ولاړ و ویل یې ادی ... یو جوړه پخواني کالۍ راکه... ویل یې ځم د جهانګیر او جمشید کاکا سره غواې حلال کوم... جوړ تیار و(ګل بی بی لکه لیونیانو پشان ژړا شروع کړل او همغه حال کې خبری کول داسې لکه چې هغه صحنه او خبری تر اوسه د دې د سترګو وړاندی وه!) زه دې ړنده سم ما یو وار ولا نکتل ورته او ومې ویل ورځه شزه مې درته کړی د هغې څخه کالۍ وغواړه.(ګل بي بي خپل د هر خبری وروسته په ساندو،ساندو ژړل داسې ژړا چې د ډېری زړه یې لا په درد راوستو) کاشکې زه د هغه لځایه مړه وایې کاش نن زما د مرګ خبر راغلې وایې...

مور دې ړنده سې چې یو وار مې درته و لا نکتل(ګل بی بی خپل مخ ته څپیړی ورکول شروع کړل چې ما په ژړا ورڅخه لاس ونیو خو هغې همغه حال کې په ژړا،ژړا ویل: و مې نه لیدی هوسی، خپل د زوی مخ مې د اخر وار لپاره لا ونه لیدې ولاړې او د هغه خوا څخه یې سوځیدلې هډوکې راوړل ...

ګل بي بي چې دا خبره وکړل دهلیز کې د موجود ټول کسانو ژړا یو ځل بیا پورته شوه، او زه هک حیرانه وم، هېڅ پوهه نشوم چې د ګل بي بي د دی خبری څه مطلب و چې ویې یل" سوځیدلې هډوکې راته راوړل؟" خو کراړ، کرار د ګل بي بي د خبرو او ژړا منځ کې په کیسې مې سر خلاص شو بشیر سوځیدلې وو! هغه د قرباني د غوښې ویشلو لپاره له کور وتلې و خو موټر یې نه پوهیږم چیرته ټکر کړی و او موټر اور اخیستې و بشیر هم موټر کې دننه سوځیدلې و او مړ شوی! د دی خبرو پر پوهیدلو وضعیت مې لاپسې خراب شو مرګ، مرګ وی خو داسې مرګ! د پخوا خلکو

ویل د خدای هر مصیبت سخت دی خو د ټولو څخه سخت مرګ نه دی بلکې ورک کیدل دی!

یعنې که یو څوک مړ شې شاید یوه دوه میاشتې ورپسې وژاړی بیا کرار، کرار هغه کس لیاده ځې خو که یو څوک درڅخه ورک شې د عمر تر اخره انسان هغه نشې هیر کولې او زما په نظر د ګل بی بی څخه بشیر ورک شوی وو! یعنې دې د اخر ځل لپاره هغه ونه لیدو د هغه جسد یې ونه لیدو چې زړه یې صبر شې، بلکې دوه هډوکې ورته راوړل او ویل دا ستا زوی دی او تمام!

د بشیر جنازه یې هغه ورځ خاوری نکړل، شپې ته یې پاتې کړل د بشیر د جسم څخه یوازی څو هډوکې پاتې وه چې هغه یې په تابوت کې کیخودلې وه او تابوت هم میلمه خانه کې وو! زما په نظر حتا غسل یې لا ورنکړو! یعنې څه پاتې نه وه چې وغواړی غسل ورکړی همغسې کفن کړې و او تابوت کې اچولې و، ټوله شپه د کور یو غړی سترګه پټه نکړل د سهار د مولا اذان وخت کې سرېیان په تګ راتګ شول لکه چې غوښتل یې د بشیر جنازه ویسې، کله چې د جنازی د وړلو خبر راغې ګل بې بې لیونې شوه داسې چغې وهل داسې ژړل یې چې ما جمشید ته چې حویلې کې ولاړ و وویل چې اجازه ورکړی ګل بی بی د اخر ځل لپاره د بشیر جنازه وګوری خو جمشید داسې حال کې چې غږ یې د ژړا څخه لړزیده ویې ویل: ورینداری شې نسته چې ویګورې او زړه یې صبر سی، که ویګوری نو د صبر د ځایه به نور هم لیونۍ سې.

خو ګل بی بی دومره وژړل دومره وژړل تر دی چې ارباب وویل تابوت د دی څخه مخکې چې له کور وباسې یوځل دهلیز کې د ګل بی بی خوا ته ویسې تر څو د اخر ځل لپاره خپل زوی وګوری، جهانګیر، جمشید، او د ګلنازې خاوند او یو بل هلک چې ما نه پیژندو د بشیر جنازه دهلیز ته رانونیستل د تابوت په لیدو زما لاس او پښې په رپیدو شول هغوی جنازه د ګل بې بې ومخ ته کیخود ګل بې بې لکه لیونیانو پشان په تابوت ځان واچوه او غوښتل یې تابوت خلاص کړې خو جمشید یې لاس ونیو او په ژړا یې ورته وویل: مه خلاصه وه تابوت ورینداری.

خو ګل بې چغې وهل او ویل یې چې زه غواړم خپل د زوی مخ وګورم، خو جمشید، او جهانګیر اجازه نه ورکول چې همدی وخت کې تازه مې د جهان په مور نظر ولګیده، د پرون څخه چې راغلې وم هغه مې لیدلې نه وه او دومره ماحول غمژن او خراب و چې زما فکر هم نه شو چې پوښتنه وکړم چې چیرته ده؟ د هغې حالت د ګل بی بی څخه ډیر خراب و په ژړا، ژړا د تابوت خوا ته راغلل او بغیر له دې چی د جمشید یا هم جهانګیر خبرو ته کوم توجه وکړی د تابوت خوله یې خلاص کړه زه د ګل بی بی څنګ ته ولاړه وم او د تابوت مینځ راته کامل واضح ښکاریده کله چې نظر مې په تابوت کې موجود جسم باندی ولګیده نو معده او کولمې مې تر خولې راغله په تلوار د تشناب خواته په ځغاستو شوم اوقی وهل مې شروع کړل البته معده کې می څه نه وه چې وغواړم قې کړم.

هسیې یق یق مې کاوه،تابوت کې دوه هډوکی او دوه ټوټې غوښه چې د سوخیدلو بوی تر اوسه زما د پوزی لاندی و کیخودل شوی وه نور هیڅ داسی نښه او علامه نه وه چې وښایي دا د بشیر جسم دی،باور مي نه راتلو هغه ځوان هلک اوس داسی دوه هډوکی ګرځیدلی وو. زه لا تشناب کی وم چی د سرپیانو شور ماشور شو او پوهه شوم چی غواړی جنازی ویسې نو په تلوار له تشناب راووتم، ګل بی بی تابوت کلک نیولی و او په چغو او ژړا یی اجازه نه ورکول چې هغه ویسی اخر کی جهانګیر په غوسه روقیه او ګلناز ته وویل چې ګل بی بی ونیسې هغوی هم په ژړا ګل بی بی د اوږو څخه ونیول او سرپیانو تابوت پورته کړو او له کوره ووتل.

ګل بی بی د حویلۍ تر دروازی لوڅی پښی بغیر له ټکری د هغوی پسې وځغاستل او چغی کړل خو سرپیان بغیر له دی چی ودریږی په تلوار ولاړل، د هغوي په تلو موږ په ژړا ولاړو او ګل بی بی مو له اوږو ونیول او کور ته مو راوستل خو لا کینولې مو نه وه چې ګل بې بې لکه مار پشان خپل پر ځان د درد څخه په تاویدو شوه او څو دقې لا نه وه تیر شوی چې خپل د نس ماشوم یې سقط کړو( ضایع)

تر غرمې تر څو چې سرېان د جنازې څخه راتلل ګل بې بې د درد څخه پر ځان تاویدل، د هغې د حال په لیدو مې ژړا نه کنټرول کیدل له یوخوا ځوان زوی مړ شو له بلخوا د نس ماشوم یې هم په همغه ورځ نقصان شو وېرېدم چې پر دې کوم څه ونشي د جهان ټول کور د ګل بې بې په سر ولاړ و، د جهان مور د ډېر پخوا څخه خپل مشری ورکړې وه دیته کور کې که هر کار کیدو نو لومړۍ کس ګل بې بې وه چې باید ورڅخه مشوره اخیستل شوی وایې، خو نن چې هغه پر دی حال وه د کور ټول ماحول ګډوډ و.

د غرمې څخه یو څه مخکې سرېان راغلل او میلمه خانه ډکه شوه، ما فکر کاوه دې راغلو کسانو ته باید موږ په دی بد حال کې پاسیږو او دیګ پوخ کړو خو په نهایت حیرت کړی د کلې خلکو او د جهان خپلوانو هر چا یو دیګ وریژی او غوښه پخ کړې راوړل! کله چې د ادی څخه مې د دې کار پوښتنه وکړل نو هغې راته وویل موږ پښتانه رواج لرو کوم کور کې چې مړی وشی نو د هغه کور په خلکو تر درې ورځو دیګ پوخ نکړو او همسایه و خپلوان ورته ډوډۍ راوړی! د ادی په دی خبره د لومړۍځل لپاره ما ته د پښتنو یو رواج ښه او انسانې معلوم شو، کنه تر کومه چې ما لیدلې او اوریدلې د پښتنو زیاتر رواجونه خانه خراب کن دې.

د ډوډۍ ورکولو وروسته جونید مې راپیدا کړو او د جهان پسې مې واستوه خو جونید نامید راغلو او ویل یې بابا میلمه خانه کې نشته! د جونید په دی خبره ورخطا شوم دا دوه ورځې کیدل چې نه و مې لیدلې حتا د جنازی ورلو وخت کې هم نه وه، نه پوهیدم د چا څخه د هغه پوښتنه وکړم بله چاره نه وه جونید مې داځل واستو تر څو د جمشید څخه د جهان خبر واخلې او ښه و دا ځل چې راغلو نو ویې ویل: جمشید کاکا ویل بابا د بشیر د قبر سره و شاید یو ګړې بعد راسې.

په دی خبره سترګي مې له اوښکو ډکې شوی، جهان څومره چې په ظاهر خشن او بې احساسه معلومیده خو په باطن کې زما په نظر د ارباب د ټولو اولادونو څخه مهربانه او نرم زړه و، نیم ساعت په ورخطای اخوا دیخوا شوم تر دې چې جونید

راغلو او خبر يې راکړو چې جهان راغلې، په تلوار له دهليز ووتم جونيد راته وويل بابا د حويلې اخر سر کې د غوايانو د غوجلې سره په تمه دی.

په تلوار هغه خوا ته لاړم ميلمه خانه د سړيانو څخه ډکه وه پوهيدم چې جهان په همدی خاطر اخوا تللې تر څو څوک ونه اوسيږی، هلته په تلو جهان مې وليده ما ته يې شا وه کرار يې قدم واهه،لاسونه يې شاته سره تړلې وه او تسبيح هم لاس کې وه همغه تور کالې پڅان وه، لکه چې زما د پښو غږ يې واوريده ځکه مخ يې زما خواته راوړو د هغه په ليدو هک حيرانه شوم سترګي تکې سری وه! د مخ رنګ يې پريدلې و او کالې لړ پر خاور ککړ وه د جهان د هغه حال په ليدو سترګې مې له اوښکو ډکې شوی جهان هيڅکله خپل درد نه ويلو هغه تل خپل درد زړه کې ساتو او د هيچا سره يې د هغه په اړه خبری نکول، ما ټول وليدل چې د بشير په جنازه يې وژړل هغه که ارباب و د جهان مشر ورور و که جهانګير و او جمشيد خو بيخې د کراريدو نه و خو جهان يوه اوښکه تويه نکړل.

يوازی و دريډ او د بشير سوځيدلې جسد ته يې وکتل خو ما د هغه درد احساس کولې شو ما د هغه د دې آرامې څهری تر شا هغه غمژن څهره ليدلې شوه جهان که هرڅومره خپل درد پټ کړی وايې خو ما د هغه له سترګو څخه د هغه درد ويلې شول غوښتل مې غيږ کې ونيسم او ورته دلداری ورکړم خو د دې ټولو فکرونو سره يوازی يو لفظ مې ورته له خولې ووت: ښه يې؟
زما په دی خبره جهان خپل سر وخوځاوه او په بيحد نيولې غږ يې کرار وويل: د خدای شکر دې، خپله شه يې؟

- هوم
جهان- کوچنيان شه دی؟ چيری دی؟
- هو شه دي د ادی سره دي.
نه پوهيدم چې څه ووايم د جهان حالت داسې و چې هم مې زړه غوښتل ورسره کينم او خبری وکړم او هم مې د هغه د خبرو څخه داسې احساس کاوه چې حوصله

نلرې او يوازې په تمه دی چې زه څېل کار ووايم او لاړه شم تر څو هغه يوازې اوسيږي، زړه نا زړه وم نه پوهيدم څه وکړم خو کله چې د ګل بې بې حالت مې ياد ته راغلو نو څېل فکرونه مې پريخودل د ګل بې بې حالت ښه نه و هغې ماشوم نقصان کړې و او درد يې درلود او ما فکر کاوه چې شايد د ماشوم کوم ټوټه يې په نس کې پاتې وی او خدای نکرده مريضه نشې دا خبره مې کوم چا ته نشو کولې د جهان مشر ورور خو خپل د زوی د مرګ په غم کې و، جمشيد او جهانګير ته مې هم نشو ويلې يوازينې کس جهان و، جهان چې زما خاموشې وليده کرار يې وويل: چشې سوی؟

د هغه په دی خبره زړه نازړه توب مې پريخود او ورته ومې ويل چې  ګل بی بی ماشوم نقصان کړې او درد لرې او بهتره ده ډاکتر ته يې ويسو، زما په دی خبره جهان د زړه له تل يو اه وکښل او داسې حال کې چې خپل تسبيح جيب ته اچول ويې ويل: ورځه ورينداره ځان سره راوړه زه هم موټر راباسم.

جهان په غټ ګامونو د حويلې هغه بلخوا ته راون شو او زه په تلوار کور ته لاړم، ګل بې بې ته چې هر څومره مې ويل راځه ډاکټر ته لاړشو هغې نه منل او همغسې د کوټې کونج کې غونج پرته وه او له درد تپيدل کله چې ومې ليدل يوازې ځان هغه نشم راضې کول نو د جهان د مور پسی ورغلم د هغې حالت هم چندان ښه نه و دهليز کونج کې څمليدلې وه او خپل ټيکری په سر اچولې و، کرار يې څنګ ته کښيناستم او راويښه مې کړه زما په ليدو ورخطا شوه د هغوی زړونه وېرېدلې وه او فکر يې کاوه هر څوک چې راځې ضرور کوم بد خبر لځان سره راوړی، کرار مې ورته وويل چې ګل بی بی بايد ډاکټر ته ويسو خو هغه نه ځې.

زما په خبره هغه لځايه پاسيده او د ګل بی بی خواته لاړه لومړۍ څنګ ته ناسته وه او کرار خبری ورسره کول خو کله چې د ګل بی بی ژړا پورته شوه نو د جهان مور هغه غيږ کې ونيول او داسې حال کې چې ژړل يې لکه يو مور پشان يې ورته دلداری ورکړل او راضې کړل ترڅو زموږ سره شفاخانې ته لاړه شې. ما په تلوار خپل حجاب

واچو او داسې حال کې چې ماشومان مې د ادی غېږې ته ورکول د ګل بی بی حجاب مې هم راوړو او د جهان مور ته مې هم وویل چې زموږ سره راشې، د هغې حالت ما ته ښه نه معلومیده زما په نظر فشار یې بیخې په صفر و غوښتل مې ډاکټر ورته یو سیروم وکړې.

ډیر ژر تیار شو او داسې حال کې چې د ګل بې بې اوږه مې نیولې وه د حویلې څخه ووتلو جهان په موټر مې موږ ته په تمه و خو کوم موټر کې چې ناست و هغه د جهان خپل موټر نه و، دا موټر څو کاله مخکې ما د ارباب سره لېدلې و جهان دومره ورخطا و چې د کابل څخه خپل موټر کې نه و راغلې او د یو بل چا سره راغلې و البته وروسته پوهه شوم چې بابا ورته اجازه نه وه ورکړې چې خپل موټر کې راشې او زه د بابا د دې فکر سره بیحد موافق وم او هم بیحد ورڅخه منندوی وم چې جهان ته یې اجازه نه وه ورکړې چې خپل موټر وچلوی، د جهان حالت هغه ورځ بیخې ښه نه وه که موټر یې خپل چلولې وایې نو ضرور خدای مکړه کوم تصادف یې کاوه.

ګل بې بې د ډیر درد څخه بی حال شوی وه او کله ناکله یې د شونډې لاندی که څه هم درد یې درلود خو د بشیر نوم یې اخیست ډیر ژر موټر د شفخانې مخکې ودرید او موږ دننه ورغلو مسقیم عاجل بخش ته ولاړو، زموږ په لیدو ډاکټران په ګل بې بې راچاپیر شول او د هغې د دی حال پوښتنه کول یې پیل کړل ما ورته وویل چې د سهار څخه یې چې ماشوم نقصان کړې درد لری زما په خبره ډاکټر داسی حال کې چی ګل بې بې ته یې تلویزیني معاینات لیکو په غوسه یې موږ ته وویل: د سهار څخه چې ماشوم یې نقصان کړې او درد یې درلود نو ولې مو ورباندی دومره وخت تیرو؟ خو همغه ساعت به مو راوستلې وایې ستاسو د همدی جاهلیت له لاسه هر کال دومره زنانه د ماشوم راوړلو په بهانې مره کیږی.

د ډاکټر فلسیوفانه خبری چی خلاصی شوی نو ما ورته وویل چې د هغې مشر زوی پرون مړ شوی و او د هغه د غم او استرس له لاسه یې نن دا بل ماشوم هم نقصان کړو او اوس هم نه راتلل او موږ په زوره راوستل. زما د خبرو وروسته ډاکتر لږ څه

نرم شو او په افسوس يې سر وخوځاوه، ګل بې بې مو د تلويزيوني معايناتو کوټې ته ويوړل او کله چې د چک آپ د ورقو سره راغلو نو دا ځل ډاکتر موږ يو زنانه قابلې ته واستول هغې د معايناتو د کتلو وروسته وويل چې ماشوم کامل غورځيدلې او کوم خاص مشکل نشته او دا درد هم طبعی دی ځينې ښځې د سقط وروسته درد لری، هغې ګل بې بې ته يو تقويتې سيروم وليکو او څو د درد پيچکاری ورګډی کړل ما ورته وويل چې يو آرامبخش پيچکاری دی هم ورته وکړی.

ډاکټری چی زما خبری د هغه بل ډاکتر سره اوريدلې وه نو په افسوس يې سر وخوځاوه او يو آرامبخش يې هم سيروم ته وراضافه کړل ترڅو ګل بې بې د څو ساعتو لپاره هم که کيدل ويده شې. د ګل بې بې وروسته ډاکترې ته مې د جهان مور ورمخکې کړل او ومې ويل چی د دې د فشار هم چک کړه، او زما فکر يو دم صحيح و د جهان د مور فشار بيخې په صفر وو ډاکټری هغې ته هم سيروم وليکو خو د جهان مور نه منل او ويل يې زه ښه يم، خو زه بغير له دې چې د هغې خبرو ته غوږ شم د ډاکترې له کوټې ووتم او جهان ته چې د کوټې مخکې په څوکۍ ناست و پارچه مې ورکړل تر څو هم خپل مور ته سيروم واخلې او هم د ګل بې بې دواګانې راوړې.

جهان په اندېښنې د ګل بې بې د حال پوښتنه وکړل او ما ورته وويل چې کوم خاص خبره نشته او د اوس لپاره ښه ده. زما په خبره جهان د شونډی لاندی کرار شکر دې وويل او د دوا راوړلو پسې لاړو او ډير ژر بيرته راغلو او د دوا پلاستيک يې زما لاس ته راکړو غوښتل مې د ډاکټری کوټې ته ننوځم چې د جهان په غږ ودربدم او مخ مې ورتاو کړو.
جهان- ډاکټری ته خپل د وضعيت په باره کې هم و وايه که ويل يې داسې ماحول درته شه نه دې نو سبا خپل د پلار سره بيرته ولاړه سه کابل ته.

بغير د څه ويلو د جهان سترې ستومانه څهرې ته ځير شوم، دا چې په دې خراب وخت کې هم زما خوا ته فکر و نرۍ مسکا مې پر شونډو راغله او کرار مې وويل: زما په اړه فکر مکوه زه ښه يم.

جهان ځو شيبې په ځير راوکتل او بيا داسې حال کې چې سر يې د سمده پشان خوځاوه بغير د څه ويلو شاته لاړ او په څوکۍ کښيناست زه هم د ډاکټر کوټې ته ننوتلم، د جهان مور ته يې کنول وکړو خو ما ورته ويل چې اوس سيروم مکوه کور کې مې غوښتل ورته سيروم وکړم،ځکه چې د هغې سيروم کې هم ډاکټرې ارامبخش اچولې و او که اوس يې کړې وايې نو دا هم پر خوب وليدل ګل بې بې خو هسې هم ويده وه البته بايد ووايم چې بې هوښه وه، که څه هم جهان راته ووېل ډاکټرې ته خپل د وضعيت په اړه ووايه خو ما داسې کار ونکړو اوس وخت زما د نازونو او کارونو وخت نه و، د هغوی کورنۍ په غم او ستونزه کې وه ما بايد د هغوی سره مرسته کړې وايې.

د جهان مور ته د کنول کولو وروسته ګل بې بې مو له اوړو ونيول او د شفخانې څخه ووتلو، ډېر ژر په موټر کې کښيناستو او د کور پخوا روان شو هلته په رسيدو ګل بې بې مو دهغې کوټه کې څملول او د هغه وروسته د جهان د مور پسې لاړم تر څو ورته سيروم جوړ کړم هغه دهليز کې څمليدلې وه او ما چې هرڅومره ورته ووېل خپل کوټې ته لاړه شي يا هم کوم بل ارام ځای ته تر څو د ماشومانو شورماشور نه وی خو هغې ونه منل مجبور هملته دهليز کې مې ورته ځای برابر کړو او سيروم مې ورته وواهه.

کرار، کرار د هغې سترګې درنې شوی او ويده شوه، پوهيدم چې دا موقتې خوب او آرمتيا د دوي درد نه کموي خو بيا هم دومره انرژی ورکوی چې راروان ورځو کې خپل پر پښو ودرېږي، د جهان د مور د ويده کيدلو څخه چې ډاډمنه شوم نو غوښتل مې د ادی خوا ته چې زما کوټه کې وه او ماشومان يې ويده کول لاړه شم چې تازه د دوه ورځو وروسته د لومړۍ ځل لپاره مې په فاطمې نظر ولګيده.

د هغې په ليدو مې بې اختياره سترګو کې اوښکې راجمع شوی، زما په نظر په دې ټول کور کې د فاطمې غم د ټولو څخه سخت و! منم چې د ګل بې بې زوی و په مرګ يې ودردېده خو هغې نور زامن هم درلود شايد د بشير ځای ورته نه وايې پوره کړې

او ټول عمر د هغه په مرګ يې ژړلې وايې خو بيا هم د هغې کور او ځای معلوم و خو فاطمه! هغه په زوره د اتلس نوولس کالو د عمر کيدل په دی وره عمر کې واده کړل بيا د واده دوه مياشتې پوره شوی نه وه چې خاوند يې مړ شو او دا د يوه مياشت ماشوم په نس کونډه پاتې شوه هغه هم په داسې ماحول د کلې کې، د کلې خلک د خدای پسې لا خبری کوی څه ورسيږی دی بيچارګې ته.

رنګ يې داسې تک ژيړ و چې د مړې سره يې کوم فرق نه درلود په سست او بيحال قدمونو خپل له کوټې راووته هيچا ته يې نه کتل همغسې روانه وه ما غوښتل ورشم او مرسته ورسره وکړم فکر مې کاوه دم په دم به بې هوښه شې دومره په بد حال وه،خو زما د تلو مخکې د جمشيد ښځې په منډه ځان ورورسه او داسی حال کې چې له اوږی څخه يې نيول ورڅخه پوښتنه يې وکړل چې څه غواړی؟ او د څه لپاره خپل له کوټې راوتې؟ هغې هم په کراره په داسې غږ چې په زحمت ما اوريده ويې ويل: غواړم تشنباب ته لاړه شم.

د هغې په دی خبره زه وډار شوم، ګل بې بې هم د دې څخه مخکې چې خپل ماشوم نقصان کړې ويې ويل غواړم تشناب ته لاړه شم! ګل بې بې د فاطمې څخه ډيره ماشالله صحتمنده او روغه وه خو بيا هم و يې نشو کړی خپل ماشوم وساتی نو دا خام انجلې به څنګه وکولې شې په دومره مصيبت کې خپل ماشوم وساتې؟ په تلوار پاسيدم او د هغوي خواته لاړم خپل ځانته مې بد رد ويل ما څنګه فاطمه لياده وتې وه؟ کاش نن مو هغه هم ډاکټر ته وړی واې د هغې حالت هيڅ ښه نه و همدا چې څنګ ته ورسيدم او غوښتل مې ورڅخه د حال پوښتنه يې وکړم د جهان د مشر کاکا ښځې غږ مې واوريده.

د کاکا ښځه- چيرې روانه يې؟
د هغې په غږ بې اختياره مې مغزی کوړ شو او د هغې خواته مې وکتل فکر مې کاوه چې ماته وايې خو کله چې د فاطمې ډاريدلې غږ مې واوريده پوهه شوم چې د هغې سره ده.

فاطمه- غ... غوارم... تشنباب ته ... ولاړسم..
د هغې په دې خبره د جهان د کاکا ښځه رامخکې شوه او داسې حال کې چې د جمشید د ښځې لاس یې د فاطمي له اوږې څخه لرې کاوه او خپل یې هغه نیول په کراره خو عین حال کې کلک غږ ووېل: ما ته به دې ویلې وایې په دی حالت کې یوازې مه ځه چیرې هلته به راولیدې یې بیا راسه دا جوړ که.

د جهان د کاکا ښځې دا خبره وکړل او بیا بغیر له دې چې زموږ خواته کوم توجه وکړي فاطمه لځان سره ویوړه، زه څو شیبې خپل ځای کې حیران دریانه ولاړه وم خو بلاخره خپل د کوټې پخوا روانه شوم، که څه هم زړه مې غوښت د فاطمي سره مرسته وکړم خو زما په نظر زما لرې اوسیدل د مرستې لځایه بهتره ده! ځکه د جهان د کاکا ښځې بیحد بد ړول ما ته کتل! خپل کوټې ته لاړم ماشومان او ادی درې واړه مې د خوب حال کې ولیدل زه هم د هغوی څنګ ته لاړم او څملیدم، همدا چې بدن مې پر نالې ولګیده تازه پوهه شوم څومره ستړې یم، زموږ خلک یو متل کوی وایې فلانکې په مرګ ونیسه په تبې راضې کیږي.

اوس هم پر ما هغه چل شوی و زه تر پرون د مدثر او مزمل د بد اخلاقې او خپل د حمل څخه په ژړا او فریاد وم خو کله چې اصلې مصیبت مې ولیده نو خپل په هغه حال مې زر ځله شکر وباسو او هغه حالت راته لوی غنیمت معلوم شو، د رښتیا چې هم ښه خبره یې کړې: په مرګ یې ونیسه په تبې راضې کیږي.

***

ادی او بابا د بشیر د مرګ په دریم ورځ د کابل خواته لاړل او ما چې هرڅومره ورته ووېل یو څه وخت پاتې شي خو هغوی ونه منل او ادی د دې خبری پر کولو چې د مړې کور کې څوک میاشت نه تیره وی او بده ده، زه قانع کړم ترڅو نور د هغوي پر پاتې کیدلو ټینګار ونکړم. جهان غوښتل زه هم د ادی او بابا سره لاړه شم خو ما د تګ څخه انکار وکړو زما په نظر زما شتون دلته زیات ضروری و، ځکه چې د ارباب د کور

نظم ناساپه یو ځل خراب شوی و او یو نفر نه پیدا کیدو چې پاسیږي د سهار یا غرمې دیګ وکړي مجبور زه پاسیدلې وایې او یو کار مې کړي وایې، ټول په غم او خفګان کې وه او هیچا د کار کولو حوصله نه درلود.

خو ژوند همدا دې که خفه اوسیږي که خوشحاله مجبوره یې ژوند وکړي، مجبوره یې خپل دردونه په زړه کې پټ کړې او خپل ژوند ته دوام ورکړې، ځکه یوه ورځ به شاید یو کس ستا په غم ستا سره وژاړي که ډیر شو دوه یا هم درې ورځې خو څلورمه ورځ د ټولو لیاده وځې چې ته په څه خاطر خفه یې؟ او دا هغه وخت دې چې ته هم مجبوره کیږي چې خپل غم زړه کې پټ کړې او د هغوي پشان داسې رفتار وکړې او داسې وښایې لکه چې هیڅ غم نلرې، همدیته وایې ژوند کنه؟! زما د اتم ټولګي د عربي معلمې یوه خبره موږ ته وکړل چې تر اوسه زما ذهن کیده.

هسې خو عربې کې بیحد ټنبله وم خو دا خبره مې تر اوسه یاد ده هغې ویل: د انسان لفظ د عربي د "نسیان" د لفظ څخه اخیستل شوی او د هغه معنا ده هیرونکي! شاید په نظر عجیب راشې خو موږ انسانان خپل د نوم پشان همداسی یو موږ هیرونکې یو موږ خوشحالې، غم، درد، او هر احساس چې وی هیر کو شاید وخت ونیسې خو بلاخره هیر کو او زما په نظر دا یوازینې دلیل دی چې موږ ژوندی پاتې یو کنه د هر ګران کس د مرګ سره شاید موږ هم مړ شوی وایې خو دا چې هیرونکي یو نو غم او خفګان کرار، کرار هیر کو شاید ځینی کسان ژر هیر کړي او ځینی کسان یو څه وخت ونیسې خو بلاخره هیر کو د بشیر د مرګ غم هم همداسی و

ځینو په لومړې میاشت کې لیاده ووت او ځینو بیا دوه، درې یا هم څلورم میاشت کې لیاده ووت خو کرار کرار د کور خلک بیرته خپل عادی حالت ته په راګرځیدو شوه ګل بې بې بیرته تنور ته وردیدل د ډوډۍ پخولو لپاره د جمشید ښځې بیا خپل کارونو ته شروع ورکړل که څه هم ماشوم یې درلود خو خپل کار یې پر وخت کاوه د جهانګیر دوه ښځو خو د اول هم دومره غم نه ونیولې مطلب څومره چې ګل بې بې

یا هم ما وژړل هغغومره دوي ونه ژړل او همغه اول میاشت کې خپل عادی او نرمال ژوند ته راوګرځیدل خو دې منځ کې د جهان کارونه عجیب وه!

جهان هره ورځ د بشیر قبر ته تلو! د جهان مشر ورور لا دومره خپل د زوی قبر ته نه تلو څومره چې جهان ورتلو البته قبر ته ورتګ باندې زه دومره نه وم حیرانه، حیرانه د جهان دشپې لخوا ویښ کښیناستلو ته وم، هغه ټول شپه ویښ و او زیاتر اوقات هم د شپې لخوا د کور حویلۍ کې ګرځیده بهتره به وې که و وایم پیره یې کول! نه پوهیدم چې جهان ولې داسې کوی خو د هغه رفتار او خبرو کې یو ډول شک او تردید ما ته ښکاریده، او زه نه پوهیدم چې دا تردید او اندیښنه د څه په اړه ده؟ یا هم د چا په اړه ده؟

***

د دې څلور میاشتو د عادت مطابق حویلې کې لګیا وم او کرار، کرار مې جارو واهه که څه هم د جهان کور کې چا کار ته نه مجبوره کولم او زما د حال مراعات یې کاوه خو خپله مې غوښتل لږ کار وکړم که د سهار لخوا یو څه کار مې کړی وایې بیا ماښام د ستړیا څخه ژر خوب ورلم کنه ټول شپه مجبوره وم ویښه کینم او د جهان هغه مشکوک حالت ته وګورم او لیونې شم. جهان بیخې دا څو وختو کې تغیر کړې و نه سم خبری کول، نه یې سم خوب درلود، نه یې سم ډوډۍ خوړل او خلاصه چې د بشیر مرګ د تولو څخه زیات اثر په جهان کړې و همدی فکرونو کې وم او کرار، کرار مې حویلې جارو کول او همغه حال کې ماشومانو ته مې هم پام و چې د انګور د طاق لاندی په هوار کړی فرش د ارباب، جهان او د جهان د ورونو شاوخوا ګرځیدل.

ارباب لګیا و یو څه یې جهان ته ویل او جهان په تروش تندی لاندی فرش ته نظر نیولې و او د عادت مطابق کله چې په زیات فکر کې به و نو د فرش له سره به یې میده، میده شیان راټولول او پر هغه به یې خپل فکر مشغول کاوه په ظاهره لګیا وم حویلې مې جارو کول خو ټول فکر مې د هغوی د خبرو خوا ته و که څه هم ډېر شې

مې نه اوریدو خو لږ لږ د هغوی د خبرو څخه پوهیدم چې د خبرو موضوع یې "فاطمه ده " او که رښتیا ووایم نو ډارېدم ما ته د دوي رسم او رواجونه معلوم وه د یو سړی د مرګ وروسته د هغه ښځه د هغه سړی ورور ته پاتې کیدل او د هغه سړی ورور په نکاح کول، خو بشیر داسې ځوان ورور نه درلود چې وغواړی د ده ښځه ورته په نکاح کړی.

نو ښځه یې پاتې کیدل کاکاګانو ته چې جمشید خو نکاح ورسره نشو کولې ځکه د هغه خور یې په نکاح وه او دوه خویندی خو یو وخت کې یو کس په نکاح کې نشې اخیستې د جهان مشر ورور خو هم ورسره نکاح نشو ترلې ځکه که څه هم زوی مړ و خو بیا هم اینګور یې په حساب راتلل او نکاح یې نشو ورسره ترلې،پاتې کیدل جهانګیر او جهان! جهانګیر خو دوه ښځې او زر دانې ماشومان درلود نو امکان یې ډېر کم و چې وغواړې د فاطمي سره دې هم نکاح وتړې، په دې منځ کې د ټولو نظر د جهان خوا ته و، او زه په همدی خبره ډارېدلم که رښتیا ووایم نو د ادی او بابا سره هم په همدی خاطر کابل ته د تلو څخه مې انکار وکړو، زړه مې بده ګواهې ورکول بلخصوص دا څو وخته چې د فاطمي د څلور میاشتو او لس ورځو عددت هم پوره شوی و.

او ګلناز هره ورځ زموږ کور ته تلل راتلل د ګلناز راتګ ما تل په بد فالې نیولې و، هغه هیڅکله د خیر د خبری لپاره زموږ کور ته نه راتلل نن هم ګلناز سهار وخت راغله او غرمې خو اته په تروش تندی لاړل د هغې د تګ دوه ساعت وروسته ارباب، جهان او د کور نور سړیان د انګور د طاق لاندی را وغونډل او دا دوه ساعت کیدل چې ناست وه او خبرې کول، او ما د هغوی د خبرو منځ کی د فاطمې نوم څو ځله واوریده زړه مې بده ګواهې ورکول بلخصوص د جهان غوسه ناک او پریشانې څهرې زما زړه نور هم په تشویش کاوه.

څو شیبې مې هملته ځان په جارو کولو مصروف کړو تر څو د هغوي خبرې وآورم خو نور نو بیخې رسواې وه ځکه چې یوه حویلې مې درې ځله جارو کړل، د مجبورې

ځخه جارو مې پریخود او غوښتل مې د کور خوا ته لاړه شم چې د جهان لوړ غږ ځای پر ځای ودرولم.

جهان- زه ورسره نکاح ترم.

ناساپه ټول کور او حویلې کې خاموشي خپره شوه، زما مخ د کور خوا ته و او ومې لیدل چې د کور ښځو سرونه راوباسل او د انګور د طاق خوا ته د جهان د غږ پسې په کتو شول، او زه... زه فکر کوم چې ساه مې په سینه کې قید شوی وه په ناباوره حالت مخ ګرځوم او جهان وینم چې خپل لځایه پاسیدلې او د زیات غوسې له لاسه ژور نفسونه اخلي.
ارباب- پوهیږی څه وایې جهان؟

زما نظر حیرانه او سرګردانه د دوي په منځ کې په رفت او آمد دې د جهان مشر ورور خپل لځایه پاسېږی او د جهان اوږه نیسي او په کلک لهجه ورته وایې: فاطمه میره ته ضرورت نلرې چې ته ورته سینه ټکوې، د کوچنې تر پیدا کیدو دې دلې(همدلته) وې د هغه نه بعد کاکا پوهیږی او لور یې.

جهان د ډیر غوسې څخه خپل ویښتیان په چنګ کې نیسې او په غوسه باندې وایې: د هغه نه بعد کاکا پوهیږی او لور یې؟ د بشیر د مرګ څلور میاشتې لا پوره سوی نه دې، د هغه د قبر خاوره تر اوسه وچ سوی نه ده د هغه داغ(جهان خپل زړه په لاس وواهه او تقریبا په چیغه یې وویل: د هغه داغ تر اوسه تازه دې لالا! او ته وایې پریږده شزه یې پلار هر چا ته ورکوی ور یې کې؟!

ستوی(ستاسو) غیرت چیری دی؟ څنګه مو پر خوله راځې چې خپل ناموس ورکې بل چا ته ها؟ هغه هم دسې حال کې چې ستا(جهان په کلک خپل لاس څو ځله خپل د مشر ورور په ځیګر و واهه او ویې ویل: ستا د زوی کوچنې په نس کېدی، زه به بیغرت او بې ناموس یم که پریږدم څوک دې د بشیر شزې او کوچنې ته په چپ نظر وګوری.

نظر مې د جهان غوسه ناک څهرې کیدې، نظر مې د هغه په لاسو کېدی چې د ډېر غوسې او خشم له امله موټ شوی، نظر مې د هغه په سترګو کېدی چې د ډیر قهر له امله تکې سرې شوې، ارباب خېل لځایه پاسیږی او د جهان ومخ ته درېږي د همدې واټن څخه د هغه د سترګو ځلا ګورم خو نه پوهیږم چې دا د خوشحالې ځلا ده او که د غوسې؟

ارباب- هغه ژبه به زه د حلقوم څخه راوباسم څوک چې وغواړې ما یا زما زامنو ته بې ناموس و وایې، زما زړه هم غواړې د بشیر کوچنې دلته په دغه کور کې پیدا او غټ سې او ته ورته پلارتوب وکې د کاکا څخه نو بل پلار چیری دی؟ خو خبره د یو عمر ژوند ده (ارباب نیم نظر زما خوا ته چې د بې روح جسد پشان ولاړه وم واچو د ارباب د نظر په تعقیب جهان هم راوکتل او ارباب کرار وویل: خو د یو ژوند د جوړولو لپاره زه نغواړم بل ژوند خراب کم، موږ د فاطمي څخه یوازی هغه کوچنې غواړو او ستا کاکا دوي هم همدا وایې کوچنې ستوی خو زموږ لور راکې، اوس چې هغوی دعوا نلری او نه وایې چې زموږ لور دې فلانکې یا بیستانکې نکاح کې نو موږ ولې خپل ځان ورته خراب کو؟

خدای خپل لاره برابره کړه چې موږ د دې کورنۍ څخه جلا سو، ما د اول رضا نه وه چې بشیر ته دې فاطمه وکم خو بس د قسمت خبری وه اوس چې کار تر کاره تېر دی بهتره دغه ده چې خبره دلې په پټه پرده حل کو.

د ارباب په خبرو که و وایم روح مې بیرته بدن ته راغلل نو مبالغه به نه وې، ما فکر کو شاید ارباب جهان نور هم وهڅوی تر څو د فاطمي سره نکاح وتړی خو کله چې ارباب او د جهان مشر ورور مې ولیدل چې د دې خبری سره رضا نه دې نو د بیغمې څخه مې هوسا ساه واخیسته خو زما دا بیغمې ډیره موده دوام رانوړل ځکه چې جهان په همغه غوسه ناک لهجه وویل: یعنې خپل ناموس دوه لاس ورکو کاکا ته چې هر چا ته یې غوشتل ورکې؟ دا کوچنې چې بې پلار څو توی( تاسو) غواړې بې موره یې هم کې؟ اصلاً د کاکا کورنۍ چې تر پرون زموږ سره دشمني په دغه خبره کول

چې د هغه لور وکو نن څنګه غواړې د هغه لور يوازې هغوی ته ورکو او بس خبره خلاصه؟!

ارباب- غواړې څه وکې؟
جهان په کلک غږ بغير له دې چې زما پريدلې رنګ او لړزانه وجود ته وګوری په کلک وويل: زه ورسره نکاح ترم.

په سينه کې خپل د زړه د ماتيدو غږ اورم، جهان زما خوا ته راګوې او زه هم هغه ته ګورم، لاس مې خپل څنګ ته د يو تکيه ګاه پيدا کولو په پار ګرځوم غواړم يو شې ونيسم تر څو پر ځمکه و نه غورځيږم، پښو مې زما د وزن د ساتلو توان نه درلود سر مې راباندې دروند شوی و غوښتل مې کښينم د دې څخه مخکې چې راچپه شم.

نرۍ مې د سترګو وړاندې خپل د بدبخت پشان تياره کيږی، او نور نه پوهيږم چې زما شاوخوا څه روان دي او څوک څه وايي؟ خو د دې څخه مخکې چې د حويلې په هغه کلک سمينټ وغورځيږم په يو ګرم ځاې کې بې هوښه کيږم نه پوهيږم چې څومره وخت بې هوښه وم خو د مدثر او مزمل ژړا آورم د جهان د مور،ارباب د ګل بې بې د زرلښتي د جمشيد د ښځې او د ټولو غږونه آورم ځينې افسوس کوې،ځينې ژاړی خو زه حيرانه يم نه پوهيږم چې څه شوی؟

په کراره او بيحد زحمت خپل سترګې خلاصه وم لومړۍ کس چې مې نظر ورباندې لګيږی جهان دې، چې په سرو سترګو او پريشانه څهره زما څنګ ته ناست دې غواړم ورڅخه وپوښتم چې څه شوی؟ خو د جهان د مور ژړا چې زما دې بل څنګ ته ده ټول شيان رايادە وې، د جهان خوا ته ګورم او د هغه خبره مې مغزو کې انګازی کوې" زه ورسره نکاح ترم"زه ورسره نکاح ترم" د دې خبرې په ياد راوړلو اوښکې مې په سترګو کې راجمع کيږي چې د جهان تندی تروش کيږۍ په زحمت خپل ځاې کې کښينم کوټه کې يوازې زه،جهان او د جهان مور ده چې د مدثر او مزمل يې غيږ کې نيولې نه پوهيږم ولې خو د دې لځايه چې جهان ته کوم څه ووايم د جهان مور ته ګيله کوم که څه هم غږ مې د ستونې څخه په زحمت راوځې خو وايم:

- تاسو ... تاسو خپل هم یوه ښځه یاست ..تاسو هم لورګانې لرې څنګه ... څنګه کولې شې زما ژوند داسې خراب کړې؟

زما په خبره د جهان د مور اوښکې رابهیږی خو د جهان تندې لاپسې تروش کیږی او په کلک غږ راباندې غږ کوې: هوسۍ!

نور نازولې نه وم!
بلکې همغه هوسۍ شوی وم چې د قهر او غوسې وخت کې راغږ کول!

زړه مې دومره ورځخه مات شوی و چې نور د مات کیدلو ځای پکې نه و پاتې، اصلاً زما زړه دې پر بلا شې آیا دغه سړی زما جهان دی؟
جهان نږدې راځې مخامخ راته کښینې د هغه غټ مردانه وجود سایه اچوی زما په لړزانه او کمزوی بدن د غوسي او قهر ځخه یې زړه بې واره تپیږی، زما څخه غوسه دې؟ زما څخه غوسه دې چې د ده و مور ته مې داسې خبره وکړل؟! خو خپل خبری یاد کې نه دې!؟

هغه تکې توری سترګې ماته ځیر وه خو د خبرو مخاطب یې خپل مور وه چې ویې ویل: ادې یو ګړې موږ تنها پریږده.

د جهان مور لکه چې همدی خبری ته په تمه وه چې په یو جست لځایه پاسیده او ماشومان یې هم لځان سره ویوړل او دروازه یې بنده کړل، د هغې په تلو په بیحد مظلوم او عاجز غږ جهان ته مې ناری کړل: جهــان!

سترګې مې له اوښکې ډکې وه او جهان ته ځیر وم چې را وګورې او یو خبره وکړې یو شې ووایې تر څو زما دا ناارامه زړه لږ سکون ومومې خو هغه بغیر د څه ویلو په تروش تندی ما ته ځیر و، نه پوهیږم ولې خو د ماشومانو پشان ورته لګیا کیږم او غوارم زما خبری رد کړې او د تل پشان راته دلداریٔ راکړې.

- ما ... ما واوریدل چې تا .... تا ویل غوارې ... غوارې ...

نه مې کولې شو خپل خبره پوره کړم زړه مې درد کاوه او یوازې امید مې جهان ته و چې رد کړې هغه ټول خبرې چې ما اوریدلې وه خو جهان هغه زما لږ شانتې امید هم نامیده کړو او په کلک غږ یې وویل: تا صحیح اوریدلې زه غواړم د فاطمې سره نکاح وتړم.

خلک وایې کنه فلانکې مرګ پر سترګو ولید خو مړ نشو که ووایم ما نن مرګ پخپل سترګو ولید نو دروغ به نه یې، ما مرګ ولید خو بیا هم مړه نشوم، نه پوهیږم اوښکې مې کله د سترګو مرز مات کړو او پر مخ مې راوبهیدل خو جهان مې ولید چې په خفګان او اندیښنې زما اوښکې پاک کړل او زما یخ لاسونه یې خپل په یو لاس کې کلک ونیول او په بیحد مینه ناک لهجه یې راغږ کړل: نازولې!

خو زما وجود کې دومره وس نه و چې ځواب ورکړم ذهن کې مې د هغه یو لفظ ګرځیدو"تا صحیح اوریدلې زه غواړم د فاطمې سره نکاح وتړم."نه پوهیږم څومره وخت هغه حال کې چې وم چې جهان په اندیښنې وغوښتل چې غیږ کې مې ونیسې خو ما اجازه ورنکړل او په یو کمزورې غږ چې په سخت مې له ستونې څخه راوت وویل: نازولې!؟ نازولې دې یم او غواړې راباندې بن راوړې؟

زما په دې خبره جهان خپل سترګې د څو شیبو لپاره بند کړل او بیا داسې حال کې چې زما لاسونه یې لا پسې کلک خپل لاس کې نیول کرار وویل: ته راته زخم مه جوړیږه شایستې.
کوښښ مې وکړو خپل لاسونه د هغه له لاسونو څخه جلا کړم، په ژړا مې وویل: زه زخم جوړ نشم؟ ما ته وایې نازولې! ما ته وایې شایستې، او هغه وخت غواړې خپل د وراره د ښځې سره نکاح وتړې؟ زه زخم یم که ته جهان؟ هاا؟

په غوسه او قهر یې راوکتل، ولې نن پر ما زړه نه سوځیده؟ ولې نن زما اوښکې نه لیدل؟
جهان- بس دې ګرانۍ بس دی.

د جهان په دی خبره غږ مې د نرمال حالت څخه پورته کیږی او په چغو ورته وایم: ما ته وایې ګرانۍ او هغه وخت غوارې د فاطمې سره یارانه جوړه کړې؟!

د جهان هغه بل لاس ناساپه زما د وهلو په پار پورته شو، ما خپل مخ کوږ کړو خو هغه و نه وهلم، بلکې د څپیړې لځایه غوسه ناک غږ پورته شو.
جهان- افسوس.. افسوس چې راته ګرانه یې.

سر مې بیرته د هغه خوا ته څرخیږی د هغه سرو سترګو ته، راوتلې رګونه د تندی ته او ګډوډ ږیری ته چې سپین یې پکې دا څو میاشتو کې زیات شوی وه، غږ مې د ژړا څخه لړزیږی او ورته وایم: درباندې ګرانه یم او غوښتل دې د فاطمې پخاطر مې و وهې؟!

جهان په بې حوصله توګه خپل لاس خپل پر مخ کش کړو او زما لاسونه یې خوشې کړل نیم نظر زما خوا ته راواچوه او کرار یې وویل: ګرانه یې نازولې، د زړه ټوټه او د سترګو تور مې شایستې خو ..

څو شیبې خاموش کیږی زه یې و شونډو ته ځیر یم او دعا کوم چې خپل خبره پوره نکړی خو هغه وایې: خو فاطمه د بشیر امانت ده، د هغې نس کې هغه کوچنې د بشیر اخری نشانې ده، زما څخه مه غواړه چې د بشیر اخری نشانه هم ورکه کړم، زما څخه مه غواړه د دې کور ناموس دوه لاسه ورکړم نور خلکو ته، زما څخه دا مه غواړه قربان دې سم مه غواړه...

نه پوهیږم ولې خو لږ امید مې پیدا کېږی کله چې جهان د فاطمې لځایه د هغې ماشوم ته اشاره کوی، په همغه امید ورته نږدی کیږم او داسې حال کې چې د هغه لاس خپل په لاس کې نیسم په نرمه او کراره لهجه ورته وایم: اصلاً د نن خبرې هیرې کړه دا چې دا اوس ما څه وویل یا تا څه وویل ټول هیرې کړه جهان، زه پوهیږم پر تا باندی بشیر د جونید پشان ګران و او حق درکوم اوس وغواړی د هغه ماشوم ته اندیښمن اوسیږی(جهان بغیر د څه ویلو زما خبرو ته غوږ و شاید غوښتل

پوهه شې چې ما ولې ناساپه د خبرو لړۍ بدله کړه؟ د هغه خاموشې ما ته نور هم جرئت راکړو ورنږدې شوم او د هغه لاس مې لاپسې کلک ونیو او ومې ویل: ته چې لومړۍ ځل راغلې زما غوښتنې ته نو زما ټول فکر ستا لځایه د جونید خوا ته و!

ځان سره مې ویل ایا هغه ته به مورتوبې وکړې شم او کنه؟ ورخطا وم فکر مې کاوه هسې نه د هغه حق کې ظلم او زیاتې وکړم خو وګوره(د جهان سترګو ته چې په بیحد مینه یې راکتل ځیر شوم او ومې ویل: وګوره ما هغه ته مورتوبې وکړل، هیڅکله مې داسی فکر ونکړو چې جونید زما اولاد نه دې، داسې حال کې چې عمر یې ډېر و او ماشوم نه و خو بیا هم ما ورته خپل تر حده مورتوبې وکړل، ته د بشیر اولاد ته ورخطا یې او د هغه لپاره داسې کوی کنه؟ زه یې غټ کوم کله چې پیدا شو ما ته یې راکړه ګوره(د جهان لاس مې خپل په نس کیخود او لکه لیونیانو پشان مې وویل: زه هم ماشوم لرم هغه ماشوم زما د ماشوم څخه یوه میاشت کوچنې دی هر کله چې پیدا شو زه خپل د ماشوم سره ورته شیدی ورکوم فکر کوم خدای بیا ما ته جملې اولادونه راکړې زه درته قسم اخلم جهان خپل د ماشوم پشان مینه ورکوم.

جهان یوه ژوره ساه واخیسته او خپل سر یې د"نه" پشان وخوځاوه او کرار یې وویل: نه کیژی نازولې نه کیژی.
- کیږی جهان، یوازی ته وغواړه ته که اراده وکړې هر کار کیږی، ستا د کاکا کورنۍ ماشوم نغواړې هغه فاطمه غواړی د ماشوم د پیدا کیدلو وروسته ماشوم ما ته راکړه او فاطمـ...
جهان خبری ته پرینخودم او په غوسه یې وویل: زه فاطمه قدم لا نه پریژدم چې د دې کور څخه ولاړسې هغه دلې(همدلته) په دغه کور کې پاته کیژې او خپل کوچنې به غټ کوی.

تر اوسه مې نه و اوریدلې چې یو کس دې یوه ورځ یو ساعت کې دوه ځل مړ شې، خو زه نن د جهان په خبرو بار،بار مړه شوم فاطمه زما څخه ګرانه وه چې جهان ورته داسې سینه ټکول؟! لاس مې بې اختیاره د هغه له لاس څخه جلا کیږی چې جهان دا

ځل ځان رانږدی کوی او داسې حال کې چې زما لاس کلک نیسې وايې: نازولې مکوه، دا رقم مه راګوه ستا دا نظر ما مړ کوې مه راګوره په داسې نامیدی قربان دې سم.

خوله مې خلاصه پاتې وه باور مې نه راتلو جهان ته فاطمه زما څخه ډېره ګرانه وه! جهان ما د اوږو څخه خوځوی او خبری کوی خو زما ټول فکر په همدې خبره کېدی، فاطمه زما څخه ډیره محترمه او ډیره ګرانه ده؟!

جهان ما غیږ کې نیسې د پخوا پشان همغسې په مینه او همغسې کلک خو ما ته دا غیږ د هغه وخت د غیږی پشان نښکارې، جهان ما خپل سینې پوری نور هم جوخت کوې او جان و قربان وايې خو زه د پخوا پشان د هغه په جان او قربان د شرم څخه نه سره کیږم او کوښښ نکوم چې ځان ورڅخه پټه کړم جهان څو ځله په ویښتیانو مې ښکل کوی خپل د ځان څخه مې جلا کوی او زما خوا ته راګوری غواړم ورته یو څه ووایم خو خوله مې بې اختیاره خلاصه او بنده کیږی خو غږ مې لستونې نه وځې جهان په ورخطای له اوږو څخه مې نیسې او وايې: جان .... جان نازولې. چشــ..

خبره یې ورپری کوم او روح مې له تن وځې خو وایم: طلاق راکړه.

نه پوهیږم خبره مې پوره کړې وه او کنه وه؟ خو د جهان لاس مې پر خوله ولګیده او خبره یې خوله کې د وینو سره راته بند کړل، جهان د غوسې څخه په رپیدو و او همغه حال کې خپل ګوته پورته کړل او زما ومخ ته د ګواښ پشان یې وخوځولو او ویې ویل: دا شونډان دې درته ګنډم که وغواړې بل وار دسې غ*ل وخوری ما خپل ځان مړ کې تر څو ته مې د کور روښنایې او د زړه مرحم سې خو ته اوس په دونې اسانې د .... د ..

خبره مې ورپری کړل او په ژړا مې وویل: نغواړم د هغه کور روښنایې او د هغه زړه مرحم شم چیرته چې د دویمې ښځې پښه خلاصه شوی اوسیږی.

جهان په پریشانۍ خپل ویښتیان په موټ کې ونیول پوهیدم چې زما د حال مراعات کوی، پوهیدم چې نغواړې په دی شرایطو او په دی حال کې پر ما لاس پورته کړې د هغه نظر مې خپل زخمې شونډی ته لیدې چې څومره په درد یې ورته کتل لیدې مې چې څپیړه په ظاهره ما وخوړل خو درد یې جهان پخپله تیر کړو.
جهان- دویم ښځه نه ده نازولې، د بشیر ښځه ده د بشیر کوچنې په نس دې پوهیژی قربان دې سم؟

زه بیعقل نه وم خو جهان نغوښتل ومنې چې ښځه، ښځه ده که هغه د بشیر وی او که د هر چا وی خو کله چې نکاح ورسره وتړل شول نو ستا شول.

- دویم ښځه ده جهان کله چې نکاح دې ورسره وتړل نور د بشیر ښځه نه ده ستا ښځه ده او زما بن ده او د اوس څخه(خپل په وینو لړلې شونډې ته مې اشاره وکړل او ومې ویل: معلومه ده چې څومره پر تا ګرانه ده!

جهان څه نه وایې او زه هم نور بحث نکوم نور دومره حوصله او توان نلرم چې وغواړم بحث وکړم، مخ مې ورڅخه ګرځوم او غونج خپل ځاې کې څملم او اوښکې مې بې اختیاره له سترګو څخه پر بالښت تویږی زما په ناکراره کیدو لکه چې زما د نس ماشوم هم ناکراره شوی و ځکه هر دقه اخوا دیخوا کیدو داسې حال کې چې په عادی حالت کې د ورځې یو ځل لا نه اوریدو خو اوس بیخې په کراره نه و لاس مې خپل پر نس کیږدم چې شاید معجزه وشې او کرار شې خو نه لکه چې د هغه حالت هم نن زما پشان خراب وه، دومره د بې کسې او بې پناهې احساس مې کاوه چې خپل د نس د ماشوم سره په خبرو شوم.

- ته ولې داسې ناکراره یې؟ ستا حق نه ضایع کیږی تا ته هر شئ بهتر درسیږی اوس خو باید بیخې خوشحاله اوسیږی د احتمالې خطر څخه هم لری شوی که د پیدا کیدو وخت کې زه.... زه مړه هم شوم نو پلار دی درته د وخت څخه یو بل مور راوړی چې ساتنه دې وکړې،(ژړا مې زیاته شوه او همغه حال کې مې وویل: هغه مور دې په پلار ډېره ګرانه ده نو پعذابه یې نک..

خبره مې نه وه پوره کړې چې د جهان غوسه ناک غږ پورته شو چې راغږ یې کړل:
جهان- هوســـی!

د جهان په قهرجن غږ خاموش کیږم او بیا ژړا ته پیل وکوم د هغه پاسیدل احساس کوم او نور هم خپل ځان کې راټوله کیږم خو جهان بغیر له دې چې زما خوا ته راشې له کوټې وځې او دراوزه کلک بنده وی د هغه په تلو ژړا مې لا پسې ډیره کیږی، نه پوهیږم څومره مې وژړل چې بلاخره ویده شوی وم د مدثر او مزمل په غږونو راویښه شوم کوټه تیاره وه په تلوار مې د هغوی دواړو پسې وکتل او خپل څنګ ته مې ولیدل نه پوهیږم چا راوړې وه؟ او کله یې راوړی وه؟ زما بیخې فکر نه و شوی ورته جهان کوټه کې نه وه د هغه خبرو بیا سترګې راته د اوښکو ډکې کړه مدثر او مزمل مې ځانته نږدی کړو او کرار،کرار مې پر شا وټکول تر څو ویده شې.

د هغوې په کراریدو بیرته یې څنګ ته څملیدم او ژړا مې بیا شروع شوه، نه پوهیږم څومره وخت به په همغه حال کې وم او ژړل مې چې د کوټې دروازه خلاصه شوه، ژړا مې بنده شوه دروازه په کراره بیرته بنده شوه څو شیبې خاموشې وه د هغه وروسته د جهان نیولې غږ مې واوریده چې کرار یې وویل: پوهیژم چې ویشه یې! (څوشیبې خاموش و او بیا یې کرار وویل: زه .. جهان خان سدوزي عمر کې مې د زور خبره نه ده منلې نازولې! خپل ټول عمر کې مې اجازه نه ده ورکړې څوک راباندې بابایې وکې، خو خپل د زړه غلام یم خپل د زړه هره خبره منم او زما دا لعنتې زړه بد رقم تا غواړې.

هغه ته مې شا وه کوټه هم تیاره وه نه مې لیدو، خو د هغه په خبرو نور مې نه ژړل نه مې خبری کول او نه حتا نفس مې اخیست یوازی غوږ وم، غوږ وم چې پوهه شم زما د ژوند لاره ما اخر چیرته وړی؟

جهان- ته پر ما بیحد ګرانه یې نازولې بیحـــد، ستا راتګ زما ژوند ته معنا ورکړل، زه ستا د کتلو پسې مړ یم، کله چې پر لمانځه ولاړ یم او ته په پټه راګوری هغه دقه ته نه پوهیژی خو زه لکونه قسمونه خپل زړه ته ایژدم چې ستا خوا ته ونګورم چې نظر

مې ستا د نظر شکار نسې، زه ستا د دې کوچنې،کوچنې کارونو باندی قربان یم نازولې.

د جهان دې ټول خبرو ته زما ځواب خاموشې وه، هېڅ ورته نه وایم چې جهان غوسه کیږی د زور ساه اخیستلو څخه یې پوهیږم چې حوصله یې ختمه کیږی، شاته نالې مې ښکته شوه او د هغه شتون مې خپل شاته احساس کړو او بیا د هغه د لاس ګوتې چې زما ویښتیانو کې ننوتل او کرار یې زما ویښتیان خپل ګوتو کې پورته ښکته کړل.
جهان- ستا د سترګو د نظر پسی دیغ یم، دغې دیغ مې پریږدی نازولې؟ یو وار نه راګوی؟

په بی حال توګه لږ ورڅخه لری کیږم او ځان د ماشومانو خوا ته کش کوم او په داسې غږ چې په زحمت مې له ستونې راوځې وایم: ستا د زړه تنګون جبران به فاطمه وکړي.

غږ مې بیحد کرار و خو جهان واوریده، اوږه یې راڅخه ونیول او زه یې په زوره خپل خوا ته کش کړم.
جهان- فاطمه چشې جبران کوی؟ هغه د بشیر شزه ده، زما د وراره شزه ده په دی خبرو ایله زما عصاب مه خراب کوه.

غوښتل مې ورته ووایم تر سبا یا هم بل سبا شاید ستا د وراره ښځه وی خو کله چې نکاح دې وتړل بیا ستا ښځه ده د جهان خان سدوزی ښځه، خو څه مې ونه ویل بلکې اوښکې مې توی کړل چې جهان لږ نرم شو او په کراره یې وویل: فاطمه یوازی یو نوم دی او بس، زه ورسره نکاح ترم چې د خلکو خوله بنده کړم نور هیڅ خبره نسته هېڅ، ته زما ټول ژوند یې زه ستا د یو نظر پسی قربان یم خپل نظر راڅخه مه اخله.

د دې خبرې سره سم يې خپل سر په كراره راښكته كړو ترڅو زما مغزي ښكل كړې خو زه ورڅخه لرې كيږم، زما په دې كار قهرجن غږ يې پورته كيږي.
جهان- مكوه نازولې، مكوه ..ما مه ليونې كوه پريږده دغه رقم پاتې سم ما مه ليونې كوه.

ما د هغه دا مينه او محبت نه غوښتل، ما نه غوښتل د هغه سرې څنګ كې اوسيږم چې د دويم ښځې سره د نكاح نوم يې اخيست د هغې سره د واده نوم يې اخيست نه مې غوښتو، جهان بغير له دې چې زما ممانعت ته وګورې زما ويښتيان څو ځله ښكل كوي او كرار وايې: تا ولې داسې ماتم نيولې؟ هېڅ خبره نسته قربان دې سم، زه تر اوسه هغه جهان يم چې ستا په يو كتو مرګ ته حاضر دې ولې داسې كوې؟ ولې ځان راڅخه لرې كوې؟

نور د جهان په دې خبرو نه خوشحالېږم بلكې ژړا راځې او فكر كوم چې چل راكوي، فكر كوم چې په دې نازونو او خبرو ما خطا باسې، په دې فكرونو بيا مې ژړا راځې مخ راګرځوم او جهان د ځان څخه لرې كوم او كرار وايم: د دې ځاى څخه لاړ شه.
په همغه تياره كې د جهان ځير نظر خپل سترګو ته ګورم خو بغير له دې چې ورته توجه وكړم وايم: غوارم يوازې اوسيږم.

د جهان لاس زما پر شونډه په كوم خوا چې په څپيړه وهلې وم كېخودل كيږي او داسې حال كې چې كرار په هغه لاس تيره وي وايې: يوازې؟ د يوازې په نوم موژ شې نلرو نازولې!

د نفس اخيستلو لپاره اكسيجن نه و فكر مې كاوه د ستونې شاوخوا مې اغزن سيم تير شوى او ما نفس اخيستلو ته نه پريږدي، جهان لكه چې زما دې حالت ته فكر كيږي چې په كراره څو ځله زما پر ملا لاس تيره وې او د ساه اخيستلو لپاره مې هڅوي.
جهان- كرار ساه واخله نازولې، هيڅ خبره نسته مه بيريږه، مه لرى كيږه، مه پريږده چې فكر وكم كار مې غلط دى.

نفس مې خلاصيږي خو د ژړا سره، په ژړا ورته وايم: کار دی غلط دی جهان، ته خپل په دی کار ما مړه کوی پخدای باور وکه مرم... مرم که وغواړې د هغی سره واده وکی.

جهان بغير د څه ويلو په دروند نظر راګوی او د څو شيبو وروسته داسې حال کې چې ما غيږ کې نيسې کرار وايې: ستا پلار ته مې زنګ وهلې سبا راځې د هغه سره د يو څو وختو لپاره ولاړسه کابل ته، بيا زه درځم درپسې.

په دې خبره يې په غيږ کې د حيرت څخه بې حرکت شوم، زما غوږونو صحيح اوريدلې وه کنه؟ وې ويل ته لاړه شه کابل ته؟ ويل ستا پلار ته مې زنګ وهلې چې راشې او تا لځان سره ويسې، په بې حال او ناباوره غږ مې وويل: بابا راشې او ما لځان سره کابل ته ويسې؟ تر څو ... ترڅو ..چې ... چې ته وکولې شې په بيغم فکر بغير زما ... زما د شتون څخه د فاطمې سره نکاح وتړې؟

د جهان ګوتې زما د ويښتيانو په منځ کې ګرځې او کرار زما د غوږ څنګ ته وايې: نغواړم دلته اوسيژی او طبعيت دې خراب سې، ولاړه سه د يو څو وختو لپاره تر څو يو څه ماحول دې بدل سې، بيا زه درپسې در..
خبره يې ورپې کوم او په وحشت د غيږی څخه يې جلا کيږم او ځای کې کښينم، ټول بدن مې د وحشت څخه لرزيږی خوله مې د خبرو لپاره خلاصه او بنده کيږی خو څه نشم ويلې جهان په تلوار پاڅيږی او غواړې زما اوږې ونيسې خو زه اجازه نه ورکوم او تقريبا د ليونيانو پشان ورباندې چيغې وهم او وايم: ما خپل د سترګو څخه ورکوی تر څو په بيغم فکر د هغې سره نکاح وتړی؟

جهان يو ځل بيا هڅه کوی چې ما ونيسې خو زه ورڅخه لری کيږم او په همغه جنون اميز توګه وايم: دغه وه ستا مينه؟ دغه وه ستا وفا؟ دغه و ستا نرتوب؟ دغه وه ستا جان او قربان او وعدی؟

جهان زما د نیولو کوښښ کوی خو زه يې په سينې وهم او په چيغو او ژړا ورته خبرې کوم، خو هغه بغير د څه ويلو اجازه راکوی تر څو زه خپل ځان خالي کړم خو زما زړه نه تش کیږی هر څومره چې خبری کوم هغومره مې د زړه داغ تازه کیږی، دومره جهان په ځيګر وهم چې د هغه لځايه زما لاسونه درد کوی د ډير چغو له لاسه مې د ستونې څخه نور غږ نه وځې او بې حاله کيږم چې جهان د فرصت څخه ګټه پورته کوی او ما غيږ کې نيسي او زه نور څه نه وايم، ما جهان ته وژړل، ما ورته زاری وکړل، ما خپل ټول کوښښ وکړو خو هغه خپل د خبری څخه وا نه وړيدو پوهيدم چې خپل د خبری څخه نه پر شا کيږی.

جهان همدا و کله چې یوه خبره به یې کړی وایې بیا د چا پلار د هغه خبری څخه نشو پر شا کولې خو ما امید درلودا ما امید درلود چې شاید زما حال ته وګوری او خپل د پریکړې څخه انکار وکړی خو .. نه ... همغسې بې حال غیږ کې څملیدم او شاید لیونتوب و خو ما ورته په نیولې غږ وویل: کلک مې غیږ کې ونیسه.

زما په دې خبره جهان لومړی حیرت وکړو خو وروسته خپل لاسونه یې زما څخه راچاپیر کړل او کلک یې غیږ کې ونیولم ما هم ځان د هغه د سینې پورې جوخت کړو او د هغه بوی مې لکه لیونیانو پشان خپل سږو ته کش کړو داسې چې یو عمر د هغه بوی د ځان سره ولرم زما په دی کار جهان لږ اندیښمن شو او کرار یې وپوښتل: شه یې نازولې؟

شاید فکر یې کړی و چې لیونې شوی یم البته د لیونتوب اخری حد ته رسېدلې وم او شاید لیونې شوی هم وم او خپل خبره نه وم؟! خو ما غوښتل د جهان غیږه او بوی د اخری ځل لپاره احساس کړم د دې څخه مخکې چې د یو بل ښځې برخه پکې راشې، غوښتل مې دا غیږه زموږ اخری او د خدای پامانې غیږه اوسیږی، پر ما باندی جهان بیحد ګران و خو ما ځان پیژنده زه هیڅکله د دویم ښځې سره نه جوړیدم، د ماشومتوب څخه مې یو بد عادت درلود او هغه دا چې که بابا یو شې راته راوړی وایې او ویلې وایې چې دا ستا او د آسما په ګډه دې، نو ما هغه شې نه غوښتا ما د

شریک مال څخه کرکه کیدل نو ایا اوس به شریک خاوند وغواړم؟ شاید لیونتوب وی خو زه تل وایم یا یو شئ کامل زما، یا له سر نغواړم.

ما د جهان لاس اوپښې ښکل کړل چې زما اوسیږی خو هغه ونغوښتل او زه یې لځان څخه لرې کړم، زما په نظر نور زاری کول فایده نه درلود خو ژړا! ژړا مې حتماً کول خو د اوس لپاره نه، جهان چې زما ناساپه خاموش کیدل ولیدل نو لږ ورخطا غوندی شو او هره شیبه یې زما څخه پوښتنه کول چې ښه یم؟ او ما بغیر د څه ویلو یوازی ورته سر خوځاوه بلاخره هغه شپه هم سهار شول، د مولا تر آذان ما ته خوب رانغلو او همغسې د جهان غیږ کې وم د مولا پر آذان کله چې جهان د لمانځه لپاره غوښتل پاسیږي نو زه ورڅخه لری شوم چې جهان په حیرت وویل: ته تر اوسه ویشه وی؟

ځواب مې ورنکړو او خپل ځان مې د ماشومانو خوا ته کش کړو، زه ټول شپه نه وم ویده شوی البته زما په نظر جهان هم نه و ویده شوی، موږ یوازی یو بل ته د ویده کیدلو چل ورکو زما په خاموش کیدو جهان هم نور څه ونه ویل او لځایه پاسید، د اودس کولو وروسته کله چې کوټې ته راغلو او خپل پټو یې د الماری څنګ ته واچو او پر لمانځه و درید نو د لومړۍ ځل لپاره د پټ کتلو لځایه مې ورته په ځیر، ځیر په ښکاره وکتل، زه تللم لدی ځایه او زړه کې مې کلک اراده کړی وه چې نور به هیڅکله نه راځم، نو دا اخری وختونه د تللو باید خپل زړه سم د جهان په دیدن موړ کړم بیا خدای خبر کله به یې و وینم؟!

بې اختیاره مې د هغه هر حرکت ته په ځیر نظر کتل د هغه رکوع کولو ته سجده کولو ته سورت ویلو ته خو د لومړۍ ځل لپاره ما ولیدل چې جهان لمونځ غلط کړو او سلام یې وګرځو! کله چې زما خواته یې راوکتل نو پوهه شوم چې زما د ځیر نظر له لاسه مونځ یې غلط شوی! د جهان په دی کار پوسخند مې و واهه که دومره مینه یې راسره وه نو ولې غواړې بله ښځه وکړی؟ نظر مې ورڅخه واخیست او له کوټې ووتم ترڅو چې ما اودس کاوه او راتلم جهان خپل مونځ کړې و، زه چې پر لمانځه و دریدم نو دا ځل زموږ ځایونه بدل شول جهان راته کتل او زه په مونځ ولاړه وم، خو ما ته د

هغه ځیر نظر دومره مهم نه و بغیر له دې چې ورته کوم خاص توجه وکړم مونځ مې وکړو او کله چې د دعا کولو وخت راغې نو د لومړۍ ځل لپاره د دې لځایه چې ووایم: خدایه زموږ ژوند د مینې او محبت څخه ډک کړه، لاس مې پورته کړو او ومې ویل خدایه زما زړه د جهان څخه صبر کړه!

زما ټول مشکل همدلته و کله چې جهان مې نه پیژندو او مینه مې ورسره نه وه اصلاً راته مهم نه وه چې هغه څه کوی او څه نه؟ خو کله چې مینه مې ورسره پیدا شول نو دې حال ته ورسیدم اوس هم له خدایه مې غوښتل زړه مې صبر کړې ترڅو راته مهم و نه اوسیږی چې دویم ښځه کوی که څلورم! له خدایه مې وغوښتل چې د جهان مینه زما له زړه وباسې، دا غوښتنه دومره راته سخته وه چې اوښکې مې بې اختیاره پر مخ راغلل ښه شیبه مې وژړل د هغه وروسته پاسیدم بغیر له دې چې د جهان دروند نظر ته کومه توجه وکړم د الماری خواته لاړم او خپل بکس مې راوخیست کرار لګیا شوم خپل او د ماشومانو د کالو په ټولو او بکس کې کیخودلو.

څو میاشتې مخکې د کابل څخه په داسې تلوار راغلو چې یوازې یو حجاب مې راوړی وو لځان سره او بس، خو دې څو میاستو کې د جهان مور څو جوړې کالې دلته راته په خیاطې وګنډل چې زیاتره یې د حامله داره ښځو لپاره وه پراخ،پراخ هغه ټول مې بکس کې واچول او د هغه وروسته د ماشومانو یو څو جوړې کالې چې څه دلته پاتې وه او څه مې په همدی څو میاشتو کې ورته کړې وه بکس کې ځای کړل، کله چې خپل کالې مې بکس کې اچول نو د جهان کالې مې مخې ته راغلل څو شیبې بې حرکت مې ورته وکتل که دا خبری او پیښې نه وایې راغلې نو شاید اوس د جهان کالې به مې هم قات کول او بکس کې مې کیخودل؟!

خو اوس! د ژړا څخه په ډکو سترګو د جهان کالې مې الماری کې پریخودل غوښتل مې د بکس کشک وتړم چې د جهان سایه مې خبل په سر احساس کړه کله چې سر مې پورته کړو نو هغه مې په تروش تندی خپل و سر ته ولاړ ولید.

جهان- تلو ته دې بيخې ډېر تلوار نه دې؟
په زحمت خپل د ستونې لاړې تيره وم، مغزو کې مې هېڅ خبره نه راځې ذهن مې يو دم خالې دې زړه مې غواړې يوازې يوځاې څملم او ويده شم، داسې ويده شم چې کله راپاسيږم نو هر شې د پخوا پشان وې، جهان خپل لاس زما پر اوږی کيږدی او ما خپل خواته کش کوی اوس مخامخ ورته ولاړه يم د هغه قد زما څخه لوړ دې نو د دې لپاره چې سترګو ته يې وګورم مجبوره کيږم خپل سر لږ ورپورته کړم.
جهان- ما ته وګوره نازولې په سر کيدې چشې روان دې چې يو دم دسې کراره سوی؟ ها؟
بيا هم بغير د څه ويلو ورګورم خپل زړه کې ځان سره د جهان د هر خبرې ځواب وايم خو ظاهره کې خاموش يم، زما خاموشې جهان ليونې کوی په غوسې باندې زما د لاس څخه بکس اخلې او د کوټې يو کونج ته يې ختا کوی.
جهان- اصلاً ضرورت نسته چيرې ولاړه سې، دلته زما مخکې اوسيږی بهتره درباندې فکر ساتلې سم هلته ولاړه سې طبعيت دې د اوس څخه ډېر خرابيږی.

بيا هم بغير د څه ويلو ورګوم چې جهان په غوسه خپل خوا ته مې کش کوی او داسې حال کې چې په دروند نظر راګوې د ليونيانو پشان وايې: هر فکر چې دې په مغزو کيدی دياده يې وباسه، زه ستا په سر د هيچا سره ساتبږې نلرم نازولې، ستا د بدن زره، زره زما ده نو خيال کې لا رانوړې چې وغواړې پخپل بدن دې يو ګراش (خط) لا واچوې نور خبرې خو ليرې ...

څو ځاځکي اوښکې مې پر مخ بهيږی جهان فکر کړې و چې زه غواړم ځان وژنه وکړم چې داسې ناساپه خاموش شوی يم!
جهان مې د ځان څخه لری کړو او په ترخه لهجه مې ورته وويل: مه وېريږه ځان نه وژنم، البته که يو سلنه اراده مې هم اوسيږی نو په دې(خپل نس کې ماشوم ته اشاره کوم او وايم: حالت کې دا کار نکوم که څه هم پوهيږم زما پر مرګ خوشحاله کيږی خو خپل د ماشوم لپارهــ...

جهان مې خبرې ته نه بریږدی چې پوره یې کړم په غوسه زما زنه کلک خپل لاس کې نیسی او داسې حال کې چې خپل غاښونه یو پر بل چیچې او کوښښ کوې خپل غوسه کنټرول کړې وایې: حق د دې چې خوله دې درماته کړم چې بیا دسې خبرې ونکې شایستې.

څه نه وایم چې جهان په کلک زما زنه خوشې کوی او په غوسه خپل ګوته د ګواښ په توګه راپورته کوی او وایې: قدم اجازه نلرې چې د دې کوټې څخه ولاړسې کابل ته د تللو فکر خو بیخې د ذهن څخه باسه دلته به شینې(کښینې) او خپل کوچنیان به کراره وی پوی سوی که یا؟

ورګورم خو ځواب نه ورکوم بابا راروان و او کله چې راغلې وایې زه ورسره تلم، راته مهم نه وه چې جهان څه وایې زما په خاموش کیدو جهان نور څه ونه ویل او په غوسه زما له څنګ تیر شو خو د دې څخه مخکې چې له کوټې څخه ووځې زما د کالو بکس یې په کلک په لغته و واهه او د کوټې کونج ته یې خطا کړو، له کوټې ووت او دروازه یې دومره کلک بنده کړه چې ماشومان په وېره باندی راویښ شول او ژړا ته یې پیل ورکړو په تلوار د هغوي خوا ته لاړم او د هغوی د کرارولو کوښښ مې وکړو.

اته بجو خوا ته جونید د سبار ناری سره کوټې ته راغلو رنګ یې تک ژیړ اوښتې و زما په لیدو په ژړا شو جونید هوښیار هلک و هغه پوهیدو چې څه روان دې د هغه په ژړا که څه هم ژړا مې راغلې وه خو کوښښ مې وکړو خپل حالت ورته ښه وښایم د ماشومانو سره مې کینوی او ورته ومې ویل چې ډوډۍ وخوره، پوهیدم چې دشپې راهیسې ډوډۍ نه ده خوړلې، ما جونید پیژنده هغه بیحد حساس ماشوم و بلخصوص که هغه خبره پر ما مربوط وایې بیا بیحد وېرېده، هر څومره چې جونید ته مې وویل ډوډۍ وخوره هغه و نخوړل او ماته یې کتل پوهه شوم چې غواړې زه هم ډوډۍ وخورم که څه هم ګوله ډوډۍ مې له ستونې نه تیریدل خو د جونید پخاطر مې یو دوه ګوله ډوډۍ وخوړل.

ماشومانو چې ډوډۍ وخوړل نو کوټه کې د کراریدو نه وه، خو ما نغوښتل بیرون لاړه شم او د کور د ښځو ترحم امیز نظر وګورم نو جونید ته مې ماشومان ورکړل ترڅو بهر ویسي او خپل ځملیدم. خوب نه راتلو همغسې ځملیدلې وم او ژړل مې احساس مې کاوه ژوند مې تباه شوی، هېڅ د امید نښه مې خپل ژوند کې نه لیده هر خوا مې چې نظر اړوه او هر خوا مې چی کتل ټول نامیدې وه او بس، د ماسپیښن تر آذان هیڅوک کوټې ته رانغلل خو د غرمې څخه څو شیبې مخکې جونید په ځغاستو راغې او خبر یې راوړې چې بابا راغلې.

د بابا د نوم په اوریدو اوښکې مې لا په سرعت پر مخ باندی په راتویدو شول فکر مې کاوه یو ملاتړ کونکې کې راغلې تر څو زما ملاتړ وکړې او زما حق واخلې، په تلوار لځایه پاسیدم حجاب مې واغونده خپل د کالو بکس چې جهان په غوسه د کوټې کونج ته ختا کړې و راوخیست او له کوټې ووتم په بی حال قدمونو د زینو څخه راکوزه شوم د دهلیز دباندې د آشپزخانې خوا ته د جهان وریندارګیانې راټول شوی وه او پسپسک،پسپسک انداز باندی خبری کول زما په لیدو ټولو په حیرت راوکتل خو ما بغیر له دې چې چا ته وګورم د دهلیز خوا ته لاړم د دهلیز دروازی ته مې لاس نه ورتلو تر څو خلاصه یې کړم، خو د بابا کرار غږ مې چې واروید‌ه چې د ارباب سره یې خبری کول جرئت راکړو تر څو دروازه خلاصه کړم

دهلیز ته په ننوتلو شل غبرګې سترګې ما ته په کتو شول د جهان ټول کورنۍ بغیر د ورینداګیانو څخه یې هلته موجود وه حتا ګل بې بې لا یو کونج کې د جهان د مور سره  ناسته وه، زما نظر یوازی د بابا پسې په کتو وو ومې لیدو د ارباب څنګ ته په تروش تندی او خفه څهرې ناست و زما په لیدو لځایه پاسید، د بابا په لیدو ما دې خبرې ته توجه ونکړل چې دومره خلک دهلیز کې ناست دې او موږ ته ګوری، د بابا په لیدو فکر مې وکړو د زرګونو بیګانه خلکو منځ کې یو خپل مې پیدا کړو چې زما یه غم او درد پوهیږی ورنږدی شوم او بابا هم لکه چې زما حالت درک کړو چې د تل پشان خپل پلارنې غیږه یې راته خلاصه کړه او زه یې غیږ کې ونیول.

همدا چې بابا غیږ کې ونیول ژړا مې زور واخیسته بابا بغیر د څه ویلو اجازه راکړل
ځو شیبې د هغه غیږ کې وژاړم او خپل زړه خالي کړم د هغه وروسته یې له غیږ جلا
کړم او داسې حال کې چې زما تندی ښکل کاوه په مهربانه لهجه وویل: مه ژاړه بچې.
خو زما ژړا نه بندیده په همغه ژړا مې ورته وویل: را ..راځه چې... چې.. ځو ... راځه
کور ته ولاړسو بابا.

بابا په مهربانۍ زما په ویښتیانو کې لاس تیر کړو او ما ته د دلدارۍ راکولو په پار یې
کرار وویل: ځو بچې،ځو.
د بابا خبره لا پوره شوې نه وه چې د جهان غږ پورته شو، د هغه په غږ د بابا څخه لږ
لرې شوم او تازه مې د جهان خوا ته فکر شو چې د دهلیز اخر سر کې خپل د مشر
ورور څنګ کې ناست و هغه زما حجاب او زما د کالو بکس ته داسې په غوسه راکتل
چې ډاډمنه وم که څوک نه وایې دا بکس یې زما پر سر واهه.

جهان- خیرت خو دې؟ ما تا ته سهار چشې وویل؟

بغیر له دې چې جهان ته کوم ځواب ورکړم د بابا واسکت نیسم او داسې حال کې
چې کوښښ کوم ځان د جهان د نظر څخه پناه کړم بابا ته کرار ووایم: راځه چې
لاړشو.
د بابا د څه ویلو مخکې جهان په غوسه وایې: چیرې ولاړسې؟ چیرې دې دسې د تلو
تلوار دې؟

زما د څه ویلو مخکې بابا ځواب ورکوی البته جهان ته نه! عجیب ده خو بابا د دې
لځایه چې جهان ته وګوری یا کوم څه ووایې خپل د خبرو مخاطب ارباب کوی او
وایې: ستاسو په اجازه زه هوسۍ د یو څو وختو لپاره لځان سره ورم، تر هغه وخت
به تاسو خپل کورنۍ مشکلات هم حل کړې.

د بابا په ځواب کې ارباب سر خوځوی او غواړې یو څه ووایې خو جهان د هغه خبره
پرې کوی او په تلوار وایې: ضرورت نسته معلم صیب، زه بخشه غواړم چې دسې په

تلوار او بېخبره مې تاسو راوغوشتلې خو اوس چې سم فکر کوم نو هوسۍ که ولاړه نسې بهتره ده، په دې وضعیت موټر کې تګ ورته شه نه دې او بلخو...

جهان د بهانو په راوړلو لګیا و ترڅو اجازه ورنکړي ما له دی ځایه ویسې خو بابا یې خبره ورپری کړه او د لومړۍ ځل لپاره زه د بابا غوسه ناک لهجه د جهان په مقابل کې اورم چې ورته وایې: یعنې ته پوهیږي چې حالت یې ښه نه دې؟
د بابا په دې طعنې جهان سر ښکته اچوی چې بابا بیا د ارباب خوا ته مخ کوې او وایې: اولاد شیرن وې که هغه زوی وې که لوری وې، که یو وې که لس وې هر څومره چی وې هر دانه یې ځانته جلا،جلا ځای او مینه لری، زه په دی دنیا کې دغه دوه لورګانې لرم او دواړه راته خپل د ځان څخه ډېری ګرانې دی، بلخصوص هوسۍ! نه پوهیږم څه و وایم خو دومره وایم چې د هر پریکړې او خبری څخه مخکې دا خبره په یاد راوړې چې ما هوسۍ د درکولو وخت کې کوم شرطونه او کوم خبری کړې وه!؟ زه نور څه نه وایم ستاسو په اجازه.

نه پوهیږم بابا څه شرط او څه خبری زما د ورکولو وخت کې جهان او ارباب ته کړې وه خو دومره پوهیږم چې هغه خبرو په یاد راوړل چندان د جهان په مزاج ښه ونه لګیدل چې تندی تروش کړو، البته د یو شرط څخه یې زه خبره وم! بابا جهان ته ویلې وه چې کابل کې به اوسیږی او ما به کندهار ته نه وړی! بابا زما بکس له لاس واخیست او ما ته یې د تلو اشاره وکړل زه د ماشومانو خوا ته چې د جهان د مور غیږ کې وه ولاړم او بغیر له دې چې د هغې خوا ته یا هم د ګل بې بې خواته وګورم مدثر او مزمل مې غیږ کې راوخیستل او د بابا پسې شوم زموږ په تلو ټول راپاسیدل جهان غوښتل یو څه ووایې خو ارباب ورته بد بد وکتل او خاموش یې کړو.

ارباب تر حویلې زموږ سره راغلو او د دې څخه مخکې چې موږ له کوره ووځو د بابا لاس یې ونیو او کرار یې ورته وویل: که څه هم زما زړه غوشتې که نور نه وې یوه شپه پاتې سې خو اوس چې روان یاست نو دونې اجازه راکې چې جمشید مو تر کابل ورسوی.

بابا چې تر څو خوله مخالفت ته برابرول جهان چې تازه د دهليز څخه راوتلې و په تروش تندی او تقريباً امر کوونکې لهجې باندې وويل: جمشيد مو رسوی تر کابل زه خپل هم يو هفته بعد درپسې درځم.

بابا په تروش تندی د جهان خواته وکتل خو د ارباب په خبره چې بيايې د بابا څخه درخواست وکړو ترڅو جمشيد موږ تر کابل ورسوی بابا په نه زړه سر وخوځاوه د بابا په سر خوخول او موافقت جمشيد په تلوار خپل د موټر خوا ته ولاړی تر څو له کور يې وباسې چې همدی وخت کې ما جونيد ته فکر شو چې د جهان د څنگ څخه کرار زما خواته غوښتل راشې خپل د کالو کوچنې بکس يې هم په لاس کې و خو لا قدم يې زما خوا ته نه و اخيستې چې جهان له اوږی ونيوه او ويې ويل: پخير! ته نو چيری روان يې؟
جونيد په وېره باندی خپل لاړی تېرې کړل او کرار يې وويل: غوارم .. د ادی ... سره ولاړسم..

د جونيد په دی خبره جهان په غوسه وروکتل او داسې حال کې چې غاښونه يې د ډېر قهر څخه چيچل ويې ويل: ضرورت نسته چې ټول بسترې وتړی د تلو لپاره(بيا يې زما خو اته په همغه غوسه راوکتل او ويې ويل: ادی دې هم د يو څو ورځو ميملنه ده هلته بيرته جر راځې.

او د دې خبری سره سم يې جونيد د هليز خوا ته ټيله کړو تر څو بيرته کور ته ننوځی، جونيد د ژړا څخه په ډک نظر زما خوا ته راوکتل چې شايد د تل پشان زه جهان ته واسطه شم تر څو هغه زموږ سره پريږدی، خو خبر نه و چې زما واسطي نور په جهان نه چليدل، جونيد ته مې اشاره وکړل تر څو زما خوا ته راشې هغه هم په زر وېرې د جهان خواته وکتل او د هغه وروسته کرار زما خواته راغلو غيږ کې مې ونيو او ويښتيان مې ورڅخه ښکل کړل د هغه وروسته کرار مې ورته وويل: يو څه صبر وکړه د هغه وروسته بابا ته وايم چې ستا پسی راشې او کابل ته دې راوړی صحيح دی؟

زما په دی خبره جونید په همغه د اوښکو ډکو سترګو راوکتل او ویې ویل: خیر دی مه څه ادی.

د هغه په دی خبره مې اوښکې بیا ځلې په راتویدو شول او بیا مې جونید غیږ کې ونیو او په خواهشمند انداز مې د جهان خوا ته وکتل چې شاید زړه یې وسوځیږی او اجازه ورکړی جونید زموږ سره لاړ شي، خو جهان بغیر له دې چې زما نظر ته کوم توجه وکړی په همغه تروش تندی او قهرجن لهجه جونید ته وویل چې کورته ننوځی. په سل نه زړه او ژړا مې جونید پریخود تر څو کور ته لاړشي هغه هم تر اخره په نا امیده او ژړا زما خوا ته راکتل.

د جونید په تلو جهان ته مې وکتل نه پوهیږم ولې خو احساس مې کاوه جهان د دې لپاره جونید پرینخود تر څو خپل په ګمان زما د بیرته راوړلو لپاره یو دلیل یا هم بهتره به وې که و وایم یو ګواښ ولري! تر څو د جونید په سر ما وګواښوی چې بیرته هغه ته راشم! جمشید د تلو لپاره غږ کړو او ما د اخر ځل لپاره خپل نامیده نظر جهان خوا ته واچو او روانه شوم د جهان مور په ژړا زما مخ ښکل کړو او خدای پامانې وکړل ګل بی بی هم په ژړا راسره خدای پامانې وکړل خو د جهان نور وریندا‌کیانې رانغلل ما هم ورته کوم توجه ونکړل او غوښتل مې موټر کی کښینم چې جهان راباندې غږ کړل.

د جهان په غږ و دریدم او مخ مې وروګرځوی د کوڅې منځ کې ولاړ و او زما خوا ته یې راکتل، بابا زموږ خو اته وکتل او بغیر د څه ویلو په تروش تندی مدثر او مزمل زما د غیږ څخه واخیستل او موټر ته پورته شو، د هغه دا کار مطلب اجازه یې راکړل تر څو د جهان خبرو ته غوږ شم جهان د سترګو په اشاره ځانته نږدی وغوښتم هیڅ مې زړه نغوښت د هغه خبرې واورم زړه مې ورڅخه د خلکو خبره د خدای تر کوره نیولې و، خو دا چې ارباب دوې هم کوڅه کې وه او بابا دوې هم څه ناڅه فکر زموږ خوا ته و نو مجبور شوم د جهان خوا ته لاړه شم.

کله چې ورننوتې شوم نو جهان یو څو ګام واخیستل او د کوټې د منځ څخه د ارباب د کور د دیوال خوا ته ولاړو جهان زه کامل د دیوال خوا ته جوخته کړم او خپل زما و مخ ته ودرید داسې حال کې چې د سترګو څخه یې تر اوسه غوسه ښکاریده خپل جیب ته لاس کړو او همغه حال کې په قهرجن خو عین حال کې کرار غږ چې نور کسان یې وانورې وویل: ستا د پلار په احترام مې څه ونه ویل او ایله مې کړې چې ولاړه سې، خو یوازې یوه هفته یا هم څو ورځې زه جر درپسې درځم، خو تر هغه وخت کم لیونتوب ونکې شه دی؟

هېڅ مې ورته ونه ویل چې جهان تندی لاپسې تروش شو او ویې ویل: واخله!
د هغه په دې خبره نظر مې د هغه له څهرې واخیست او تازه مې د هغه لاس ته فکر شو چې نه پوهیږم څو زر روپې زما خوا ته نیولې وه، د جهان لاس کې د پیسو په لیدو غمژن مسکا مې پر شونډو راغله جهان عادت درلود هر کله چې زه د بابا کور ته تلم یا هم کوم بل ځاې تلم ما ته یې پیسې راکول او تل یې هم تاکید کاوه چې نه باید کوم ځای بې پیسو لاړه شې شاید پکار دې راشې او بده ده زما ښځه بل چا ته د پیسو لپاره لاس اوږد کړی حتا که هغه کس پلار دی لا اوسیږی، نظر مې د پیسو څخه واخیست او بیا مې د جهان قهرجن څهرې ته وکړو او ومې ویل: ضرورت نشته، زه ستا پیسو ته ضرورت نلرم.

زما په نظر زما تګ کوم عادی تګ نه و چې زه وغواړم د جهان څخه پیسې واخلم یا هم د هغه کوم امر او فرمایش ومنم، زما په انکار جهان د غوسې څخه خپل غاښونه سره وچیچل او داسې حال کې چې په زوره یې زما موټ کې پیسې ځای کول ویې ویل: زما پر عصابو مه ځه هوسۍ کنې قسم په خدای هیچا ته نګورم او بیرته کور ته دې ننباسم بیا لاس دی د ټولو خلاص وی چې هر شی کوی و دې کې.

د جهان په غوسه لږ شانتې و ډاره شوم دا څو وختو کې هغه بیخې بدل شوی و او د رښتیا هم داسې عجیب غریب کارونه یې کول نو ځکه کوم څه مې ونه ویل او روانه شوم د موټر شاته سیټ کې کښیناستم بابا راته ماشومان غیږ کې راکړل ځکه دواړو

هسې چونګ،چونګ و او ژړل یې زما په کښیناستلو جمشید موټر روښانه کړو خو د تلو مخکې جهان د موټر څنګ ته راغلو او د دې څخه مخکې چې موټر حرکت وکړې مدثر او زمزمل چې زما غیږ کې وه ښکل کړل او کرار یې و ماته بیا همغه خبری تکرار کړل" په ځان پام کوه زه ژر درپسې درځم" خو ما ورته یوازې وکتل بغیر د څه ویلو جهان هم په تروش تندی د موټر څخه لری شو ترڅو جمشید موټر روان کړی.

همدا چې جمشید موټر روان کړو ما د جهان راکړی پیسې د موټر د ښیښې څخه د جهان خواته واچول زما په دی کار بابا کوم خاص ریکشن ونه ښودو شاید فکر یې ونشو خو جمشید پوهه شو ځکه موټر یې تیز کړو تر څو ژر له کوڅې و وځو او جهان کوم کار ونکړې، ما د موټر د هینداري څخه د جهان خواته وکتل او ومې لید چې جهان د څو شیبو لپاره زما لری ختا کړل شوې پیسو ته وکتل او بیا د موټر پسې راوکتل، خو ما ژر نظر ورڅخه واخیست او ښه خبری می زړه کی ورته وکړل

زما روح او روان یی لمینځه ویسو او اوس غوارې د دوه روپو په راکولو ځان ښه انسان ثابت کړی چې هو زه خو داسې مسئولیت منوونکي خاوند یم! کابل ته تر رسیدلو مې وژړل، زما زړه مات شوی و هغه هم د هغه چا لخوا چی ما عمر کی لا خیال نه راتلو چی هغه دې وغواړې داسې کار دی وکړی، ما تل فکر کاوه چې شاید زه خپل حق کې ظلم او بې انصافې وکړم خو جهان! خوب کی مې لا نه لیدو چی جهان دی وغواړی داسې کوم کار دې زما سره وکړې، درسته لار ما وژړل او بابا ناکرارې وکړل لیدل مې چی زما د ژړا په غږ بابا خپل ځای کې اخوا دیخوا کیږی او ژور ساه ګانی اخلې، پوهیدم چې د بابا طبعیت زما په ژړا خراب کیږی خو هر څومره چې کوښښ مې کاوه نه مې شو کولې خپل ژړا کنټرول کړم.

ټوله شپه پر لار وه سهار د نهه بجو شاوخوا وه چې کور ته ورسیدو او زه تازه پوهه شوم چې څه مصیبت مې په سر نازل شوی! ادې خبره شوی وه چې جهان غواړې دویم واده وکړی او د دې خبری په اوریدو دومره خفه او غمژن شوی وه چې دا خبره یې د آسما سره شریکه کړی وه او نه پوهیږم چې ایا آسما خاله ته دا خبره خپل کړی

وه یا خاله د بلخوا خبره شوی وه؟! خو هر څه چې و همدا چې قدم مې کور کې کیخود نو خاله مې مخې ته ښکاره شوه په ظاهره زما په حال یې وی، وی کړل او یو دوه اوښکې توی کړل خو زه پوهیدم چې د زړه له تل خوشحاله شوی، او دا ګمان مې هغه وخت په یقین بدل شو چې خبرو خبرو او ما ته د دروغو دلدارۍ راکولو وخت کې وویل: که زما د زوی سره دې واده کړې وایې نو اوس به دې دا حال نه وایې تا زما په زوی کبر وکړو او د پیسو طمع دی وکړل خدای داسې درسره وکړل، تا ویل پیسه دار سړی دی او ژوند به مې په مزو کې ورسره تیر شې خو دې خبری ته دې فکر نه و کړې چې پیسه داره سړیانو په یو ښځې تنده نه ماته کیږی.

د خاله دا طعنې او خبرو زما حال دومره خراب کړو چې زړه مې غوښتل بابا ته ووایم بیرته مې ویسه کندهار ته! هلته که نور نه و خپل په غم مې ژړل او نور کسانو هم راباندی زړه سوځېده او همدردې راسره کول نه دا چې طعنې راکړی، نه پوهیږم ادی خپل د خور خبرو ته ولې پام نه و؟! یا پام یې و خو څه یې نه ویل؟ خو بابا چې زما حال خراب ولید نو خاله ته یې خو څه نشو ویلې په ادی باندی تندی تروش کړو او ویې ویل: دا خپله ستړی هلاکه د هغه دنیا له سر راغلې، پریږده لږ ارام وکړی بوډۍ ورته راوړه څه قیامت خو نه دی راغلې چې تاسو داسې کارونه کوی او ماتم مو ورباندې نیولې.

د بابا په تنده لهجه خاله لږ خپل حد ته راغله او خوله یې بنده کړه ما هم نور هلته د کښیناستلو او طعنې اوریدلو حوصله نه درلود خپل کوټې ته لاړم که څه هم ماشومان وړی وه خو په زوره مې ویده کړل او خپله مې هم سر کیخود دومره ستړې او زړه نیولې وم چې خوب یوازینې د حل لاره راته ښکرریده تر څو ما د دې لعنتې نړۍ څخه جلا او د یو څو شیبو لپاره هم که کیدل د بیخبرې او غفلت نړۍ ته ویسې، خو افسوس چې د خوب نړۍ هم زما سره ضد راخیستې و دومره پریشانه او ګډوډ خوبونه مې ولیدل چې ویښ اوسیدل مې په ویده کیدلو غوره وګڼل.

***

یوه هفته د کندهار څخه زما د راتګ تېره شوې وه، جهان هره ورځ زنګ واهه خو ما ورته ځواب نه ورکو، خو رښتیا که ووایم د هغه په دی ډېر زنګو او پوښتنو زړه کې مې لږ امید درلود چې شاید خپل د پریکړې څخه منکر شي، نن سهار چې کله له خوب پاسېدم نو ادی او بابا راته غمژن ښکاریدل هسې خو د کوم ورځ څخه چې خبر شوی وه چې جهان غوارې دویم واده وکړې زما لپاره غمژن وه خو نن راته یو څه زیات غمژن ښکاریدل د بابا څخه خو مې پوښتنه نشو کولې چې څه شوی؟ البته بابا کور کې پاتې هم نشو او بهر لاړو نو د دې لپاره چې په کیسې پوهه شم د ادی پسې لاړم، ادی آشپزخانه کې ځان مصروفه کړې وه کوم خاص کار یې نه کو هسې دا لوښې د دې ځاې بل ځاى وړل بیا بیرته یې د هغه ځاى خپل اولنی ځاى ته راوړل او داسی ښکاریدل چې یوازې غوارې خپل فکر په دی کار مشغول کړې.

یا هم شاید زما د پوښتنو کولو څخه ځان وساتې؟ هر څه چې خو د ادی او بابا په دی مشکوک کارو زما زړه بده ګواهې ورکول پوهیدم چې یوه بده پیښه واقع شوی خو نه پوهیدم چې څه؟ د آشپزخانې د دروازی خوله کې ودرېدم او په ادی مې غږ کړل.

- ادی!

زما په غږ ادی هېڅ توجه ونکړل لکه بیخې چې زما غږ اوریدلې لا نه وی! یو ځل بیا مې ورته غږ کړل او تازه یې زما خواته فکر شو.

ادی- ها؟

- هغه ... وایم ... خیرت دی؟

زما په دی خبره ادی داسې حال کې چې مخ راڅخه ګرځو په نیولې غږ وویل: هو خیرو خیرت دې ولې دا پوښتنه کوی؟

- هغه ... نه پوهیږم خو زما په نظر تا او بابا نن لږ خفه غوندې یاست!

په تمه وم چې ادی کوم ځواب راکړې خو ادې خاموش وه، غوښتل مې ورغږ کړم چې پام مې شو د ادی اوږې د ژاړی څخه رپیږی په تلوار څنګ ته یې ورغلم او داسې

حال کې چې له اوږو څخه مې نیول په ورخطايي مې وويل: څه شوی ادی؟ ښه يې؟ ته ولې ژاړې؟(یوازینې فکر مې چې ذهن ته راتلو هغه آسما وه نو ځکه په تلوار مې وويل: په اسما کوم څه شوی؟ څه خبره ده؟

زما په دی خبره د ادی ژړا لاپسې زیات شوه او ناساپه یې زه غیږه کې کلکه ونیولم او همغه ژړا حال کې وويل: کاش مړه وايې او دا حال مې نه وایې لیدلې، کاش کښه او ړنده وايې او ستا دا بدبختې مې نه لیدلې او نه اوريدلې وای ...

د ادی د خبرو یو لفظ مې سم واوریده (ستا بدبختې) مطلب ... نه .. د هغه د فکر د کولو څخه لا سترګې مې د اوښکو ډکې شول او داسې حال کې چې ادی مې خپل د غیږې څخه جلا کول په لړزانده او ناباوره لهجه مې وويل: ته... ته څه وايې ادی؟ څه ... څه مطلب زم... زما بدبختې؟
ادی په همغه ژړا راوکتل او ویې ویل: نن سهار ستا کور وران شو لورې... خاوند دې بله ښځه وکړل ...

د ادی په دی خبره نور پر ځان نه یم پوهه شوی ....

- يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَاء لِّمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ...

د قرآن کریم د تلاوت غږ مې غوږونو ته راځې نه پوهیږم دا مې سویم ځل دې چې د بې هوښې د حالت څخه راوځم او بیرته بې هوښه کیږم. یو نفر په مقرر توګه زما و سر ته قران تلاوت کوې، بدن مې بیحد درد کوې فکر کوم یو نفر مې نس کې چاړې وهې خو د هغه څخه بتر د سر درد مې دی چې سترګو خلاصولو ته مې نه پریږدي په سل زور او زحمت لږ مې سترګې خلاصه وم هغه غږ اورم چې تر اوسه قران تلاوت کوې، غږ يې څومره اشنا دې؟ خپل سر لږ تاو کوم زما په حرکت غږ ناساپه خاموش کیږې او زه په زحمت سره د نیم کښو سترګو لاندی جهان ګورم چې په تلوار وايې:

جهان- په هوش سوی نازولې؟ شه یې؟ درد خو نلرې؟

بغیر د څه ویلو ورګورم جهان دلته څه کوی؟ لا مې دې پوښتنې ته ځواب نه دې پیدا کړی چې خپل موقعیت ته مې پام کیږی او سترګې مې له حیرت څخه خلاصئ پاتې کیږی زه په شفخانه کې یم خو زه دلته څه کوم؟ غواړم خپل ځای کې کښینم چې نس کې مې یو نه زغمونکې درد په ښور کیږی داسې درد چې بې اختیاره خپل دواړه لاسونه په نس کیږدم او اخ مې له خولې وځې.

جهان په تلوار ما له اوږو څخه نیسې او داسې حال کې چې بیرته مې خپل ځاې کې څملوی په اندیښمنه لهجه وایې: پریوځه مه شینه(کینه)، ډیر درد لری؟ یو ګړی و دریږه زه اوس ډاکټری ته ناری کوم.

جهان دا خبره کوی او په تلوار له کوټې وځې، زه همغسې له درد څخه خپل په ځان تاویږم او همغه حال کې مې مغزه کرار، کرار روښانه کیږی او د ادی خبری مې یاد ته راځې "نن سهار ستا کور وران شو لورې... خاوند دې بله ښځه وکړل ... " لا دا خبره مې صحیح هضم کړې نه وه او لځان سره مې تکرار کول چې خپل نس ته مې پام شو ولې خالې دی؟ ماشوم مې نه احساس کاوه! په وحشت باندې مې په همغه درد باندی خپل په نس لاس تیر کړو په دی امید چې ماشوم احساس کړم خو نه، ماشوم نه و.

همدغه وخت کې د کوټې دروازه خلاصه شوه او جهان د یو عمر پخې ښځې سره چې ډاکتره معلومیده راننوت، دومره وحشت مې کړی و چې بې اختیاره د جهان خوا ته مې وکتل او په لړزانه لهجه مې وویل: ج ... جهان ... ما... ماشوم ن .. نه احساس کوم.

زما په دی خبره جهان په درد باندې خپل سترګې پټې کړل او مخ یې واړو، چې ډاکتره زما خواته راځې او داسې حال کې چې ما په کټ څملوې زما نس معاینه کوی او په یو بیخیال او بې غمه لهجه وایې: ته د ماشوم غم اخیستې یې، نږدی و چې

خپله مره شي، دا هم شکر باسه چې ژر یې تر شفخانې راورسولې کنه کوم خونریزی چې تا درولود امکان یې درلود مره شي، خو دا هم شکر باسه زموږ ډاکترانو خپل تول کوښښ وکړو او ماشوم یې بغیر له دې چې تاته کوم زیان ورسیږی لری خطا کړو.

لکه زنګ خطر پشان د ډاکترې یوه خبره مې ذهن کې ګرځیدل" ماشوم مو بغیر له دې چې تاته کوم زیان ورسیږی لری خطا کړو." په ناباوره انداز همدا جمله وایم چې شاید غلط مې اوریدلې اوسیږی خو ډاکټره بیا په همغه بې احساس انداز دا ځل واضح داسې چې سم زما زړه له کار ولویږې وایې: ماشوم مړ و البته که اوس نه وایې مړ شوی اخره نهمه میاشت کې مړ کېدی، د ژوندی پاتې کیدلو شانس یې بیخې نه و، ته حیوانې مورکه لرې او درملنه دې هم نه وه کړې دا مرض ماشوم په نهمه میاشت کې رانیسې او ژوندی نه پریږدی البته ستا د په شپږم میاشت کې مړ شو، دا هم د شکر ځای دی که ماشوم تر نهه میاشتو رسیدلې وایې نو مجبوره کیدلو په مصنوعې دردونو ماشوم پیدا کړو او هغه رقم تا ته ډېر تاوان رسیدو.

یو خوا باید د ماشوم زیږدولو مصنوعې دردونه دې تیر کړی وایې له بلخوا هغه زیږدونکې ماشوم هم مړ و.خو اوس چې هر څه پخیر خلاص شول نو د همدا نن څخه خپل علاج پیل کړه چې که بل وخت دې غوښتل ماشوم راوړی دا مرض دې لمینځه تللې اوسیږی تر څو تا یا هم ماشوم ته دې کوم زیان ونه رســ..

د ډاکترې خبره مې ورپری کړل او د لیونیانو پشان مې ورباندې چغه کړل: ته څه لګیا یې؟ زما ماشوم کومه دې؟ او بیا په همغه جنون امیز توګه خپل د ژوند نامرده او بې وفا کس ته مې وکتل او د نامیدی اخری حد کې مې پر هغه غږ کړو چې شاید هغه راته یو ښه خبر و وایې چې شاید هغه راته ووایې زما ماشوم چیرته دی؟

- ج..جهان دا... دا څه وایې زم... زما ...زما ماشوم چیرته دی؟

جهان چې زما بد حال ولید نو په غټو قدمونو زما خوا ته راغلو او داسې حال کې چې زما لاس یې نیوه په دلداری راکوونکې لهجه وویل: کراره اوسیږه نازولې، دا د

خدای کارونه دی خپل یې ورکوی او خپل یې اخلې ن...

د جهان خبره مې ورېږی کړل او په چغو او ژړا مې د هغه لاس د ځان څخه لرې کړ او ومې ویل: د څه ورکړه درکړه؟ ته څه وایې؟ زما ماشوم کومه دی؟

خپل په خالې نس چې د درد څخه مې ورباندې طاقت نه کیدو لاس تیره وه او بیا چغه وهم او وایم: زما ماشوم کومه دی جهان ... زما ماشوم کومه دی؟ څه مو کړو زما ماشوم؟ ما ته مې ماشوم راکړې. زه خپل ماشوم غوارم.

د لیونتوب هغه حد ته رسیږم چې د جهان ګریوان ته لاس اچوم او بغیر له دې چې خپل درد ته کوم پام وکړم یا خپل لاس کې کنول ته کومه توجه وکړم جهان مې له ګریوان ونیو او دلیونیانو پشان په ګډوډ انداز مې خبرو ته پیل ورکړو.
- زما په ماشوم دې څه وکړل؟ ما خو تاته هېڅ څه ونه ویل چې تا د فاطمي سره واده وکړو بیا ولې دی زما ماشوم مړ کړو؟ ولې دې زما سره داسې وکړل؟ ها؟ ما تاته څه بد در رسولې و چې زه دې بدبخته کړم؟ ما ستا حق کې څه کمې کړی وه چې ته حتا زما د ماشوم پر وژلو راځې شوی؟ هغه ستا ماشوم هم وم ظالم ولې دې مړ کړو؟

د لیونیانو پشان مې چغې وهل او جهان مې په ځیګر واهه جهان په نیولې څهره بغیر له دی چې ما ته څه ووایې زما هغه لاس چې کنول پکې و خپل لاس کې نیولې و تر څو کنول یې خطا نشې خو زما هیڅ خپل ځانته او خپل حال ته توجه نه وه یوازی مې ژړل او نامفهومه او بیځایه خبری مې کول ډاکتری چې حالت خراب ولید نو د جهان په مرسته یې زه په زوره څملولم او کنول کې راته یو ارامبخش پیچکاری وکړل پیچکاری دومره قوی وه چې څو شیبو کې زه بیحاله غوندی کړم او خوب راباندی راغلو خو د دی څخه مخکې چې بیا د ناخبری نړۍ ته لاړه شم جهان مې ولید چې په سرو سترکو او تروش تندی زما تندی ښکل کړو او کرار یې وویل: حق لری هر شئ چې وغوارې ووایې پخدای حق لری، زه درته ملامت یم، لعنت دې پر ما وایې .. لعنت ...

نور مې وا نه وریدل چې څه یې وویل او د درملو د تاثیر لاندې سترګي مې پټې شول ...

***

کوټه تیاره وه د بهر څخه مې د مجلس او خبرو غږ اوریده خو زه دلته د کوټې کونج کې غونج پرته وم، خپل لاسونه مې خپل په نس راچاپیر کړی وه د ماشوم خالي ځاې بیحد درد درلود خو د هغه څخه زیات زما د زړه درد و چې نه کراریدو، نن سهار اوه بجو خوا ته د شفخانې څخه رخصت شو او راغلو کور ته د ادی او آسما ژړاګانې تازه یو ساعت مخکې کرار شوی وه چې اوس بیا ارباب او د جهان مور راغله او یو ځل بیا کیسه تازه شول د جهان مور زما پر حال وژړل دومره چې ارباب ورباندی غږ کړل چې نور بس کړی او ما ورته یوازی وکتل بغیر د هېڅ شې ویلو نه پوهیږم د دوا اثر و که زما زړه د دې نړۍ څخه مور شوی و!؟

خو هر څه چې و نور ژړا مې نه راتله لکه بت پشان مې هغوی ته کتل او هغوی زما په دی حال ژړل، او ما غوښتل یوازی چغی کړم او و وایم چې ما یوازی پریږدی نغوارم څوم وګورم او بابا لکه چې زما حالت درک کړو ځکه یو ساعت کیدل چې کوټې کې یوازی وم او ټول دباندی تللې وه په دی بد حال کې خپل ځانته مې دومره خیال نه و څومره چې فکر مې د مدثر او مزمل خوا ته و څو ساعت مخکې مې لیدلې وه نیم نه وه پاتې،هغه چاغ او صحتمند ماشومانو رنګ ته اوس نه کتل کیدل داسې خراب شوی وه، زما په نظر زه د نړۍ بدترینه مور یم، هو زه ضرور بده وم چې خدای بیا د مور کیدلو ور ونه بللم او زما ماشوم یې راڅخه واخیست ما د هغه لیاقت نه درلود.

په دی فکر د څو ساعتو وروسته مې یو څو څاڅکې اوښکې له سترګو راتوی شول چې همدی وخت کې د کوټې دروازه کراره خلاصه شوه او ما په دی کم رڼا کې هم کوټې ته راننوتونکې کس پیژندہ! جهان و، د کوټې برق یې روښانه نکړو او همغه تیاره کې کرار زما خواته راغلو تر اوسه ماذدیګر و هوا دومره نه وه تیاره خو ما ادی

ته وویل چې د کوټې پردې دې ښکته کړې نه پوهیږم ولې خو زړه مې غوښتل تیاره کې کښینم زما څنګ ته چې راورسید نو تازه څهرې ته مې پام شو زما په نظر دا څو میاشتو کې جهان بیحد بوډا شوی و! د سر او ږیرې ویښتیان یې ډیر سپین شوی وه، د سترګو سور والې او د تندی ګونځې دا څو وخته بیخی نه کمیدل تل سترګې سرې او تندی تروش و.

ولې څهره سترې او نیولې ښکاریده؟ دی خو اوس باید خوشحاله وایې کنه؟ خپل د زړه ارامان ته ورسید دویم ښځه یې وکړل نو ولې دومره خفه دی؟ ده باید اوس خپل ږیره له سر توره کړې وایی نوې کالې او واسکت یې اچولې وایې تازه زوم دې کنه؟ همدا پرون یې واده کړی و هغه هم د یو پیغلې اتلس کلنې جنۍ سره باید د خوشحالې څخه یې خوله د خندا نه ټولیدې خو ولې داسې غمژن دی؟ نه پوهیږم تر کوم وخت بغیر د څه ویلو مې د هغه خوا ته کتل او خپل د ځان سره مې زر رقم فکرونه کول چې جهان کرار خپل لاس زما په مخ کش کړو او زما څو تاره ویښتیان یې د مخ څخه راته لرې کړل څه یې ونه ویل خو زه پوهیدم چې ذهن کې څه ګرځي؟!

عجیب ده کنه خو ما دجهان خبرې د حفظ څخه زده وه هغه تل هغه وختونو کې چې لا د فاطمی نوم زموږ ژوند کی نه و او بشیر نه و مړ شوی، هر کله چې زما ویښتیانو کې لاس تیره و نو ویل به یې" مئین کیدل کوم دلیل او منطق نه پیژني چی انسان ووایې زه ستا په فلانکې ځای عاشق شوم، خو که دلیل او منطق ته مینه ورسیږی نو زه بې له شک ستا په ویښتیانو مئین شوم، زما زړه ستا د ویښتیانو په حلقو،حلقو کې بند پاتې شو" او زه څومره د هغه په دی خبرو د شرم او حیا څخه سره کیدم او هغه خندل خو اوس!

یوازی ناست و بغیر د څه ویلو مو یو بل ته کتل،ژوند څومره عجیب دې کنه؟ یوه شیبه په یو خیال بله شیبه په بل خیال،خو ما هیڅکله فکر لا نه و کړی چې زما او د جهان انجام او حال په تر دې ځای راورسیږی، شاید د دی ټول خبرو او کیسو یوځای

کې زه هم ملامت اوسیږم خو زما ملامتیا د جهان مقابل کې لکه فیل او ماشه وه! زموږ خلک تل وایې یو کور او یو ژوند تل پر ښځې ولاړ دی او یوه ښځه د یو کور څخه جنت او دوزخ جوړولې شی! خو دا مثال پر ما نه راتلو دا مثال د نور خلکو لپاره و زما ټول ژوند او عمر پر جهان ولاړ و ما هغه ته کتل که هغه ویلې وایی د غوا شیدی توری دی نو باور پخدای ما منل چې د رښتیا توری دی، یعنې تر دې حد زما ژوند د هغه پر خبرو ولاړ و.

خو نن جهان خرابه کړی وه هم زما ژوند او هم خپل ژوند، او هم هغه ماشوم چې راتلو ته یې دومره شوق مو درلود نن مړ وو! په دې فکر اوښکې می له سترګو وبهیدل چې جهان خپل ګوتې زما د ویښتیانو څخه زما د مخ خوا ته راوړل تر څو پاکې کړی زما اوښکې خو ما نور دا لاسونه نه غوښتل چې د مینی او دلدارۍ راکولو په پار ماته رانږدی شی کله چې دغه لاسونه پر یو بل ښځې لګیدلی وه، غوښتل مې مخ مې ورڅخه لری کړم خو جهان اجازه رانکړل او په نیولې غږ یې وویل: مکوه.

بغیر د څه ویل مې وروکتل بی حسه شوی وم هیڅ کوم خاص حس می د جهان مقابل کی نه درلود نه وربانډی غوسه وم، نه ورڅخه خفه وم او نه کوم بل حس یوازی پوهیدم چې جهان خپل پر کارونو زما ژوند خراب کړو، یوازی او یوازی یو ناشنا حس می درلود چې نه پوهیږم څه نوم ورته ورکړم بیزاری؟ کرکه؟ نه کرکه نه وه زه هیڅکله د جهان څخه کرکه اونفرت نشم کولی شاید دل ازاری ورته ووایم زړه مې ورڅخه نیولی وو دومره چی زړه مې غوښت نور یې ونګورم.

جهان زما لاس خپل لاس کې ونیو همغه لاس چې وربانډی کنلو و او ډاکترې ویلې وه تر څو ورځو یې کنول مه ختا کوه ترڅو پیچکاریانې دی خلاصې شې، جهان زما لاس پورته کړو او د کنول ځای ښکل کړو ږیره یې زما په لاس ولګیده او زما ټول بدن ولړیزیده.
جهان- زما سره ضد مکوه، په دې بد حال او بد وخت کې ته راڅخه مه مروره کیږه،

ته راته شا مه اړوه، ته راځخه مه لیرې کیږه، زه د غرق کیدو حال کې یم ته مې اخرې د بچ کیدو رسۍ یې ته مې د ځان مه لیرې کوې.

خپل بل لاس یې بیا زما ویښتیانو ته راوړو او په بیحد نیولی غږ یې وویل: ته ما کراره وی ځان راځخه مه اخله، دا کرار راځخه مه اخله، حتا په دی حال چې مریضه یې او نغواړې حتا ما ته وګورې دغه حال کې لا ستا وجود ما ته ارمش راکوی، دغه نیم کله ارامش راځخه مه اخله.

خپل ځان ورځخه لرې کوم دومره چی لاس یې زما د ویښتیانو څخه جلا شې خپل د لاس لرې کولو کوښښ هم کوم خو جهان لاس مې کلک نیسې او زه په بې بیحد بې وسه لهجه وایم: خوشی می کړه، لرې شه راځخه.

خو هغه زما لاس لاپسې کلک نیسې او وایې: خلاص شو نازولې نور بس دی، نور مرورتیا، جنګ او غوسه خلاصه شوه سر له نن بیرته ځو خپل کور ته، خپل ژوند ته، بغیر د کوم جنګ او جنجال،بغیر د کوم ناز او نخرو، بغیر د ژړا او نغواړم او ایله مې کړه او فلان و بستان بس دی نور.

کرار وایم: بغیر د فاطمې؟ بغیر د ماشوم؟ بغیر زما د مات زړه؟ بغیر زما د بده بختنه؟

زما په دې خبره جهان خپل تور سترګي ما ته نیسې او زه د دې فکر پر کولو چې دا نظر اوس د بل ښځي هم دی او دا نظر یوازی ما ته نه دې او په شریک دی اوښکې مې پر مخ رابهیږې چی جهان په بیحد نرم انداز زما اوښکی پاکوی او وایی: فاطمه د بشیر شزه ده نازولی دا خبره څو واره درته وکم چی ته پوي سې؟
په همغ ژړا وایم: او... اوس هم د بشیر ښځه ده؟ ا... اوس چې تا ورسره نکاح تړلې؟

جهان څو شیبې خاموش شو او بیا داسې حال کې چې زما څخه یې نظر اخیست او د کړکې د پردو خوا ته یې کتل کرار یې وویل: هغه د بشیر شزه ده او تر هغه وخت چې نفس اخلې د هغه شزه به اوسېږي(بیایې زما خواته وکتل او ویې ویل: ته که په دې خفه یې او پر ځان دې ماتم نیولې چې زه به دهغې خوا ته ولاړ‌سم نو قسم به

درته واخلم، ما دې د خدای په خدايې قسم وی زه به هغې ته د شزې په نظر لا ونګورم نژدی کیدل خو بیخې لېری خبره ده.

په دروند نظر مې وروکتل او په نیولې غږ مې وویل: ما ته چل راکوی جهان؟
زما په دې خبره جهان خپل حیران نظر زما خواته واچو چې ما په ژړا ورته وویل: ته ما ته چل راکوی ؟ غواړې ومنم چې ته! جهان خان سدوزی چې د حلال،حرام، محرم او نامحرم او زر نور اسلامې خبرو پسې مرګ ته حاضر یې اوس دې خپل د وراره ښځه په نکاح کړې خو د ښځې په نظر ورته نګورې؟ غواړې د هغې حق کې داسې ظلم وکړې؟ که د ښځې په حیث دې قبوله نه ده بیا ولې دی ورسره نکاح تړل؟ شاید ساده اوسیږم خو حق نلری ما باندی د بیعقلې ګمان وکړې جهان! ما په دی خبرو نشې خطا ویستلې، زه پوهیږم چې هغه څومره درباندې ګرانه ده.

زما په دی خبره جهان په غوسه باندی له اوږی څخه مې نیسی او وایې: د چشې مینه؟ د کم خوا مینه؟؟وا نورم بیا دسې بیځایه خبری وکې.

اوښکې می پر مخ بهیږې چې جهان سترګی پټوې او د شونډی لاندې د استغفرالله پر ویل دا ځل په کراره وایې: ستا د اوښکو څخه دې زه جار سم، مه جاړه قربان دی سم، ومې ویل درته چې زه د هغې سره هیڅ کار نلرم قسم مې درته واخیستې فاطمه موژ په ژوند کی هیڅ کار نلری، هغه زموژ د ژوند په هیڅ ځای کی نسته.
په همغه ژړا ورته وایم: ه... هغه زموږ د ژوند په اصلې ځای کیده جهان، ته نغواړې وګوری چی څه حال دې تا سترګی پټې کړې او وایې هیڅ نشته او هیڅ نشته.

زما په خبرو جهان ناساپه غوسه شو او ویې ویل: څه حال دې؟ دا څو وخته خو ما نه دې لیدلې چی فاطمې دې کوم کار کړی وې، هر شې چې کړې تر اوسه خو تا کړې، ما درته د اول ورځې څخه وویل چی هغه ستا او ستا د ژوند سره هیڅ کار نلرې ومی ویل چې فاطمه زما ژوند کې یوازې یو نوم دی او بس، خو تا قیامت پر ځان جوړ کې، تا ځمکه او اسمان پر ځان راچپه کې او وګوره خپل په کارونو اخر دې ځان کم حال ته راورسوې او زه دې کم حال ته مجبوره کړم.

په حیران نظر مې د جهان خوا ته کتل باور مې نه راتلو چې دا ترخې او تندی خبری دی جهان کړې وی! ما ته یې ویل تا په هسې خبره ماتم ونیو؟ ما ته یې ویل تا خپل ځان تر دی حده راورسوې یعنې ټول ګناه زما وه؟
په زوره باندې خپل د خولې لاړی تېره وم او په زحمت باندی وایم: ی...یعنې ... م ... ملامته ... ز... زه یم؟

جهان بغیر د څه ویلو راګوری چې ناساپه زما قهر، غوسه او ژړا سره یوځای کیږی او دلیونیانو پشان جهان پر ځیګر وهم او وایم: د دویم واده شوق تا وکړو که ما؟ زما ماشوم ستا له لاسه مړ شو که زما؟ زه ستا د هغه بیځایه غیرت او ناموس، ناموس ویلو باندی مورې دې حال ته راورسیدو اوس نه شرمیږی زما سترګو ته ګوری او وایی ملامته ته یې نه زه؟ (اوښکې مې پر مخ رابهیږی او د ژړا څخه په بند،بند لهجه وایم: تا ته دویم واده هیڅ نښکاری جهان! تا ته خپل کار یو دم صحیح ښکارې او که زه ورځخه ممانعت وکړم نو خدای او قران به راوړاندې کړې چې ګوره ما ته خو خدای اجازه راکړی، خو خدای به دا اجازه نه وی درکړی چې د هغه د بنده زړه مات کړه.

ژړا مې زیاتیږی او وایم: که ما حق درلود دویم میره وکړم هغه وخت به تاته معلوم شوی وایې چې ما څه درد تېر کړو ستا د دویم واده سره، کاش خدای مورې ته هم د دویم واده اجازه راکړی وا ...

خبره مې لاپوره شوی نه وه چې غوږونو کې مې بنګهارې شو، څو شیبې پوهه نشوم چې څه وشو؟ خو ناساپه جهان په جنون امیز توګه له اوږې څخه ونیولم او خپل خواته کش کړم او تقریبا په چیغه باندی راته وویل: حق دې دا دې چې دا ژبه دې در پې کم چې باره د بل میړه خبره وړباندې ونکې یا دې دا شونډان دروګنډم چی نور دسی غو*ل وړباندی ونخوری، ته د کوم وخت څخه دسې سپین سترګې او بې حیا سوې یې چې زما سترګو ته ګوری او د بل میړه د غوشتلو خبری کوی؟

زما غږونو کې تراوسه د جهان د هغه کلک څپیړی له لاسه بنګهاری و چې جهان دا ځل څو ځله پر شونډو ووهلم البته ډیر کرار او په غوسه یې وویل: ما تاته یو وار

مخکې هم ویلې وه زه ستا په سر د چا سره ساتیری نلرم، ما دې د خدای په خدای قسم وی که یو وار بیا دسې خبره دې د خولې واورم جهان به نه یم که دلې(دلته) مې درته قبر کیندلې نه وې، پوهه سوی که یا؟؟

د جهان د "یا" پر غږ اوږی مې وپریدل او تازه د مخ یوخوا مې درد پیل کړو پوهیدم چې د جهان د لاس نښه مې پر مخ پاتی، د جهان ګوتمې مې پر شونډه لګیدلې وه او د شونډی له یوخوا څخه مې وینه راتله خو زما درد له دې نه و اصلې درد زما لاس کووا! جهان د غوسې څخه زما هغه لاس چې کنول پکې و کلک نیولې و، دومره کلک چې کنول په رګ کې ځای پرځاې شوی و او رګ یې سوری کړی و درد یی دومره ډیر و چې بې اختیاره مې اوښکې راتوی شول او په ژړا مې وویل: ج....جهان ...ل...لاس مې ..

جهان تازه لکه چې زما لاس ته فکر شو چې کنول یې تقریبا خطا شوی و او وینه ورڅخه راتله د هغه په لیدو ناساپه د جهان غوسه وپریده او ورخطا شو په تلوار یې خپل په لاس کنول ونیو تر څو وینه رانشې خو د هغه دا کار وینه خو بنده کړه خو زما لاس یې دومره په درد کړو چې د ژړا غږ مې پورته شو.

زما په ژړا جهان په تلوار وویل: جان ... جان څه وسو؟ ما ... ما بیخې فکر نه وو ما .. ما نه غوشتې دسی وکم ..

جهان د ډېر ورخطاې څخه نه پوهیدو چې څه وکړی او یواځې کنول لاپسې کلک نیو ترڅو خپل په ګمان د وینو راتلو مخه ونیسې داسی حال کې چې درد مې درلود او د مخ او د لاس د درد څخه ډیر د زړه د مات کیدو درد مې و په ژړانده لهجه مې وویل: خوشی... خوشی کړه زما لاس ..

زما په دې خبره د جهان تندی ناساپه تروش شو او بیا د څو شیبو مخکې پشان په غوسه یې وویل: ډیر بیعقله یې په قران ډیر، په دی بد حال کې لا خپل ضد نیولې یی او غواړې ما لیرې کی د ځان!؟

همغه ژړا حال کې می وویل: هو ... هو ... زه بیعقل یم چې ستا رقم انسان څخه د درک کولو توقع لرم، زه بیعقل یم چې فکر مې کاوه ته راسره مینه لرې.. زه ... زه بیعقل یم چې فکر مې کاوه زه تاته ګرانه یم او شاید زما فکر وساتې، خو نه ته یوازې خپل او خپل د غیرت او غرور په غم کې یې تاته نور هېڅ شې مهمه نه دې، ما ته هم نور مهم نه دې ..(نفس مې بند کیږی خو وایم: ما ته هم نور ته مهم نه یې، لکه څنګه چې تا ته زه نه یم.

په ښکاره مې ولید چې د جهان لاس ولړزیده او رنګ یې وپرېده خپل د ستونې لاړی په زور تېر کړل او په نیولې غږ یې وویل: راځه خپل کور ته ولاړسو بیا هلته خبری کو صحیح دی؟

خبری؟ نور خبری نه وه پاتې د کولو لپاره، نن ټول خبری خلاصې شوی وه، نور خبره نه وه پاتې ویلو ته. کوښښ کوم غږ مې ونه لړزیږی او وایم: نه .. زه ستا سره هیڅ ځای نځم.
نظر مې د هغه له سترګو اړوم د مخامخ کتلو جرئت نلرم او وایم: ورځه خپل ښځې ته ... هغه ښځه او هغه ژوند دی تاته مبارک شې.

څو شیبې خاموشی خپره کیږی په وېره باندی کرار مخ راګرځوم تر څو وګورم جهان څه حال کیدې؟ کله چې نظر مې وراړوم نو هغه په دروند نظر ځانته ځیر ګورم بغیر د څه ویلو راګوری د څهرې څخه یې هېڅ نښکاری یعنی نه غوسه ښکاریده نه خوشحاله، او نه هم خفه هېڅی وازی راکتل، کله چې ما وروکتل نو کرار لځایه پاسیده ما ورته په همغه ډاریدونکې نظر کتل زه د دی تازه جهان څخه ډاریدم د ده یو کار هم نرمال نه و، جهان د کوټې منځ کې څو قدم اخوا دیخوا واخیستل بیا زما د کتابونو خوا ته لاړو بې هدف یې کتابونه اخوا دیخوا اړول داسې و لکه خپل ځان چې کراره وی!

جهان چې هر کله فکرمند و نو داسې کول د څو شیبو وروسته د کتابو اړولو څخه یې لاس واخیست او داسې حال کې چې په ځیر نظر یې زما خوا ته راکتل خوله یې

خلاصه کړه چې خبرې وکړي خو بیرته لکه چې پښیمانه شو ځکه خبره یې نیم کې
پرې کړل او یوازې د څو شیبې لپاره په خاموش نظر راوکتل او بیا په درنو قدمونو د
کوټې د دروازې خوا ته لاړو او ووت. باور مې نه راتلو جهان بغیر له دی چې څه
ووایې زه پریخودم او لاړې! د هغه په تلو سترګې می بیا له اوښکو راډکې شوی، ما د
هر کار تمه د جهان څخه درلود بغیر له دی کار، ما ویل شاید غوسه شې، خبری وکړی
یا هم شاید ومې وهی خو دا نه! دا چې بې ځوابه یې پریخودم دا تر ټولو درد درلود
..

***

د هینداری مخکې ولاړه وم او خپل ځانته مې کتل دروغ به نه یې که ووایم ځان
مې نه پیژندو! یعنې هینداری کې موجود هغه کس بیخې زما په رقم نه وه، لنډ
ویښتیان، ډنګر مخ او د سترګو چارچاپیر توری حلقې،وچ چودلې شونډان داسې
معلومیده لکه چې تازه له قبر راپاسیدلې اوسیږم ژوند څومره عجیب دی کنه! تر
پرون د دې لپاره چې چاغه وم ژړل مې خو نن! نن مې خپل دې وچ کلک بدن ته ژړا
راتلل په یوه میاشت کې ما پنځه دیشت کیلو وزن کم کړو، هغه ورځ د ډیر کمزورتیا
څخه فشار مې ښکته شوې او د کور منځ کې راغورځیدلې وم بابا ډاکټر ته ویوړم
ډاکتر چی کله ولیدم نو ما ته یې ویل سوتغذی شوی یی، د پنځه اویا کیلو څخه
څلویښت کیلو ته راغلې وم! د رښتیا چې هم سوتغذی شوی وم، ورځ کې می یوه
ګوله ډوډی نخوړل البته باید ووایم چې نمې شو خورلې زړه مې ډوډی ته نه راتلو
البته زړه مې هیڅ کار ته نه راتلو زړه مې ژوند کولو ته لا نه کیدو.

یوازی یو څه مرګ مې غوښت.. هو.. یو څه مرګ... خو مرګ هم د جهان پشان راسره
ضد کړې و هغه هم نه راتلو .. جهان! دا یوه میاشت کیدل چی نه مې و لیدلې نه
مې ورڅخه خبر درلود داسې لکه چې بیخې زما ژوند که له سر و نه! د هغه د تلو په
همغه ورځ د ډیر لیونتوب پاسیدم خپل ویښتیان مې ټول له سره کم کړل یوه
لویښت مې پاتې کړل، د هغه وروسته هم لاړم جهان مې هم وټساپ او هم په نمبر

باندی مې بلاک کړو تر څو زنګ راته ونه وهې خو څومره بیعقل وم کنه؟ څکه دوه دقې وروسته زړه مې ونشو او بیرته می ان بلاک کړو، په دې امید چې شاید یو زنګ و وهې یا هم کوم مسج وکړې.

خو زما په نظر هسې مې ځان سپک کړو چی بلاک او ان بلاک مې کړو؟! څکه چې جهان نه یو مسج وکړو او نه هم کوم زنګ یی وواهه. هینداره کې د دې کس په څهره کې یوازې یو شې راته اشنا ښکاریدې هغه هم هغه خرمایی رنګ غمژنې سترګی وه او بس. دا میاشت ما ته د غم میاشت وه نه باید ووایم کال، پیغمبر"ص" یو کال ته د غم کال ویلې وه څکه هغه کال کی د هغه ښځه بې بې خدیجه "رض" وفات شوه او د هغه مبارک کاکا ابوطالب صیب نو پیغمبر"ص" هغه کال ته د غم کال وویل او ډیر خفه و په هغه کال، نو خدای د هغه دا خفګان معراج ته په غوښتولو او خپل د دیدن په نصیب کولو باندې ورته جبران کړو.

خپل دیدن یې ورباندی وکړو تر څو جبران د هغه غمو اوسیږې لکه څنګه چې قران کې وایې د هر سختې وروسته اسانې ده! دا کال ما ته هم د غم کال و، په دې کال کی کوم کس چی ما ته تر ایمان لا زیات ګران وو زما سره دوکه وکړل او بل واده یې وکړو په همدې کال کی زما ماشوم مړ شو په همدی کال کی زه بدبخته او سیا بخته شوم نو دا کال زما د غم کال و خو آیا ما ته به هم کوم انعام د دی دومره سختیو وروسته ترلاسه شې؟ ایا زه به د دی دومره سختیو وروسته آسانې او خوشحالې وګورم؟ فکر نکوم چې زما لپاره دې کوم ښه ورځ راروانه اوسیږی.

هغه ورځ خاله راغلی وه زموږ کور ته، البته دا یوه میاشت کی هره ورځ راروانه ده، بغیر د نن څخه چې نه ده راغلی هغه هم شاید د ادی د خبرو له سبب اوسیږی، ویل مې هغه ورځ راغلې وه او د دې یو میاشت پشان یې ما ته طعنې راکول، او خپل زوی ما ته مخکې پورته کاوه زما په نظر زما دا وزن کمول او دا دومره لیونې کیدل پنځوس سلنه ملامت که جهان اوسیږی پنځوس نور یې زما خاله ده! داسی طعنې دا

یوه میاشت کې دې ما ته راکړل چې کله ناکله مې زړه غوښت جهان ته زنګ ووهم او په زاریو ورته و وایم چی راشه ما له دې ځای ویسه تر څو نور د دې طعنې وانورم.

خلاصه چی پرون د طعنو، او چینجنو خبرو کولو منځ کی یوه خبره وکړل چی د لومړی ځل لپاره ادی خپل خور سپکه کړل او تقریبا له کوره یې وشړل! خاله ویل اوس خو هسې هم میره خوشې کړی یې او بل څوک دې نه کوې زه به احسان وکړم او خپل زوی ته به دی وکړم! د هغې په دی خبره ما هیڅ ونه ویل خو ادی ورسره جنګ وکو او ویی ویل "چی هوسۍ چا نه ده خوشې کړې او هغه لږ مریضه ده هر کله چی ښه شې نو جهان زوی ورپسې راځی او بیایې.

که ووایم د خاله د خبرو څخه زیاد د ادی په خبرو خفه شوم نو غلطه به وې؟ خاله تل همداسې خبري کول خو د ادی خبری هغه داسې وه لکه ما ته چی د یو بوج په نظر ګورې او غوارې زما تر غوږ تېره کړی چی ته د یو څو وختو لپاره دلته یی او بیا باید لاړه شی، ادی دا یوه میاشت کې خپل د خور په مخ کې زما خوا ونه نیول خو پرون یې د جهان خوا ونیول او دا کار یې زور راکړو بیحد هم زور یې راکړو.
او اوس هم د بابا کار! نه پوهیږم شاید د بابا اراده د نیکې وې خو زما فکر ټول منفې شوی فکر کوم دوي دا کارونه په دې خاطر کوی ترڅو په یو رقم زما له شر خلاص شی. په دې فکر سترګی مې له اوښکو ډکی شوې چې د کوټې دروازه وټکیده او د ادی غږ راغلو.

ادی- هوسۍ! لورې ژر راشه پلار دی په تمه دی.

د ادي غږ اورم خو ځواب نه ورکوم د هینداري له مخې لرې کیږم او د کوټې کونج ته ځم زړه مې نغوارې د بابا سره لاړه شم، اصلاً زړه مې نغوارې خپل د کوټې څخه بهر ووځم دا یوه میاشت کیدل چې په دې کوټه کې په تیاره کې مې ځان بندی کړی و، اول ورځو کې ډیر راته سخت و خو اوس مې عادت کړې و زړه مې غوښت یوازې ځان هغه هم داسې حال کې چې کوټه تکه توره تیاره ده کښینم او په ساعتو بغیر د کوم مزاحم څخه وژاړم، یا هم ویده شم! عجیب ده خو دا څو وخته خوب مې بیحد

زیات شوی و دشپې به ټوله شپه ویښه وم خو د ورځې به ټول ورځ ویده کیدم، شاید یو دلیل زما د خوب دا و چې غوښتل مې یوازی اوسیږم او په کوم مجلس یا کوم کس سره مخ نشم ترڅو هغه راځخه و نه وپوښتی چې خاوند دې څه شو؟

زما دا خاصیت په ماشومانو هم اثر کړې و هغوې هم زما پشان شوی وه درسته ورځ زما سره کوټه کې یوازی وه او بهر نه تلل هغه ماشومان چی یو وخت په شور ماشور کې خوشحاله وه اوس که یو نفر بیګانه لا کور ته راغلې وایی ژړل او بدخلقې کول. د هیندارې له مخې لری شوم او د کوټې کونج کې بی هدف کښیناستم او مخامخ دیوال ته مې کتل چې د کوټې دروازه کراره خلاصه شوه او بابا راننوت لومړۍ نظر کې زه ونه لیدم خو کله چې ماته فکر شو چې د کوټې کونج کې ناسته یم نو تندی تروش کړو او ویې ویل: دا درې ساعت کیږی زه درته په تمه یم او ته دلته ناسته یې؟

د بابا خبره که څه هم چندان تنده نه وه خو زما سترګې له اوښکو ډکې شو او ومې ویل: زه نغوارم هلته لاړه شم.
زما په دی خبره بابا تندی لا پسې تروش شو او ویې ویل: نو غوارې څه وکړې؟
غوارې د دې یو میاشت پشان د کوټې کونج کې په تیاره کې کښې او وژاړې؟ ته ماته ووایه اخر غوارې د ځان سره دی څه وکړې؟
د بابا په دی خبرو ژړا مې تیزه شو او ومې ویل: تاسو زما له لاس په تنګ راغلې یاست چې داسې وایست؟ زه دومره تاسو باندی بوج یم؟

زما په ژړا بابا په کرار قدمونو زما خوا ته راغلو زما څنګ ته کښیناست او داسې حال کې چی په مهربانۍ زما په لنډ ویښتیان لاس تېرو ویې ویل: بچې ما او ستا مور ستا بد نغوارو، که یو خبره یا یو کار کو ستا د خیر او صلاح لپاره یې کو او ما درته زر ځله ویلې ته  زما د کور روښنایې او څراغ یې بل ځل وانورم چې داسې خبری وکړې.

د بابا په دی خبرو په ژړا مې سر ښکته واچو او ومې ویل: نو بیا ولې غوارې ما هلته ویسې؟ تاسو هم د ادی پشان د خلکو د خبرو پسې یاست غوارې خپل غاړه خلاصه

کرېږي او د هغه وروسته ما بیرته هغه کور ته واستوی که مرم که رغیږم؟
بابا- چا ویلي چې زه تا د دی لپاره ډاکتر ته ورم چې بیرته دی هغه کور ته واستوم؟ ما ته وګوره هوسۍ! زه تا ډاکټر ته د دې لپاره ورم ځکه چې ګورم تا روحي مرض اخیستې زه ستا د صحت لپاره تا هلته ورم نه د دې لپاره چی چیرته دې واستوم په فکر کېدی لا رانوړی چې زه به تا په دی حال هلته پرېږدم هغوی که تا غواړی نو ستا د غوښتلو لپاره باید دومره راشی تر څو ته راضی شې.

- او که زه .. زه راضی نشوم بیا؟

نه پوهیږم دا خبره مې د څه لپاره وکړه؟ شاید د دې لپاره مې وکړل تر څو لږ زړه مې ډاډمن اوسیږی چې یو نفر زما پخوا دی او ما درک کوی؟ بابا څو شیبې په خاموشې راوکتل او بیا یې وویل: که ته راضې نه وی جهان خو لرئ د جهان پلار دی لا د دی کور قدم ورلې نشی صحیح شو؟

د بابا په دې خبرو زړه مې لږ ډاډمن شو چې بابا د لاس ونیولم او داسې حال کې چې لځایه پورته کولم ویې ویل: که زړه دی بیغم شوی اوسیږی نو راځه چې لاړشو د ډاکټر وخت تیر شو.

که څه هم زړه مې نغوښت خو دا چې بابا تر دی ځاې راغلې و او دومره یې ویل مجبور پاسیدم حجاب مې واچو او د بابا پسې روانه شوم بابا د کوڅې سر کې ټکسې ونیول او تقریبا نیم ساعت لاره و ترڅو هغه ځای ته چې ډاکتر کښیناست ورسیدو کله چی دننه ورغلو نو ډیر کسان راغلې وه او عجیب وه زیاتر ځوانان وه؟ د سرېانو او ښځو ځای لږ په فاصله کې و بابا زه د ښځو د ځای خواته دعوت کړم او د دې پر ویلو چې زموږ نمبر اتم دی او لږ وخت باید په تمه اوسیږو لاړ د بابا پر تلو نظر مې د راغلو څو ښځو خوا ته واچو او په نه زړه د هغه څوکې خواته چې د ټولو څخه لرې وه لاړم او کښیناستم، نه پوهیدم کله چې ډاکتر ته لاړه شم نو څه ووایم؟

ووایم زما خاوند پر ما دویم ښځه وکړل او زه داسی شوم؟ هغه به زما په دی خبری څه ووایې؟ زر رقم فکرونه مې ذهن ته راغلل خپل په راتلو پښیمانه وم، دا یوه میاشت کیدل چې ما د ادی او بابا سره لا خبری نه وه کړې څه ورسیړی چی اوس راشم او یو بیگانه سړی ته خپل د ژوند مشکلات ووایم! خپل په ذهنې کش مکش کې وم او نه پوهیږم څومره وخت تیر شوی وو چې راغلو ښځو کې یو دانې راباندی غږ کړل.

- خواهر!

د هغې په غږ مې وروکتل چې هغې د دروازی خواته اشاره وکړل او ویې ویل: او کاکا باشما کار داره.

سر مې د دروزای خوا ته وګرځو چې بابا مې ولاړ ولید په تلوار لځایه پاسیدم او د بابا خواته ورغلم چې هغه کرار وویل: زموږ نمبر دی راځه.

په سست او بې حال قدمونو د بابا پسې روانه شوم بابا د یو کوټې دروازه چې معلومیده د ډاکټر کوټه ده خلاصه کړه او د سلام پر ویلو ورننوت زه هم د هغه پسې په نه زړه کراره کوټې ته ننوتلم چې یو مردانه غږ د بابا سلام ته علیک وویل د هغه غږ پسې ما هم لږ سر پورته کړو او خپل مخ ته مې د یو ښکلې میز تر شا یو د عمر پوخ سړی چې تقریبا د پنځوس پنځه پنځوس کالو ښکاریده په یو نورانې څهره، سپین ویښتیان او تک سپین ږیره ناست ولید.

که څه هم د عمر څخه ډیر و خو لا هم ځوان او صحتمند ښکاریده د هغه څخه مې نظر د میز په سر یو کوچنې کارت پشان ورقې ته شو چې د ډاکټر نومورباندی لیکې و د شونډې لاندی مې کرار د هغه نوم د ځان سره تکرار کړو" سید عبدل احد قریشې" بابا ورسره په لاس سترې مشې وکړل لکه چې څه نا څه پیژنده یې؟!
عجیب وه خو د نوم سره یې سید راغلې و او سید زما په نظر د پیغمبر"ص" د

اولادی سره راځې یعنې د رښتیا سید دی؟ شک نشته قواره یې داسې نوراني ده شاید اوسیږی.

د بابا په غږ خپل د فکرونو څخه راووتلم بابا خپل څنګ ته د ډاکټر مخامخ څوکۍ ته د کښیناستلو لپاره اشاره وکړل زه هم په کرار قدمونو هغه خوا لاړم او کښیناستم ډاکټر یو نیم نظر راوچو او بیا یې د بابا خوا ته وکتل او ویې ویل: پخیر راغلې حاجی صیب؟

د ډاکټر ځواب بابا په ورین تندی ورکړو او ویې ویل: خیر ویسې ډاکټر صیب (بابا څو شیبې خاموش شو او بیا داسې حال کې چې ما ته یې اشاره کول ویې ویل: خپل لور مې راوړی وه لژ دا څو وخته طبعیت یې شه نه دې که کوم دوا موا ورکړې. د بابا په خبری ډاکټر دا ځل سم په ځیر زما خواته راوکتل که څه هم نظر یې داسې نه و چې انسان بد احساس ورڅخه واخلې خو زما نه خوښیده راته وګورې لکه چې زما حالت څخه پوه شو چې نری مسکا یې وکړل او په بیحد مهربانه لهجه یې وویل: بچې څه مشکل لری؟

د هغه په دې خبره یوازی د څو شیبو لپاره مې وروکتل او بیا مې نظر د بابا خواته کړو بابا چې هم زما نظر ولید نو غوښتل یې ترڅو خپل یو رقم زما مشکل یا هم کیسه ورته بیان کړی خو ډاکټر د بابا خبره پری کړل او په همغه کراره او نرم لهجه یې وویل: بخښنه غوارم حاجی صیب خو که اجازه مو وې نو غوارم د بې بې سره یوازی خبری وکړم تاسو یو څو شیبې بهر په تمه اوسیږی.

د ډاکټر په خبره په ورخطاې مې د بابا خوا ته وکتل نه مې غوښتل دې کوټه کې د ډاکټر سره یوازې اوسیږم بابا څو شیبې زما او د ډاکټر خوا ته وکتل او بیا بغیر له دې چې زما عاجزانه نظر ته چې ویل مې مه ځه وګورې له کوټې ووت او دروازه یې بنده کړل  د بابا په تلو ډاکټر بیا زما خواته وکتل او په همغه مسکا چې بیخې له شونډو نه لرې کیدل په مهربانه لهجه وپوښتل: بچی نوم دی څه دی؟

په لړزانده غږ مې وویلغ ه... هوسۍ.
ډاکټر- ماشالله څومره ښکلی نوم، هوسۍ!

د هغه لهجه، خبرې او خندا داسې نه وه چې بد احساس واخلم یعنې یو رقم ارامې بخښونکې وه.
ډاکټر- څو کلنه یې بچې؟
- څلرویشت! نه پنځه ویشت.
زما په دې ګډوډ حساب یې کرار وخندل او ویې ویل: اتلس درته ولیکم؟
د هغه دا خبره د ټوکو وه او که کوم بل وخت او بل حال کې وایې شاید خندلې می وایی خو اوس! یوازې مې وروکتل.
ډاکټر- امممم څلرویشت مې درته ولیکل متاهل که مجرد؟
نور مې حوصله د هغه په دی پوښتنو تنګ کیدل زړه مې غوښت ورسره جنګ وکړم خو برعکس خاموش شوم او ځواب مې ورنکړو چې هغه سر راپورته کړو او کله چې زه یې خاموش ولیدم نو نرۍ مسکا یې پر شونډ راغله او خپل قلم یې په ورقه کیخود خپل له سترګو څخه یې چشمکې اخوا کړل او خپل تکیه یې په څوکۍ برابره کړل او په کراره یې وویل: غواړی ما ته ووایې چې څه مشکل لرې؟

بیا هم بغیر د څه ویلو مې وروکتل زړه مې غوښت ژر تر ژر د دې ځاې لاړه شم.
ډاکټر- که غواړې ژر د دې ځایه لاړه شې نو مجبور یا ماته خپل مشکل ووایې یا هم که نور نه وی زما پوښتنو ته ځواب راکړې، کنه تر هغه وخت دلته کښینو ترڅو ته په خبرو راشې.

له دې چې زما ذهن کې هغه دقه څه ګرځیدل پوهه شو حیرت مې وکړ چې هغه په همغه مسکا وویل: څومره چې ستا عمر دې د هغه څخه زیات زما تجربه ده! زه توقع نلرم چې ته دا اوس خپل د زړه ټول خبرې ما ته وکړی البته که وکړی بهتره ده او هغومره ژر زه ستا علاج کولې شم خو که د ویلو حوصله نلرې بیا زما پوښتنو ته ځواب راکړه سمده بچې؟

ور ومې کتل او یوازې سر مې د سمده په توګه وخوځاوه چې هغه د بیرون خواته اشاره وکړل او ویې ویل: ما ته د ورځې زر کسان راځي او باور کوی ټول یې ځوانان دی یعنې سلو کی 99% سلنه ځوانان یو سلنه که سپین ږیری اوسیږی او شپیته سلنه ښځې څلویښت سلنه یې سړیان دی! د سړیانو د زیاترو یعنې 99% سلنو سړیانو مشکل یو شی دی!

عجیب وه خو غوښتل مې پوهه شم چې څه مشکل دی؟ ډاکټر چی زما توجه ولیده نو کرار یې وویل: بیکاری! 99% سلنه سړیان عصبي، روحي مرض د بیکارۍ له لاسه اخلي او شپیت سلنه ښځې پوهیږی د څه څخه اخلې؟

کله چې زما ځیر نظر یې ولید بیا یې د هغه بل ځل پشان کرار وویل: کورنۍ مشکلات! یعنې 80% سلنه ښځې خپل د خاوندانو څخه پعذابه دی او 20% سلنه نور خپل د کورنۍ مور،پلار یا حتا د کور او کلي خبرو له لاسه. همدا پرون یوه پیغله جنۍ راغلې ماته له ظاهر ښه ښکلې، ښایسته ښکاریده کله چې ومې پوښتل مشکل دې څه دې لورکې؟ نو په ژړا یې راته ویل مرکه نلرم.

په حیرت می وروکتل چې ډاکټر پخندا شو او ویې ویل: ما هم حیرت وکې خو باور وکه د دی څخه یې روحي مرض اخیستې و چې کوم خواستګار یې نه درلود او کور کلې کی د کاکا ښځې، عمه، خاله، د کاکا، ماما لورګانو او حتا مور یې لا ورته طعنې ورکول او دا خبرو په دی دومره بوج راوړی و چې غوښتل یې ځان وژنه وکړی، دا جنۍ پوهیږی د دی لپاره یی ځان نه وژلو چی خاوند نه ورته پیدا کیدو! دی ځان وژلو ځکه د خلکو د خبرو طاقت یې نه درلود، اوس ته راته ووایه ستا مشکل څه دې؟ ایا تا ته هم خواستګار نشته که څنګه؟

زما مغز د هغه د خبرو هغه ځای کی ګیر پاتی وو چې ویې ویل"دا جنۍ پوهیږی د دی لپاره یی ځان نه وژلو چی خاوند نه ورته پیدا کیدو!دی ځان وژلو ځکه د خلکو د خبرو طاقت یې نه درلود" دومره مې دا خبره ذهن کې وه چې د هغه د خبری اخر ټوکې ته کوم توجه ونکړم، څومره زما ژوند ته ورته حال یې درلود البته په دې فرق

چې زه د واده وروسته وشړل شوم او د خلکو د ریشخند شوم خو دا بې واده. په دی فکر مې سترګې له اوښکو ډکې شول چې ډاکټر کرار وویل: امهمم نو مشکل دې همدې خاوند کیدی،اوس دا راته ووایه چی له دې چې خاوند نلری خفه یې؟ یا که لری او د هغه څخه خفه یې؟

د ډاکټر په دې خبره نه پوهیږم ناساپه څه راوشول خو ژړا مې شروع کړل او همغه ژړا، ژړا کې مې ورته خپل د دې څو وختو په اړه وویل د جهان او د هغه د کارونو په اړه د خاله او د هغې د خبرو په اړه د ادی، بابا، مدثر، مزمل حتا جونید فاطمه د ټولو په اړه مې ورته وویل باور مې نه راتلو خو یو ساعت تقریبا په ژړا ورته لګیا وم او خپل د ژوند د بدبختیانو په اړه مې ورته ویل د یو ساعت وروسته کله چې خبرې مې خلاصې شوې نو ډاکټر خپل د میز له سر څخه یو دسمال کاغذې زما لاس ته راکړو ترڅو خپل اوښکې ورباندې پاکې کړم او خپل بیرته خپل په څوکې کښیناست او د دې یو ساعت پشان بغیر د څه ویلو په خاموشې راوکتل او د څو شیبو وروسته د میز له سر یې قلم راوخیست او یو څو کرښې خپل ومخ ته په پراته ورقې ولیکل.

د هغه وروسته یې خپل د میز په سر د زنګ تنۍ ووهل او د هغه سره سم یو ځوان هلک کوټې ته راننوت چې ډاکټر ورته وویل: حاجې صیب ته غږ کړه چې راشې.

هلک سر وخوځوه او بهر ووت څو شیبې وروسته بابا په اندیښمن انداز راننوت ډاکټر ورته د کښیناستلو وویل خو بابا په اندیښنې زما خواته کتل، کله چې ډاکټر ورباندی دویم ځل غږ وکړو نو بابا کښیناست او په تلوار یې وپوښتل: څه مشکل یې درلود ډاکټر صیب؟ زموږ سره خو خبرې نکوې هر شې خپل زړه کې ساتې دا یوه میاشت کې دومره وزن له لاسه ورکړی چې بیخې ورنه اسکلیټ جوړه شوې، نه څه خوری نه خوب لری نه هم چیرته ځې، خپل کوټه کې یوازی ناسته ده او ژاړې.

ډاکټر د بابا د خبرو ځواب کې سر خوځاوه او زه څومره شرمنده وم چې خپل کورنۍ مور او پلار مې دې حد ته رسولې وه.

بابا- یو دوا شې ورکړې چې لږ ښه شې دا بیځایه فکرونه نور ونکړې.
ډاکټر- په دوا باندې حاجی صیب فکرونه لمینځه نه ځې د دې مشکل اصلاً پر دوا د حل کیدو نه دی، د دې مشکل روحي دی، دې ډیپریشن اخیستې هغه هم اخری درجه، مطلب ډېر خطرناک دا هم د خدای فضل دې چې ژر مو راوسته دا ډیپریشن انسان په خو میاشتو کې له پښو اچوې او انسان دې حال ته مجبوره کوې چې یا ځان مړه کړې یا هم کوم بل لیونتوب وکړې.

د ډاکټر پر هر خبره د بابا رنګ پریده او ما دیته فکر کاوه چې دې یو میاشت کې ما خو ځله د ځان وژلو فکر کړې؟ شاید سل! یا هم زر ځله خو هر ځل د ماشومانو په لیدو پښیمانه شوی وم.

بابا په اندیښمنه لهجه وویل: یعنې کوم علاج نلرې؟ څه وکړو؟ د دې مشکل حل څه دی؟

ډاکټر زما خوا ته چې خاموش ناسته وم وکتل او د بابا ځواب یې ورکړو: د دې د مشکل حل پنځه سلنه ستاسو په غاړه دې او پاتې پنځه نوې سلنه د دې خپل پغاړه دې، ستاسو مسئولیت دا دې چې دا د استرس لرونکې فضا، د منفې خلکو له نظر او خلاصه د طعنو او پیغور د خبرو څخه وساتې او داسی ماحول ته یې ویسی چې لږ کراره اوسیږی او هو کوښښ وکړې چې یوازی پرینږدې او پاتې شول خبره د دې نو (ډاکټر زما خواته راوکتل او ویې ویل: دا مشکل تا خپل ځانته خپله پیدا کړې او حل یې هم ستا سره دی، ډېر فکر مکوه په دې دنیا کې هر کس په یو رقم باندې د مشکلاتو لاندی دی موږ باید د دې مشکلاتو وړاندی ودریږو نه دا چې ورته تسلیم شو او خپل ځان مرګ ته وسپار، تا ویل دوه دانې ماشومان لری او زما په نظر تر اوسه چې ته ژوندی یې هغه د همدی دوه ماشومانو له برکت دې!

د دې وروسته هم هغوی ته وګوره هغوي مور ته اړتیا لری، یو مور خپل د اولاد لپاره د هر مشکل مقابله کولې شې، نو ته هم د هغوي لپاره که خپل لپاره نه وې د هغوي لپاره کوښښ وکړه چې ښه شې.

او خلاصه چې ډاکټر نیم ساعت خبرې وکړل نصیحتونه یې وکړل او اخر کې هم وویل: ستا د مشکل لپاره دوا کومه فایده نلری خو بیا هم درته یو دوه پاکټ دوا درکوم دشپې لخوا یې خوره چې مغزه دی ارام ویې او راحت خوب وکړی، نور شې نه درکوم ځکه چې ستا ټول مشکل په تا تړاو لرې ته باید خپل کوښښ وکړی او ځان د دی حال راوباسې، او د ډیپریشن څخه د خلاصیدو بهترینه لاره خدای ته رجوع کول او د هغه څخه کمک غوښتل دي مورې انسان چې کله د خدای له لارې ګمراه شو او د دې نړۍ په فکرونو مشغول شو نو دا مرض باندی اخته کیږو، د هر کار مخکې خپل پنځه وخت مونځ کوه..

حیرانه وم دا اوس روانشناس ډاکټر دې که مولا؟! ټول خبرې دینې نصیحت و خو عجیب وه نصیحت یې پر ما ښه تاثیر وکړو ډاکټر یو دوه قلم دوا ولیکل او د نسخې د راکولو حال کې وویل چې پنځلس ورځو دوا ده او د هغه وروسته یو ځل بیا باید ورشو، زمورې خلک یو تکیه کلام لری وایې د خدای مرسته په لاس نه ده چې درسره یې وکړی د خدای مرسته په واسطی ده! مطلب کله ناکله یو نفر ستا ژوند ته راوړی او ستا ژوند ورباندی بدلوې کله ناکله په یو کتاب! عجیب به وې خو کله ناکله د یو کس په یو خبرې او حتا کله ناکله د اوس پشان د یو ډاکټر په راتلو زما د ژوند لاره یې بدله کړه، د ډاکټر خبرو زما څخه ډېر پر بابا اثر کړی و، کور ته په تلو یې ادی کوټې ته ننویستل او نصیحت یې ورته پیل کړو.

د یو ساعت وروسته چې ادی کله راغله نو سترګې له اوښکو ډکی وه او داسی په مراعات او جان و قربان یې زما سره خبری کول چې ما ته خندا راغله د همغه ورځې څخه بابا زمورې کور ته د خاله په راتلو بندیز ولګو او خپل هم هر ماذدیګر کله چې له کاره به راتلو نو زه به یې په زوره مجبوره کولم چې ورسره بیرون ووځم،کله ناکله به یې هم ماشومان راوخیستل او پارک ته به یې ویوړلو کله ناکله به یې هسې ځان سره په سړک ګرځولو حتا څو ځله یې کتابخانې ته ویوړلم چې کتاب واخلم یا به یې بازار ته وړلم، خلاصه چې په هر طریقې کوښښ کاوه چې ما کور کې یوازی

پرینړدی. ادی هم همدا کار کوه د مولا د آذان سره به زما کوټې ته راغله او تر ماذدیگر ترڅو چې بابا راتلو د هر خوا څخه به یې خبری او مجلس کاوه، ما چې د هغوی دا حال لیدو نو کوښښ می کاوه خوشحال اوسیږم که څه هم په ظاهره وی!

زما په نظر بې انصافې وه چې خپل مور او پلار خپل د ځان پخاطر اندیښمن او خفه کړم د ډاکتر خبرو او هغه دوه قلم دوا هم کار وکړل او کرار، کرار بیرته خپل عادی ژوند ته راغلم بابا بیا هغه ډاکټر ته د پنځلس ورځو وروسته ویوړلم او دا ځل هغه زما په شخصیت کار کول پیل کړل! هغه ما ته ویل ستا دا ټول مشکلات د دی سبب دی چې ته خپل ژوند کې هدف نلرې او خپل ټول فکر دې په یو نفر راټول کړی جهان! او همدا د دې سبب شوی چی د هغه په تلو ته داسې حال ته ورسیږی هغه وهڅولم چې ځانته هدف وټاکم او خپل ژوند ته یو معنا ورکړم.

***

د خلکو تلو راتلو ته مې کتل د یو لاس کې نسخه وه بل پیچکارې وهل او څو نور کسانو زما پشان هغوي ته کتل، نړۍ څومره عجیب ده کنه؟ هره ورځ چې تېریږی هغومره زه باوری کیږم چې دا نړۍ هره شیبه زموږ لپاره یو نه منونکې پیښه انځور کوي یوه نیمه میاشت مخکې زه په همدې څوکۍ ناسته وم خو دومره مې حال خراب و چې حتا خپل ځانته مې لا فکر نه و خو نن! نن راته دا نړۍ یو بل ډول ښکاریده، نن مې په یو نوی او تازه نظر نړۍ ته کتل په دنیا کې موجود هر کس په یو رقم خپل په ژوند کې د مشکلاتو او ستونزو سره لاس او ګریوان دې یو د بیکارې څخه ژاړې، بل د کورنۍ د خبرو څخه او ځینې بیا زما پشان خپل د شخصې ژوند او !خاوند څخه

دا زما دریم ځل راتګ دې چې زه په دې یوه نیمه میاشت کې دې ډاکټر ته راتللم او په هر ځل راتلو دا خبره مې بهتره درک کول چې د رښتیا هم زموږ ژوند پر موږ تړاو لرې که موږ خپل فکر بدل کړو نو ډېر شیان به پخپله بدل شې، دا ځل د بابا راتګ ته د چا د ویلو مخکې متوجه شوم او ژر لځایه پاسیدم چې بابا په خوشحالې راوکتل

دا څو وخته چې بیرته خپل عادی حالت ته راغلې وم زما څخه ډیر ادی او بابا خوشحاله وه، بابا د ډاکټر د کوټې دروازه وټکول او د تل پشان د سلام پر ویلو ورننوت زه هم ورپسې شوم او د لومړۍ ځل پر خلاف چې قدمونو او زړه مې د تګ یاری نکول دا ځل په انرژی کوټې ته ننوتلم او په کلک مې سلام واچو زموږ په ننوتلو ډاکټر خپل د لاس لاندې ورقې څخه چې یو شې وربانديې لیکلو نظر واخیست او موږ ته یې راوکتل.

او په خوشحالې علیک سلام وویل، دا یوه نیمه میاشت کې څه ناڅه شناخت مو ډېر شوی و البته ډاکټر د اول ورځې څخه دومره خوش اخلاق و چې انسان غیر ارادی توګه ورسره خبری کول او د زړه راز یې شریک کولو، په کرار او ارام ګامونو د څوکۍ خواته لاړم او کښیناستم بابا او ډاکټر سترې مشې سره وکړل او د هغه وروسته ډاکټر زما خواته وکتل او په همغه مسکا چې بیخې د شونډو نه لرې کیدل ویې ویل: زموږ بې بې هوسۍ څنګه ده؟ نن راته ماشالله ښه ښکارې.

د هغه په دی خبره مې کرار وخندل او ومې ویل: زما د نوم سره د بې بې لفظ یو څه بل ډول نه ښکاری؟! همغه خالې هوسۍ ووایست ښه راځې او هو شکر ښه یم.
زما په خبره ډاکټر لنډ وخندل او ویې ویل: ولای دا زموږ د پخوا خلکو عادت دې د انجونو د نوم سره یو بې بې ضرور وایو او دا یو ډول احترام او عزت ورکول دې البته ستا خبری بچې د هوسۍ د نوم سره بې بې یو څه بې ډیزاینه راځې مجبور د فارسیبانانو رقم ووایم دوشیزه محترمه.

د هغه په دې خبره کرار مې وخندل او نور څه مې ونه ویل، ډاکتر یو څو عادی پوښتنې زما او د بابا څخه وکړل او د هغه وروسته یې په یو ډول خاص لهجه د بابا خواته مخ کړو او ویې ویل: صد افرین دې هم پر تاسو وې حاجی صیب او هم دې په دی لورکۍ وی، یعنې لومړۍ ورځ چې تاسو راغلې ما ویل خدای خبر چې دا دې دومره ژر ښه شې ما فکر کاوه شاید یو کال یا حتا دوه کاله پوری دا ډیپریشن ورسره اوسیږی(بیا یې زما خواته مخ کړو او ویې ویل: خو ماشالله ته لومړۍ کس یې چې

یوه نیمه میاشت کې دې ځان د هغه بد حال څخه راپورته کړو او ځان دې ښه کړو، او زما په نظر د دې مهم دلیل اول ستا خپل کوښښ او د هغه وروسته ستا د کورنۍ کوښښ دی چې پر تا یې ښه خیال ساتلې.

زما په نظر خو ته نور کوم خاص مشکل نلرې یعنې نور دوا ته اړتیا نلرې چې درته ولیکم یا هم دا چې راشې، دغه یو قلم دوا واخله خو هره شپه یی مخوره دوه شپو درې شپو کې یا هم هغه شپه چی بیحد فکر دې خراب و او خوب دې نه راتلو ویې خوره کنه کوښښ وکړه چې بیخې بند کړې د دې دوا سره بیحد عادت کیدل انسان معتاد کوی نو کرار کرار یې پرېږده.

بابا- یعنې بیا رانشو ډاکتر صیب؟
ډاکټر پخندا وویل: موږ ډاکترانو ته دا مه وایست ځکه چې پیسی ډېر شیرنه وې او مجبور د دروغو ووایو چې هو لا مشکل نه دې حل شوی او راشې.(د ډاکټر په دی خبره ما او بابا کرار وخندل چې ډاکټر هم پخندانه لهجه وویل: نه نور ضرورت نشته چې هر پنځلس ورځی وروسته راشې زه خو د اوس لپاره کوم مشکل نکورم، خو بیا هم که د مبادا لپاره راتلې نو شپږ میاشتی وروسته یو چکر راشې نور انشاءالله ښه شوی.

ډاکټر هغه یو قلم دوا ولیکل او بابا لاړو تر څو هغه واخلې د بابا د تګ سره ډاکتر زما خواته وکتل او کرار یې وویل: دا چې وایم ستا مشکل حل شوی مطلب مې ستا مشکل دې! یعنې هغه مشکل چې تا د ځان سره درلود او پر هغه دې ځان پعذابو هغه حل شوی خو اصل مشکل دی لا پاتی.

د ډاکتر په دې خبره کرار مې سر وخوځو پوهیدم چې د هغه د دې خبری مطلب څه دې؟ دا څو ځل چی راتلم هغه هر ځل راته ویل چې باید فکر وکړم او یو د حل لاره پیدا کړم زما لوې مشکل د رښتیا هم جهان و! نه پوهیدم که هغه راغلو څه وکړم؟ یا که رانغلو څه وکړم؟
ډاکټر- اممم؟ څه فکر دې کړې د هغه په اړه؟

په سترې او ګنګس انداز وایم: نه پوهیږم! کله چې د هغه په اړه فکر کوم زړه مې په درد راځې او مجبوره کیږم خپل فکر ورځخه واړوم ترڅو نور پعذابه نشم خو له بلخوا کله چې خپل شاوخوا ماحول او خپل خپلوانو ته ګورم نو هر څومره که زه ځان ناګاره اچوم یا هم زما کورنۍ زما لپاره د هغوی خبرو ته اهمیت نه ورکوي خو بیا هم بد احساس کوم، د هغوی د کتلو څخه چې ما ته ګورې او د یو بل سره زما او زما د ژوند په اړه خبرې کوی، زه چې هرڅومره ځان بیخبره واچوم خو بیا هم د همدی جامعې یو نفر یم او د هغوی خبرې او فکر زما پر ژوند اثر کوی، کله ناکله چې خپل ماشومانو ته ګورم نو باور وکړی ډاکټر صیب نشم کولې، زه دومره توان خپل ځان کې نګورم چې وغواړم هغوي دواړه بغیر له پلار وساتم خو (د زړه له تل مې اه وکښل او ومې ویل: نه پوهیږم هر رقم چې فکر کوم دا موضوع نشم حل کولې.

ډاکټر- ته یو هوښیاره او با سواده جنۍ یې، زه نه وایم چې خپل احساساتو ته مګوره خو د احساساتو څخه مخکې خپل منطق او د عقل خبرې ته غوږ ونیسه چې هغه څه وایې؟ احساساتي پریکړې زیاتر وخت پښیمانتیا لرې نو کوښښ وکړه د عقل څخه دې کار واخلې که کوم ځای کېدی زړه یوه خبره کول او عقل دې بله خبره کول، نو بغیر د کوم شک څخه خپل د عقل خبره ومنه ځکه شاید یوه یا هم دوه هفتې خپل د زړه د خبرو د نه منل په پار وژاړې او خفه شې خو یو عمر به خوشحاله یې چی خپل د عقل خبره دې منلې، خو که د زړه خبره ومنې نو یوه دوه ورځې به خوشحاله یې او یو عمر به خفه یې چې ولې می دا کار وکړو، تل احساساتې کارونه ښه نه وی پوهه شوی بچې؟! اوس هم ستا ۹۰% سلنه مشکل حل دې.

یوازی لس سلنه یې پاتې خو دا لس سلنه ډیر خطرناک لس سلنه دې! که سم دی حل نشو کړی دا لس سلنه ستا هغه نوی سلنه روغتیا او سلامتیا خراب کولې شی، دا لکه یو سرطانې غده یا هم دانه ده باید په نقطه کې درملنه وکړې کنه ستا د ټول ژوند ریښی له جرړه باسی.

د بابا سر د کور پخوا روانه وم خو ډېول فکر مې د ډاکټر په خبرو کې و، هغه رښتیا ویل زما اصلې مشکل او د ډېول مریضې او ډیپریشن اصلې لامل او بنیاد جهان پاتې و، دا دونیمې میاشتی کیدل چې هیڅ خبر مې ورڅخه نه درلود، البته دوه هفتې مخکې جمشید راغلې و کابل ته نه پوهیږم د څه کار لپاره راغلې و بیا زموږ کور ته راغلو یو ساعت ناست و یو پیاله چاې وڅښل او د تلو مخکې هم ماته څو زر روپې راکړل او ویې ویل "چې جهان لالا ویل دا تا ته درکړم" خو ما ورڅخه هغه پیسې وانخیستل او همغسې مې رخصت کړو، زما په نظر د جهان دا کار د کوم مینې محبت نښه نه وه! بلکې یو رقم ما ته بی احترامې وه!

هغه دا دوه میاشتې بغیر له دې چې زما د مرګ او ژوند پوښتنه وکړې یا هم د ماشومانو پوښتنه وکړې چې ښکه دې او ښکه نه؟ کرار کندهار کې خپل د نوې ناوی سره ناست و او اوس د دومره وخت وروسته غوښتل یې خپل غلطې او بې فکرې د څو زرو روپو په راستولو جبران کړې! د هغه دا کار سخت زور راکړی و، نه پوهیدم څه وکړم؟ هر څومره چې فکر مې کاوه خو بیا هم هیڅ نتیجې ته نه رسیدم په همدی فکرونو فکرونو کې د کور مخکې سړک ته راورسیدو چې ناساپه بابا یو څو ګام شاته زما و ښنګ ته راغلو او د تل پشان زما لاس یې ونیو ترڅو له سړک څخه مې واړوی.

د هغه په دې کار مې مسکا پر شونډو راغله، د خداې د هر نعمت څخه که انکار وکړم خو د بابا د وجود څخه انکار نشم کولې، بابا د خدای هغه نعمت و چې ما ته یې راوښودل چې دې مرداری نړۍ کی هم ملایکې شتون لری، د پلار په څهره کی د مور په څهره کی زما په نظر زما مور او پلار د خدای فرښتی وه چې خدای ما ته راستولې وه تر څو زه په دې نړۍ کی د ډېر یوازیتوب څخه مړه نشم. کرار کرار د بابا سره روانه وم او که څه هم د سړک څخه را تیر شوی و خو بابا بیا هم زما لاس نیولې و بابا د دې لځایه چې د کور خوا ته لاړ شې زه یې د سړک هغه بلخوا روانه کړم په تعجب د بابا پسی وم چې وګورم چیرته روان دی؟

کله چې نظر مې په هغه خوا ولګیدو کوم خوا چې بابا ور راون و نو مسکا مې پر شونډو خپره شوه.

بابا د جوارې خرڅونکې څنګ ته و درید او څو دانې جواری واخیستل یو دانه چې تازه یې سور کړی و ما ته ونیو او نور یې پلاستیک کې واچول، جوارې مې لاس کې نیولې و او فکر مې کلونه مخکې د یو خاطری خوا ته لاړو څو کاله مخکې کله چې نه جهان و او نه هم د هغه نوم او نشان زما ژوند کی نو بابا همدلته راوړی وم او ما ته یې جواری اخیستلې وه هغه وخت څومره خوشحاله وم، څومره بیغم وم بغیر له دی چې کوم فکر او خیال ولرم لګیا وم او جوارې می خوړل خو اوس؟ د پخوا هغه شوق او سرمستې مې نه درلود او نه مې شو کولې چې دا جوارې د هغه وخت پشان وخورم، په همدی فکرونو کې وم چې بابا بیرته له لاسه ونیولم او د کور پخوا روان شو، جواری مې لاس کې نیولې و او زر رقم فکرونه مې ذهن کې ګرځیدل.

لاس مې نه تلو چې خپل نقاب له مخې لری کړم ترڅو جواری وخورم! ذهن کې مې د جهان خبرې یاد ته راتلل هغه تل ویل د کور څخه بهر د مخ څخه حجاب هیڅکله مه لرې کوه شاید ستا فکر نه وې خو زر وړې سترګې به ستا خوا ته څیر وی. خو دا فکرونو ډیر دوام ونکړو ځکه شیطان راورسید او زر منفې خبرې او وسوسې راته شروع کړل، هغه هلته کندهار کې خپل د نوې پیغلی ښځې سره مزی کوی او هغه وخت ته یو جوارې په راحت خیال نشې خوړلې او د هغه فکر درسره دی چې جهان د فلانکی او بیستانکی کار څخه بد راځی؟

خاوری دې په سر شه آیا هغه ستا خوښې او ناخوښۍ ته وکتل؟ آیا هغه ستا اوښکو او زاری ته وکتل؟ چې ته اوس د هغه په غیاب کې لا د هغه د دومره کارونو او خبرو وروسته د هغه د فکر پسې یی چې د هغه بد راځې؟ په دې فکرونو خپل نقاب مې له مخ لرې کړو بابا نیم نظر راوچو خو څه یې ونه ویل ځکه ماذدیګر ماښام خوا وه او څوک دومره تلل راتلل نه، البته مورِ د کور مخې ته خو بیا بیخې څوک نه وه په بیغم خیال د پخوا وختونو پشان چې نه د جهان غم و او نه د هغه فکر او خیال، په

شیطنت داسې حال کې چی د بابا لاس مې نیولی و د ماشومانو پشان د جوارۍ په خوړلو لګیا شوم او همغه حال کې مې شاوخوا هم کتل.

څومره دا ځایونه بدل شوی وه! نوی دوکانونه جوړ شوی وه نوی کورنه، نوی خلک، دا څو وخته ولې ما دی شیانو ته فکر نه و شوی؟ جهان چې هر کله د بابا تر کوره راوړلم نو موټر کې راتلو موټر به یې د کور د دروازې مخې ته درو او کور ته به ننوتلو ما هیڅ دی ځایونو ته صحیح فکر نه و شوی خو اوس چې پیاده روانه وم نو پوهیدم چې نړۍ څومره ژر مخ په پرمختګ روانه ده زموږ د کور هغه تنګ او خیرن کوڅه اوس څومره پاکه شوی وه! زموږ همسایه ګان چې یو وخت ټول فارسیبانان وه اوس نیم یې پښتانه وه؟ هغه ماشومان چې د سهار څخه به تر ماښام کوڅه کې لوبې کول اوس ماشالله ځوانان شوی وه او درسونه یې ویل.

زه په همدی عجیب او غریب فکرونو کې ګرځیدم او باور مې نه راتلو چې دا دومره وخت څنګه ما دې شیانو ته فکر نه و شوی؟ چې ناساپه د مخامخ منظری په لیدو نفس مې سینه کې قید شو او ځای پر ځای ودریدم زما په دریدلو بابا هم و درید او زما خواته یې راوکتل ترڅو ویوښتی چې څه شوی؟ خو کله چې زما بند نفس او راوتلې سترګې ولیدل نو زما د نظر په تعقیب هغه هم مخامخ وکتل. د جهان موټر زموږ د کور مخکې ولاړ و! البته کاش یوازی موټر وایې جهان خپل هم د موټر مخې ته ولاړ و او ماشومان یې تر لاس نیولې او داسی ښکاریدل چې هغوی دوکان ته وړی وه، د جهان فکر زموږ خوا ته نه وو خو د مدثر او مزمل په چیغه چې ما ته یې ناری وهل مامې، مامڅط هغه د کوڅی دیخوا زموږ طرف ته راوکتل او په ښکاره مې ولیدل چې د څو شیبو لپاره زما پشان جام ودرید بغیر له کوم حرکت لکه چې د هغه ساه هم زما پشان بنده شوی وه!؟

د بابا په غږ پر ښود راغلم او تازه مې خپل حالت ته فکر شو په تلوار مې جوارې خپل بل لاس کې ونیو او خپل نقاب مې راښکته کړو. خو کار تر کار تېر و جهان هغه حال کې زه لیدلې وم چې نه باید لیدلې وایې، خو ځان سره مې وویل چې اوس خو

هسې هم ولیدلې نو څه جبر چې اوس نقاب وهې؟ اصلاً په هغه څه چی ته په څه حال یې؟ مګر ستا په بد وخت او بد حال کې درسره و او ستا حال ورته مهم و چې اوس وغواړی دا حال ورته مهم شې؟ په دې فکر بیرته مې نقاب له مخ پورته کړو او داسې حال کې چې خپل ټول زور مې لګو ترڅو د هغه خوا ته ونګورم د ماشومانو خواته لاړم

هغوي هم زما په لیدو زما خواته راوځغاستل او خپل اخیستل شوی پاپړ او کاکو یې ختا کړل او زما د لاس جوارې ته یې داسې په معصومانه توګه کتل چې ما پخندا لومړۍ دوراه ښکل کړل او د هغه وروسته جوارې می نیم کړو نیم مې مزمل ته ورکړو او نیم هم مدثر ته او بیا بغیر له دی چې د جهان د حیرت څخه راوتلو سترګو ته وګورم یا هم کوم سلام یا کوم بله خبره وکړم ماشومان مې تر لاس ونیول او کور ته ننوتلم او د جهان دروند او حیرت ناک نظر مې خپل شاته پریښود.

سخته وه جهان ته نه کتل دومره سخت چې حد یې نه درلود خو مجبوره وم! داسی کس ته کتل چې ستا ټول ژوند یی خراب کړی و خپل ځانته بی احترامې وه، خو مغزو مې د هغه په اړه کنجکاوی کول ولې دومره حیرت یې وکړو؟ ایا له دې چې بی حجاب یې ولیدم حیرت یې وکړو؟ یا له دې چې دومره ډنګره شوی وم؟ دا یوه نیمه میاشت کی څه ناڅه وزن مې اخیستې و خو دومره نه څومره چې پخوا وم اوس تازه د نیلوفر په خبره ښه وزن ته راغلی وم نرمال وزن څلور پنځوس کیلو، خپل سر مې په کلک وخوځو تر څو د دی څخه زیات د هغه د رفتار په اړه خپل مغز کی خبری ونکړم، ځان سره مې کرار وویل اصلاً هر فکر چې کړی و دې کړی پر ما یې څه؟ ته د هغه په اړه فکر مکوه.

کور ته په ننوتلو ادی په تلوار زما خواته راغله او ویې ویل: غوښتل مې زنګ درته ووهم او خبر درکړم خو موبایل راسره نه وو ونشو.
داسی حال کې چی کوښښ مې کاوه خپل حالت نرمال او ښه وښایم په زوره مې مسکا پر شونډو خپره کړل او ومې ویل: کوم خاص خبره نشته ادی.

خو د ادی زړه لکه چې زما په خبره ارام نشو چې بیا یې وپوښتل: ښه یې؟ خفه خو نشوی؟ پخدای زه نه وم خبر چی راځی.
دا چې ادی تر دی حد ما ته فکر و ومې خندل او ومې ویل: پوهیږم ادی چی ته نه وی خبره اوس هم کوم مشکل نشته ضرور کوم کار لرې چې راغلې ټول کارو بار یې کابل کیدی د هغه پخاطر راغلی بیغم اوسیږه.

زما په ارام لهجه ادی هم لږ ارام شوه زه خپل د کوټې خواته روانه شوم ځکه چې بیخې مې د جهان سره د مخامخ کیدلو توان او وس ځان که نه لیدو، که څه هم د ادی مخ کې مې ځان ارامه وښودل خو زړه مې نا ارامه و، حتا صحیح ساه مې لا نشو اخیستې د کوټې دروازه مې کلک بنده کړه او څو ژور ساه ګانې مې واخیستې ترڅو لږ پر ځان کنټرول تر لاسه کړم، تمه مې درلود جهان دلته راشې د تل پشان زموږ د کورنۍ منځ کې د هلیز کی کښینې او خبری وکړی خو؟!

خو بابا جهان میمله خانې ته بوتلو! د بابا په دې کار هم خوشحاله شوم او هم مې زړه ونیول شو، بابا خپل په دې کار غوښتل جهان ته و وایې چې ته اوس زما د کورنۍ برخه نه یې چې وغواړې زما د ښځې او لور سره په یو فرش کښینې او خبری وکړی، خو له یو خوا دا چې د جهان سره داسې رفتار وشو خفه وم، نه مې غوښتل هغه ته دی څوک داسی بې احترامی وکړې! لعنت دی زما په زړه وی چې تر اوسه د هغه خیال ورته مهم و او نه یې غوښتل چې داسې رفتار د هغه سره وشي.
خپل زړه مې څو ځله په لاس کلک و واهه او ومې ویل: لعنت دې پر تا وی مګر لیاده دې ووتل چې هغه ستا حق کې څه وکړل؟

تر شپې له کوټې ونه وتم چې د غلطې څخه د جهان غږ لا وانه ورم لیدل خو لرې، ادې د ماښام ډوډۍ زما کوټې ته راوړل او همدلته مو وخوړل البته ما خو ګوله له ستونې څخه نه تېرېدل خو کوښښ مې کاوه د ادی لپاره یو څو ګولې وخورم چې ما ته اندیښمنه نشې، ادې تر ډېر وخت زما کوټه کې وه او د هر خوا څخه یې خبرې او مجلس کوه ترڅو زما فکر خپل د کوټې څخه څو متر اخوا په میلمه خانه کې د

موجود هغه کس خوا ته لاړ نشي خو افسوس چې زما فکر بغیر د هغه خوا څخه بل خوا ته د تلو نوم یې نه اخیست ټول فکر مې د جهان خوا ته وو، نه پوهیدم په څه خاطر راغلې؟ څه غواړې؟ زړه به مې ویل ستا لپاره راغلې خو مغز مې ویل اوس؟ د دومره وخت وروسته؟ فکر مې کاوه چې د هغه د راتګ کوم بل دلیل دې نه زه!

شپه تقریباً تېره وه ادي جهان ته هملته میلمه خانې کې ځای واچو او زه څومره مننذوي وم د ادی او بابا څخه چې جهان ته یې اجازه ورنکړل دلته راشي ما دومره ژر د هغه د لیدو توان نه درلود، زه باید خپل فکرونه لږ راټول کړم زه باید سم منطقی فکر وکړم د ډاکټر خبره صحیح ده احساساتي پریکړه ما ته هېڅ ګټه نشي رارسولې، خو.. خو افسوس چې زما ټول پریکړې په احساساتو وه او نه مې شو کولې منطقی پریکړه وکړم، په ذهن مې دومره بوج و چې حد یې نه درلود مجبور د ډاکټر راکړل شوې دوا ته مې پناه ویوړل خو هېڅ فایده یې ونکړل!

خوب زما سترګو ته د راتلو نوم نه اخیست دشپې تقریبا دوه نیمې بجې وه ټول کور په خاموشي کې ډوب و، خو زه لکه لیونیانو پشان خپل ځای کې ناسته وم او فکرونه مې کول دومره مې زړه تنګ شو چې د کوټې هوا راته نفس تنګ معلومیده په تلوار مې خپل ټیکری په سر کش کړو او د کور د بام خوا ته روانه شوم. په سست ګامونو مې ځان د هغه ځاې خوا ته چې دا څو وخته کیدل ما خپل د یوازیتوب لپاره جوړ غوره کړې و لاړم او په هغه زوړ فرش کښیناستم خو دومره انرژی راکې نه وه چې کښینم نو هملته څملیدم، دا څو وخته چې به ډېره مې حوصله تنګ شوه او زړه به مې ونیول شو نو دلته راتلم.

آسمان او ستورو ته به په کتلو خپل فکر مې بدل کاوه، یخ هوا وه د ځینو کورنو ګروپونه روښانه وه د لرې، لرې څخه د سپیانو غړونه راتلل، عجیب به وی کنه؟ خو ما تل غوښتل دشپې دوه یا درې بجې خواته یو ځل له کور بیرون لاړه شم او وګورم چې د شپي په دی وخت کې ماحول څنګه دی؟ البته یوازی نه! غوښتل مې د یو چا سره چې پرینږدی ما ته کوم زیان ورسیږی د شپي په دی وخت د شهر کوڅی،

دوکانونه،سړکونه او ماحول وګورم! په دی وخت چې ټول دنیا په خوب زنګیږی د کور بیرون څه ماحول دی؟ د آسمان خوا ته مې وکتل سپوږمې بیحد ځلیدل نه پوهیږم دې میاشتي ته څه وایې؟ کله چې سپوږمې بیحد غټه شوی وی او ړڼا یې بیحد زیاته وی!

ادی ورته ډیر ښه نوم یاده وم خو زما یاد کې نه دی، زما په نظر ورته څوارلسم سپوږمې وایې؟ یا هم همداسې کوم شې په هر حال ډیره ښکلې ښکاریده عجیب ده کنه آسمان کې دومره ستورې دی خو د ټولو نظر پر سپوږمې دی! ځکه د ټولو څخه غټه او ځلا ورکونکې ده، یو شاعر خبره مې رایاد شول د هغه څخه یو نفر پوښتنه وکړل چې تاسو ولې خپل په شعرونو کې تل خپل معشوقه د سپوږمۍ سره پر تله کوې؟ نو هغه ډیر عجیب ځواب ورکړو هغه وویل: ځکه چې سپوږمې په ټول آسمان کې یو دانه ده! او زما معشوقه هم زما ژوند کې همدا د سپوږمۍ مثال لرې په نړۍ کی به انجوني زیات وی لکه ستورو پشان خو زما معشوقه یوه دانه ده لکه سپوږمې پشان! څومره ښکلی بیان یې وکړو خپل د معشوقې په بیان کې، یعنې د رښتیا دومره وربانديې ګرانه وه که هسې خبره یې کول؟

زما په نظر رښتینې مینه اوس وخت کې یوازې د مور او پلار ده نور هسې خبری دی! لنډ مثال یې همدا جهان! ترخه مسکا مې پر شونډو خپره شوه جهان، جهان خان سدوزی! هغه زه څومره په هنر خپل د مینې په خبرو خطا ویستم چـ ...

د یو شې په خرپ په تلوار خپل ځاې کې کښینستم، د زینو سره توره سایه غوندی شې می ولیده، لومړۍ فکر مې چې ذهن ته راغلو هغه دا و چې یا غل دی یا هم پیرې! په دې فکر دومره ډاریدلې وم چې غوښتل مې بابا ته ناری کړم لکه چې هغه کس هم زما په نیت پوهه شوی و چې غږ یې پورته کړو او د هغه په غږ ما زړه کې ځان سره وویل چې ای کاش پیری وایې.

جهان- زه یم!

د دې خبرې سره سم يې خپل د موبايل ګروپ روښانه کړو او د زينو څخه کامل راپورته شو، جهان بغير له دې چې زما خوا ته وګورې خپل د موبايل ګروپ د بام د سر شاوخوا وګرځو حتا د همسايه د کورنو خواته يې لا ښه په دقت وکتل، داسې لکه چې منتظر و زما بغير کوم بل کس هم هلته وګورې!
زما سترګې د تيارې سره عادت کړې و او کولې مې شو په همدې تياره کې د جهان تروش تندی او مشکوک نظر وګورم کله چې ښه يې شاوخوا وکتل او ډاډمن شو چې زما څخه بغير بل څوک نشته نو په مشکوک لهجه يې وويل: په دې نيمه شپه د کوټې په سر څه کوې؟(او بيا ناساپه لکه چې يو خبرې ته يې فکر شوی وی څو ګامه رانږدې شو چې زه بی اختياره شاته لاړم او هغه په داسې نظر چې زما نفس يې بند راوستو ويې ويل: موبايل دی راکه، د چا سره دې خبرې کول؟

د جهان دا کارونه راته اشنا وه ما يو ځل مخکې هم د هغه د شک او ترديد دا څهره ليدلې وه پوهيدم چې څه فکر يې زما په اړه کړی و.

ناساپه ټول بدن کې مې اور بل شو مغزه مې د انفجار حال ته ورسيدل، هغه حق نه درلود زما په اړه داسې مردار فکر وکړې، کله چې خپله د دوکې او خيانت بنيادګزار و او دويم واده يې کړې و، جهان په همغه جنون اميز توګه ماته کتل او په تمه و چې مثلاً زه ورته موبايل ورکړم! خو ناساپه ما خپل کنټرول له لاسه ورکړو او په بيحد کينه او غوسه مې وويل: دا کارونه ستا سره ښه ښايې خپل ګمان پر ما مکوه، دوکه باز ته يې نه ز...
جهان خبره راپرې کړل او داسې حال کې چې په غوسه يې زما زنه نيول ويې ويل: ژبې سره دې فکر ساته، کنه د حلقوم څخه يې درباسم چې بيغم سې ورنه موبايل دې کم دی؟

پوسخند مې وواهه او ومې ويل: پخوا ښه و لږ دې غيرت درلود او پر ښځه دې لاس نه پورته کو، خو اوس ټکول او ډبول دې زما لپاره دی او د غيرت څخه يخن څيرې کول او جان قربان ويل دې د فاطمي جانې لپاره.

جهان دومره په غوسه او قهر زما زنه ونیول چې فکر مې کاوه هډوکې مات شو، د ډېر درد څخه مې سترګو کې اوښکې راټولې شوی خو خپل ټول کوښښ مې کاوه چې ونه ژاړم، نه مې غوښتل د هغه کس وړاندې وژاړم چې زما ژړا ورته خوند ورکوي، اوښکې هم حرمت لرې نه باید د هر کس او ناکس مخکې راتوی شې.

جهان د ډېر قهر څخه خپل غاښونه سره وچیچل او ویې ویل: ما مه لیونې کوه هوسۍ! لکه انسان رقم و وایه په دې نیمه شپه دلته تنها څه کوی؟

خپل د خولې لاړې مې تېرې کړل چې شاید د هغه سره زما ژړا هم لاړه شې او تیره شې خو نه دا چې زما بد حال ته یې نه کتل دا چې زما په سر یې څه بلا راوړی وه هغه ته یې نه کتل، او خپل په ضد ولاړ و او فکر یې کاوه چې زه غلطه تللې یم زور یې راکوه دومره زور چې بې اختیاره مې سوک پورته کړو او په زوره مې هغه په ځیګر و واهه یو اینچ یې لا ښور ونخوړو خو لاس یې زما د زنې څخه لږ لرې شو چې ما ورته په مات زړه او بند، بنده لهجه وویل: کرکه درڅخه لرم (زما په دې خبره د جهان لاس ناساپه زما له زنې څخه لاندی وولید، په هغه تیاره کې مې دهغه ناباوره نظر لیدلې شو، ما هم سترګو ته یې وکتل او داسې حال کې چې کوښښ مې کاوه غږ مې ونه لړزیږی ومې ویل:

- دومره چې .. چې زړه مې نغواړې حتا څهرۍ ته دې لا وګورم، دا دونیم میاشت هره شیبه او هره دقه سترګې مې .. د کور دروازی ته وه چې ... چې ته به راشې خو ... خو اوس یوازی درڅخه کرکه لرم ... نغواړم نور دی وګورم ... خو هو دا باید ووایم(جهان لکه بې ساه جسد پشان راکتل د هغه د دې نظر په لیدو زړه مې چغې وهل چې ظلم مکوه، خو عقل مې ویل ولې ده چې وکړو هغه څه وو؟ غوښتل مې یو څه نور هم خبری ورته وکړم خو لعنت دی وی زما په زړه چې طاقت یې ونشو او لهجه مې نرمه شول او ومې ویل: خو هیڅکله مې تاته د خیانت کولو فکر نه دی کړی هېڅکله، نن ... نن ماښام مې زړه بیحد تنګ و فک.. فکر مې کاوه کوټې کې نفس نشم اخیستې نو ځکه دلته راغلم وګوره(خپل خالې لاسونه د هغه و مخ ته

خوځوم او وایم: وګوره موبایل راسره نشته(او بیا داسې حال کې چې کوښښ کوم خپل ژړا پټه کړم وایم: بس زړه مې تنګ ...

دومره په عاجزۍ مې دا خبره وکړل چې بې اختیاره مې اوښکې پر مخ راتوی شوی، زما زړه تنګ وو، خو د چا لپاره؟ د هغه چا لپاره چې نه یو پوښتنه یې وکړل نه هم کوم بل شي او په راتلو یې پر ما تهمت ولګو، د ډېر غوسې، قهر، غم او استرس څخه لړزیدم چې ناساپه جهان خپل خوا ته کش کړم او دومره یې کلک غیږه کې ونیولم چې فکر مې کاوه هډوکې مې مات شول، د څو شیبو لپاره مغزه مې جام و دریدل او پوهه نشوم چې څه وشول! خو کله چې د هغه بوی مې د پوزی لاندی راغلو نو کوښښ مې وکړو ځان ورڅخه لری کړم ما دا غیږه نه غوښتل، دا غیږه چې پوهیدم دا دونیم میاشتو کې زما بغیر بله ښځه نیولې .

خو هر څومره چې ما ځان کش کاوه هغومره جهان لاپسی کلکه نیولم د هغه د زړه تیز درزا مې غږونو کې انګازې کول زړه یې دومره په تیز تپیدو لکه چې ډېره لاره چې ځغاستلې او ستړی وې.
کله چې ومې لیدو زور وهل کومه فایده نلرې نو په نیولې غږ مې وویل: خوشې مې کړه ن .. نفس نشم اخیستې.

خو هغه خوشې کول خو لرې چې لاپسې کلک ونیولم یو لاس یې زما پر ملا کلک تاو و او بل لاس یې زما د ټیکری خوا ته لاړو پوهیدم چې غواړې زما ویښتیانو کې ګوتې ووهې، عادت یې و هرکله چې زه به یې غیږ کې نیولم نو زما ویښتیانو کې لاس تېره و خو ما نغوښتل چې زما لنډ ویښتیان وګوری نو ځکه لا زور وهل مې شروع کړل چې د غیږی څخه یې جلا شم خو چیرته زما زور او چیرته د جهان! همدا چې ټیکرې زما د سر لږ لری کړو او لاس یې زما پر لنډ ویښتیانو ولګیدل سترګې مې بې اختیاره پټې شول او اوښکې مې پر مخ راوبهیدل، د جهان لاس زما د ملا څخه_سست شو په تلوار یې زه د ځان څخه لری کړم او زما د ویښتیانو خوا ته یې راوکتل او همغه حال کې ناباوره غږ پورته سو ...

جهان- س...ستا ... ستا.. ويشتيان ک... کم... دې؟

جهان تر اوسه باور نه وکړی او زما ویښتیانو ته یې کتل خو زه بیا ظالم شوم یاد ته مې راغله چې د ده له لاسه ما خپل ویښتیان لنډ کړم یاد ته مې راغله چې د ده پخاطر زه تر مرګ ورسیدم په ترخه لهجه مې وویل: غچې مې کړل.
زما په خبره د جهان سترګې له حیرت خلاصې پاتې شوی او په ګنګس انداز یې وویل: غچې دې کړل؟ تا ... تا خپل ټول ويشتيان غچې کړل؟

په کلک مې وویل: هو.
جهان په کرار غږ وویل: ولې؟
خپل ټیکرې مې بیرته په سر راکش کړو داسې حال کې چې د جهان څخه لږ لرې کیدلم ومې ویل: همداسې.
جهان- همداسې؟ ولې نه وایې په دی خاطر چې ستا خوشیدل ما غچې کړل؟!
دا چې د دومره وخت وروسته راغلې و او د دې لځایه چې لږ شرمنده اوسیږی خپل پکار داسې غوسې کول زور یې راکړو په غوسه مې وویل: په تا یې څه؟ زما ویښتیان وه خوښ مې نشول لنډ مې کړل ته څه کاره؟

پوهیدم چې جهان د دې خبرو څخه بد راځې چې ورته ووایم ته څه کاره؟ یا پر تا یې څه؟ څو ځله یې په دی خبرو زما سره جنګ کړی و خو ما له قصد وویل غوښتل مې غوسه شې زړه مې غوښت هغه ته هم لږ زور ورکړې ولې زه باید د ده پخاطر تر مرګ ورسیږم خو دې کرار او بیغم اوسیږی؟ غوښتل مې لاړه شم هر څومره چې دلته پاتې شوی وایې لیونتوب ته نږدی کیدلم همدا چې د ولاړ کیدو اراده مې وکړل جهان په غوسه له لاسه ونیولم او اجازه یې رانکړل ورڅخه لری شم بیرته یې خپل مخامخ کښینولم او همغه تیاره کې لا ما د هغه د مخ غوسه لیدلې شوه چې کوښښ یې کاوه خان کنترول کې ویې ویل: یوه میاشت نه وم لکه چې د یاده دې ووتل زه څوک یم؟
په غوسه مې وویل: نه. ښه مې پیاد دې ته جهان خان سدوزی یې! هغه څوک چې حاضر دې د بل د ناموس لپاره خپل ناموس د مرګ خولې ته ټیله کړې.

خپل د دې خبرې وروسته په تمه وم چې جهان یو غلط ریکشن وښایې! مثلاً وار وکړي،ګواښ وکړې یا هم کوم بل کار خو جهان زما لاسونه خپل لاس کې ونیول او کرار یې وویل: څونې(څومره) ډنګره سوې یې، پوست او هډوکې درنه جوړ سوې، که خبر وایې دسې کیژې په قران که مې دلته پریژدلې وایې.
د هغه په خبره پوسخند مې و واهه او نن شپه عجیب زما د پیغور ورکولو خوی فعال شوی و بیا مې نیش و واهه او ومې ویل: هو ځان سره دې ورې وایې او خپل مینه او محبت دې د فاطمي سره راښودلې وایې، همدا چې خبر دې نه و بهتره و ولې راغلې؟

جهان زما د ګوتو منځ کې خپل مردانه ګوتې ننویستل او زما د لاس پنجه یې خپل لاس کې ونیول او کرار یې وویل: امممم ولې راغلم؟ خپل د شزې پسې راغلې یم.
خبره مې ورپرې کړل او جنون آمیز توګه مې وویل: اوس دې پیاد شو چې یوه بله ښځه هم لرې؟ لکه چې دوه میاشتو کېدې د هغې څخه هم زړه موړ شو څنګه اوس د بلې اراده لرې؟

بیا په تمه وم چې جهان کوم لیونتوب وښایې خو هغه نن لکه چې د راسته انډی څخه ولاړ شوې و چې زما د خبرې ځواب کې کرار وخندل او ویې ویل: زه به بد وکم چې دسې فکر لا وکم.

د هغه په دې خبره که ووایم نفس مې بند شو دروغ به نه یې، په بند بند ژبه او د ژړا څخه په ډکو سترګو مې وویل: ه.. هو نو ه... هغه خو درباندې ډېره .. ګرانه ..
ده... کله دې زړه غواړې ب....بله. ښځه درباندې ..وکړی .. هغه بدبخته خو زه وم چ..
جهان مې خبره پری کړل او داسې حال کې چې لځایه پاسیده زه یې هم لځان سره پاڅولم د بام کونج کې د ایښودل شوی دوه غټ لرګیانو خواته لاړو خپل کښیناست او بیا یې زما خواته لاس ونیو د هغه په دی کار په حیرت مې وروکتل، هغه غوښتل زه یې په غیږ کې کښینم !؟

که رښتیا ووایم که څو میاشتې مخکې وایې هغه وخت چې جهان بل واده نه وکړې نو په شوق باندې غیږ ته تلم او څومره به عاشقانه ماحول وایې کنه؟ نیمه شپه د بام سر، څوارلسم سپوږمۍ او د دوه عاشقانو باڼدار؟ خو اوس، دومره مې د هغه په دی کار بد راغلل چې غوښتل مې په تلوار د دې ځایه لاړه شم او خپل کوټې ته پناه ویسم خو یو ګام مې لا اخیستې نه و چې جهان د لاس څخه ونیولم او مجبوره یې کړم پر زنګانه کښینم او خپل ملا د هغه پر سینه تکیه کړم! په پوره ډول یې غیږه کې نیولې وم همدا چې کوښښ مې وکړو سر مې د هغه د ځیګر څخه لرې کړم یا هم د غیږې څخه یې جلا شم هغه لا پسې کلک ونیولم او داسې حال کې چې خپل زنه یې زما پر اوږې کیخودل زما د غوږ څنګ ته یې وویل:

جهان- هلته یخ و ته هم درې ساعت پر ځمکه پریوتلې وی ملا دې په درد کیږی، تازه څو میاشتې مخکې دیـ...

خپل خبره یې پوره نکړل ویې نه ویل چې څو میاشتې مخکې دی خپل ماشوم له لاسه ورکړو! شاید خپل پر ګمان د هغه موضوع په نه بیان کولو به زما غم لیاده وباسې خو ما څنګه لیاده ویستلې شو؟ نه پوهیږم څه راوشول خو په لړزانده غږ مې وویل: د فاطمي ماشوم څښې دی؟ هلک دې که جنۍ؟ آیا هغې ته دې هم قول ورکړې که جنۍ اوسیږې ورته د طلاو غاړګې واخلې؟

زما په خبرو جهان خپل غاښونه سره وچیچل لاسونه یې لا په کلک پر ما راچاپیر شول داسې لکه چې په غیر ارادی توګه یې غوښتل ما منع کړې د دې بحث د ادامې څخه، خو زما زړه دومره درد کړې و چې بې اختیاره لګیاوم.

- ک.. که جنۍ وه ن... نوم یې ل...لیلا کیږدې..
جهان په خفه لهجه وویل: بس یې کړه.
خو ما تازه شروع کړې وه ده ویل بس کړه؟ زما د دې دونیم میاشتو زخم تازه سر خلاص کړې و، بغیر له دې چې د جهان خبری ته غوږ ونیسم وایم: ه ...همدا نوم ستا خوښیده کنه؟ تل دې ویل که خدای لور راکړل نوم یې لیلا کیږدم او هغه چ... چاته

یې ورکوم چ ...چې د مجنون پشان وربانديږ م...مئین وي...
جهان- بس یې که نازولې ته وقران بس دی.

د سترګو څخه مې اوښکې په رابهیدو شول نه مې شو کولې خپل ژړا کنټرول کړم او د زړه له تل په بیحد درد مې ژړا ته شروع ورکړل، داسې ژړا چې جهان یې بې تابه کړو زما مخ یې خپل خوا ته وګرځو او داسې حال کې چې زما اوښکې پاکول په نیولې غږ یې وویل: ما وبخشه نازولې، زه تاته د خدای تر کوره شرمنده او ملامت یم هر شې چې راته ووایې حق لرې، مه ژاړه قربان دې سم(ناساپه یې زما بې وس لاسونه خپل لاس کې ونیول او داسې حال کې چې زما په لاسو یې خپل ځان واهه ویې ویل: ما و واهه که زما پر وهلو کراریژی ومې وهه، شنزل راته وکه هر شې چې دی زړه غواړې راته ووایه خو دسې مه ژاړه.

ما غلطي وکړل زه خپل غلطې منم، ما خپل پر ګمان غوشتل تا د هغه ماحول لیرې کم، ما غوشتل ستا څخه ساتنه وکم خو ډېر لویه غلطې مې وکړل، دا دونیم میاشتې هم مې پر تا ظلم وکې هم پر ځان! ما نغوشتل ستا طعیت خراب کړم خو خبر نه وم چې خپل په دې لیرې والې تا تر مرګه رسوم ما وبخشه ...

زړه مې غوښت خوله خلاصه کړم او ورته و وایم چې نه دې بخښم، هو غوښتل مې همدا ورته ووایم زما زړه هغه دومره په درد راوستولې و چې د یو بخښنې پر غوښتلو ما هیڅکله هغه نشو بخښلې، هغه زه خپل د ځان سره عادت کړم زما ټول ژوند یې خپل په نوم او خپل په ځان وترو او اخر کې په داسې نامردې زه پریخودلم چې تر مرګ ورسیدلم د هغه خلکو د طعنې او پیغور یې کړم چې د هغوي مخکې ما د ده خوا نیولې وه او په افتخار مې ویلې وه جهان خو جهان دې! هغه زه دومره شرمنده کړم چې خاله خپل د هغه معتاد، لوفر زوی طعنه لا ماته راکړل او حتا زه یې د هغه لایق لا و نه بللم.

خو زما د څه ویلو مخکې جهان خپل لاس زما پر خوله کیخودو او کرار یې وویل: زه پوهیژم چې هېڅ دلیل او منطق به زما کار صحیح ثابت نکړې خو پریژده چې خپل

خبرې وکم د هغه نه بعد بيا ته فيصله وکه، هر شې چې و وايې زه يې منم.

د جهان په دې خبره خاموش شوم نه پوهيږم ولې خو غوښتل مې واورم چې غواړې خپل د کار په باره کې څه دليل راوړی؟ جهان څو شيبې زما سترګو ته راوکتل او بيا يې زما مخ وګرځو زه يې د لومړۍ ځل پشان په غيږه کې ونيولم او زما سر يې خپل په ځيګر تکيه کړو د هغه په دی کار حيرت مې وکړو، هغه دا کار داسې وکړو لکه چې نغواړې زما سترګو ته وګوری! يعنې څه خبره ده چې جهان هغه مخامخ زما سترګو ته پر کتلو نشو ويلې؟ زه لا همدې فکر کې وم چې جهان کرار او په نيولې غږ چې ما ورڅخه له ورايه درد، غوسه، او حتا ناميدې احساس کولې شول وويل: پياد د دې نازولې تازه چې واده مو کړې و او کندهار ته تللې و نو يوه ورځ ما د بابا کلاشينکوف راوخيست؟

پياد مې وه د ارباب هغه قديمې کلاشيکوف چې هر ماذديکر به يې راخيست او پاک کو به يې او تل به يې په خوشحالې ويل دا کلاشينکوف زما د پلار راته پاتې هغه په دی کلاشينکوف د روس مقابل کی جهاد کړې! يوه ورځ جهان هغه راخيستې و او د ارباب پشان هغه يې پاک کو او مرمۍ پکې اچول هغه ورځ زه څومره وډاره شوم، کله چې د هغه لاس کې مې توپک وليد د هغه وروسته مې څومره ورته قرآنونه او قسمونه ورکړل چې نور هغه راونخلې، خو زموږ بحث د هغه کلاشيکوف سره څه تړاو درلود؟ جهان چې زما خاموشی وليدل نو کرار يې وويل: تا د هغه ټوپک په ليدو څونې ما ته زارۍ وکړل چې نور لاس ور نه وړم او را وايې نخلم او ما هم درته وعده درکړل چې نور به لاس نه ور وهم خو ... ( غږ يې ونيول شو او کرار يې وويل: خو ما خپل وعده ما ته کړل هغه مې راوخيستې.

بيا مې هم څه ونه ويل نه پوهيدم يعنې جهان اوس په دی خاطر خفه و چې خپل وعده يې ماته کړې وه او هغه ټوپک يې راخيستې وو؟ دلته ډېر نور وعدی او زړونه مات شوی وه، هغه وخت د ده فکر د هغه توپک او د هغه وعدې پسې وو؟ غوښتل مې خبره وکړم خو جهان اجازه رانکړل او ويې ويل: نن شپه ته غوژ څه پريږده زه

نن خبرې وکم او خپل زړه تش کم، خو.. خو نازولې دا خبرې به دلته دفن کوی او سبا چې له خوب راولاړه سوی دسې به فکر کوې چې دا ټول یو خوب و او نه ما کوم شې ویلې و او نه هم تا کوم شې اوریدلې و صحیح دی؟

د جهان په دې خبره لږ وډاره شوم د هغه لهجه او خبرې یو رقم وه! داسې چې ما ته یې بد احساس راکړو سر مې د سمده پشان وخوځو چې جهان کرار وویل: نه مې غوشتل دا خبری درته وکم، راغلې وم چې بغیر د دې چې د دې څو میاشتو په باره کې څه ووایو خپل کور ته ولاړسو او خپل ژوند وکو، خو ... خو فکر کوم چې ستا حق دې چې پوی سې چې څه خبره وه اصل کې؟؟ پوی سې او شاید خپل منفې فکرونه زما په اړه لېرې کې البته فکر کوم که په اصل کیسې که خبره سې شاید د اوس څخه لا زیات زما څخه دې بد راسې، خو باید ووایم چې دې کیسی هر ځای کې هر سې چې سوی یو کار هیڅکله نه دې سوی!

او هغه ستا سره زما د مینې کمیدل دی، شاید ډېره سوی به وی خو کم هېڅکله هم نه، خلک وایې سرپیان اوه واره مینان کیژی خو زه فکر کوم چې دا غلطه خبره ده ځکه چې د انسان زړه تنها یو وار په یو نفر دسې راځې چې غواړې خپل سر لا د هغه د یو اوشکې د څاڅکې په خاطر لا جار کې.

جهان څو شیبې خاموش شو او بیا یې کرار وویل: ته ما پیژنې نازولې زه د میژی(مورچه) حق کې لا نغواړم بدې وکم څه ورسیژی انسان ته، خو کله ناکله شرایط او حالت د انسان څخه لېوه جوړوی دسی لېوه چې خپل د انتقام او غچ اخیستلو لپاره هر کار کوی، هر کار ...  که هغه حتا خپل تباه کول وې که یا د بل،خو خپل د خشم د اور د مړ کولو لپاره هغه هر کار کوی او ما هم داسې یو کار وکې.

د جهان په دې خبره مې د زړه درزا پورته شوه د زیات وېرې څخه ټول بدن مې لړزیده غوښتل مې مخ ور واړوم او وپوښتم چې څه دې کړې؟ خو جهان اجازه رانکړل او ویې ویل: مه راګوره... نسم کولې ستا سترګو ته وګورم او خبره وکم، ته هم پوشتنه مکوه یوازی غوژ ونیسه.

داسې حال کې چې له وېرې څخه لړزیدم بیرته خپل اولې ځای ته راغلم د جهان زړه هم زما پشان په تلوار ټپیدو جهان خپل لاسونه پر ما لاپسې کلک کړل او په نیولې غږ یې وویل: د بشیر مرگ دې پیاد دی؟(څه مې ونه ویل ځکه پوهیدم چې جهان غواړې خپل پوښتنې ته پخپل ځواب ورکړې او همداسې هم وشول هغه خپل وویل: کله چې جمشید خبر راکې او هلته ولاړم نو موټر کې هیشې نه وه پاتې د موټر په وسپنو(د جهان غږ بند شو داسې چې د هغه خبرې پر ویلو ډېر فشار ورباندی راځې) د موټر پر وسپنو د بشیر غوښې موښتې وه! م... ما خپل پر لاسو د هغه غوښې راټول کړل.

نفس مې په سینه کې بند شو باور مې نه راتلو ما فکر کوه هغوی جسد راخیستی او تابوت کې اچولې او څنگه چې ما لیدلی همغسې جهان هم لیدلې خو، جهان ژوره ساه واخیسته او خپل خبرو ته یې دوام ورکړو: د بدن څخه یې هیشې نه و پاتې مازی دوه هډوکې او څو ټوټې غوشه وه او بس، خو څو خبرو زما ذهن خراب کړې و! اول دا چې یو موټر هیڅکله دا رقم نه چوې! بل فرض که وهم چوی نو باید موټر دونې کلک ټکر وکې چې دسې اور واخلې! نه دا چې د سړک په یو ډېرى ولگیږی او ځای په ځای اور واخلې! که اور واهم خلې نو نفر خو ژوندی دی کولې سې د موټر څخه راووځې بشیر ولې موټر کې پاتې سوی و کله چې موټر اور اخیستی وو؟

که ورخطا سوی هم وایې که د موټر دروازه هم نه وایې خلاصه سوی بیا هم کولې سو د موټر شیشه ماته کی او راووځې.

د جهان دی عجیب خبرو ته په حیرت غوږ وم که رښتیا ووایم ما هم لومړۍ وختونو کې داسې فکر کاوه خو اخر د دی خبری پر ویلو چې د خدای کارونه او قسمت دی دا فکرونه مې خوشې کړل، خو جهان لکه چې دا خبره تراوسه نه وه منلې؟

جهان- او دویم دا چې کوم ځاې کې چې موټر اور اخیستی و هغه خوا ته هیڅ څوک نه وه؟! مطلب نه کوم کور و نه کوم بل شې و او د هغه څخه عجیب لا دا چې بشیر هېڅ ضرورت نه درلودی چې هغه خوا ته ولاړسی ځکه چې زموږ د خپلوانو

کورنه*** د دغه خوا ته دی نو ده چاته د قرباني غوشه وړل چې په هغه دشت بیابان برابر سوی وو؟ (د جهان په هر خبره زما د زړه درزا پورته کیده یعنې .. یعنې امکان یې درلود چې ... چې بشیر خپل نه وې مړ شوی او .. او یو چا مړ کړی وی؟ په دی فکر ټول بدن مې له وحشت ولړزیده نه امکان نلری جهان دوي د چا سره دشمني نلری چې وغواړې داسی ظالمانه کار دي وکړې همدا خبره مې په لړزانه توګه جهان ته وکړل چې جهان خاموش شو داسی خاموشې چې ما هېڅ ښه احساس ورڅخه وانخیست.

- ج... جهان ووایه چې ... چې بشیر خپل پر مرګ په ټکر کې مړ شوی وو، کنه؟ همداسی ده کنه؟
خو جهان خاموش و د څو شیبو وروسته په بیحد نیولې غږ یې وویل: یا... هغه یې مړ کړې وو.

د جهان په دی خبره مې نفس په سینه کې قید شو بشیر یو چا مړ کړې وو؟
- چ.... چا؟ .... ولې؟
غوښتل مې مخ وروګرځوم او د جهان څخه خپل د پوښتنې ځواب واخلم خو جهان بیا اجازه رانکړل او زه یې لا پسی کلک خپل غیږه کې ونیولم او په یو غږ چې درد او غوسه ورڅخه ښکاریده ویې ویل: هغه یې اول مړ کړې و....
- ی...یعنې څه؟
جهان یو ژوره ساه واخیسته او ویې ویل: هغه یې څو واره په چاقوګانو وهلې و کله چې مطمن سوی وه چې مړ دي د هغه نه بعد یې په موټر کې شینه ولې و او موټر ته یې اور اچولې وو.

غږونه مې غږ نه اوریدو فکر مې کاوه دا ټول یو خیال او وهم دی، فکر مې کاوه هسې خوب وینم خو د جهان غږ بیرته اصلی نړۍ ته راوړم: پوهیږی چا دسې کار کړی و؟

نه پوهیږم په څه رقم غږ مې وویل: چ... چا؟
جهان- د فاطمې د ماما زوې!

همدا یوه خبره مې ذهن کې ګرځیدل د فاطمې د ماما زوی " د فاطمې د ماما زوی" دومره ګنګس وم چې د خبرو په معنا صحیح نه پوهیدم لکه لیونیانو پشان مې ځان سره تکرار کړل: د فاطمې د ماما زوی؟
جهان په نیولې غږ وویل: هو.

د هغه هو او دا خبره مې نشو سره سنجولې اصلا نه پوهیدم چې دا خبره اوس څه معنا لری؟ فاطمه د دې کیسې په کوم ځای کیده؟ جهان کوم کار کړې چی ویریږی چې په خبریدو به یې زما ورځخه بد راشې؟ دومره مې مغزو کې عجیب غریب فکرونه وه چې یو ته هم ځواب راسره نه وو غوښتل مې ټولو ته ځواب ورکړم خو جهان خبرې نکول لکه چې خپل په فکرونو کې غرق و زه هم دومره ګنګس وم چې وخت مې ورکړو چې هم هغه فکر وکړی هم زه لږ خپل فکرونه سره راټول کړم او دا موضوع لږه وځیرم د فاطمی د ماما زوی ولی باید بشیر و وژنی؟ په څه خاطر؟

ذهن مې یو موضوع خوا ته اشاره کول یو داسې موضوع خوا ته چې ما نغوښتل حتا ورته فکر لا وکړم خو ... خو افسوس چې تل زما شپږم حس ښه کار کوې جهان په نیولې غږ وویل: هغه شپه دی پیاد ده نازولې؟

ذهن مې دومره ګډوډ وه چې اصلاً نه پوهیدم چې د جهان مطلب د هغه شپې څخه کومه شپه ده؟ هغه هم لکه چې پوهه شو چې زما ذهن څومره ګنګس دې چې خپله یې وویل: د بشیر د واده په اول شپه کله چې بشیر په نیمه شپه زما پسې راغې.

تازه مې مغزو لږ کار پیل کړو او ذهن مې د هغه شپې خواته لاړو هغه شپه چې بشیر لکه لیونیانو پشان په نیمه شپه په بد حال زموږ کوټې ته راغلې و او جهان یې د ځان سره بیرون ویستلې و.د جهان غږ ولړزیده کله چې ویې ویل په هغه شپه بشیر ورته څه ویلې وه! او زما نفس بند شو کله چې پوهه شوم اصل کیسه څه وه! د فاطمې د

ماما زوی د هغې سره د واده څخه مخکې جوړ و او حتا جنسې اړیکې لا درلود حتا د فاطمې د نس ماشوم د بشبر نه ووا بلکې د هغه و، بشیر د واده په شپه یوازی دومره پوه شوی و چې فاطمه جنۍ نه ده!

او دا خبره یې د جهان سره شریکه کړې وه خو ... خو جهان باور مې نه راتلو چې جهان دې داسې کار کړې وی! اوس پوهیدم چې ولې جهان دومره د بشیر قبر ته تلو؟ ولې د بشیر پلار څخه لا ډېر د بشیر په مرګ جهان لیونې شوی و، جهان ځان ملامت حساب کاوه هغه فکر کاوه د بشیر مرګ د ده له لاسه شوی.

جهان- م... ما ورته وویل ځینې انجونې په پیغلتوب کې دغسې کیږۍ .. ما ورته وویل ضرور یو دروند شې پورته کړې .... ما د هغې خوا ونیول ... ځ... ځکه باور مې نه کیدې چې هغه ماشومه چې زما غیږه کې غټ شوی داسې پدرلعنت ده... ما بشیر خاموش کړو او ورته مې وویل چې دا خبره لیاده وباسه او هغه زما خبره ومنل خو... خو ای کاش په هغه شپه مې بشیر ته اجازه ورکړې وایې چې د هغې جنازه یې د پلار په درګاه ور وغورځولې وایې نو شاید اوس بشیر نه وایې مړ.. ک...که ما هغه شپه د فاطمې لځایه د بشیر خوا نیولې وایې اوس ... ش...شاید...

د جهان طبعیت خراب و هر لفظ یې داسې په سخت ادا کو چې زه وډاره شوم کوم چل وربانديې ونشې خپل مخ مې د هغه خوا ته وګرځو او کوښښ مې وکړو کرار یې کړم.

- ته ملامت نه وی جهان! تقدیر انسان نشې بدلولې تا د یو کورنۍ او د یو انسان د ژوند ساتلو کوښښ وکړو.
جهان په سرو سترګو راوکتل سترګي دومره سری وه لکه چې وینه ورڅخه څڅیدل په کرکجن غږ یې وویل: ما د یو فح*ش د ژوند بچ کولو په پار خپل وراره مرګ ته ورکې.

جهان سم نفس نشو اخیستې بې هدف یې خوله خلاصه او بنده کول خو ساه یې نشو اخیستې د مغزې او سر رګونه یې راوتلي وه په تلوار یې له غیږې څخه جلا شوم د ګریوان څو تنۍ مې ورڅخه خلاصې کړل او داسې حال کې چې پر ملا مې ورته کرار لاس تېره و په تشویش مې وویل: جهان زما سره کرار، کرار نفس واخله یو، دوه، درې ..

خپل مې ساه اخیسته او هغه مې هم ساه اخیستلو ته هڅوې او د څو شیبو وروسته یې ساه اخیستل نرمال شول، کله چې هوسا ساه یې واخیسته تازه زه خپل په ځان راغلم او ژړا ته مې شروع وکړل ما جهان هیڅکله دا حال کې نه ولېدلې که یوه دقه نور یې نفس سم نه وایې اخیستې زړه یې درېدو رنګ یې یو دم پریدلې و قدمونه مې د زینو خواته کړه کړل ترڅو لاړه شم او ورته اوبه راوړم خو جهان په بیحال توګه له لاسه ونیولم او ویې ویل: چیری ځې؟

په همغه ژړا مې وویل: ځم درته یو پیاله اوبه راوړم
جهان- ضرورت نسته راسه شینه خبرې مې لا نه دې خلاصې سوی.
په ژړا مې له لاس ونیو او مې ویل: ضرورت نشته نور څه ووایې.
جهان- ی...یعنې نغوارې پوهه سې چې اخر څه وسول؟
اوس د جهان د لومړۍ خبری په مطلب پوهیدم کله چې ویې ویل ما خپل وعده ماته کړه او ټوپک مې راوخیست، سل سلنه ډاډمن وم چې څه شوي خو نه پوهیږم ولې خو په ژړا مې وویل: ف...فاطمه ا...اوس چیرته ده؟

جهان څو شیبې بغیر د څه ویلو راوکتل او بیا داسې حال کې چې د آسمان خواته یې کتل په نیولې غږ یې وویل: د بشیر انډې ته.

***

د اختر مخه وه ټول د کالو او د اختر شیرنې اخیستلو باندې اخته وه زه په تمه وم ترڅو جهان راشې او ورسره د اختر خرید ته لاړه شم، ما غوښتل پرون د ادی سره

لاړه شم خو جهان اجازه رانکړل او ویل سبا دې زه خپله ورم خپل د موبایل په زنګ
او د جونید په راځغاستلو پوهه شوم چې جهان راغلې ماشومان مې ادې ته
پریخودل او حجاب کړې د کور د دروازې خواته روانه شوم خو د تلو مخکې جونید د
حجاب ونیولم او په معصومیت یې راته وویل: ادې زما شیان دې دیاده ونوځې.

داسې حال کې چې خپل په مخ مې نقاب سم کاوه جونید ته مې په شیطنت وویل:
ګوره دا پلار دې په سور نه دې برابر هسې ما وربانديې د موټر څخه دباندې مه اچوه.
زما په دې خبره جونید بیا په مظلومیت راوکتل چې ما سر د سمده په توګه وخوځو
او ومې ویل: زه صحیح دې زه ګورم که عصاب مصاب یې پر ځای وه ورته وایم ته
خپل په ورونو فکر ساته ترڅو چې موږ راځو.
جونید په خوشحالې وویل: صحیح دې، او هو ادې د دست کشو رنګ شین وی اشه!؟

د هغه دومره فرمایشاتو ته مې سر وخوځو او له کوره ووتم او ژر موټر کې
کښیناستم زما په کښیناستلو جهان په خندا مخ راوړو او ویې ویل: سلامونه ورکې
خاله شه یې؟
بد بد مې وروکتل چې د هغه خندا لا زیاته شوه او ویې ویل: امممم مطلب لا شه نه
یې؟

په ناز باندې مې ورڅخه نظر واړو او ومې ویل: خود ښه نه یم زه مروره یم.
جهان کرار وخندل او ویې ویل: جان مروره هم ته یې؟ ماشام زه تنها کور کې پاتې
وم؟! هغه هم هغه وخت کې چې درته ویلې مې وه د پلار کور کیدی شپې ته مه
پاتې کیږه او زه درځم درپسې خو تا ویل یا! او اوس مروره هم ته یې؟
- ښه کار مې وکې چې پاتې شوم.
جهان- امممم یعنې شه کار دې وکې؟
په غوسه مې مخ ور واړو او ومې ویل: ما غوښتل د ادی او آسما دوي سره لاړه شم
بازار ته خو تا د ځان څخه لیونې جوړ کړو چې نه مه ځه، نو ما هم ښه کار وکړو چې
شپه پاتې شوم.

جهان په مضريت راوكتل او ويې ويل:امممم د دې كار په بدل كې دې حق دغه دې چې زه دې هم وينسم بازار ته.
د جهان په دى خبره سترګې مې له حيرت خلاصه پاتې شوى او بيا ناساپه لكه بئ شرم ښځو پشان د هغه اوږى ته مې سوكان بند كړل او همغه وهلو حال كې مئ وويل: ته په بد وكې چې ما بازار ته ويې نشې په قران دسې وهل وخورى.
زما په دى خبرو او كارونو جهان داسې حال كې چې په لوړ غږ خندل خپل په يو لاس يې زما دواړه لاسونه ونيول تر څو نور وار ونكړم او همغه خندا باندې وويل: پكر د دې نازولې دا څو مياشتې بيخې درڅخه دا د شهريان خبره چشې وايې دا تازه لوفر انجونې چې راوتلې؟! ها شوى شار درنه جوړه سوى.

د جهان په دى خبره داسې حال كې چې خندا مې راغلې وه خپل د لاسونو د خلاصولو كوښښ مې وكړو او ومې ويل: هو.. زه هغه يم البته په دې فرق چې هغوى شوى شار دې(شوى مطلب ميره شار خو هم شهر دى) خو زه شوى ستا يم.

زما په دى خبره جهان ناساپه پخ وهل د خندا او په كټ،كټ پخندا شو او همغه حال كې خپل ځانته اشاره وكړل او ويې ويل: ته زما شوى يې؟
په شيطنت مې وويل: هو ته كوم مشكل لرې؟
زما په دى خبره جهان داسې حال كې چې لا هم خندل موټر يې روښانه كړو او زما پشان په شيطنت يې وويل: ته صبر زه تا كور ته ويسم بيا هلته معلوميژى څوک شوى دى او څوک نه؟

د جهان په دى خبره په حيرت مې وويل: چيرته ځې؟ كور څه كوى؟ موږ ځو بازار ته.
خو جهان بغير له دې چې ما ته وګورى موټر يې له كوڅې وويست او په داسې حال كې چې كرار يې خندل ويې ويل: يا وام اول كور ته ولاړسو چې معلوم كو شوى څوک دى بيا به بازار ته ولاړسو.
په چيغه مې ورته نارى كړل: جـــهان!

جهان همغه حال کې چې فکر یې د موټر خوا ته و چې چیرته ټکر ونکړي زما پشان کلک وویل: جـــان!
کرار مې وویل: لومړۍ لاړشو بازار ته صحیح دي؟
جهان په شیطنت وویل: یا نو نازولې اول باید دا موضوع حل کو دا خو ډېر غټه مثله ده.

په ناز باندې مې ورته غږ کړو او ومې ویل: جــهان! ګوره که کور ته ولاړې بیا که آسمان ځمکې ته هم راوړې زه دویم ځل درسره بازار ته نځم، اختر ته هم کالي نکوم بیا هغه وخت معلوم کړه چې څوک چشې دی؟
زما په دی خبره جهان څو شیبې کرار وخندل بیا یې وویل: دا رقم چې ته ګواښونه کوی د رشتیا فکر کوم چې ته شوی یې.

خپل د دې خبری سره په لوړ غږ پخندا شو او زه ورته د نادیده کسانو پشان ځیر شوم څومره ښکلی یې خندل! څو میاشتې مخکې سوچ مې لا نه و کړې چې زه دې یو ځل بیا داسې د جهان سره اوسیږم او هغه دې داسې د زړه له تل وخاندي!؟ هغه شپه چې جهان راته د فاطمي او د بشیر د مرګ کیسه وکړه که څه هم عقل مې ویل جهان هغه کار کړی کوم چې هر چا په هغه شرایطو کې کاوه خو له بلخوا د جهان څخه تر مرګ وېرېدلې وم او وحشت مې اخیستې و همدا چې جهان به مې لېدلې وایې یا هم هغه لږ رانږدې شوی وایې زما د سترګو وړاندې فاطمه راتلل او دا چې جهان هغه مړه کړې وه!

په دی فکر به د جهان څخه دومره وېرېدلم چې په ژړا، ژړا به مې ورته ویل چې ماته مه رانږدې کیږه، جهان نه پوهیدو چې څه وکړي یوازې به یې بخښنه غوښتل او قسمونه به یې اخیستل چې ستا سره کوم کار نلرم خو زه ورڅخه ډاریدم او خپل په وېرې مې هېڅ کنټرول نه درلود، خو د تل پشان بابا یو ځل بیا زما د ژوند بچ کولو فرښته شوه کله چې خبر شو څخه کیسه واقع شوی که څه هم بیحد حیرت یې وکړو خو جهان یې منع کړو له دې چې هره ورځ زموږ کور ته راتلو او د هغه وروسته

يې يوځل بيا زه همغه روانشناس ته ويوړلم او بېچاره روانشناس چې زما د مشکلاتو څخه خلاصون نه درلود يو ځل بيا يې زما تداوي شروع کړل او په دويم جلسه کې راته وويل چې دا ځل خپل د خاوند سره راشه!

که څه هم راته سخته وه خو دويم ځل د جهان سره يوځای ډاکټر ته ورغلم او د ډاکټر تداوي هغه وخت تازه شروع شول هغه پنځه مياشتې کامل زما او د جهان په اړيکو کار وکړو دومره چې نتيجه يې د نن ورځ ده! نن چې بغير د کوم وېرې، شک، وحشت او ناباوري څخه د جهان څنګ ته ناسته وم او ورسره خبرې مې کول، ناز مې کاوه، جنګ مې کاوه او هغه پخندا زما خبرې اوريدل زما نازونه يې وړل، که هغه ډاکټر نه وايې خدای خبر چې ما به جهان ته داسې خبرو کولو يا نږدې ورتلو جرئت کړې وايې، په همدې فکرونو کې وم چې جهان وويل:

جهان- اممم ولې چوپه سوې نازولې؟
خپل د فکرونو څخه راووتلم او په کراره مې وويل: جهان!
جهان- جان!
- وايم اوس چې ته دومره خوش اخلاق شوی يې غواړم يو شې درنه وغواړم.
زما په دې خبره جهان نيم نظر راوچو او په خندا يې وويل: اممم يعنې وختې بد اخلاق وم؟ وايه، وايه نازولې ما هم خدای داريم! زما ورځ به هم راسې بيا زه دې د دې ټولو خبرو جواب درکوم.

- وې اوس ما تاته څه ويلې چې داسې د بوډې ښځو پشان ګيلې کوې.
جهان کرار وخندل او ويې ويل: اممم دا يې لا بل، ما ته وايې بوډې شزه!
په شيطنت مې وخندل او ومې ويل: وی وبخښه فکر مې نه و بوډۍ ښځه نه! د بوډا سړيانو رقم البته ته خپل هم بوډا يې نو دا اخلاقونه دې عادي دي.

زما په دې شيطنت جهان راوکتل او په کراره خندا يې وويل: فکر مې دې ستا يو، يو خبره مې ياداشت کړې، اول دې وويل ته زما شوی يې، بيا دې ماته وويل بوډې شزه، اوس دې هم راته بوډا وويل پرون ماشام دې هم زما خبره ونه منل او خپل د پلار

کورته پاتې سوی، هېڅ خبره نسته نازولې موږ خو سره تنها کیږو هغه وخت بیا زه د دې ټولو خبرو حساب کتاب درسره کوم.

د جهان په دی خبره په مظلومیت مې وویل: ما کله داسې ویلې؟
زما په دی خبره جهان څو شیبې په حیرت راوکتل او ناساپه له خندا څخه شین شو او ویې ویل: دغه دې سیاست! په یو دقې کې رنګ بدل کوی زما دې توبه وې.
د جهان په دې خبره مې وخندل او ومې ویل: دا خبری اوس پریږده هغه ما .. ما غوښتل درته ووایم چ... چې جونید ته یو جوړه دست کشې واخلو؟!
زما په دې خبره جهان تندی تروش کړو او ویې ویل: د چشې دست کشې؟ واوره خو نسته هوا لا ګرمه ده!
- یا د واورې دست کشې نه یادوم، ه.. هغه ویل ما ته د بوکس ..

خبره مې پوره شوی نه وه چې جهان د تل پشان لګیا شو" دا هلک ستا د لاس اخر فلانکې شې ورڅخه جوړېږی او ستا نازونو دا هلک داسې کړو او ستا جان و قربان دا هلک اغسې کړو او زه پخندا ورته ناسته وم او د هغه دې خبرو ته مې کتل جهان چې کله زما بې تفاوت نظر ولید نو بد بد یې راوکتل چې ما کرار وخندل او بې اختیاره مې ورته وویل:

د غرور انجام ډیر بد وي لیونیه
د پنجو په سر دا تګ به درته اور شي

زه به نه غوارم هو وخت به داسی راشي
زما دا لیوني زړه به درنه تور شي

نه پوهیږم دا شعر مې ولې ذهن ته راغلو خو بې اختیاره مې وویل زما د شعر وروسته جهان څو شیبې راوکتل او د هغه وروسته داسې حال کې چې زما لاس یې خپل لاس کې نیو ویې ویل: ته په بد وکې چې زړه دې زما څخه تور سې.

د جهان په دی خبره ما سر مستانه وخندل چې هغه په مينه راوکتل او کرار يې وويل:

ډېر راته مه ګوره زړګی مې له پردې اوباسې
سترګې دې شوخې دي اوجود نه مې لمبې اوباسې

ما په ځان ګرم کړې چې کله درنږدې شم درته
ليونۍ منډې کړې بيا ولې رانه پښې اوباسې

د زلفو شړق دې داسې سخت، سخت ګوزارونه کوي
لکه له  زړه مې چې تبرې،تبرې چړې اوباسې

پوښتنې مه کوه چې بل څه درته ونه وايم
بس نوره غلې شه حالونه مې له خولې اوباسې

زه جهان چې ښه رسوا،رسوا دې کړمه
خبره ورانه دې کړه اوس راته توبې اوباسې؟

د پښتون غيرت ناول پای.
ليکوال: خواجه_زي.

زموږ د داسي نور ښايسته ناولونو او کتابونو د ويلو لپاره زموږ د ټلګرام چينل ته راشي.
دا هم زموږ د چينل لينک: https://t.me/pashtoonovels0
دا هم زما شخصی ايډی: @shuhab09
او دا هم زموږ د يوتيوب چينل لينک دلته غږيز ناولونه نشر کو..
چينل لينک: http://www.youtube.com/@PashtooNovls09

دا هم د مدير د جميل آدرس:shuhabkhan795@gmail.com

دا هم د خواجه زي صيب د فسبوک ايډی:

https://www.facebook.com/profile.php?id=61572668542014

يا هم کولې شې سرچ کړې: خواجه_زي صيب. نو ايډی به تاسو ته راشې.

او دا هم د خواجه زی صيب د اکس"ټويټر"پاڼې ايډي:

دا هم ايډی: https://x.com/shuhab09?s=09

انسټاګرام ايډی: https://www.threads.net/@shuhab09




.